
# د غني کلیات



Ketabton.com

غني خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دغني کلیات

## د پنجرې چغار، پلوشې او پانوس

ويونکی

خان عبدالغني خان

خپرونکی

د قومونو او قبايلو وزارت

د نشراتو رياست

۱۳۶۴ ش / ۱۹۸۵ ع

A .S.K B

# سریزه

عبدالغني خان د پښتنو د ستر اجتماعي، سياسي شخصيت خان عبدالغفار خان مشر زوی دی. غني د هندوستان د نيمې وچې د خلکو د آزادۍ په غورځنګ کې د ماشوموالي څخه د پاکستان تر رامنځته کېدو پورې مخامخ برخه اخيستې او بيا ئې د ضد استعماري او ضد امپرياليستي مبارزې د ميدان يو پياوړی مبارز پاتې شوی دی او په دغه لاره کې يې سختۍ او جېلونه ګاللي دي. د دې سره سره د متحده هند تر محدودو اک لاندې انتخاب شوې مرکزي قانون جوړوونکې اسمبلۍ کې د هند د آزادۍ غوښتونکې ګوند کانګرس له خوا د پښتنو د صوبې يوازينی منتخب نماينده پاتې شوی و.

د هندوستان د وېش په نتيجه کې د پښتنولي برخې کېدو غني خان په مړو جوړو او بې تره ګوښې سياستونو باندې لپ باد ړه کړه، د سياست د چيغو او نارو له کتار نه راجلا شو او د شعر تيره توري د نابيانو شور، حقيقتونو او ماديونکو د ريښتينو بيان او رسوا کولو لپاره له تيکي راوايسته. هر څه يې چې زړه او الهام ورته ويل، هغه يې وليکل او په دې توګه يې هغه لوی عقل چې "شعر" نوميږي صيقل کړ او د رعايتونو او قيودو له ننګ سره او شرم نه يې آزادي ورکړه.

بې له دې چې غني د فلسفي تفکر په لحاظ تحليل کړو او بيا له دې چې د يو نقاش، مجسمه جوړوونکي او خوار ځينو هنرمند په توګه يې وڅېړو، دی زموږ د دوران يو ډېر لوی شاعر دی چې د انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښکلا، اولولي او د هغه په کمزوریو تړل مړ پښتون شاعر ښه پوهیدلی دی. د دوه انسان تکل غوښتنې او ګناه ګار هر نشو د هغه خپلو مذهبي، فلسفي، سیاسي او ټولنیزو اندیښنو کې ښیرلي او آزمویلي دي. غني د دې لپاره چې د شعر ژبه پاکه، ښایسته او د دې لپاره چې انسان د ددکې له پرخاش بانه کړي د باور دې کوي، په لومړي کې ښکیل نه کړي، پر ټولو قرار دادی. د غني ساتو باڼې چینه نږدې او خلکو ته د ریا کاره شیخانو او وطن فروشه اخوندانو کاذبه لاف او مقدس د رواغ بربنډ دی.

ای د لوبیانو نیکه لمونځ ښکله مستي ښه ده
حسن جوړېدلی ښه دی که حسن پرستي ښه ده

په پاکستان کې د پښتو ژبې د زوالي بدرغې او د پښتنو د کم سوادي له کبله د عبدالغني خان غني شعر دنیا وال دده د شعر د ښایسته سوز او د هغه د رنګینو عطرو د وږمو له احساس څخه محروم کړی دی. زه باور لرم چې پښتانه، افغانان او نړیوال به په لنډ مستقبل کې غني د خپلو نه نیدا ونکو شعرونو په محراب کې ورځي او وبه یې لمانځي.

د غني انتقادي ژبه بربنډه ده. دی د یوروماننیک، ریالیست په توګه د ښکلا او د مینې ستاینوکی دی. لیکن په هر څه هرځای او هر وخت کې انسان د ادمکي خوځنده او هوښیار خاوند نه هیروي. هغه له خپلو تولو بدایو او خط و سرونو د ده د شعر په محراب کې ناسته دی او د خپلو سبک کوا او بدایو په منداړتوان کې د غني د شعر ته د لذت او عذاب په زانګو کې د ژوندانه د دوام لپاره الهام ورکوي.

سلیمان لایق

A .S.K B

# یادونه او منّنه

د قومونو او قبایلو د وزارت او همدارنګه د نشراتو او فرهنګي امورو د ریاست له خوا په دې وروستیو څو کلونو کې ځینې کتابونه او رسالې د مقالو مجموعې او نور ګټور فرهنګي، ادبي، تاریخي او علمي کتابونه د حروفي چاپ په آفسیټ او ګستتنر له لارې چاپ او خپاره شوي دي چې د دغو کتابونو له جملې څخه ځینې ښه او ښایسته علمي ادبي، تاریخي او کلتوري کتابونه د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړي معاون سرمحقق زلمي هیوادمل د هېواد له فرهنګ سره د مینې له امله بې حق الزحمې، بې له څه کړاو او بېرته له کومې رسمي مکلفیت پرته ورته د ریاست د دول مطبعې ته چاپ کړي دي، د ځینو کتابونو ادیټ او د مقالو د ډېرو مجموعو (د الفت یاد، د ننګرهار شاعر، غني او اجمل) تدوین یې هم ورته ترسره کړی دی.

زموږ له کتابونو سره د باچا خان د زمانې د ژوند او جدوجهد، او د باچا خان لیکونه هم ده بې کومې مادي ګټې په ښه توګه ورته چاپ کړي دي. د نشراتو او فرهنګي امورو ریاست د ده د دوامداره په دې نه ستړي کېدونکو هلو ځلو منندوی دی او ورته په عمر او د هېواد په فرهنګ او کلتور کې هیوادمل ته په راتلونکي کې هم د زیات فرهنګي او علمي مرستو هیله لري

په درناوي

عبدالله [illegible]

د نشراتو او فرهنګي امورو رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| پېشکش | ۱ | دن کښې | ۳۲ |
| دعا | ۳ | جنّت | ۳۴ |
| ثنا | ۴ | سپرلے | ۳۶ |
| ژوند | ۵ | ژوندون | ۳۹ |
| ګواه ( | ۷ | بلهلار | ۴۱ |
| خوږه | ۸ | قسمت | ۴۳ |
| بل څه | ۹ | قارغان مارغان | ۴۵ |
| تش جام | ۱۰ | مرګے | ۴۶ |
| غم | ۱۱ | چینږخ | ۵۰ |
| هوش | ۱۲ | مزه | ۵۲ |
| حسن | ۱۴ | بازیګر کمتر | ۵۴ |
| اوربکښې | ۱۶ | کوچے | ۵۶ |
| حساب | ۱۹ | تورانئ | ۵۸ |
| غزل | ۲۲ | ملاچرګک | ۵۹ |
| قسمت | ۲۳ | بورا | ۶۱ |
| دَفریدون د مور خط | ۲۴ | تارو | ۶۳ |
| اول سټر ستا دَ لیدُ خورا | ۲۸ | کوږکوږه | ۶۶ |
| توقه | ۳۱ | مچ | ۶۷ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| شپږ زمري | ۶۹ |
| اووه کلونه | ۷۴ |
| پلوشه | ۷۹ |
| خيال او رنګ | ۸۰ |
| يو خط | ۸۲ |
| کاروان | ۸۳ |
| بې وفا | ۸۴ |
| بنګله | ۸۵ |
| خمار | ۸۶ |
| ملګرسم | ۸۷ |
| صنوبر | ۸۸ |
| ترانه | ۹۱ |
| صحرا | ۹۵ |
| څه وو چه هيڅ نه وو | ۹۷ |
| جزا | ۹۸ |
| شهوت | ۱۰۱ |
| خندا | ۱۰۲ |
| سيپۍ | ۱۰۴ |

| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| کټ ماله | ۱۰۶ |
| مسافر | ۱۰۹ |
| بې غيرته پښتون | ۱۱۱ |
| دا مکان او لامکان | ۱۱۳ |
| قانون | ۱۱۵ |
| آسره | ۱۱۶ |
| د بودۍ ټال | ۱۱۷ |
| در په در | ۱۱۸ |
| ګوډاګی ! | ۱۲۰ |
| مرګ | ۱۲۱ |
| مينه | ۱۲۳ |
| جنت | ۱۲۴ |
| شمع | ۱۲۸ |
| جانان نها | ۱۲۹ |
| قيدي | ۱۳۱ |
| غيرتي | ۱۳۲ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| تسلی | ۱۳۵ |
| سوال - خانان | ۱۳۶ |
| افسوس - راګ | ۱۳۷ |
| کرخیرګی - حال زما | ۱۳۸ |
| کډ - دوصال مزه | ۱۳۹ |
| ثنا - مورے | ۱۴۰ |
| بابیړے - بهار | ۱۴۱ |
| اے دمرچپا دلبره | ۱۴۲ |
| غزا - خان | ۱۴۳ |
| اتفاق - انسان اوفطرت | ۱۴۵ |
| غم | ۱۴۶ |
| داروش دددے دنیا | ۱۴۷ |
| ازبیل ته - زوراور | ۱۴۷ |
| دتورږے زرباد - جته | ۱۴۸ |
| خرمستی | ۱۴۹ |
| ترانه | ۱۵۰ |
| دعا - زړه اوس | ۱۵۱ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| کونډه | ۱۵۳ |
| دعشق نور | ۱۵۴ |
| آرزوګانے - ته اوزه | ۱۵۵ |
| بلبلانه | ۱۵۶ |
| خانصاحب | ۱۵۷ |
| مورے | ۱۵۹ |
| ګل که یار | ۱۶۰ |
| لیلی | ۱۶۱ |
| سوال - لیونتوب | ۱۶۲ |
| توبه | ۱۶۳ |
| سیل | ۱۶۴ |
| ګلی - بهانه | ۱۶۵ |
| پلوشه - غرور | ۱۶۶ |
| آدخارږے ګلے - ګلدونے | ۱۶۷ |
| پلوشه - لوبه | ۱۶۸ |
| ګلدرونے - انصاف | ۱۶۹ |
| په کارږدی - زور | ۱۷۰ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| بادشاه خان ته خط | ١٧٠ |
| نیمے مړے سترګے ژیړے او انے | ١٧١ |
| د فقیرانو غزل | ١٧٢ |
| خوشحال خان خټک ته | ١٧٣ |
| لږ شو خمار پیدا | ١٧٤ |
| میا جعفر شاه ته خط | ١٧٥ |
| ګډے وډے | ١٧٥ |
| پلوشه | ١٧٦ |
| کارغه او بلبل | ١٧٧ |
| پلوشه | ١٧٨ |
| رشته | ١٧٩ |
| پلوشه | ١٨٠ |
| زړه | ١٨١ |
| معمی - پلوشه | ١٨٢ |
| لنډکے چرګ | ١٨٣ |
| دمال وزیر ته خط | ١٨٣ |
| خسره | ١٨٤ |
| درے زوړے | ١٨٦ |
| پلوشه | ١٨٨ |
| پلوشه - دلربا | ١٨٩ |
| هی هی زما لیلی | ١٩٠ |
| پلوشه - بهار | ١٩٢ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| ولے | ١٩٣ |
| درد ورد | ١٩٤ |
| وطن - مینه او حسن | ١٩٥ |
| زما د ګلو لښتے | ١٩٦ |
| ځوانی | ١٩٦ |
| ګډے وډے | ١٩٧ |
| پلوشه | ١٩٨ |
| ګډے وډے | ١٩٩ |
| خار د ریښمه | ٢٠٠ |
| پلوشه | ٢٠١ |
| بے پروا لکه لوی وے | ٢٠ |
| مناری | ٢٠٢ |
| حوره | ٢٠٤ |
| غمګینو سترګو | ٢٠٥ |
| عدم تشدد | ٢٠٦ |
| جدائی - فلسفه | ٢٠٧ |
| د فقیرانو سوال | ٢٠٨ |
| جانان - رباعی | ٢٠٩ |
| پلوشه - لیونی | ٢١٠ |
| سوال ځواب د لیونی او ملا | ٢١١ |
| پلوشه | ٢١٢ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| گلہ ے ورے | ۲۱۳ |
| پلوشہ | ۲۱۳ |
| دپسرلی شپہ | ۲۱۴ |
| دعا | ۲۱۵ |
| شاعری | ۲۱۶ |
| جنډه | ۲۱۷ |
| مور | ۲۱۷ |
| دنیا پیرو شہزادګۍ | ۲۱۷ |
| زه | ۲۱۹ |
| تول او تال | ۲۲۰ |
| خسرو | ۲۲۱ |
| اسلام | ۲۲۴ |
| سیل | ۲۲۶ |
| گلہ ے ورے | ۲۲۷ |
| مسلمان | ۲۲۸ |
| دنا د شمع کښے — د سحر نور داغی | ۲۲۹ |
| پلوشہ | ۲۳۰ |
| اګست ۱۹۴۷ء | ۲۳۰ |
| تول | ۲۳۰ |
| ارمان - بکواس | ۲۳۱ |
| پلوشہ | ۲۳۲ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| دوه خبرے | ۲۳۲ |
| گلہ ے ورے | ۲۳۲ |
| دنیاګۍ - دالۍ | ۲۳۳ |
| گلہ ے ورے | ۲۳۴ |
| قصہ | ۲۳۴ |
| گلہ ے ورے | ۲۳۵ |
| ځوانہ | ۲۳۶ |
| سلام | ۲۳۷ |
| دځمی مابنام | ۲۳۸ |
| ژوند | ۲۳۹ |
| ډبه | ۲۴۰ |
| اول سحر کښے ستا | |
| دلیډ خورا | ۲۴۱ |
| رباعی | ۲۴۲ |
| یاد دے دی | ۲۴۳ |
| دنیا | ۲۴۵ |
| ژوندون | ۲۴۵ |
| جنتی تہ | ۲۴۶ |
| وادرہ جنتی | ۲۴۸ |
| شان او شرنګ | ۲۴۹ |
| ترانہ | ۲۵۲ |
| شاعر او لیلیٰ | ۲۵۴ |




A .S.K B

| عنوان | مخ |
|---|---|
| اے نایکه | ۲۵۶ |
| ژوند | ۲۵۸ |
| غـــزل | ۲۶۰ |
| عبادت | ۲۶۱ |
| دا ایلم تو تیان | ۲۶۲ |
| سزا او جزا | ۲۶۳ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| ماتم | ۲۶۵ |
| پلوشه | ۲۶۶ |
| شاعری | ۲۶۶ |
| تنګ | ۲۶۸ |
| ګلونه وډي | ۲۷۰ |
| پلوشه | ۲۷۰ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| لکه واخلی چه ماشوم | ۲۷۱ |
| تقسیم | ۲۷۳ |
| بیا | ۲۷۴ |
| لیلیٰ | ۲۷۹ |
| څوک | ۲۸۰ |
| وخت | ۲۸۱ |
| والی ملاجان - پلوشه | ۲۸۴ |
| نرس | ۲۸۶ |
| شپه وه دسپرلی | ۲۸۷ |
| کیمیاګر | ۲۸۹ |
| دبودي تال | ۲۹۰ |
| ساقی | ۲۹۳ |
| ناری | ۲۹۴ |
| اسپتال | ۲۹۶ |
| شهید ډاکټر صاحب | ۲۹۸ |
| پرون ته یمه روانه | ۳۰۰ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| واندات | ۳۰۳ |
| حسین | ۳۰۰ |
| صیبونې | ۳۱۳ |
| نوی بلا | ۳۱۵ |
| دغتی پتوس | ۳۱۷ |
| حساب کتاب | ۳۱۹ |
| دنړۍ خال | ۳۲۱ |
| دنیا د غلام | ۳۲۴ |
| یورپ | ۳۲۶ |
| اے زما وطنه | ۳۲۸ |
| جنت او دنیا | ۳۲۹ |
| مینه او حسن | ۳۳۲ |
| سرېدې ګل | ۳۳۳ |
| دنیا | ۳۳۴ |
| چه آدم خان .... | ۳۳۹ |
| قسمت | ۳۴۱ |
| مرګ | ۳۴۵ |
| یوآن | ۳۵۰ |
| رنګ | ۳۵۱ |
| ګلونه وډي | ۳۵۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| تصوير | ٣٥٣ |
| دَ سامري محفل | ٣٥٥ |
| ګلاوره ګوټۍ پهٔ شا | ٣٥٧ |
| جلال | ٣٥٨ |
| راز مونږ غوندے ..... | ٣٦٠ |
| زما محترم رور ماسټر علي خان | ٣٦١ |
| بے نواته خط | ٣٦٢ |
| پلوشه | ٣٦٥ |
| نقاب | ٣٦٦ |
| اختر | ٣٦٨ |
| تپوس که جواب | ٣٧٠ |
| تلے مرګ | ٣٧٢ |
| لټون | ٣٧٤ |
| کاروان | ٣٨٠ |
| نه کيږي | ٣٨٢ |
| راکه ساقي راکه | ٣٨٣ |
| ديوداسي | ٣٨٥ |
| منم | ٣٨٨ |
| ګلونه دَ ورځ خارې | ٣٨٩ |
| ځمه، ځمه، ځمه | ٣٩٠ |
| يو ټکے | ٣٩٢ |
| باميان | ٣٩٣ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| سپرلی | ٣٩٤ |
| ماښام | ٣٩٦ |
| سپوږمۍ مسکۍ شوه | ٣٩٧ |
| چينجي | ٣٩٨ |
| دَ لندن معشوقے | ٤١٤ |
| عجيبه فلسفه | ٤١٥ |
| ګوګوشتو | ٤١٧ |
| ترجمه د اقبال | ٤١٨ |
| دعا | ٤١٩ |
| ميلاد آدم | ٤٢٠ |
| يو بے مهاره اوښه | ٤٢١ |
| سينه خم ..... | ٤٢٢ |
| باډيوه | ٤٢٣ |
| تالئے | ٤٢٥ |
| خيام | ٤٢٦ |
| سرود قلندر | ٤٢٨ |
| نوے سياست | ٤٣٠ |
| زما لال | ٤٣١ |
| کنې دنيا بنده | ٤٣٢ |
| پلوشه | ٤٣٤ |
| دعا | ٤٣٥ |
| هو برګيهو | ٤٣٦ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| پلوشه | ۴۳۸ |
| حقیقت او مجاز | ۴۳۹ |
| اوه، چېتول عمر... | ۴۴۰ |
| پلوشه | ۴۴۱ |
| نه او زه | ۴۴۲ |
| د زړه ښیښې په کیدو | ۴۴۳ |
| ګلې ورځې | ۴۴۴ |
| خندا او ژړا | ۴۴۵ |
| چه د مستۍ نه... | ۴۴۶ |
| وه ملا | ۴۴۷ |
| ژوند | ۴۴۸ |
| عشق | ۴۴۹ |
| په مردان مارچ... | ۴۵۰ |
| یو غږے | ۴۵۲ |
| سوال جواب | ۴۵۳ |
| اې د لیونیانو نیکه | ۴۵۵ |
| شهید | ۴۵۶ |
| منصور | ۴۵۷ |
| خرو | ۴۵۹ |
| پیدائش | ۴۶۰ |
| ګلې ورځې | ۴۶۲ |
| لنډے | ۴۶۳ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| مسلمان | ۴۶۶ |
| ساقي | ۴۶۷ |
| نوے کال | ۴۶۸ |
| زه | ۴۶۹ |
| سپرلي خلاصیږي | ۴۷۰ |
| د جیلخانې خوب | ۴۷۱ |
| ګلې ورځې | ۴۷۴ |
| قید | ۴۷۵ |
| خاورې | ۴۷۸ |
| د خوبونو جهان | ۴۸۰ |
| اے بادِ صبا | ۴۸۱ |
| مهذب | ۴۸۲ |
| سوداګر | ۴۸۳ |
| ګوګل | ۴۸۶ |
| جناب شیخ | ۴۸۸ |
| تاریخ | ۴۹۰ |
| ساز | ۴۹۱ |
| صاحب | ۴۹۳ |
| اور | ۴۹۴ |
| آدم | ۴۹۷ |
| نه کیږي په عقل | ۴۹۹ |
| اختلافات | ۵۰۲ |




A .S.K B

| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| لوږه | ۵۰۳ | پلوشه | ۵۴۰ |
| ویش | ۵۰۵ | چرګ | ۵۴۱ |
| دغم لور | ۵۰۶ | ښځې | ۵۴۲ |
| زور | ۵۰۷ | تیروتې | ۵۴۴ |
| بُت | ۵۰۸ | زیرک | ۵۴۵ |
| پیژندګلو | ۵۰۹ | ګلې ودې | ۵۴۷ |
| ولې ؟ | ۵۱۰ | ګلې ودې | ۵۴۹ |
| باچا | ۵۱۲ | عجیبه فلسفه | ۵۵۰ |
| دوزخ | ۵۱۵ | دتوت ښاخ | ۵۵۳ |
| لیونی | ۵۱۸ | مېښې دافلاطونه | ۵۵۵ |
| زه | ۵۱۹ | پتیره دادنیا | ۵۵۸ |
| اوښ | ۵۲۰ | جوارګر | ۵۵۹ |
| مرګی | ۵۲۳ | الا بلا په ګردن ملا | ۵۶۱ |
| کمتره | ۵۲۴ | جلال | ۵۶۳ |
| باوری | ۵۲۶ | پلوشه | ۵۶۴ |
| میږې | ۵۲۷ | پلوشه | ۵۶۵ |
| وصیت | ۵۲۸ | اراده | ۵۶۶ |
| ماشې | ۵۳۱ | رښتیا | ۵۶۷ |
| پیرې | ۵۳۴ | غمونه | ۵۶۹ |
| اُس بډو | ۵۳۵ | تجربه | ۵۷۱ |
| پلوشه | ۵۳۷ | خدایه ولې ؟ | ۵۷۳ |
| قارغه | ۵۳۸ | باباته | ۵۷۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| څه د پاره | ۵۷۵ |
| بوډا | ۵۷۷ |
| پلوشه | ۵۷۸ |
| حال نه ما | ۵۷۹ |
| څه وکړم | ۵۸۰ |
| زړه چاودې | ۵۸۱ |
| ګلې سره ورې | ۵۸۲ |
| زما محل | ۵۸۳ |
| قسمت | ۵۸۵ |
| اوري | ۵۸۶ |
| د بچو ترانه | ۵۸۷ |
| پلوشه | ۵۸۹ |
| مینه | ۵۹۰ |
| تماشه | ۵۹۱ |
| پلوشه | ۵۹۳ |
| نښه توې - پلوشه | ۵۹۴ |
| ګلې سره ورې - پلوشه | ۵۹۵ |
| مخ د جانان | ۵۹۶ |
| یو جام | ۵۹۷ |
| ضد ضد | ۵۹۸ |
| ولې | ۵۹۹ |
| یو جام | ۶۰۰ |
| ګلې سره ورې | ۶۰۲ |
| ګلې سره ورې | ۶۰۳ |
| بنی آدم ته تفصیل | ۶۰۴ |
| خیال | ۶۰۶ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| دوه سترګې | ۶۰۷ |
| وږمه | ۶۰۹ |
| شان دانه | ۶۱۰ |
| راشه وړو د یار غږه | ۶۱۱ |
| شاعر | ۶۱۳ |
| تنظیم نظم پر .... | ۶۱۴ |
| آ د لیونیا نو نیکه | ۶۱۶ |
| د حورو ښکار | ۶۱۹ |
| ګلې سره ورې | ۶۲۱ |
| ترانه | ۶۲۳ |
| دعا | ۶۲۵ |
| مینه | ۶۲۶ |
| مړه شمع | ۶۲۷ |
| بنده | ۶۲۸ |
| سلام | ۶۳۰ |
| د ژړی ماښام | ۶۳۱ |
| مست | ۶۳۲ |
| نږې او سینګار.. | ۶۳۴ |
| عقل یم حیرانه | ۶۳۵ |
| ژوند | ۶۳۷ |
| آیني | ۶۳۸ |
| ساني | ۶۴۰ |
| ترک خیال | ۶۴۲ |
| یره قیصه | ۶۴۴ |
| د مدرنګ یادونې | ۶۴۶ تر ۶۸۰ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په نوم زما ربه

دَ

# پنجرې چغار

ګوره بلبل په پنجره کښې جوړ
مست شو صحرا او په خوب کښې ئې
لوے یو جهان دَ کلو نو که
دَ کل تعل جهان دَ سیند نو که

دَ غني دَ جیلخانې نوي شعرونه

هري پور ۔ ۱۵ اکتوبر ۔ ۱۹۵۰ع کښې
دا کتاب شروع کوم
غني ۔

A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیشکش

شاعر دَ خپل ماحول غلام وی، دَ ده مثال دَ یو داسے حیوان
دے چه دَ هغه په وجود څرمن نه وی، که پوستے ته دازغی څوکه
ورو رسے نو په کریکو ځان وژنی۔ او که پوستے ته آرام ورشی نو
دَ خوشحالئ نه بے هوشه کیږی .

او کوره انسان ته چه بادشاه دَ ښارو دے
دے که ډیر زور وکی وتے نه شی دَ خپل ځانه
دے دَ خپله ځانه دَ جهانه روکیدے نه شی
کله دَ کعبے نه تاوشی کله دجانانه

بنده دَ خپل احساس او بے حسی په قلا کښے بند دے، او
دغے ته خلق قسمت وائی. خو شپږ کاله وړاندے واقعاتو دَ خپلے
لوئے قلا نه راونکلم او په ډیرو ورو ورو دَ خښتو
قلاګانو کښے بندیوان کړم .

دغه دَ درد، زور او تیرے ماحول کښے ماته دَ لارے
روښانه کولو صرف یوه شمع وه، او دا خما دَ ځوانئ او مستئ کالونه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په دې تور او تاریک باغ کښې شوی دی او ماتړ نه یوه مړا ئې ګلدسته جوړه کړې ده مغې فرښتې ته پیش کوم، چا چه دَ حیدر آباد دَ نوابي رستم جنګ محل دَ غني دَ تالا شوې جونګړې دَ پاره پرېښود. او ما شي دا دغم. دَ درد او بې سروسامانۍ روڼې ډېرې په خندا خوشحالۍ او بهادرۍ تیرې کړې. زه چه دَ هغې درد ته ګورم نو خپل درد را نه روک شي. زه چه دَ هغې نزتوب وینم. نو په خپله بزدلۍ ستومانه شم. زه دَ ډېرو نرانو نزیم. خو دَ هغې نه نر نه شوم.

نو ځکه دا کتاب زه په ډېر ادب او ډېره مینه دَ خپلو بچو مور ته پیش کوم.

یو خوب دَ شاعر په جامه انساني
یو ساز دور دراز ښکلې خوب آسماني
یو ګل دَ جنت په خصلت رحماني
یو جسم ناري یو زړه ګې نوراني
شوله دا سې پیدا دَ غني دلبرا
په غیرت پښتنه په نهایت ایراني

هرک پردجیل
۱۹۵۳ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دُعا

ستړګو دَ جانان کښې زمابنکلی جهانونه دی
وادِ خله دنیا زه وږے ستا دَ دنیا نه یم
کوږه دَ فقیر کچکول کښې تاج دَ سکندر دے پروت
زه یم دَ سخیانو دَ شومانو ګدا نه یم

زه ئے په غرور درنه دَ مینے په نوم غوارمه
زه ملنګ بے نیازه ستا دَ ویر واویلا نه یم
یو دَ سپوږمۍ ځانګے درنه تیک له دَ یار غوارم
زه یم دَ خوبونو دَ لالونو ګدا نه یم
هغه مستی غوارم چه ئے مرګ نشی وژلے
زه دِ دَ غمونو دَ بیکا او سبا نه یم
او تشه دنیا ګڼے که دِ بخښنے نوا ے امیره !
ستا شوه ستا دنیا۔ زه وږے ستا دَ دنیا نه یم

غنی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ثنا

توره شپه دِ کله کله دَ غمونو انبار راوړي
کله شمع ساقي راشي او خيام او ستار راوړي

کله توره شپه لحد شي مرغه روک کوي په ياره کښې
کله رنګ او خمار راوړي کله شرنګ او دلدار راوړي

کله ډوب او بې قراره يو دَ رباب دَ آسويلو شي
کله مست دَ رنګ محل شي بې خودي او خمار راوړي

دا زما بې خودي واره يو نظر ستا دَ قرار دے
دا زما دَ رباب دَ حسن ستا يو څاڅکے دَ خمار دے

غني



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

چه خمار مستي تې وزي — شراب شي ترخې او به وي
چه سرور غرور ئې نه وي — دا ژوندانه ورځې وَ دَخه وي

چه دَ مينې ذره شي پاتې — لکه ګل وي رژېدلې
يا شعله يوه دَ نور وه — يا يو موټې دَ خزلې

چه په ژوند کښې سخته نه وي — لکه بې مالګې طعام
چه په خوله کښې خندا نه وي — لکه ډک دَ خاورو جام

چه خوانۍ کښې تکليف نه وي — لکه پټه ميان کښې توره
نه ئې پوهې شي نه شرنګ شي — په زنګونو شي زخُوره

چه آرام وي او سمام وي — او يارې په جايد ادوي
خو بانو هم شيرينې وي — هر ترو پرو فرهاد وي

چه پې سر په خندا ورشي — هله خوږ راز و نياز شي
چه دَ سپينو تورو جنګ شي — ښکاره هله کښې اياز شي

ژوند که تش فيرنې ختمل شي — دا خو سپي هم شي ختلې
که تش نسل زياتول وي — دا غوئې هم شي ښه کولې



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند نه خیښته نه ماڼۍ وي — نه ډېرۍ د سرو لالونو

نه یاران نه معشوقې دي — نه باغونه د ګلونو

ژوند خو ګله دي یو په مخه

غورزېدل او پاڅېدل دي

تکے سوز او تکے ساز دے

څه خندل دي څه ژړل دي

ژوند په سترګو د عاشق کښے

پلوشه ده د خمار

په صحرا کښے لټول دي

د آشنا د کوڅے لار

غني
حیدراباد جیل
۱۳۴۹-۹-۱۱





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هری پور                                        ۱۴ مارچ ۱۹۵۰ع

# ګواه

یو تکی دَ رنګ کښې          دریاب رنګا رنګ
یو ښاغلی دَ ساز کښې          هم سوز او هم شرنګ
دَ ژوندیوه لمحه کښې          سوونه عمرونه
یو چونګ کښې دخاورې          مستی او غمونه
په لپه ایرو کښې          ښارونه دَ نور
دَ هر ګل په شونډو          رازونه دَ طور
خاورینه خرمن کښې          خندا او غرور
تیارې دَ شهوت          او رڼا او سرور
دې بت کښې دَ خاورو          دا تال دَ ابد
دَ ښاغلي په غیګ کښې          جمال دَ ابد
ثبوت مانه لوئی ستا دښان کوم دے
ګواه مانه سبه ستا دَ شان کوم دے

خانپور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان پور

# ښومره؟

ښومره مينه مستي ده کرم ادب ښومره؟
ښومره تا دلدار جانان کرم رب ښومره

نه زه ستا په حد دښان په حساب پوه شوم
ستا پوهيږي څپل هنګ او طرب ښومره

ترانې په ساز سرود ترکومې رسي
ګلاب پوه دې دخايښت(*) په مطلب ښومره

دا سپوږمۍ چه کل جهان حيران حيران کړي
دا پوهيږي دڅپل نور په سبب ښومره

رنګ رنا دڅپل ښيکر په ښو رونه
دومره ښيښت وي چه زړه وي طلب ښومره

دا چه ستړي شونډې اور سرور روښان کړي
معشوق پوهيږي دعاشق په مطلب ښومره

ښامينه ده ادب د پنجرې اوزي
وايه ښومره دجانان کرم رب ښومره

(*) ښايښت: ښايست.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بلڅه

په نظر کښې مې | د باغونو خيال

په نصيب کښې مې | لاره د غرونو

عجيبه اچار | مې اچولې دې:

د ګلونو | او د غمونو

په غوږونو کښې | شرهار د ساز

د ګنګرو پېزيب | او خندا آواز

ډوب مې زړه لټمئ | بلڅه نوې ساز

بلڅه نوې سوز | بلڅه نوې راز

څکه خيال کښې مې | د باغونو رنګ

او نصيب کښې لاره | د غرونو

ما د توروهيرور(*) | جوړ کړېدې

ځان له ښکلې تخت

د خوبونو

مرحب پوه

---

(*) هيرو : ايرو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تش جام

هغه څه ساقي وي — چې تش شراب وي جام کښې
نه ورکئ خمار د سترګو — رنګ د سرو لبانو
دا د دوزخ اور وي — چې تش سور وي رڼا نه وي
دا هغه مکان نه دے — چې خطبې لولي ماښام کښې
دا د ازغو جاړه دکاډب — خو ګلاب نه لري
دا لوګو وهلے سیخ — تیکه او کباب نه لري
زهر زهر زړه مړدي — شراب چې خمار نه لري
کفر کفر کفر ده — مستي چې قرار نه لري
څه هغه بنده وي — چې جنون او دلدار نه لري
هغه د څ رسیند وي — چې غوټۍ او آبشار نه لري
هغه څه مومن وي — چې مستي د کافر نه لري
څه وي هغه سترګے — چې د مینے نظر نه لري
هغه دعا څه وي — چې شرنګار او ښنا نه لري
زهر زهر زهر دي — شراب چې خمار نه لري



A .S.K B

# غم

پښتون مې ضمیر، روک که قلم تش د سیاهۍ نه
کوټه کښې یخ او تریخ لوګے باهر(*) یخنه بې میلۍ
دماغ مې پریشانه زړګے پرېوتے د مستۍ نه
خیالات مې روک نوستلي غم وهلي په ټلۍ
دُنیا مې د امید د رڼا نشته تکه شه توره
د غم د قیصو که ده خندا آوازے میر
هره لمحه د ساه ترخه بې خونده او چپه سپوره
محمود د خان لیونے که شوخۍ بته ایازے میر
داغم نه د طاقت د حکومت، نه د شوکت دے
داغم د تیریدو دے ـ بې مطلبه د ژوندون
لیلۍ محمل صحرا مې تیاره ی خو افسوس
د خان لیونی کولو همت ونکړو مجنون

په پیرول
۱۹۵۰ء

(*) باهر: بهره د باندے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هوش

شراب هله شي شراب چه څوک[1] وڅښي / څاڅکي سيند شي چه چپه شي آبشار شي

ګل چه خور کړي په سپادين د رنګ دوړان کاچل / په تيرو کښې جوړ عجب د ګښت بازار شي

چه آواز د سُرو اوزي بدل ئې رنګ شي / چه خودي د خودۍ اوزي نو خمار شي

چه فولاد د مينې مستې او به واخلي / نو حيران او پريشان تار د ستار شي

سرتوب چه لوړ او چت شي ليونتوب شي / چه صحرا په رنګ مين شي نو ګلزار شي

چه انسان مالک د حُسن او سرور شي / او دا او ګوره ورته ګلونه لاله زار شي

د سپوږمۍ حسن روښان شي په شبنم کښې / د غاټول[2] اوښکې ولونه د ښامار شي

د ژوندون مطلب کمال دې د اظهار / يو له اوښکې يو له اخ يو له شهکار شي

بل څه نشته خان او ژوند پوره کول دي / قيمتي هغه خوبونه چه بهار شي

بس بله دې که مجنون دې که مدهوش دې
خرخرونګې اخښتونګې د ده هوش دې

که جومات کښې بس الله الله دې / ميخانه کښې يو آواز د نوش بنوش دې

دغه خوند کړي چه يو يار شي يو ديار شي / دغه خيال کله جانان کله بهار شي

تول د هوش کفر که مينه که سرود دې / د ذره سر دي نه شمع ده نه نور دې

---

(۱) څوکے: څوک يے. (۲) غاټول، غاټول



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه دا کله ارکه جوړ رب د جهان — چه د عقل تور کند وته قانون وائی
دے د حسن بخارۍ ته لیونے وائی — او د خاورو وسودا کثرو ته قارون وائی
د ژوندون احساس ته خبط او سودا وائی — عاشقۍ ته د بدبختو خو جنون وائی

د دوه هوش د دوه د مینے تور منا مار شی
داعیسیٰ غریب بخپل بستر په دار شی

هوش عقل یو د سوزونو منار و دے — لوخے وطن د دریابونو د درود دے
ده کښې بخے تارخانے د طور د کتو — دے کښې خوریو تور دریاب ته په تیرو دے
دے کښې سپین لوخے محلونه د دنیا کے — دے کښې خور خاموش ارمانو د مقبرو دے
کله کله د مستۍ سره خمار رونه — کله کله تش کچکول اوک د آسره دے
دا د شکر چه د غم په تور محل کښې — را ښکاره کله یا مینه یا دلدار شی
دا د شکر چه د مرګ په بادشاهۍ کښې — کله کله خانګے وخاندی آبشار شی
دا نعمت دے چه په لوړو کا نه شوے — خط وخال تالا په سره شوندو د یار شی

هوش چه ورک شی د خپل هوش نشه نو مستی شی
چه خودی د خوده اوزی نو خمار شی

«کوثر»



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حسن

او هٔ تپوس دَ حسن مکوه — سمندر ته شي څوک تللے
څوک سپوږمۍ ته شي رانيولے — څوک زهرا شي بنکلولے

حسن پلار دَ مينې او مور د عشق
پکښې پټ دي تول سپين او تور دَ عشق
دَ ده خيال نظر همه زور د عشق
په سره شونډو بلې ښکلې اور دَ عشق
دا بابا دَ سُر او سرور دے
دا تعبير دَ جلال او نور دے
دا مکه دَ ستر کو خندا کښې
دا په هر کو څه کښې طور دے

دَ آدم دَ نوم بس يو دا سبب — دَ بهار سبب دَ رڼا سبب
دَ حوا دَ ژوند او ارمان قيصه — دَ سرود دَ رقص او دَ ژړا سبب
دا جواب لکو نو سوالونو دے — نشته هيڅ دَ ژوند ون بل جواب
دا صوفي ته محراب او منبر خالي — ليوني ته کباب او شراب



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے دَ خیال اورنګ دنیا ګښې دا ـــ پلوشه دَ مینے دَ یار ده
دا دَ رحم پیغام او وعدٔ دَ وصال ـــ را لیږلے غلام له دلدار ده

دا دَ مرګ سبب
دا دَ ژوند ضرور
دا دَ ګناه تعریف
او معنیٰ دَ نور
دا دَ عشق وجود
دا دَ مینے راز
دا دَ سوز خوند
دا مستی دَ ساز

هر نظر نے شراب دَ مستی ده ـــ دا دَ روح لیونے میخانه ده
دَ بنده او آقا دَ زړه راز دے ـــ دَ ژوندون او جنت افسانه ده

خان پور
۱۹۵۰ء





A.S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اور کښې

ډول د لرې خوږ دې د هغه کیا نو دا متل دې
هره فلسفه د لرې ښه او پوره ښکاري
ذره د بنده نه دې عجیبه بې چله چل دې
ډوبه په ارمان کښې چوارې هم حوره ښکاري
عقل له دهوکه ورکوي حسن که دلدار دې
خان ته تښتیدل دي عبادت دې که خمار دې
دا مسته رڼا دا مینه حورې او ماښام
څه رنګین سراب دې د لیدلو پوهیدلو
دا چه ورته ګورې بل څه نه وینې نه ګورې
دا عجیبه دام چا دې جوړ کړې د لیدلو
دا یوه قصه ده د ډک جام د توئیدلو
دغه فلسفه ده د دریاب د بهیدلو
رحم نه انصاف دې یو تدبیر دې د دوام
هر څوک ئې پکار دي که خیتو دې که خیام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شړنګ وي دَ نِږدې نه اوړو لګې دَلرې لرې
دوارو غږئ یو شانې اوریو رنګې خبرې
دِک دَ ظلمه زوره دَ طاقته دَ باز پرې
جوړې دَ مهین اورنګین بوی دګل وزرې

کومه لاره چه اخلې خو مقام ئې بس یو دې
دلته زړ چو ماته دی امام ئې بس یو دې

څکه لیونې ړې مرور شي څکله کله
بل خواته ورتاوکړي دا دَ هوش ټهقه شله
پریوزي په پړاو کړي بتخانه کښې دیره بله
څپې سپینې پولي ځمغې تاقتي دَ منزله

تاته اور سرور دې یو ماوې وژنې اور کښې
اې دسپین او تور ما لګه څه مزه ده تور کښې

وې زما لال وي پروت په خُلې کښې دَ ښاماړ
وې دې ګلاب له نه اوربل او نه بهار
وې دِ بندي که څاڅکې تن کښې دَ پوندو کي
غوارې تر چپې دَ سپیند سازونه دَ ابشار

ماله مړګ او ژوندې دې تاله تش دَ ځنې ول دې
اور کښې دې بل کړې وې حسن الوول دې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور ته دے نیولے یم فولاد جوړے زمانه

سنه۔ چه زه فولاد شمه نو څه زما جانانه

جسوله فولادو له جوهر وله کمال له

بس خاورے کیده دی روکیږدی کی دنیا ته

ولے دِ ورانولو له جوړ کړے سور محل دے

اور کښے دے بل کړے ولے حسن الوول دے

غنی

ډیره اسمعیل خان

۱۹۵۰ع





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حساب

یو خوالیو نے دے دَ تیکرو جام په لاس
غواړی دَ عطار نه روح دَ ګل خمار دَ ګل
بلخوا او بنیار شاه دَ بوے په کته په لباس
پوخ ئے که خوراک له هم پیچی له هم بلبل
تله په لاس ناست دے خرخوی مینه خمار
بس دَ ده ایمان دغه جنت دے نشته بل
بے خماره مینه لکه بے نشے شراب
زما ئے خکل حرام حرام دے ته کتل
بے مینے ژوندون دے لکه بے سُره ستار
تنګ ترے نه او منکل دَ جنت حور وته کنزل
روکه کړه مجنون لیلی محل کښے دَ ایران
ده ته سُر محل شو دَ غمونو بیابان
تول جهان ته اور دے ده ته مینه دَ جانان
ورد دَ ده خندا په ژړا کښے دَ جهان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دہ تہ درد او چغو کښې وناست مستی ژړلون
دہ لہ وے دوہ لاړے یومرگے، اویو مجنون

ښہ۔ یوخوا خودغہ بلخوا بلہ تماشہ دہ
ناست خان لہ نمرود دے او دَبل دردنشہ دہ

داخہ عجیبہ شانتے انصاف دے دَفطرت
گل لہ ښکلے بوی دے او دِ نبر خوار لہ لشہ دہ

داخہ عجیبہ خیشت پرستی دہ دَ رحمٰن
مرہ پرتہ بلبلہ دہ او نښتے پے بابنہ دہ

څہ وکړی شاباز یا بہ روکیږی یا بہ زور کړی
څہ وی جرس چہ وی دَ زوند هلہ چہ شور کړی

دغہ دَ جهان، دغہ ئے چل، دغہ ئے راز دے
دغہ دَ ساقی، دغہ محمود، دغہ ایاز دے

دغہ وائی دَغم او دغہ وخ دَ همہ ساز دے
دغہ دَ خیام او دَ بلال دَ خُلے آواز دے

خان مستول مینہ او خمار زیاتول
دے دَ ژوند تنور کښے سور انگار زیاتول

یود یار دَ خُلے ورتہ او بل ئے دَ دولت
یو دَ خان پہ سترگو روک او بل ئے پہ شوکت



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوئے مست په شرنګ او په خندا او په سرور
بل ئے په غضب دَغورزنګونو دَ شهوت
یوئے په تیرو دَغم په لړو دَ ماښام
بل ئے په سیلئ او په باران او په قوت
یوئے په پَستو پَستو سوالونو دارمان
بل ئے په باهواو په جلال او په شوکت
یوله تیز نیلے، سترګے سرے سرۀ توره په لاس
بل له تنهائی، رنګین ملګونه دحیرت
یوله دَ الماس محل، سپین او روڼ او پاک

دوی سره حساب خو لږ ګران شان دے
ستا په هر جنت کښے لږ عذاب شان دے

غني

ډیرۀ اسمٰعیل خان





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

هله يار وته نژدې شوم — چه دَ يار شومه لرې

هلتے پوئ شوم په خبرو (*) — چه ئې نا ورمه خبرې

چه ملنګ شومه جانانه — خزانه مې و مُنتله

په زړګى کښې مې پرتې وې — ښکلې ښکلې ملغلرې

چه مې کل بُستان قربان که — نو د کل بُستان مالک شوم

چل مې هله دَ بړ زده که — چه مې وسوے وزرے

چه په جام کښې دَ ساقى مې — دَ ځوانئے وينه کړه ګډه

هله پوره شو محفل کښې — د خمار خمار بخرے

چه په شوق او مستے مې — دواړه سترګے ورلوګے کړے

هله هله راته او کړے — دَ ساقى سترګو خبرے

چه پرے مستے ځوانی دا وکړے — چه پرے ښکلے سرکړې خادرے

د مغوري دى ليونيه!

دَ جانان شونډے شکرے

غني

حيدر آباد جيل

(*) هلتے = هلته ي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قسمت

چه څوک سوال دَ پلاؤ وکړی ورکړے دال
اکثر خوړ کړی په ښکاری دَ ښکاری جال

چا ته جام کښیږدَ سرو خاورے شکے واچئے (۱)
چا له ورکړے دَ ایرو په ډېر (*) کښے لال

یو وبال چه څوک په صبر صبر تیر کړی
ورله راولے دَ همغے لوئے وبال

څومره بار چه څوک وړی دومره ورا چے
دَ زمری خطرے نه تیری شغال

چه کوم کال خلق زاری دَ باران وکړی
په باران پسے راندہ کړے هغه کال

لیونی نه خفه مشے دے قربان شم
اکثر و داغے دَ خره په ځائے کلال

غنی

حیدرآباد جیل

---

(۱) واچئے ، واچوے . (۲) پسے ، پسے یے .
(*) ډهیر : انبار ، دلی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ فریدون دَ مور خط

ځما دَوادہ پہ دولسم کال پہ ۱۵ ر تاریخ دجون
دمیاشتې ۱۹۵۱ ع ځما صرف یو او یوازے زوے فریدون
۰ رستم جنګ ۰ پیدا شو. دغه مور دَ پښاور په هسپتال
کښې وه ۰ او زه لرے په هزاره کښې ناجوړه پروت وم. هر وخت
به مِ دَ کوټې دَ دروازے په څنګ کښې یو تور بلا رنګه توپک
او سنګین په لاس پولیس ولاړ وو. ټول جهان
تور او تاریک وو، دَ وجود دَ ناجوړتیا سره مِ روح هم
دَ مایوسۍ آخری مقام ته رسیدلے وو چه ناګهانه
خبر راغے چه زوے دِ وشو، ما وے ښه ده غنی
روک خوئے خرمیرات خونه ئے .

دَ دغې ورځې دَ درد او دخوشحالۍ بیان زه
نشم کولے. خو درد او خوشحالی دواړه انسان
ډیر ستومانه کوی ۰ او چه آخر مِ ستړے دَ هوش
دنیا ته سترګې کړے ۰ نو څه وینم چه دفریدون مور راغله



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ماته ئې يو خط په لاس کښې کېښود

داهغه خط دے :

ما د دو لپو خاور ے تاله ژوندا د جهان جوړ که
خپلے مينے داسے يو ړم بل م تاله جانان جوړ که
دا چه زه د وفا د که د جنون جهان له لاړم
دام لا ل هغلته وموښت(*) د همه لالونو ښکلے
دا زما د غرور ښخښته د هغو کيلو جواب دے
چه به تا په ما بنا مې کښې ماته کوله غلے غلے
دا ثبوت زما د مينے د ايمان او د وفا دے
دا زما روح چه روښان شو د ده ستړي کړ ے کړے
دا تصوير زما د ژوند دے خه خندا ده خه ژړا ده
د شهباز د وزر ښغ دے پوست سړ ئ د بلبلے
دا ثبوت د شاه د مينے ، دا زاری ده د غلام
دا انعام د ډېرو ښکلے د هما و نښکين جام
دا تعبير ستا د خوبونو او زما خ د ارمان دے
ماجوړ کړ ے د خپل ځانه ښکلے عکس ستان د ځان دے
په صحرا م د وخور کړے سور ځان د ګلستان دے
هره ساه کښې م ليکلے نوم د مينے د جانان دے

---

(*) وموښت : وموند .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچه زه ستا د خوبونو د جنون تلاش کښې لاړم
ستا خانئے له م جوړ کړے ستا نه سنبه غونډی یو خان کړے

داچه ما ستا و زړونو کښې ارمان د عقاب ولید
داعقاب م ستا نه جوړ که، هم عقاب هم نے ارمان دے

دا سرے سرے د ساقی شونډے خه مستی او خیام
دا په سوز کښې رنګ د ساز دے د ممبر د پاسه جام

داد نیشت، په شاملات کښې ما اجل ته کینبود ځلے
داخو ما د صبا طمع کړے پرون سره بدلے

داچه زه یو رنګین خوب شم د تلاش او د آرمان
ستا په تورتاریک محل کښې سپینے شمعے شولے بلے

ما د درولپو خاور تاله ژوند او جهان جوړ که
خپلے مینے دا سرے یو رم بل م تاله جانان جوړ که

ماکه داؤ په یو آرمان ستا خپل ژوندون تمام تمام
ما خپل هوش کلال له ورکه چه تر تاله جوړ کړی جام

چه ته تول مجنون مجنون شوے، زه هم لیلی لیلی شوم
چه ته رنګ شوے او خیام شوے، زه شراب زه ګل اندام

چه ته طور شوے او موسیٰ شوے، زه د نور برق او رڼا شوم
چه ته شور شوے او ارمان شوے زه د وصل ګل سمام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چه شوې دَ اور بڅرې زه هم سره لمبه د اور شوم
چه مستا زړه په تالاش سره شو ، زه شوم لاړه. زړه مام
داچه مستا شونډې شوې تږې دَ مستۍ دَ سرو شرابو

داخو څکه زه جانانه هم شراب شومه هم جام
تاچه سوال دَ رڼا وُکه ، دَ بهار صبح صادق شوم
ته مېن چه په تياره شوې ، زه دَ ډمي شوم ماښام
چه تا نوم دَ غُرا (۱) ، واغښت (۲) ماکړه مرکته د يوه ملبه
چه تا نيت دَ طواف اوکه ، نو ما وتړو احرام
مادَ دوو لپو خاورې ، تا له نور او بُستان جوړ که
خپلې مينې داسې يوړم ، بل م تا له جانان جوړ که

بهکنوتر
۱۹۵۰ع

(۱) غُرا دَ مکې . دَ عربو د جنگ بت خدائے وو ، دَ اسلام نه اول . (۲) واغښت



A .S.K B

آرنِۍ

# « اول سترګې ستا دَ لید وخوړا »

زه خو ساز او سرور او خمار پیژنم یا لیلیٰ پیژنم یا ایاز
زه خو غم او اور او دلدار پیژنم یا رقیب پیژنم یا غماز
دې نسکور شمکور (*) ته دَ نور قیصې دَ جنت قیصې دَ جلال قیصې
منز کوري (+) ته دَ زړه قیصې دَ مابنام قیصې دَ ملال قیصې

زه خو ګل او چمن او شراب پیژنم او بهار پیژنم او خزان
نه خو شرنګ او رنګ او کباب پیژنم نه ګناه پیژنم نه شیطان
دې ملا موش بې هوشه دَ خو طمع ته به ظلم دِ رتبه زور دے
دَ کیکر نه ستا دَ مالتو طمع او کیکر غریب له اور دے
دې شمکور نه ستا دَ لید و طمع، دے نسکور نه تا ته دَ تلو طمع
اول سترګې ستا دَ لید وخوړا، بیا کړه دَ مُیند وطمع

زه خو ساز او سرور او خمار پیژنم هغه خرم ته به چې ځکلے شم
زه خو شرنګ او غورځنګ او ستار پیژنم او جانا هغه لیدے شم
زه خو ناز او مکیز مسخره پیژنم ښکلے خط پیژنم ښکلے خال
زه خو شونډې پستې او خله سره پیژنم، او رنګینه خندا دَ وصال

---

(*) شب کور – شوکور. (+) ممنز کوري ، د موږک چرچي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خوستر کے خوږے په ارمان پیژنم . او نړۍ تړمګۍ(۱) د ملنګ نام
زه خوست او منت دَ جانان پیژنم ، د ساقي په سرو کتو کښې جام

دَ ملهوش بے هوش نه دَ نور قیصے دَ جنت قیصے دَ جلال قیصے
دا کوتکتې نه دَ باتور قیصے ، دَ پرواز دَ خیشت(۲) او کمال قیصے

* * *

چه پتنګ دَ نمر رڼا نه شي لیدلے
ګناګار(۵) شو چه په شمع شو شیدا
زړه کښې چونګ لپه هیله دَ خاورے ځای شي
چرته غاړے کرم پکښې دا دَ نور دریا

خُنګه خُنګه په یوګوټ کښې دا جهان او آسمان واچوم ؟
دَ شبنم څاڅکي کښې خُنګه دَ سیندونو دوران واچوم ؟

او بیا لا ـ دا ـ دَدے دَ پاسه به حساب او کتاب هم وي !
دَ رندو سترګو بادشاه له به سزا او عذاب هم وي !

دغه شونډے ستا دی جوړے ماله وے شو عذاب
چه خوارۀ پرے باندے لګی دَ شکرونه شراب
دغه سترګے چا کړے جوړے خیشت تیږے وګے او حیرانه
په کلونو کښې چا خورکه دا خاښت دَ ـ لامکانه ،
چا که جوړ ځان له مکان خپل روک(۳) زما دَ کل امکانه
زه په څاڅکي کښې ډوبیږم ـ سمندر بے پایانه

---

(۱) تړمګۍ ، تړو بوټي تیاره . (۲) خیشت ، خاښت ـ بنایست . (۳) روک ، وړوکے . (۵) ګناګار ـ ګنهکار ـ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یو نور د تیرې سورې، ته د زمکې آسمان نور(۱)
بې کناره دریاب د رنګ ته زه یو څاڅکې د سرور

ته ژوندون د کل ژوندون ئې زه د مرګ لمحه ناکام
سمندر ته د مستۍ ئې زه یو مات او سوری جام

ستا په رحم دې نیاز پېژنم څکه یم ورته ګویا نه
د غلام ګیله هم واوره د سپوږمۍ او ستورو خاته

* * *

زه خو ساز او سرور او خمار پېژنم، هغه خو دم راته په څکلې شم
زه خو شرنګ او ترنګ او ستار پېژنم او جانان هغه ځکه لیلې شم

زه خو ناز او مکیز مسخره پېژنم ښکلي خط پېژنم ښکلي خال
زه خو شونډې پستې او خُله سره پېژنم او رنګینه خندا د وصال

زه خو سترګې خوږې په ارمان پېژنم او نوي ترمګئې د ما بنام
زه خوست او منت د جانان پېژنم د ساقي په سره کوتو کې جام

که شکوه نه ستا د لیدو طمع، دے نسکوره ناته د تلو طمع
اول سترګې مې ستا د لیدو خوړا، بیا کوه د مینې طمع

---

(۱) اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توقع

ما به شمع کوله
تا که جوړ رانه پتنګ
تلمه بنکارله دکبوره
تا دې هېنس کړم په غمنګ

ما د قیصته وملنګ یم
تا رښتیا کړمه ملنګ
ما پېښے کړے، د تورزنو
تا م کوړله را ورو جنګ

زه خوغږ کولے نه شم
په کیلو ته خفه کیږے

خو حقه داده لو یه خدایه
ته په توقو نه پوهیږے

غني

حیدرآباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دڼ کښې

ګوره بلبل په پنجره کښې جوړ
لوئے یو جهان د ګلونو که
مست شو صحرا او په خوب کښې ئے
د کڼتول جهان د سیند وتو

دا روحانی کارخانه زما — زور او ستم نه خمار جوړې
دالیونے شان ځیګر زما — او زخم پسې تر نه هار جوړې
دا مصور په خپل رنګ مسرور — ټول جهان مست او شار روینې
دڼ کښې چپې او خند اد سیند — خاځکی کښې عکس د آبشار روینې

ګوره بلبل پنجره کښې جوړ
لوئے یو جهان د ګلونو که
مست شو صحرا او په خوب کښې ئے
د کل جهان د سیند ونو که

* * *

وته سپړلے او ځوانی شو کښې — لیونۍ روح او رنګین ما بنام
خوا کښې ګلاب ئے په مستۍ تیر شو — مشوند وکښې رنګ او کوتو کښې جام



A .S.K B

وړه چینه شوه چرته رواں — دړوند او مړ کړې شروع که ساز

ژوندون ړوندې شو عشق راز غوړن — خیشت پټ شال کښې د مینې راز

بیا خزان راغې ګلونه لاړل — ستار شو غلې او شراب کم

ځوانی رخصت شوه خندل نا یاب — دعا اوږده شوه او رباب کم

زړه خپل تخت وکړه سر او سودا — وخت شو بادشا او ژوندون مړینه شو

مستې جنګ بیله توره کېنوه — سرور غلام شو جنون مړ نه شو

واړه رنګونه تېرې کښې دوب شو — سبا رخصت شو او ما بام راغې

او میخانه شوه د جرګه — ساقی رخصت شو او امام راغې

خوناکهانه وړه لولکه — په خوب بوده شو او خوب ئې ولید

نوې سپرلۍ او سره ګلونه — د عشق ایمان او نرتوب ئې ولید

د خپلې مینې جواب ئې ولید — نوې لولکې نوې ګلونه

روښانې ولید یو نوی رنګ کښې — خپل ارمانونه، خپل امیدونه

مصور په خپل رنګ مسرور — تول جهان مست او سرشار ولید

دن کښې(۱) چپې او خندا د سیند — ښاخلې کښې مخ د آبشار ولید

کوره بلبل په پنجره کښې حور — لوې یو جهان د ګلونو که

مست شو صحرا او په خوب کښې ئې

د کل جهان د سیندونو که

تهند بانی حبل

---

(۱) دن = دند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنّت (۱)

ستا دَ رحمت څه حد هم شته دے ؟ اے بے حسابه ابے پایانه
ستا خیشت او مینه څوک شی تللے . دَ ستر گو پته روک دَ ارمانه

د ملا ستر گے دَ تهوړ د کے راته قیصے کوی
دَ دهر داورزورد
دَ جانان شونډے دَ کوکوډ دے وی[۲] راشه اوګوره جنت کښے اوړ

مرګ بلے ستر گے او خوږ پنځے راته خوزی[۳] لحد . نیست او عدم
شیطان ، ملا . دواړه په یو آواز وی . ستا ګناه ډیره ده او رحمت کم

مشک ولاړ ، عصا په لاس . قبا په وُلی
دستار په سر
لاټو وزرے د بلبل اینبے ، بنائی شهباز ته دَ الم سر

بنا پیرک مشرہ ے دکاروان ، دَ دنیا خیشت او سنگار لتی
سارې ژاړي دَ زړوبت کښے ژوند ون مستی او خمار لتی

---

(۱) په جنت ما نورهم دوه درے او ډیره او ډیره نظمونه لیکلی دی ، ځکه چه په دلته دانسان په دماغ کښے د جنت تصور ډیر عجیبه او لطیف دے . خو عامو انسانانو دَ یو تصور د پاره هم دوم ا د هېډنه دے هضم کړے لکه دَ جنت دَ پاره . (غنی)
(۲) وی : وائی . (۳) خوزای : خوځوی .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کو نکت دَ سوتو په دیرئ پورته ، زیرے لوګے ته دَ نوریان ګی
چینجے دَ خاورے په ممبر برہ ، قیصے دَ حورو او دَ آسمان ګی

څکه په چغوزه دَ جماته لا زم په لوری دمیخانے
دے خپلو ستر ګو دوب کړم ډاله کړم هم شرابی کړم هم لیونے

خو چه په بلدو او بد رنګو خپل لکه دسکور لو ګے اداور شمه
چه سُر او تال م تیار نه فنا کړی دَ بے وسئ فریاد زړا او شور شمه

نو ځان ته دایم تاته واوړوم دا دَ مجبوره زړګی بهانه
ستا خیشت او مینه څوک شی تللے دے بے حسابه او بے پایانه

غنی
خانپور جیل





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپرلے

بیا سپرلے راغے بیا ئے پیغام راوړه
د رنګونو. ګلونو. او. رڼا
شو ساقي مسکے رګ ئے جام راوړه
د مستئ. خوا ښئ او خندا

یو سبا راغے. یوه شپه لاړه
د تیرو. یریدو. او ارمان
یو زیرے ګل م مابنام ولیده
سلامونه ئے کول د جانان

دا دماغ زما چرے نه منی
چه د ګل خالق په سفر کړی جوړ
خنک خوږے به ئے زما کړیکے لګی
چا چه ماله نرګس او دلبر کړه جوړ

دا شینکے چمن. دا ګلونه سره
دا مست مست ښامستا نه ئے مابنام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ثبوت دَ ساقي دَ مينې دے

دا دَ سرو شرابو بر پوره جام

دساقي چه سترګې خمارې دي

دا خمارئ ماته جوړ کړې دے

دجانان چه شونډې دلدارې دے

دا سينګارے ماته جوړ کړې دے

دا سپوږمۍ او ستورې او مست ماښام

مشغولا (۱) زما دغمونو ده

دا په ما مئين دے مالک زما

ځکه دکه دنيا د ښکلونو ده

سپرلے خه دجانان مست شونډې

هره ساه او زړه کښې خپل نور خوري

په ګلونو کښې خپله رڼا خورې

په نسيم کښې رنګونه دَ طور خورې

چه ترڅو يوه نظاره دَ رنګ

دَ غرزنګ دَ مستۍ په انسان کښې کي

تر هغې به دا زه وُ نه منم

چه او رونه به هغې جهان کښې وي

---

(۱) مشغولا ـ مشغول.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه جور کړے نه یم سزا له یار
زه ئے جور کړے یارانے له یم
مانه مینه ـ خندا او مستی غواړی
که جمات که بتخانے کښے یم

بیا سپرلے راغے بیا ئے پیغام راوړو
د رنګونو، ګلونو، او رڼا
بیا ساقی راغے ډک ئے جام راوړو
د مستئ ـ خُولنئ او خندا

بیائے سرو ګوتو کښے ونیوو
لیونی ته جام د غمونو ډک
د ژوندونه ډک، د فراق نه ډک
د وصال د رنګونو خوبونو ډک

فروری
۱۹۵۰ع



A .S.K B

# ژوندون

لکه کال کښې سپرلی او خزان — لکه روح کښې سبا او ماښام
لکه سیند کښې چپې او غلې شتے — لکه ژوند د مرګي دے غلام
لکه تله . خلاصیدل د مستے اوښتے — تښیدل . ماتیدل . د هر جام
ژوندون څه دے یو سیند د روان دے — اول لوے لوے موجونه کښتونه
بیا تش شي چپې نوے درے شي — غلې لګے شي د پرشي د بونه
اول هر یو غوټۍ کښې ورانه کي — ورانوي غورزوي کو لوے غرونه
اول هر څوک روکي یو (*) نی خان — بیا د بل شي روان کړي نهرونه
دریابونه لوټ لوټ کړي فنا کړي — غوټۍ نکونه لښتی کړي تالا کړي
یا نے هر څوک د خپل لاند دل وي — یا مرئے شي خدمت د هر چا کړي
خان کړي روک خو کلا به نرګس کښې — په زرګونو سیند نه پیدا کړي
ژوند څه دے یو باغ دے لوییږي * * * — رول کیدل دي د خیشت (۱) زیاتیدل
خپل ژوند خپل سنګار ورکول دي — سوزیدل دي ژوندون خوریدل
د انګور په شان روک فنا شه — چه خمار شے د چاسترګو سره له
د منصور په شان او خیږه دار ته — څه بهانه لټوه رسیدو له

(۱) خیشت : بنایست . (*) روکي ، ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون څه دے یو خوب دے لیدے شي — د خندا او ژړا واک د بل دے

یو دوران د صحرا او مابنام دے — د مابنام او سبا واک د بل دے

یو رنګین شان محل د هوا دے — دم ګوټ د هوا واک د بل دے

باغ د بل په ګلونو زه پریم — غم زما د خندا واک د بل دے

***

ژوندون څه دے یو ساز دے عجیبي

کله پوست، کله زیر، کله بم

کله اور سوزیده، شور غوغا شي

کله غلے، قلار، شومه دم

کله شرنګ د ګنګروشي خارشي

کله یخ اسویلي او ماتم

کله تال مستانه د خیام شي

کله سپور مابنامونه د غم

که وي ترخ. که وي خوږ تیر به شي

ژوندون څه دے یو خوب دے لیدے شي

غني

دارالامان

په پېرول



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بله لار

رحم فقیر له روا ، بادشاه له حرام دے
شاعر له کوټ د زمزم د مېو جام دے
بلبل د مېنې کمال خون د انصاف دے
سخاوت شان د خان مرګ د صراف دے
رقیب له شور او ماتم یار له وصال دے
یو له د وینې څاڅکے او بل له لال دے
ماله د ګند ګنده ـ لاله ته بام دے
یو له د مرګ پیغام بل ته دوام دے
د عجیبه ژوندون عجب کاروان دے
دے کوږ دوکان کښې ګټه کښې زیان دے
یو ناست محل کښې غمګین حیران دے
بل ته ایرو کښې ډېر پروت ایران دے
دا روک کاروان کوم خوا روان دے
روند ئے نظر دے اوچ ئے ایمان دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظالم ـ جابر ته ـ سجده . دُعا ده
میرے دَ عُمره رحیم رحمٰن کړ
دَ زورور او یَرے[1] بت ته نه کو . نه
روک ترے دَ مینے . د نور مکان دے
دَ بل دَ وینو ئے لاس کښے جام دے
تنګ ئے جمات دے روند ئے مام دے
خوږه څه وکړم چه وینم په تتړو کښے رنګ دَ یار
دَ ګلونو رژید و کښے امید ونه دَ بهار
دَ تاوان مُلا کښے پته . د جنون ناوے مستانه
رنګ محل ته نه شم تلے دَ مصرانه دَ جانانه
ماله غم ماتم دَ یار نه دے غم دَ غم تعویذ دے
ماله بل ګل ته کتنه بے شي دَ شوق دَ بیزدے
همغه غم چه مستول کړي دَ نامبات[2] نه لذیذ دے
زلیخه ته تور ځنګل دے دَ سرو محل که دَ عزیز دے
ماله بله لاره نشته دَ جنون او دَ جانانه
کنې خوښه م خندا ده ، دیره دیره دَ ژړانه

غني
دغر سر
دیرهٔ اسمٰعیل خان

(۱) یرے : ویرے . (۲) نامبات : نبات .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قسمت

زه نرمه خټه یم لاس د کولال کښې
یا به د میو جام شم او یا کوزه د جمات
یا ډیوټکې د زیارت د میخانې فانوس
یا د ویران تیکرے سرے او مات
ځوانی مستی ښوندنې د بل د لاسه دی
ځانه وس شته او نه م واک
شیخ په باغ کښې د یار د کوره
کوم ګل پلیت کړمه او کوم پاک

څنګه ملامته زه په ګناه شم      چه وس قسمت او تدبیر د بل دے
څنګه ستومانه زه په خندا شم      خوب دِ د بل او تعبیر د بل دے

! م ګناه ده مین په ګل یم
نه زه د ګل آقا نه د نظر
نه م د واک دی خمارے سترګے
نه اوربسے شونډے ملهوس



A .S.K B

ما نه دي اېښي د يار نظر کښې — سپرلي ګلونه او سوز خمار

ما د ځيل نور نه دي جوړ کړي — شرنګ او غورنګ او رنګ د بار

ما د سبا په پسته رڼا کښې — نه دي خور کړي د جادو ساز

چا شيرينۍ وو فرهاد ته خولې — چل جوړ په محمود کړه خان د اياز

زه نه پوهېږم چه چا روښانه

د زهرا نور که په مخ د لال کښې

زه تصوير يم د بل د کوټو

بې جبانه (*) خته لاس د کولال کښې

يا به قسمت وي يا به دوزخ وي

او که وي دوارو نو ته رحمن نه؟

نه شم زغملې . نه شم منلې

چه ته جلا دې او هم جانان ئې

غني . خانپور

(*) جبانه : زبانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قارغان مارغان

تراوسه پورې موږ د ژوند ډېرې نورې مسئلې واورېدې دا وار ورولې د کومې ورځې نه چه آدم له فنا نه هوش ورکړی دی. دا سوالونه د مغز د ډېرې زاروزادي. هر سړي وله د خپل طاقت او پوهې په مناسبت جوابونه کوري. انسان د هر سوال جواب شته ولې د مرګ جواب نه لري. د جهان اکثرې فلسفې او ټول مذهبونه د عزرائيل د شاهنشاهيت برخلاف بغاوت دی. ټول دغه تورې ګنډې نه تښتي. څوک يو ګز څوک يو ميل او څوک نور ميله ځغلي د ځغلو چغه يې، الکه ماچه په ځوانۍ کښې ژوند د ولې وه.

## خاورې

چغه وي اجل مُلا ته اورې که نه اورې
تشه خاوره نه دې غنې خنکه به شي خاورې

---

او يا بله ورځ چه د لحد په تورو زړه م د مستې سوړشال

ويړ کړے وو.

(غلا وي، دې).



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرګې

مرګې دِ راشي — چه کله ئې وس وي
ګل به مې لاس کښې وي — او یا به اَس وي
یا به ټوپک وي — یا به قلم وي
ډوب به خندا کښې — دَ دنیا غم وي
په خُمه مو بخت وي — دومره به بس وي
مرګې دِ راشي — چه کله ئې وس وي

ولې آخر سرې سترې شي، او دا ارمني چه،

چه جام کښې ګوټ ګوټ — شراب عمیږي
سپرلې خلاصیږي — ګلاب کمیږي
دنا دَ شمع کښې — دَ سحر نور راغې
ګور دَ بلبلو ته — نوې ډَ باتور راغې
ستار کښې شرنګ هغه — دَ ماښام نشته دې
سرور په سترګو کښې — دَ خیام نشته دې

دَ ښکلې نه ښکلې، دَ مست نه مست، دَ سُوځ نه سُوځ ګل آخر خپلې خبرانې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او غمجنې ستر ګې دَ خزان يخو او بې رحمو بادونو پورته کړې او د خپل ژوند د شروع او خلاصيدو تپوس ترې وکړي او دغې ته وايو مونږ فلسفه .

زه مرګ يوه ورځ په مخه کړم . او دَ خپلې مور دَ سينې نه نُـه دَ خاورو هغه ډيرۍ ته بوتلم ، کوم ځاې چه په يو دشت او بيابان کښې دَ هغې ملګري پراته وو ، ما چار چاپيره او کتل . ستغ دړب ، سره خاوره او شنه کاڼي وو . دلته نه د ګلونو چمن وو ، نه دَ بلبلو باغ ، دَ دَ بدرنګې په سمندر کښې دَ حُسن يوه قطره هم نه وه ، زه د خاورې دَ يو ډيرۍ ځواکښې او دريدم يوه ماته شنه خازه وه مثل ډيرش کاڼي ښکته پراته وو . نورې هم اوچې تورې وړې خاورې وې ، مرګ هم را ورسيد او شاته م دَ آسمانه اوچت ولاړ وو ، خوما سر اوچت که او دَ مرګ خالق ته م او وې ،

زه دَ هغې لال زه دَ هغې دستر کو تور رُمه

زه به دَ هغې په سينه تل وُده نسکوره مه

او س ئې ښکته ښکته دَ مزار کانو ته کورمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاورو کښې هغه ده چه ئې زه د زړه هلال ومه
هغه لال شو خاورې چه ئې زه وړوکے لال ومه

لا رمه آسمان ته ماورائے د جهان موړ سپوږمۍ
زور د مرګی زیات دے که دے زیات د مینې نوے سپوږمۍ
اورې په لحد کښې ځوک د سوی زړګی شو سپوږمۍ

مونږه خاورې ښکلے پټ د حُسن یو جهان کړی
یو پوکے د باد دا چمن ښکلے بیابان کړی

خوله م نه جوړیږی چه ظالم ووایم رحمٰن ته
خو مرګ چه د جهان بادشاه کړم څه ووایم خان ته
ولے ده وازه د علم لګړا، نه شوه انسان ته
سیال ئې د خان ولے کړم چه نه د خاورو سیال ومه
هغه لال م څه شو چه ئې زه وړوکے لال ومه

---

خودرُوند خایشت داد ے چه تول عمر انسان سره د دے د خلاصید و فکر نه وی، کله کله ئې دا تورے غټے هیرے شی، او په خپل ماحول کښې د ورو ورو خیزونو په تماشه شی او دوړو وړو شمعو په تلاش کښې ځان د هغې لوئې تاریکۍ نه اوتښتوی.

(۱) لو . لوی . پرانتی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ حيدر آباد سنده په جيل کښې زما دَ تو تې تو تې

مستقبل نه علاوه ډير نور څه هم وو، د چکنې دَ دروازې په خوا کښې

د ميرېږو جالې وې، کله نا کله به ږهوږ د احاطې په کيکر کښې کمترې (۱)

کيناستې، کله به مو نيمه شپه کښې دَ تارو چرچق واوريدل

کله به تور تارغه لکه دَ يو جمهوريت وزيرِ اعظم دَ شور او

چل نه ډک په ديوال کيناست. دَ ځينې خواله به ماښام کښې

چينجڼه څه راغله. دَ ديوال دَ پاسه به دَ اوبس برېږ راغې

او په دغه وړو کښې زه ډير وږي تږي او ليوانې وم، نو ما

دې تولو سره خبرې کولې. ميږوته به م خپل دَ تيلو

پوخ ساګ (۲) غوررزوُ، او کمترو ته به م خپله دَ باجرې دوډۍ

چوري (۳) کوله. دا روان شعرونه ما دَ هغوی په مجلس

کښې ليکلي دي. که زه دَ هغوی په طبيعت نه يم پوهه شوې

نو معاني غوارم زه دَ انسان هلکو کې لرم. او دَ چينجڼ

په ځرمن نه شم ننوتې.

---

(۱) کمترې: کوترې. (۲) ساګ: صابه. (۳) چوري: ماليده.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چینلخ

غ دِ دَ شیخنو په شان نه خاندی او بنیار دے
بنکلے دِ آواز لکه دَ ژرندے دَ غـرار دے

سترگے بتے بتے، بغے بغے تشے تشے
چغه دوه منے غریبه، توره دوه اوربشے
خُله کـږه وږه لویه او نږده او وازه ویته
زر دِ زړه کے خوړشی دنګا چه کړے راپلیته
خیته دِ چیتۍ، لویه او پلنه دَ لاله په شان
لنبے دِ پاپے، ارتے سپینے ممے دَ منتولا په شان
توپ وهے تُل نه کے خه بد رنګه دِ رفتار دے
بنکلے دِ آواز لکه دَ ژرندے دَ غـرار دے

اوسے په اوبو کښے دَ تیخ او دَ ملئ په شان
کښل دِ دَ سرې ممے کاته دمار کمئ په شان
گوزے په پیتو کښے دَ نولی او دَ لو مبړ ممے
توپ دِ دَ ملخ په شان، غټے دِ باکوکر ممے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه اوبه څه خاوره شوے څه مېږ څه کبوړے
کله دِ په سترګو کښې چېچې وي کله دوړے
رنګ دِ بے نمکه دَ خزان نه دَ بهار دے
ښکلے دِ آواز لکه دَ ژړندے دغاړ دے

شپه کله ښانګ کښې کله شپه دَ لښتي غاړه کښې
هیچ ماشے چه پېښ شي خېل خانه ورله ویجاړ کړے
خوب کوے په خاورو خو مستي یاري او بو کښې کړے
اوسے په تیراه (۱) کښې خو جي راوړه پېبوړ (۲) کښې کړے
ښځې دِ دَ بتے او لینګي دَ چرګوټي په شان
چیت او لنډ او پلن، راغونډ وجود دَ مرهټي پشان

قمغ دِ دَ دله دے رنګ روغن دِ دَ ښامار دے
ښکلے دِ آواز لکه دَ ژړندے دَ غاړ دے

---

(۱) تیراه د افریدو وطن.
(۲) دَ پېښاور خوا کښې کلے دے. پکښې مشهور زیارت دے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مړ.ہ

اوسے پہ کندو کښې یاړہ غل نے پلار دِ غــــل دو
مور دِ غلچکئ دہ، ستا نیکہ دَ بد و مل دو
قوم دِ حرام خور دے قبیلہ دِ حــــرام خوړہ دہ
مړ شوے پہ غورو پسے لګئے توړہ دِ سپوږہ دہ
سترګے دِ کاسیرے دی، چلباز دی بےشرمے دی
کلک دِ دی غابنونہ او پا پئ دِ نرمے نرمے دی
خیتہ دِ کوہئ دہ دَ سعدو پادشاہانو ھسے
سر دِ دَ نولی او بریتو کی دَ تُرہ باز ھسے
غلا کے دَ غریبہ غلا دَ خانہ، دَ بنھیا نہ کئ (۵)
سید او مُلا نہ پیژنے، بوتہ دَ ھرچانہ کئ
ستا دا اړو کے(۱) خیتہ دے ھمہ جہان موړ نہ کړو
ستا کاسیرو تندہ دَ عمرونو غلا سړہ نہ کړو
ذات دِ خناور دے خوخوراک کے(۲) دَ انسان ھسے
اوسے پہ سخنسوری کښې نیږنی خښتے دَ خان ھسے

(۱) اړو کے = دیوکے. دیرہ (۵) کئ: کوی. (۲) کے: کوټ.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه دِ دَ یزید دے طبیعت دِ دَ شیطان ھسے
چین دِ دَ منت دے خو همت دَ پهلوان ھسے

خو ور شے چه پیشوله نو پولاؤ پیتی دِ هیره شی
پس په خیته مور شی په تا کیاړه . باړه تیره شی

غل تر هغے غل وی چه ترے بره غل پیدا نه دی
چل تر هغے چل وی چه ترے بره چل پیدا نه وی
دوه دانے ترے او خورے دوه دړئ خاورے ایرے کړے
اوبے خوله دِ خاورے شه انبار ذړے ذړے کړے
خوئ دِ دَ خنزیر دے او فطرت دِ دَ ښامار دے
خوله کښے دِ آفت دے او په شونډو کښے آزار دے
خو غوټه چه شی سخته آخر سپنه ئے چاړه شی
نه شے په جوارو پیشو کان په تا ماړه شی
اوسے چه کوم کور کښے حرام خوړه هغه کورله تے
داسے حرامی ئے خپل بابا او خپله مور لوټے

خو ور شے چه پیشوله نو پولاؤ پیتی دِ هیره شی
پش په خیته مور شی په تا کیاړه باړه تیره شی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بازیګر کمتر

چاله لوبه چاله تماشه | چاله نور چاله نظر
څوک بندګي د خپل نګار وي | څوک غلام د خپل ځیګر

یو جوړ کړي د سقر نه | سره ګلونه مارګیر
بل د حورو د غلمانو | نه جوړ کړے دے سقر

په نیکړي پسے ژاړي | یو خوا ناست په تخت قاړن
بل خوار زړ رنګه وصال دے | او لګیا قسمه بیلتون

چرته سپي ته خپله لوبه | هم لیلی شي هم مجنون
کله خر ته خپل خرتوب شي | مست جادو رنګین افسون

دلته رنګ بله رنګي دوله | د احساس د تل یو جام دے
زما سترګو پیدا کړے | سپین ساقي او تور الهام دے

شپه او ورځ زما نظر دے | رڼا له نمر او ماښام نشته
زه عاشق ځکه د رب یم | چه انسان له دوام نشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ دے هغه، او هغه چه زما هوش پسے نه پوهيږي
رنګ زما د روکيدو نه بره، لوړے، سپين مقام
رنګ زما د هوش صحرا له يو محل دے د کمال
رنګ زما دے مستړي سر له د مستۍ بر پوره جام
دا د روکو په وطن کښے يو ارمان دے د دوام
دا په توره توره شپه کښے محبوبا ماه تمام

چه اميد د هوش ياغي شو
چه مدهوشه شو نظر
خپل طاقت ورته سرهو شو
په سيل ووت بازيګر



A .S.K B

# کوچې

"کوچې" زما یو ډېر زبردست سپین سپې
ما قسم قسم سپي ساتلي دي. انګرېزي
جرمني، لغړ او ببر، ولې د کوچې
په شان بهادر، خېښته
او او بنیار سپې
نه پیدا شوې
دې او نه به پیدا
شي، زما د بند په دوران
کښې مړ شو.

زما کوچیه! زما کوچیه — ته خو سپې نه وې زما آشنا وې
په تنه نرو کې ترا زمریه — قصه د مینې نوم د وفا وې
چه زه اوچت وم د کل جهانه — په لکها سره م داسې بره
ستا سترګې ډکې زړه د مینې — تېرې د ژوند د ځان او سره
چه زه آسمان نه خاورو له راغلم — تاج م راکوز کړه اخلاق م واخست

(c) ketabton.com: The Digital Library

شال او دستار او خلعت مې ورکه — کنډ مې په سر که او جول مې ورخست
تا ته زه هغه شان د ملک پادشاه وم — هم هغه سترګې هم هغه مینه
چې ټول جهان غېل دا زړل کړل — تا زه قوله لکۍ مهینه

ته خو آشنا وې زما د سترګو
نه مې د زور وې او نه د زرو
د تقدیر تول که دلو نه که سپک شو
ستا بس یو تول و او یو نظر و

ته زما یار وې د بد وو ورځو — د بد وو ورځو یار نه هېرېږي
چې ټول جهان یو تور صحرا شي — د سرو ګلو نو خار نه هېرېږي

هائے چې د ژوند په دنیا کې
سترګې روښانه ستا د وفا وې

زما کوچیه ! زما کوچیه !
ته خو سپی نه وې زما آشنا وې

( تمندیانی )



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تورانۍ

دا مې تکي په پښتو ژبه کښې نښته
تورانۍ چې پرې زه دوام ثنا ستا

دې دَ خاورو جوړ وشوندې کښې څنګه خالي کړم
خوشحالي، مستي، ځواني او خندا ستا

دَ غم وبرق څنګ په تولو کښې منکاره کړم
څنګه ګېره کړم مې پښتومني دې دام کښې

څنګه ونيسم په کوتو کښې سرور ستا
څنګه واچوم دَ نور دريابې جام کښې

څنګه خوب دَ ځواني کړم بندي دَ خاورې
په غم او ټلم رنګونه د وصال

څنګه نور دَ يار دَ سترګو لاس کښې واخلم
څرنګ او ترم پنډولي کښې هلال

نا ديده غلام دربار کښې دَ سلطان
دا مې زه ولاړ ستا حسن ته حيران

داده بس چې مجبوري م خپله او منو
تورانۍ نه شم کولې ستاييان

خو چې ستا پيغام دَ نوي صبا وا ورم
لکه ګل چې دَ سپرلي واوري پيغام
تياره ميره کړم په طمع دَ رڼا شم
په لحد کښې او ځکم دَ مستۍ جام
اميد وينځې ژوند ته بل خيشته مثال کړي
دَ مرګي دَ تخته تاو دَ ژوند و ن شال کړي



A .S.K B

# مُلا چړک

زیږ دِ قمیص دے — خرږ دِ خنبتک دے
شمله دِ نیغه ده — او کوټ دِ بړک دے
توله ورځ گرځے گرځے — په ځان مینه
چا خوار چینجي پیے — کنده ، کوینه
نمایشي شان نے — کړے دَ غرور الوته
دَ مشرو تو نه ډک — ستا قدمونه ، کاته
پټے پټے دِ سترگے — دي دَ "پښتو"(۱) په شان
په دریغه دریغه تله — دے دَ تهتو په شان
دَ سلیمانٔ دَ لالی ! — نوم او صافه دَ امام؟
یو خوا قبا او تسبے ! — بل خوا پیاله او خیام !
یو خوا سپین ږیرے ملک — مړینے دریسم او قانون ؟
بل خوا د مینے دلال — بندی دَ ریسم او افسون !

---

(۱) "پښتو" زما معزز او محترم دوست مهر دل خان دَ صوفی‌خان خیل . قد نے ورو کے دے ، خو دماغ نے ډیر اوچت دے .
او مونږ ورته دَ قهر او محبته "پښتو" وئیل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خوا تنګی تیارکی      دَ بل د خیال سودا
دَ مال او بچ سودا      دَ خان او مال سودا
بل خوا دَ بل په سینه      خان او ناموس ورکول
پټ شاباشی لهٔ دَ زړهٔ      دَ خار جلوس ورکول
یو خوا دَ بل سترګو کښې      د دړنیدو تالاش
بل خوا دَ ماتو ښانګو      دَ الوتو تالاش
زیرک او معقول پښتنیه      پکښې په سر مُلا
تا کښې ښکاریږی ی ماته      د ژوند عجیبه قصه
چه کله ته والوزې      ملکهٔ سبا ووینم
او سلیمان ته خادرې      تو له دنیا وُوینم
دبحر و بر بادشاه      ورے شان جوړې ته
قربانوی خوشحالی      دَ غم میر منے ته
د ګل خندا وُوینم      دَ لولکۍ پرواز
دَ محمود او نهٔ سترګے      معصومه ګُله دَ ایاز
نهٔ دَ آدم دَ جور جنت      په وجه راز پوی شم
په خپل انجام پوی شم      په خپل آغاز پوی شم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بورا

تورہ بورا تورہ　　　　ته مهمند نے که ختک نے (*)
نه وکښې دِ گونګت　　　　دا ارمانونه دلو لکے
مور دِ ګل اندامه ده　　　　بابا دِ ګُرابان (۱)
رنګ دِ دَ شاخیل　　　　او طبیعت دَ شاهجهان
بنګ دِ دَ دمبر دے　　　　فلسفه دِ دَ خیام ده
تور کو نکته تا کو مخانے　　　　ښکلے خوا د جام ده
تا دَ رنګ او حُسن ساز　　　　دَ چا په ستار واوریدلو
تا د چا دَ غُلے داستان　　　　د مینے او یار واوریده

اے تورہ دیچکیه تا کښې دَ شیرازو لے
اے خپه ما بنامَ : تا کښې نور او کلا نه دے

خو یاره تا کښې م !　　　　یو صفت بَدی شي
ستا کو خه د بشانِ !　　　　م عادت بَدی شي
اے هر جائی عاشق　　　　دَ یو ګل یارنه ئے

---

(۱) ګُرابان هغه دیو وو چه په ګل اندامه بنا پیرئی مین وو.
(*) ختکے : ختک ئے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ مینې نوم دِ سپک که — دَ یو دلدار نه ئې
هره لمحه لحظه کښې — نوې خمار لټه ئې
او په مذهب دَ مینې ته بې وفا ئې — پرون د بل وُ او نن زما ئې
په رنګ او بوئ مینه — جانان دِ هیر دې
خوانی مستي ښکلوې — خزان دِ هیر دې
دَ فراق تور غمونه — ژړا افسوس او ماتم
هیر دِ دی او چې سینډۀ — زړۀ خوانی، نوې غم
دَ زیړو ګلو شان کښې — مرګ دروکیږ دِ دی هیر
دَ نن په شوق مسته — سبا اتکله دِ دی هیر
داسې بې توله ته ئې — څنګ بې پایان چه نه یم
ته دَ هغه ئې بورا — دَ چا انسان چه نه یم

تا کښې رڼا او تیاره
سپین شته او تور شته
چه ته ښکاره شې نه دیم
زما هم رور شته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تارُوِ

وکوړ یو ونځے تور تارو په سجده پریوته
وے کړله رَبّ ته عجیبه غوندے دعا

وے تور ولے تنها ے دَ اوخړو دَ زانه ؟
ولے یو۔ باتور۔ یوه کنځے۔ یوه هما!

زه به تل حُسینؑ یم او ښکاری به تل یزیدی ؟
لاس کښے علۀ دام۔ کله توپک۔ کله لینده ؟

پَرَدَ بورا یوسی تور بورا دَ ګلو مینځ له
پروری کنځے غریبه بوی له او دیران له

پَروری لولکه، لګه باد د ګلو پا سه نے
پروری پتنګ د ناله، سوزله، او تاوان له

پَروُری مینے د تورانئ ښارو منبو کے له
پَروُری کرګوره دَ شهباز او شکری نوکے له



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پَرَ قارغه په ګنډ، پتنګ ورو اچوي په اور
پَرَ عقاب له لغړ او تېږوس له شي پېغور

پَرَ بو په باغچه کښې د صحرا د ډېر ليواله کړي
بل له جام دَ ژوندشي، جام دَ زهرو دَ منګوړ

پرِ د عقاب لوئي شو رتبه وي دَ تنزرو!
وي هر مارغه کښې نشته تله دَ توتکرو

وي هغه ملک دِ دَ شهباز دَ شکرې کور که
کوم ځاى چه درانه ګوزي سيلونه دَ کمترو

يو تنزرې بس دو ستا کمال ښکاره کولو له
ښکلي دَ طاوس خوش زبانه دَ کمترو

بس چه يو مارغه وي، يو ئې پَرَوې او يو ته وي
بس چه تل باجره وې، خاورې دوې دَوا ښه وي

بس چه تل سپرلي وي، زيړ ګلونه وې، سبا وي
بس چه بس يو ته وي، يو ارمان وې، او يو ئې وي

* * *

تول جهان خاموش شو دَ خپل زړه آوازئې وا وريدله
زيړ لکه غلام، د بادشاهانو رازئې وا وريدله

تول جهان خاموش شو، يو آدم وو چه ګويا نه شو
مينې دا سے يو رو بے خبره دَ خپل ځانه شو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وے، زړلګيا سوالونه ځوند جواب یم زه دَ ټولو
زه یوه قصه نه یم، خوباب یمه د ټولو
زه کله مراد، کله ارمان، کله غرور یمه
زه تمنګ او تکور یم، زه شراب یمه د ټولو
زه یمه مخلوق خو د خالق د رنګه ډک یمه
زه کامل کمال، زه سُر رباب یمه دَ ټولو
زه یم تورے ښځے د باز سترګے دَ تنزرو
ما کے پټ ارمان دَ حُسن . زوړ دِ دَ وزرو

پهار پور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوږکوره

ښکلې تصویر د ستا ښکلې ښکلې دے آواز دے
ستا په نظر کښې مستي ږ پټه ستا په پا پو کښې ایمان دے

مخ دِ نازک د ماشوم په شان
خوئ دَ غیښته نازنین هسے

خیال مستانه دَ خیام په شان
تله دمخمورانو جبین هسے

مینه لوبې، ستړې دے ناز او نخرې دَ دلدار کوے
ته دَ ګلاب او نرګس په شان ما ته قصې د ګلزار کوے

ښکلې ثبوت دَ خالق دَ ښیښت
ماله قصه دَ جنت ئے ته
ما ته داستان د کرم کوے
ماله دلیل دَ رحمت ئے ته

ستا دَ کوکو خیشته آواز ماله اذان دَ بلال دے
ستا دَ خندا، دَ نا وجود ماله پیغام دَ وصال دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مچ

شغ شي چا ئې کښې راغوته شي　　　دا د څه خر بیشې رنځ دے
پکښې داسې چوړلک اووے(۱)　　　ته به وې د بنګړي(۲) منځ دے

اوړې ژبه د شه خاورے
نه د خوب شته نه قرار
په ترو سوتو مېنه
والے(۳) ئې د چا آزار

دَ هر چا کره میلمه ئې　　　نا بللے بے عزته!
نه په شرپ باندے جاروزے　　　نه په سوک او نه په لته

تور دوغ بے شمه ستړے
تیار خورے مردار خورے
بد د خوئي سخا د دوړئي ډ
په هر شي د پاسه سوړے

که نبوروادي ته پرے مرے　　　که غوړے دي ستا پکار دي
ستا پرے بے صبره غوتے وي　　　که خاشنه وي که انار وي

---

(۱) اووے: ورمه. (۲) بنګړے: انې ګلا. (۳) والے: وهلے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې غیرته خوئے د وموه

دمره زور وینه څښتې

اے شهیده دکعبا بو

اے غازي دپراتې

که پښتون خپلوان د مړ شي ... ته دَ خپله خوریه ناوړ ړے

رے دا سردَ خیتې زار شه ... شرپ شي زیړ خیته وادړے

بَله بَدے دپاپنۍ دی

دلیننګړ پوړے لړے

خُله دِ زیړو په لاوړن ده

چه پروان دِ وډ خوړلے

مڼا میوه. لیقړسے با، بویه ... ستا پولاؤ فیرنی حلوا ده

ستا دے خیته کښې دوزخ دے ... ستا دے شونډ وکښې بلا ده

تموله روحے چیپه چیپه ... ستا دا خُله اوزنکاړه نه شي

دَ دنیا ګنډ ونخلاص شي ... ستا قلمه قلاړه نه شو

خیرد ګرے دا روان دے ... تور اور بوز به دِ چیچړ شي

چینګه خُله بچړته پروت ئے ... دا قلمه به دِ پا پړ شي

زه به خورمه په قلاړه

تو دشربت اوخوږ کړے

دابوډګ نیا به دومړ دی

توړ مچه ته بَسم[1] مرے (حیدر آباد جیل)

(1) بسم = به ‌هسم.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږ زمري

په ۱۹۲۹ ع کال کښې زه په دريم خل د هري پور جيل ته
راورسيدم. دا زما د بنديتوب دريم کال وو. په دې دوران کښې
ما د پښاور او حيدرآباد سنده جيلونو کښې ډيرې بدې
ورځې تيرې کړې وې. مونږ ته ايل ياران. دوستان خپل
خپلوان د پاکستان په ټولو صوبو کښې خواره ښکاره وو. خو د هري
جيل ماته د کور په شان ښکاريده. ځکه چې د دې کښې زما بابا
ډير کلونه تير کړي وو. د هغه د لاس ډيرې ونې دلته کښې
شنې ولاړې وې. زه د حيدرآباد د جهنم نه دلته په کال پس
راغلم او په ډيره موده پس مې يو وړوکے د زيړو ګلونو نه ډک
بوټے وليد. هر سحر چې زه به پاڅيدم نو د هغه سلام
به لاړم. زه په انګلستان، يورپ او امريکه کښې ډير ګرځيدلے يم
او ډير لوی لوی باغونه مې ليدلي دي. ولے د دومره ښايست
او رنګ په يو بوټي کښې هم نه وه. خومره چې دغه غريب او
ارزان ګل له د خوا د او سپينے تورے پنجرے او چاپيره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تور ماحول ورکړے وه. د ے پنجره کښے ما سره نورې شپږ ملګری وو:

۱- پیر شاکر الله د کوجړ کړئ.

۲- خانخیل مهر دل خان د هوتی د نواب هوتی ورارہ.

۳- جهان زیب خان د رزړو. زما د تره وږ زوی.

۴- فردوس د مانیرئ چه مونږ ورته د میتے نه کوګو وایو.

۵- زرین خان د میاسے د پارلیمنت ممبر.

۶- یوسف خان بابوخیل.

یو ما بنام م دماغ او تښتید، دا د تورتو شعر م اولیکه اد ورډئ نه پس م وا وررو:

دلته کښے پنجره ده په کښے شپږ دی ازمری
خوږ کنه، خوږ کے اوږده دی، خوږ کږار ده د خوږ کے نری
رورو پاکستان عجب جوړ کړے چړیاګړ(۱) دے
بند پکښے، دیوان، پیریان، ازوزی بنا پیری

(۱) ورته مخامخ دره پنجره ده د کوکو
مخ ئے اوچ یوبند سے دے په مثل د ماکو

(۱) چړیاګړ: باغ وحش.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنگ ئې دَ فیرنګ دے خوی زړهٔ دِ دَ پښتون
تن ئې دَ بلبلې خو ښت دهلا کو
وئې اوکنه، اوکنه، هن کنه هن هن کنه
یاره که رتّب زهٔ کرم دَ دے تولو تولوا کو
زهٔ به دا څار به څتونه کرم پو خُل نزې
دلته کښې پنجره ده پکښې شپږ دی ازمری

اَخوا ئې زرین دے دَ وطن نوم ئې میاسه
هر ما نام او باسی دَ خبرونو خلاصه (۲)
غانې دَ غریب نشته کښې خونې ئې دی چرګان
هره ورځ کړ د خوری ډیرې خوار له دلاسه
تن ئې دَ چینجي دے خو عقل دَ لقمان
خیال کښې انتشار وی او زړګې کښې تلوسه
حرص دَ دنیا ته لګوی رنګ کوری
دلته کښې پنجره ده پکښې شپږ دی ازمری

بل سرکښې یوسف (۱) دے هاضمه دَ غریب ورانه ده (۳)
هر ژرخته قصه دَ اد رقو. پوکو. روانه ده
دال ئې هوا بند کړی. الوکان ئې اینه سیزی
غور ئې زړه له بد دی مسئالې په کې، دو ګرانه ده

(۱) یوسف خان آخر معافی او غوښته او کلې ته لاړ. اِنَّا لِلّٰہِ وَاِنَّا اِلَیۡہِ رَاجِعُوۡنَ.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالګه ئې سترګې زیړې کړې بنورو ئې شونډې اوچې کړې
دے جیل ته حیران دے ، جیلخانه ده ته حیرانه ده
چائې چه دیره اوخکې لګې اِنګې پړسے نرې
دلته کښې پنجره ده په کښې شپږ دی ازمرې
خواکښې ئې دے پیرشاکرالله زمونږه خان

(۴) مرچیاته رسی ، تیپر ، او ټُکره ، الوګان
دے خواته سپې کُل ، اخواغوړې ، اخوا صابون
تله په لاس ناست وی د چلونوکښې بیان
خان د لوږې مړ کړې خواښناله د الے وایږی
کاش چه وے د ده په شان تول زمونږ پیران
مالګُره راکړې ، یاره وایږی تری
دلته کښې پنجره ده پکښې شپږ دی ازمرې

(۵) دیخوا ترے مهر دلے د دے زمونږ ورونه کے رور
چرته چه د ستے ناری هلته وی خندا او شور
یو موتی وجود کښې ئې یوغږ د ترتوب پروت دے
سل مرګه به واخلی وا به نخلی یو پیغور
تل به بل سورلی کړی په فطرت پیدا خانان د
ترے ئې جوړ کړے دے غرور کښې خان له کور



A .S.K B

خیال ئې د موسیٰ او خاندان د سامري

دلته کینې پنجره ده پکښې شپېږ دي ازمري

خو اکښې ئې لالي (۱) دې زموږ کشر زما ورور

(۶) قید لې که په دې چه د دې زړې زما د ترور

دې په زړه باتور وو ځکه کور له د غم داغ

ښته ځلمي، ځلمي، زما د خپلو مچې نور

دا ورو که زړه ځنګ د وطن مینې تالاکه

دا خو دې له جوړ وو چه کړي خاورې د عشق اور

دا رو که زړه ځنګه دهوکه نه که سامري

دلته کینې پنجره ده پکښې شپېږ دي ازمري

چه دا شعر م وا ورو، نو ټول ملګري م چپ شو. یوسف خان خو راسره خبرې بندې کړې. زرین کاکا مهردل خان ته خپل ښه سپک کړې. مهردل خان م خفه شو. ډیر بابرده ئې راته اووې. زه ډیر خفه خپلې چکښې ته روان شوم. ناګهانه م همغه وربې د زړیه ګلونو بوټې ولید، وربسره خوا کښې کیناستم. همغه ده وکړې خان: بنن خو ډیر خفه "ماده" ټول دوستان م خفه کړي ئ د ځکه خفه یم. ما خو توقه کوله خو همغو ترې بوقه جوړه کړه". وې "خان: دا خپله خوله دې م تلا ده م بلا". د نکلی دکلی. بل شعر ولیکه". نو په دغه ما بنام ما د خپل ژوند اوله قصیده ولیکله او د تجربې په طور م خپلو ملګرو ته را وروله اوهو، همغه مابنام زه په ټوله دنیا بنه دوست او لوئې شاعر شوم او کوم شعر چه رما ټول مرور دوستان ښه مینه ناک یاران کړه. همغه لیکم.

---

(۱) جهان زیب ته موږ لالي وایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوه کلونه

یو وړه غونډ پنجره کښې ‌ ‌ په یو کوټ کښې دَ دې جیل
دَ اوو کلو جوړ کړې ‌ ‌ آزادی له چا امیل

(۱) اول کل نے زرین خان دے ‌ ‌ چه په مات اوګوډ وجود
دَ الله الله سوړے وی (*) ‌ ‌ په تنور کښې دَ نمرود
(**) پوی په سود او پوی په زیان ‌ ‌ په دماغ لکه لقمان
دیو خیال او خوب دَ پاره ‌ ‌ په خندا خوښبوی زیان
که رونډ پریوړی سوړ انګار ته ‌ ‌ همت نه دے حماقت دے
چه هم سوړی هم روان وی ‌ ‌ دا سردی دا شجاعت دے

دړستم نه بهادر دے دمیاسی ۰ روکے نانا
دَ ترخو چایو پیالو کښې نے کړه روبه چیلغا نه

(۲) ورپور دے فردوس خان (۱) ‌ ‌ په غټ سپین په زړه نازک
دپښتو په نوم او ننګ کښې ‌ ‌ دَ فولاد دَ ګټے کلک
لا ورورګے شان هلک وو چه پرے وشو امتحان
دَ لیلے په عبادت کښې دَ رقیب شو بندیوان

(۱) فردوس خان دَ ۱۳ کالو په عمر او ل چیلغانے ته راغلے وو.
(*) وی ۰ وهی. ‌ ‌ (**) پوی ۰ پوه.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ دنیا په وارو نرمو — په پښتو په خوږو پوهیږي
چه پښتون په تیرو سرشي — دے لا سرکښے او غورزوږي

خپله ګټه خاني پريږدي. کندرا دخلي د ملنګ
خان په ننګ خاور ایرګرځي چه پښتون ته واخلي ننګ

رب دِ بوزي ما نيرسے ته — چه کنی[1] بيا دَ ادے سیل
دَارو ګلو جوړ کړے — آزادۍ له چا امیل

(۳) ورپسے زما چکنی دُ، چه لړ بسم بیمه دېيوران
په میراث کښے م زبرګی دُ، خو په فکر کښے شیطان

یم پیدا د مشتنګره — خو په فکر اتمان خیل
يو عزه ورانه، ويجاړه — غوندے زانه دَدے سیل

قسمت جوړ بله رنګه خوګی دَ ماو بنګلی پلاله
نصیب شپول دَاز غوو کړه دپښتو ګلو ګلزار له

خوږ بخته تینبسته نشته — زه پړ تنګ یم دَ هر چا نه
ما ته دَ غم او تکلیف کښے — دی دَ ژوند تیرول ګرانه

ولے خه اوکوم وګیږم. که حبا اخمه دَ سیل
دَارو ګلو جوړ کړے، آزادی له چا اَمیل

(۴) راپسے رو کے لالی دے — پاکستان ترے نه ‌یږي
چه تاريخ انګریزي وائی — نو جناح[2] صاحب قاریږي

---

(۱) کنی : کړی (۲) محمد علی جناح (۱۸۷۶ - ۱۹۴۹ ع)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کالج نه نے را وښکه، د ژوندانه توږے کوڅے ته
او د مکتب د کوډے را وسته د ژوندونو میلمسے ته

دلته هغه تعلیم سومی !          چه په کل جهان کښے نشته
جیل چه پښیئ هغه منبو د نه          د تعلیم امکان کښے نشته

دے د ژوند هغه استاد دے، چه لقمان او افلاطون
ارسطو، سقراط، بقراط، نے په مخ کښے د زه بون

دے بندی د انصاف نه دے          دے بندی د چا د زیل
دا وو حکلو جوړ کړے          آزاد دے له چا امیل

وربور چکی کښے پروت، زما یار د هوتی خان
(۵)
په وجود یو موتے غوبنه، په خیگر لوئی پهلوان

که عیشونه که خندا وی          که وی حورے که غلمان
هیڅ نے تینگ نکړی چه جوڼ شي          د مستی تورے میدان

کاش چه د خانانو راورے، یو څو دا نکے خانان
خو افسوس دا بانښتے په هوتی او په مردان

څه بانخوړ په عقل کښے خاندی          یو مثال، یوه رهنا کړے
چه محمدال کڅه کوتے پورے          تول عقل شی چراغان

دوه کاله او دوه میاشتے په دے کال کښے د زامین
دا وو کالو جوړ کړے آزادی لے له چا امیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې شاکرالله دے   دَ همائونه او بسیار

(۶) په خندا خندا یئ کړی   دهر چا دکور بېگار
دا پېرې دے چا لیدلې چه خان او شي مرید نه
په خندا دحسین سترګې سیا یه پوسي یزیدنه

که دَعقل په حساب شي   دې دَ زر و خزانې
دے به ګویا سکندر   یا دارا دَ زمانې
خو افسوس چه پس لاړي نشته دزړګي په پیمانه
خاکه تش شو ژوندنه وائي دکلونو افسانه

په ښه شمو چې نداره کړي   یار دَ عطرو دَ پلیل
دَ اوو کالو جوړ کړے   آزاد دې له چا امیل
آخرې دے یوسفخان   دغني نه مرور

(۷) هم نے مال په شمله داوشه   هم تالا نے شو ځیګر
پلار نې غر وو دَ سلم ننګیالي او تره باز
پونې په ننګ او پښتو وو دَ جنګ ښیشته راز

لکه باغ په ګل ځنیشته وي   دا سې وو په دوه سلم
تړونه کاو د پښتون زړه نې   دَ تړو ندو سترګو په نم
نے ځیشته ناپه مه بنکاري لونجانا د بابو چیل
ذ اوو کالو جوړ کړے آزاد نې له چا امیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې څلور مونږ نوکران دي — پښتانه دي څوک هندکيان

يو چاچا، يو مير قدم دی — اسرافي او اکرم خان

اکرم خان د نغرو دی، کړي کدو بنه د پلاو
دی ملام باندې کړي، تود او تريخ شالان

چاچا بنه پوره بيره دی — ميز کرسي لګوي چسته

خورو ژوغ هيب خراب که — نوکري ئې شوله سسته

اسرافي او مير قدم پښتانه دي په نسب
خوارانکي زمونږ خدمت، مونږ په چغه بنه دربه

داماليان دي اوبه اوچټي په شنو بوټو د رامبيل

د اود ـــ جوړ کړې آزاد ئې له چا اميل

هري پور
۱۹۲۹ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

که سترګې ښکلې نشته ښکلې یاد خوږې شته
که تخت د بادشاه لرې دې جلا د خوږې شته
اوږدې شپې د فراق شوې په جانان یادولو تیرې
که وصل نشته شکر دے فریاد خوږې شته
داغم د سینې غم د خوشحالۍ په شان خوږ دے
د غم مالک هم خان دے د جایداد خوږې شته
دازه چه مسکۍ شو بلې د تیاره شپه کښې ولاړ یم
د یار مرونا، که نه وی خو امداد خوږې شته
خما د لالی راج هم بادشاهي د پاکستان ده!
آباد، ئې که یو نه وی، ډیر برباد خوږې شته
چه اَ خلے لیونے ربه، په مینه کښې نے ډوب کړے
دا یو د آ مرګے دے چه څه مراد خوږې شته

غني
مرک پورحیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیال او رنګ

داسوز او ساز، داشان او شورنګ
یوسورے دَ وخت او خیال او رنګ

دا اوښ کاروان، دا سحر ماښام
دا لوتے او شونډے او مئے او جام
دا شپه دَ خزان او خوب دَ بهار
نشه دَ مجنون او پیاله دَ خیام
داګل، داساز، داشان او شرنګ
یوسورے دَ وخت، وخیال او رنګ

دا زور، دازر، دا تورے خیشته
دعا، او جزا، او حورے خیشته
دا سترګے، لیوالے دَ ژوند، او نور
دَ شونډے، مستانے مغرورے خیشته
دا تله راتله، داخیال او رنګ
ا رنګ، د رنګ، سپاری تنګ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ښکلې ځاته، په نیاز کاته
دا روْ(*) نازک، په انداز کاته
دا لړو ځکې ته، دَ سپوږمۍ دَ مخ
نرګس کښې نیاز بین دَ ایاز کاته

دا مینه، رنګینه، دا شان او شرنګ
یو سوړ سے دَ وخت، دخیال او رنګ

سپړ دل دَ ګلاب او خندا دَ یار
کابوه کاته، په رضا دَ یار
انداز دَ مستۍ، او تهول دَ غم
سرے سترګے او شونډے نه ما دیار
دا مست ماښام کښې دَ ژوند غوړ رنګ
یو سوړے دوخت دخیال او رنګ

محفل دَ غمونو او جهان دَ غم
یو شمع وَرو، دنیا تورے تم
یو بحر خموش کښې یو کوړنګ دَ ساز
په راج دَ مرګي کښې دَ ژوند آواز
دے تورسمنا کښې رڼا او رنګ
دا مینه، رنګینه، دا شان او شرنګ

غني

خانپور

(*) رو: ورو.



A .S.K B

# یو خط

زما خوږ دوست حکیم سید بهار فضل دیوبندي ته

یا حکیم جي!

ته څه خبر یې د دسمبر نه
پیاله کښې شونډې د یار پرې دي

دا خوږې ږمی دا پېښې دي
زړګی د سرو انګار پرې دي

تا څه لیدلي دي مرګ بې مینې
سترګې ملا هوښه مینې مینې

ته څه خبر یې دا څه غضب دی
خوږې پرې زلفې تار تار پرې دي

ماته ملوګې دي ګل مسېنلې ستا
د سود او زیان او روږدې ستا
کړه چښانو کښې د جانان م
د جنت حورې قطار پرتې دي

وخت نشي د یاره ساقي ګلرنګه
وکړې پیالې په شنګا شرنګ

او څکم به چه لیونی شم
تاو رانه لیچې د یار پرتې دي

کوره امام کښې سجدې و بانه
ماشوی را ځله (۱) د جانانه

دوه دري ځنه روند د لیونې خاخه
د مستي دري د شمار پرې دي

غني
حیدرآباد جیل

(۱) وږي - وراي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاروان

ژوند او قرار، اور او اوبه دي، نه به یو ځای شي نه یو ځای کیږي
تیاره او نور یو د بل جوړ دي دا ګ به تیږه وشي دا چه تیریږي
لکه د سیند د ژوند هم لاره، کله په غرو کښې کله میدانکښې
مونږ عجب عجب پیدا وو، کوږ نه پښخلوړو کښې خلکې آسمانکښې
جانانه ماته کړه راپورته، د انګور دې دا سترګې تورې
د ماښام لړې تیرې کړه میړې ولوړه دلبره اوس قیصې نورې
وګوره دا سینه سپره، پڅې روښانه دا مونږ ته خاندي دا مونږ ته وائي
و دې ساعت ځواني د دوه عاشقانو کوږي هغه چه ځواني کښې خالي

جامونه ډک کړئ زړونه مستانه
کاروان روان دے جرس غږیږي
شونډې وله شونډو د مینې پوسي
مسافر تلونکے دے مجلس خوریږي

غني
حیدرآباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې وفا

حسن حسن لټومه — که په غرو کې که په سمه
زه په مینه مینه پایم — بې د مینې مرمه مرمه
بې وفا که د جانان یم — بې وفا نه یمه د مینې
چې ته رنګ خال انځورم — چې پې سترګې ګورم رنګینې
چې څوک د میو تش شي — تش پیاله شي بې ندې
بلې به کې میخانې له — سینه یې په سمه مجروحه
تش کړے څښلے نه شم — چې خوني نه وي د ګیابو
زه مین یم په پیاله نه یم — زه مین یم په شرابو
پتنګ نه څښتي مینه — چې د شمع رڼا نه وي
تورانۍ نه وي ښندلې (*) — چې مستي د سبا نه وي
بې وفا که د یو یار یم — وفادار د مینې یمه

حسن حسن لټومه
که په غرو کې که په سمه

غني
حیات آباد جیل

(*) وکی: دوایي.



A .S.K B

# بَند

مَن چه خوښه بند کړي حرص او هوا بند
سبا غواړي د مغز نه سودا بند

د تربوتالا کښې مینه نه کیږي
څنګ به بنا کاندِ سیلاب د هوا بند

تړل غمو یو ظرف د نیاز یو زړل
لکه واچوې تیارې ته رڼا بند

کړے له نه څکم چه نشه لیونے شمه
جام کښې کوه پیوند د نوم د آشنا بند

په دمو تعویذ و نو نه جوړیږي
چه یو خال زړه کړي د مینې بلا بند

د فولادو زنځیر نه دې چې پورے کړم
کړم جانان په نازکیږه په خندا بند

په جنات کښې د وچې شو نه ناست شم
لکه وي په تبخانه کښې مُلا بند

د دنیا آزادي وادوم قربان کړے
چه کړم زړه د محبوبا په تلا بند

ددے بند د تو بندونه نشته
چه تر څو وي د وجود او د سا بند

لیونے وا وریا په داسے شو دکانو
په بغیره کښې که په شان د مینا بند

غني - حیدرآباد جیل

# خمار

چې نشه شم د خپله خانه وځم — لکه وږمې چې تښتي د چمن نه
مست ګرځم د غم د زړه ارنګه او چرته شي — لکه پوزه سرګړي ګل د ازغي نه
د دنیا وجود مجبوریت مکنې پریږدم — او د خیال په پیاپېړۍ باندې شم سور
د ادوم اسمانه د سیاسه کړم روان — لټوم د ژوند چینه د دنیا کوږي
د ساقي خمار سره پورم پکار نه دے — دا زه ولوم د خپل خیال لیلی له لاس
دا د ز د نګینه وجود خواګړے — دا مستي مینه او حسن او دلدار
دا چې زه د جانان سترګې ښکلوم — دا چکلي ده لیوني کومه د رفتار
د شفق د سره د کوم خاله جاموم — دا چې سترګې سره شي کومه په خمار
خه په عیش د ژوندون تیرېږي ملاجانه — د تالاش د سوزبانګ خبر نه شوے
عبادت سره تلے حور سره غلمان — د ارمان خاوره د کیږدي د خبر نه شوے
لکه شمع ولاړ په ښو د خیال اوږه — خوږ او ښکلي شو شراب او خمار نه شو
مست نیږي دوا وانغشت[1] د شعرونو — د بهار خزان بلے کلمزار نه شوے
ژوندون حلاوت تالا یې خلاصوم — سترګو سره له خپلو پا پوړه

لکه ځانې ساعت رنګ جهان نه او بنود
لکه سیند د رباب له خپلو چیو پوړه

غني - حیدرآباد جیل

(۱) وانغشت = وانخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مدرسه

څه سبق راته ښئې ربه ! / د دے غم په ما راسه کښېنے

فکر کوم خو راته روان ځے ؟ / په کوڅے د وسوسے کښېنے

ته خبر نه ئې د خپل زړه / زما ما نه شوے پښتنې

په پوهاؤ چه م زده نه شوے / زده کوم نے په ټپټي

وامنم ته بے پروا ئې / هر څه کے(1) زما د پاره

خو کاش چه دے نازکو چنو ته / تا ورے بنوڵے لار هموارہ

واتقدیر م سخت استاذ دے / بل نے د ب ترنغ نے آواز دے

د لوڵئے نازک وزرته / ګران د غرو د سر پرواز دے

ژوندون نه دے جوشند وده / په کښے سل قسمه خوندونه

نه هم خوږ شو نه سم ترنخ شو / هم صحرا او هم سیندونه

هیڅ په پته د پوی نه شو / چه دا د وجود(2) کوم رنځ له

وے ولے د کور دره نه / ما ورنے د دریاب مینځ ته

زه په غاره یم خوشحاله / زه با تور لا مبوزن نه یم

زه د مینے تور باے یم / د جنګ نو تورزن نه یم

غني مړ په شمکو(3) شو / ورکه سپینه پتاسه

چوتیے اوکه تانئ اووه / قیبه بنا که مدرسه

---

(1) کے : کړے

(2) [illegible]

(3) شمکی : [illegible]



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صنوبر

لااس م بنا، ژړبه م بنده
دا تناست یمه دیګر
لکه ناست وی وزر ماتے
په مابنام کښې بازیګر

چې په خوله او تیتې سترګے — د کال خوا کښې کونګے ناست دے
د خپل غم په ننداره کښې — ډوب مشغول دے صنوبر
د برهم د رباب په غاړه — تشه لیه اوچے شوے دے
لیونے د تندے مړ شو — د مستے نه تش شو سر

دخوانۍ د غم مابنام
د پیرنے سار(۵) د اختر
نه دی چا برابر کړی
نه به ئے څوک کړی برابر

---

(۵) سار = سحر.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته ښکاري چه بوډا شوې      رقص او شرنګ دِ نشتې خیال کښې
ګډا نه کوې نظر ستا      غوږ زنګ نه لوړې په چال کښې
دَ زوال استا زړې ناست وې      تل په څوکه د کمال کښې
وخت اوړوند، هغه ښکارېدن      چه هما هم نیسي جال کښې

په ولېتو کښې دِ ښکاره شو
دَ مرګي اَستا زړي سپين
قسمت لیک دَ ابد وکه
ستا د سترګو په جبین

نشتې دې دَ لوبو کندو      دَ مستي جهان مَهین
دَ خزان جامې اغوستې      دي نرګس او نسترین (*)
د سبا رڼا پېکه که      دک دَ شمعو ورنګین
اوس دِ خوږ په ژبه لګي      دَ شرابو نه کبین!

هغه سره ګلونه څه شو؟
چه تو ګوال به دِ صحرا کښې
هغه لوی محل څه شوې؟
په تیاره به چه هوا کښې

هغه مست سرود څه شو      چه به څکه دِ هر دسا د کښې
هغه سپين مشال چا یوړه      چه لګو به دې بیا یا کښې

(*) سنتري = نسترن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا تور تور سورې د چپا دې      چه روان دي دے په خوا کښې

بوسیاه دې روخوزده کړل      تیتهیدل دي دی په شاکښې

لاس د بند زبه دې بنده

ناست یوازې او دیګر

لکه ناست وې وزر ماتې

په ماښام کښې بازیګر

چه خول او پښې سترګې

د کال خزانې او ننګ ناست دې

د خپل غم په ښار ورکښې

روزب مشغول دے صنوبر

غني

مرکی پورحیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تراوزه

اې د مینې فرښتې!
اې د نور او رنګ قیصې
ښاپیرۍ ته چاښندلې
د غمونو د کوڅې!
چا ورو لولکه نړیوه     که د تورتم سیاه باران کښې
چا تصویر د صحرا جوړ که     د ې دسره ګلو بستان کښې
په مینه چې شي مینه
یارانه نه ده سوداګري
چې په غم ارمان بدلېږي
د غه مینه دغه یارانه
که مجنون په لیلی ړوند وو     په مجنون د وړه لیلی وه
چې فرهاد مست او مست وو     شیرینې هم په خندا وه
وانه مینه نه وفا ده
خوشحالي مستي کمال وو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په چیغې کښې وزړونه
د لولکې تورکېدل وو

دا د سود ګټې قیصې وې — بندګي قربانی نه وه
د مجنون د زړه مستي له — د لیلی څوک ثانی نه وه

خوا سے د حسن فرشتے:

اے د نور او رنګ قیصے
تا مستي بے خودي ورکړه
په زړا او وسوسے

اے محبوبے بت پرستے — زه یو بحر د تیرو یم
اے د سپینو کلو لښتے — عکس ستا د لولو یم

اے د غرد څوکے واورے
ستا د ښاځکو زه دنګو کے
زما بحر د مستي دے
ستا نیاز بېن زړو ورو کے

ته نے حوره د فردوس — ښکلې زه د جهان
ته ژوندون رڼا او شمع — زه تیاره، غم او طوفان
ته تسکین د مسلمان نے
زه یم مینه د کافر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په سینه تالا زړه یې

زه په حُسن تالا سر

ته بنیاد او روح د سینه یې　　زه موجونه سر ښه یې

ته سرود، طور، او موسیقۍ یې　　زه ارمان د ساحرۍ

اے د حُسن فرښتې

ته نے حوره د رضوان

زه بادشاه یم د دوزخ

په لمبو د اور روښان

نه یم باد یم د خزان　　تورے لړے د ماښام

زه مین د بت په سترګو　　په ساقي یم او په جام

ستا خیشته مینې وفا نه

په معنی د مینې پوی کړم

ستا غمګین روښان نظر زه

هم ښاد کړم هم سره کړم

اے د حُسن فرښتې　　ستا غم نه دے سوځار دے

د خزانه تاجور کړے　　یو رنګین غونډ بهار دے

تاکړه بروه د سپوږمۍ نه

دا خندا کوکۍ قصه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا په سترګو د آذر کښې
عکس جوړ که د موسیٰ

تا پتنګ له مستي راوړه — د نورونو د زهرا
تا د سرو ګلو باغ جوړ که — په خیګړ کښې د صحرا

تا د ژوند ترخو اوبو له
د شرابو سرور ورکه
او زړې سترګو د کونګټ له
د لولکې غرور ورکه

تا خناء او رړه خوبانو ارمان کښې — وینه د مینې شوه د غم جانان کښې
تا د یار شونډو کښې خوب د لاله بید — تا د فراق په مخ تصویر د یار ولید

تا د تیرې د رنګه د رڼا بنار که جوړ
تا د ورو کې د ناره سینه د آبشار که جوړ
تا د شبنم څاڅکي کښې تصویر د نمر
که د امید دریاب او د مستۍ سمندر

تا د فراق د لمبو — رنګ د وصال جوړ که
زما د تولو تیرو — د زنې خال جوړ که

---

ای د حسن فرښتې
سپینې حورې د رضوان
بس تا د هر کړه لیونی له — امیدونه او ارمان

غني. خانپور جېل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صحرا

که په ښکلو کښې ژوندون دی — راته بوم څه صحرا له
که سودا کښې ناز او شهنګ دی — ما مړ ینې ورکړه سودا له
که په ساکښې مستي نه دي — راته مرګ را وله سا له
که هلال پیغام د نور — د خندا د رڼا نه وي
ما ته غوره توره شپه ده — د ډیره غوره د هلاله
کله ژوند مطلب بل نشته — بس ژړل دي سوزېدل دي
دا خپل جوش په بېرته واله — دا خپل هوش په بېرته واله
زه پتنګ ستا په رڼا یم — مین ستا په تورو نه یم
که کافر که مسلمان یم — یمه ستا د نورو نه یم
زما واره کمزوري دي جور ستا. ستا کماله — تیاره ځکه شوله توره چه شو روکه د هلاله
چه تا روک کړمه حیوان شم — چه تا وو ینم انسان شم
ته دریاب د شنو چینو یې — زه پیښې د لوږو تندو
چه تا روک کړم بیابان شم — چه تا ښکل کړمه بستان شم



A .S.K B

دا کله زه مالدار څه شم، چه زه چغې شم جانان شم — دا خو ستا د خېښتې قیصې دي، چه زه غم شم بیان شم

یا خو واک د بادشاه راکه — او یا صبر د فقیر را

ډېر ندرونه د رنګین خوب له — یو خیشتمه شانِ تصویر را

چه ستا حسن پرې بند کړم — داسې لاس د زنځیر را

که دا اوښکې ستا شراب وي — که دا چغې ستا رباب وي

که زما ژړا د عمر — یو لمحه ستا د شباب وي

که زما مستي دا — یو حباب ستا د سرود وي

زه خو ستا له یم په هر څه، چه کوي ما لیونتانه — عجیبه زما جانانه، عجیبه زما ارمان ته

هله زه د جهان مالک شم — چه خپل ځان درکمه تا له

هله مست خوبونه راشي — چه کوټ وکړم ستا د خیال له

اې د کل جهان مالکه — جواب را ستا د جمال له

ولې جوړ صحرا کښې باغ کړې — قصاب جوړ کړې د ګلا له

ولې ولې ربه ولې؟ — د دې ولې جواب څه دې

ښکلې ښکلې اې جانانه! — ازغي څه دي مضراب څه دي

اې د لوړې تندې ربه

ډک جام څه دې، کباب څه دې

اې د مرګ او ژوند مالکه

مرګ څه دې، شباب څه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے دَ ژوند آخر جانانه ژوندون څه دے حساب څه دے
اے دَ تورو تیرو خانه څه معنیٰ ستا درنها ده
اے دَ مرګ او ګور خاوندهٔ
څه رنګینه ستا خندا ده

# څه وُو چه هیڅ نه وُو

څه وُو چه هیڅ نه وُو نه سبا وُو نه ماښام وُو
نه رب دَ چا رب وُو نه بنده دَ چا غلام وُو
بس یو بے پایانه عاشق ورک په خپل خمار کښے
خوب دَ خپل وصال و
په ښیښته شونډو دَ یار کښے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جزا

خلق وئ (*) راته چه شته دے — زړه م هم وائي چه ئے!
خو جهان دِ داسے ښکاري — لکه بے مالکه کور
ستا دَ خپلے خُلے دښمن له — خوشحالي، مینه، آرام دے
ستا آشنا له تنهائي ده — تهمتونه او پیغور!

که دِ زړه کښے هم څوک یاد کړي . دړ په دړ خاورے پسه شي
ستا دښمن خانان دَ خانانو . ستا آشنا زیر و زبر شي

ستا ربښتیا، ستا ښه، او مینه — په همه ؤ کښے تاوان دے
ستا تالاش یو لیونتوب دے — ستا یاري دَ غم طوفان دے
امتحان خو مرو سنګین دے — ډیر کمزورے ستا انسان دے
دَ لوګي په بنیا دونسو — جوړ دَ شنو ګټو مکان دے

ستا خلیل دَ خپو دَ لاندِ . دَ نمرود دَ غلام وینم
دَ خیام لاس کښے کچکول دے . دَ دله لاس کښے جام وینم

خانه مه م جنګوه نور — هسے نه چه ښکیلے شم
چه خمار او سرور ورکړم — دَ اسرے لمحے مرنے شم

(*) وئ : وائي .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا ملا وانی په چغو، چه تش سخاوت(۱) او زکوت غواړي

خو بس د غټ غټ خیراتونه، پوخ او سپین نشان جات غواړي

وې قانون دی د منات وي | ته تش نوم د منات غواړې

وانی نه غواړي جنون ته | تش د رکوع او آیات غواړې

خو ستا جهان بل رنګه بنائی. ستا د پتو ستر ګو خیال

عجیبه دی جرم ایښی | په خونو نو د وصال

لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ ۔

ته په دیګ م رضا نه کړې | نوم، ارمان، او عزت غواړې

د مالی نه زیر کلونه | د قارون نه دولت غواړې

د مېین نه تو له مینه | د مغرور نه غرور غواړې

او د رند نه بنا ننګ وینه | د مستی او سرور غواړې

د غنی نه هستنګ ګنې | او چت غر نه د طور غواړې

د کلو ړي نه خپل خان له | د هوتولو(۲) تنور غواړې

ستا وکیل وائی په چغو | چه خیرات او زکوة غواړې

زړې میښې د پنجاب | او نړ د سے روژ د سوات(۳) غواړې

سپینه ګوړه د شابګینه | تمباکو د سوېشے غواړې

او مسرید ګړ نه ته بیرلي | بنګلے بنغے نو غواړې

---

(۱) سخاوت: [illegible] (۲) [illegible] (۳) [illegible]



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سان، صابون ګړه طالب له ‎ ‎ ‎ ‎ او مُلا له روټۍ سپینې

په بدل کښې مسحلونه ‎ ‎ ‎ ‎ معشوقې نرمې مهینې

دَک جامونه دَ شــرابو ‎ ‎ ‎ ‎ په عوض کښې دې پیینې

دَ یزیلخونې پالنګ کښې ‎ ‎ ‎ ‎ دِ کې لیچې نرمې سپینې

لیونی ته بس ارمان کښې ‎ ‎ ‎ ‎ شي رنځې سترګې مهینې

خُومره ګران سړی دِ جوړ کړو ‎ ‎ ‎ ‎ دعوید ار له ستا دُ مینې

ستا قسمت دے سوزول کړي
لکه بې مطلبه اور
ستا جهان دے ورانیږي
لکه بې مالکه کور

غني
غرسر
دیره اسمعیل خان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شهوت

ما دَ وینځې خپرګنې شهزاده په ژړا ولیده
ما دَ مرګي بُت ته ژړوندون تهیت په دعا ولیده!

دوه نیانې ښینې سترګې دَ مستۍ دَ خندا ډکې
او چه ترې مستي شوه شوے دَ ښپي دَ سترګو کلکې

لاس دَ سنګهار غزولے په سوال ولید
پروت دَ منات خپرګنې م په ذکر بلال ولید

ما دَ وینځې خپرګنې شهزاده په ژړ اولیده
دا مستانه زړه م دَ چا ښپے په سودا ولیده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خندا

ځان تخنومه ډیر خو ډیر افسوس دې د خندا نه راځي
دے غریب ګنی کره سایه د هما نه راځي

ده ته مینا پیرے ده پرې هله چه لیدے نه شي
غوږ په سپي حرام، د خره ډیران له ګیا نه راځي

خدائے نیکو که مجنون د څه مجنون وچه صحرا له لاړ
پوئے شو چه په دے چه په محمل کښې لیلے نه راځي

لاړ و لیونے نو ورک شو چه حکم ورکړلو
چه کوره د رنګونو به څوک اله رښا نه راځي

نن د سامري سحر تهیکه د جانونو ده
خکه لیوني له غنه پټکے او قبا نه راځي

خکه خو غني لږ په کیله شان نصیب ته وائي
مه وایه نامرده چه نن تیر شو سبا نه راځي

ستا عجب جهان څه بے انداز څه بے امکانه دے
یو د خندا مر شو لو او بل له خندا نه راځي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خوا دِ تیرو دَ مِنا پیرک خُله مړه نکړله
بل خوا دِ چړک مړی په دے ارمان چه سبا نه راځي
یو سیلے اوچت که دَ دریاب په مینځ ئے وریشته
دې خوا بل تر مینزی چه یو کوټ دَ هوا نه راځي
لا رمه، بوډا شوم ژوندیو تقه نه کښېنم
خان ځنځوه دیر، خو دیر افسوس دَ خندا نه راځي

غنی
پهارپور

## رُباعي

زړه مِ لګیا دے سرتهِ مِ ګپ لګی
ورله دهوکه ورکنی په اکو بکو

وائی پاسته کلونه دی را روانَ
پروا ئے مه کوه که ازغی کلک وو

غنی
خانپور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سِلیپَئ

هغه ژوندون وایه  چه وي یو نور او رڼا
دک د خوبونو خندا  خندا او شرنګ شرنګ
هغه سرور وایه  چه وي د وخت بې پروا
خواره په سر د فقیر  شالونه رنګ رنګ

هغه بهار وایا!
چه نه مستي او سخا!
په زیړ و ګلو باندې
مالیار کړي تنګ تنګ

خو دا نه شوید او نه به وشي  چه دوږخ نرم او خیشتر به نه شي
جنت به نوم شي یو بې مطلبه  شي به پکښې خواږه او وربګي تراخه شي
سرور به ډوب شي او خندا ورکه  خکه چه غم او ژړا به نه وي
رنګ به لوګي شي او ځواني خاورې  واړه به سودوي، سودا به نه وي

چه خیګر مور شي نو ارمان ورک شي
چه ارمان ورک شي، نو ژوندان ورک شي



A .S.K B

چه صحرا نه وي په سترګو رپ کښېنې
لیلی فنا شي، او مجنون ورک شي

په شپه او ورځ کښې ـ وخت او نظر دے
وار ولیده د بنده ـ هم سپین هم تور

د ده تیاره کښې جړاے د نور دي
شته ځکه ټنګ او شرنګ چه شته دے سوړ

یاړه دا ړوند سنه دے ـ پکښې خندا او ژړا
توره تیاره او رڼا ـ ګلونه رنګ رنګ

خو بیا هم زړه غوارمه — ړوند د خوانۍ او رڼا؟
دک د خوبونو خندا — خندا او شرنګ شرنګ؟
وے دانه شي کولے — د خیشت او نوره آقا؟
چه دے سینے کښې کېږدي — لا لونه رنګ رنګ؟

غني
پهاړپور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کټ مالهٔ

(یو خط روښن ته)

لاس به مې ورکړی وي، او خپې به مې ورکړې وي
خو مینه، مینه، مینه، ما درته سره بس پرېښې دا په ده

دې باز به په ډېره غرور نو کندو پرواز کړې وي
خو جوړه بس ستا سترګو کښې دَ خمار جالهٔ ده

مل خله که ورکړشي ستا دَ کوڅې ورکېدې نه شي
واړه رنګینی دَ ده چه جوړه ستا دَ خیالهٔ ده

دَ ورکه میخانه ده جام ساقي دې که خمار دې
دا واړه مستي خو ترڅه وشلونه دَ مشالهٔ ده

سرې شونډې او تورې تورې شپه کښې دواړه تورې شي
خیښت دَ شال په دَ دې چه لیلئ خیښته دَ شالهٔ ده

ته که لاړې رنګ سره او خواني به واړه خاورې شي
جام کښې دا مستي واړه دَ مینې دَ کوڅې لاله ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونک خاورې کونډې شي یا د یوه شي او یا جام شي

روګے(*) غونډ ے سر کله تار ون کله خیام شي

شوم نصیب کړي جوړ توره پنجره د زرنګ محله

مینه او غرور کله ساقي کله امام شي

حُسن او وصال یو ته ګخمل شي او کاونه شي

یو ته سر د دار، بل ته را بنکلې د ُل د دام شي

ستړے شونډے خاوړے، خاوړې لړے د کمالډ

مینه مینه مینه ماده کړے بس یو تا له ده

ماخو ستا په خپو کښې خپل لالونه خواره کړے دي

ماخو نقیري قبوله کړے ستا د سیاله ده

ما خپلے مستۍ ستا په غمونو قربان کړي دي

ما رنا د شمع قربان کړے د هلاله ده

خپے او لاس م خه دي داخو خاوره د ویران د ے

دا ستا غني نه دے دا د خلقو غني خان دے

دا ستا د ګلونو بناخ مستي د بهار نه ده

دا شاړے شود یارے سوړ سادین او ج بیابان د ے

دا ترخه سایه ده د غضب ده، د نفرت ده

دلته مړ شونډون د ے مړ امید او مړ ارمان دے

---

(*) روګے: وږوګے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خاموشي ده دا، چه ورکه دَ بلا له ده

مينه مينه مينه ما دې کړې بس يوتا له ده

ما کعبه دغولې ستا دَ مينې او جمال له ده

حوره زما ناسته، پته اخوا ستا دَ شال له ده

ستا شراب دَ خاورو دَ کنډوله جوړ کړې جام

ستا سترګې کړې جوړې دَ خرڅوکې نه خيام

تا دَ خاورو کټونه سينا او حرم جوړ که

مينه وه دا مينه دَ خنزيرنه ئې آدم جوړ که

ستا کټ ماله جوړه دَ غني دَ ګل کمال ده

مينه مينه مينه، ما در کړې بس يوتا له ده

غني

پېښور



A .S.K B

# مُسافر

د ژوند مقصد دے یو کمال د مینے — دعقل خوږ جمال یو خال د مینے
دا تورے لړے مابنام کلال د مینے — دا ارمانونه تالاش یو جال د مینے
دا سره مستي د کفر چیغه د خاد مو — ویخ[٭] کښے د بحر نفرت دالال د مینے
اوه په ارمان کښے د کمال د مینے — کل د انسان جمال جمال د مینے

مینه خوب د دیوے زړه کښے — د دنیا او سوزیدو دے
خوب د ژوند کوره مابنام کښے — د سبا دنیا راتلو دے
د خزان په مایوسئ کښے — خوب د گل د ټوکیدو دے
د مرگی په تور وطن کښے
ساز د نمر د ختیدو دے

ما د سترگو تپوس اوکړه — حُسن څه دے مینه څه دے
ما د دنیاه تپوس اوکړه — عکس څه دے اینه څه دے
ما د گوتو نه تپوس — د نرمے د تالاش اوکړه
ما دے اخاري سترگو — دا خندا رنگینه څه دے
ما وے اے زهرا رنگینے — د خپل نور نه بے خبرے

[٭] ویخ : بیخ



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا مستي حسینه ښه ده
ستا خندا مهینه ښه ده
مخ دې بې پایانه حسن
ماته دا په ارمان وړې

ژوندون څه دې ځان سوځل دي　　ژوندانه څه دې ورکیدل دي
ژوندون څه دې یو تلاش دې　　د ارمان پوره کولو
د ارمان بې تابي واړه　　په ارمان قربانول دي

ژوندون خوب دې یو بې توانه
د تیرې اوږد رڼا
بنده هغه مسافر دې
کور ئې باغ لار ئې صحرا

غني
بهکنوتر





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې غیرته پښتون

تور ښامار منجیله پروت دے د خار په خزانو
د پرون غلام، بادشاه دے، د سبا د لیونو
هر پښتون د ېرے (*) ږلی، ورک شو نوم د پښتنو
د سرو سترګو غیرت اوچ شو
همت ړوک شو د سینو

اے پښتونه ما کتلی د انسان د شان کمال
ستا بے سرو سرکښی نور وو، ستا په تورو کښے ملال
ستا په مست حیوانیت کښے د دریاب د څپو زور وو
ستا په نهرو کښے زمزم وو
ستا په قهر کښے جلال

ما به وے د زمری ظلم، ظلم نه دے د شاهان شان دے
ما به وے عقاب په خیشته دے چه باز ښکار ارمان دے
ما به وے چه ګله کله، خکه ته بے حمیه اور شے

(*) پرے، ورے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې روان ستا په ځیګر کښې

سوړ د ننګ غرور طوفان دے

اے پښتونه ستا مړ بد، له ما لمانه جوړ وکړه ښکلے

که ته تور، د اور صحرا شوے. ما کتے ډکې بلبلے

ما ستا سر اوچت غوښتلو، دا مِ نه کوو تپوس

چې دا سر په څه اوچت وو

څنګه څنګه ، ولے ولے؟

دا پنځه کالهِ مِ تېر کړه جهنم، زندان ، اور کښې

نه ما سر اوچت سبا ته ستا سر ښکته په پېغور کښې

شل شرمونه درنه تاو دی، په کښې ته داسے خاموشه

لکه پروت چې د له مړے وی

راغونډ غونډ په کور کښې

یره یره په ځیګر کښې د ګنجې د سکندر،

په پنجره کښې رڼې رڼې د عقاب اوږده وزر

لاندِ ناست دی سره بازونه، اوږے سترے او تږے،

او د پاسه پے کنجنی ده، د هما تاج نے په سر

اے جنونه د شراب اے آبادِ لیونو

دا مغرور سر مِ ټیټ که، بے غیرته پښتنو

غنيؔ . خانپور

---



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دامکان او لامکان

چه آدم تنګ دَ قسمت شي　　　په خپل لاس کښې ستار واخلي
چه لږ نور هم ليونے شي　　　نو شمشير او آبشار واخلي
چه حوا دَ مرګ ديرے　　　دَ سبا په تلاش وځي
دَ ګلو نو رنګ راغونډ کړي
دَ سپږو نو شرنګار واخلي
همه رنګ دے دَ آدم　　　دَ آدم دَ زور امکان
څه دے کور، او لامکان　　　ګل غلام، بادشاه خزان
که جانان، که بت که رَبّ دے　　　خما تندے، او ايمان
دامکان او لامکان　　　دواړه جوړ زما دخان
سره ګلونه، سپين امام
ابتدا او اختتام
ګل بچے دے دَ ديران
په سپرلي کښې پت خزان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیښته یره او شکست — دَ دله دغه آواز دے

نو غازی له شکست نشته — همیش فتح تل پرواز دے

کل چه خاورے شی هم کل دی — کل چه سوروی هم کلاب دی

یو مهتاب او زر دوړ یځي

بیا هم سپین خندان مهتاب وی

او دَ مینے په میدان کښے — سَر بیلل(٠) جانان ته تلل دی

دا منل هغے دَ لیونو ده — قول بیلل هم څه کمل دی

دلته ډوب په روکی(١) جام کښے — دَ کعبے او چت منار!

دلته سابیلل خمار — دلته خان مونتل(٢) خمار

دا مکان او لا مکان

دواړه جوړ نهادَ خان

دا جانان او بُت او رَب

زما تنده او ایمان

غنی

خانپور

۱۹۵۲ع

---

(٠) بیلل . بایلل . (١) بوکی . وروکی . (٢) مونتل . موندل .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قانون

زه خونه وايم چه نشته ـــــ زه خو وايمه چه شته دے
خو دنيائے ده عجبه ـــــ او قانون ئے عجيبه دے

بنګلي باغ د کډې خوبونو د ګلونو د نورونو ـــــ دروازے کاڼه دار وي کله دين کله صليب
او تخت بره په ناست يو غلام د غمونو ـــــ تخت چاله د چنګيزو کېږي او خوبونه د غريب

کله سپي له ګُله کېنې ورکړے د شاهين شنه وزرونه
کله ګلهڅکے په ويران کېنې د نرګس مهين خوبونه

يو ته سرو شونډه وکښي پټ شي ـــــ يو ته پټ شي په صحرا
چا ته خود چا ته بے خوده ـــــ چا ته مرګ شي چا ته ساه

کله ستر ګے د کمترے په سرو ستر ګو کښې د باز
کله سور ظالم عقاب شي ـ په باز راولے شاه باز

زه خونه وايم چه نشته
زه خو چغے وهم (*) چه شته دے
خو دنيائے ده عجبه
او قانون ئے عجيبه دے

غني
خانپور ـ هزاره

(*) ويم = وهم.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آسره

بنده څه دے؛ بے هوشه ځناور دے
بنده څه کنی؛ آرام خان له ګوری
دے تالاش د ده - د ساقی خندا
د کعبے مناره - ښکلی ستوری

کل منطق د ده، فلسفه د ده — یو امید یو ارمان یو اسره د ده
د دے لوئی دریاب نه چاپیره ده — کناره د ده کناره د ده

که ئے سر د عرش پورے ولګی
خپے ئے روبے وی د غبار په مخ
داخو دے دے - د ځانه ورک شوید
د جانان په مخ - د دلدار په مخ

کل مذهب د ده - کل ایمان د ده — دا دے رنګ او خندا او جانان د ده
دا مکان د ده - لامکان د ده — دا څه ورکه - څه توره قصه ده

د سبا تالاش د پرون ارمان
یو امید - یو ارمان - یو اسره ده

غنی
خانپور - هزاره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ بوډۍ تال

تیاره، تندر، روکیدلې دي      زه لټوم دَ بوډۍ تال
دَ امید نه جوړ وم      کله رنګ کله وصال
زه دَ ځان کل مرضونه      خپل حکیم یم دَ کمال
اې زما مغروره یاره      زه خالق ستا دجمال

داچه زه په تالاش لا یم
پوست پراو مقام یم ومنت (٭)
داچه زه، تنې دَ نور شومه
سپین ساقي او جام یم ومنت

دایم زه وچه کله کل شم      کله نور کله وصال
کله او ستا دَ سر وشونا      کله ستا دَ زنې خال
اې زهاد مینې جوړې      ستا کمال زما کمال
دَ منطق په تور جهان کښې      روک جنون او تور ملال

تیاره، تندر، رولکیدلي
نه بوډۍ شته نه یې تال      غني

خانپور- هزاره
۱۹۵۲ع

---
(٭) ومنت: ومومند.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دړ په دړ

دړ په دړه خاورے په سر ـ پهاړ پوړ او بهګنوتر
خمه خمه په سفر ـ کله ښکے کله غر

کله تاو، کله تیاره وي کله سوز کله سقر
کړم تیرخان له پوازے، دچوړي په شان انتر

چه امید له دهوکه ورکړم ـ ویم سبا به وي بل شان
هر سبا چه رابنکاره شي، سترے سوے مازیګر

میاں بابا نه تپوس اوکړم ـ دَ عمل او دَ جزا
دَ الله دَ مینے رحم په بچورو دَ حوا

که فطرت دَ رب قانون وي، رحم نشته په فطرت کښے
دَ شهباز، زمري وحشت دے حسن کړے یړ دشت کښے

پښتانو کښے دکمال راز، زور دے، ظلم دے، طاقت دے
دا زمونږ رنګین خوبونه څه غرور څه حماقت دے

دا مونږ خان له جهان ګورو د دے خاورے بهر
خکه خکه دړ په دړ ، کله ښکے کله غر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

درد او غم که نور او سازوي، نو ځمیم ایرجمن ښته دے
خوبے تول خه ارو لے، او انصاف نے عجیبه دے

د خزان په ښاولاړ دے، د ګلونو نه خفه دے
د منصور نه بره ناست دے، پاس په تخت باندې شمر

رندے سترګے د بُت بنے دی، خانبیل بهتر کے نظر
ستا د حُسن لیونی له، نه شبقله، نه اختر

ستا د نور ورپے جهان کښ، نه سپوږمۍ شته او نه نمر
ستا عاشق په دړه لړلے، دَ ازغو تاج ئے په سر

پهار پور(۱) او بهکنوتر(۲). دړه په دړه خادړے په سر
کله تاو کله تیاره ده، کله سوز، کله سقر

---

(۱)-(۲)- دا خاد بند پهار او نظر بند نے دوه کلی دو، نور په دے خاپونو کښ بندی پاتے شوے یم :- پیناد خیل، مرسوچ خیل، حیده آباد، سنگ خیل، خانپور- مرسوچ خیل کلب، غربسر، تهند باے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګوډاګی!

زما ویره جنت او جمات زما — زما هوښ مستي، سرور، مناجات زما
منار د ګرجې(۱) کښې زما پستي — دا د مرګ نه بچیم زه ژوندون هستي

او د شرابو جام، د زمزم چشمه
دا د خان د نیولو یو دام زما
دا جنون جانان، دا مرشد کعبه
د خپل هوښ نشه کولو یو جام زما

ګوډاګی ما جوړه کړې چې خپل ځان له کې — سره لبان د یار، عبادت، سرور
ما بندونه اچولي طوفان ته دي — د امید ګلزار او قلا د نور

ما د مرګ فاتح د زوال آقا
د شکست له یو شان مو تښتیلي دے
ما غلام له سره زړه تخت او تاج
ما لوګي له مکان مو تښتیلي دے

دے زما جنون د اخایشت او یار — دا سرور زما د دے تلو غبار
دا جنت زما د ارمان تصویر — او دوزخ زما د دردونو خار

زما سترګو کښې رب او ایمان دے
زما د زړه کښې وصال د جانان دے

غني
خانپور

---

(۱) ګرجه = کلیسا.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرګ

ساز دا سے آواز دے ښکاره پټ کړي پټ ښکاره کړي
تورې خټې واخلي ترېنه جوړه مناره کړي

قبر باندے شال يو د اطلس د بخمل واچوي
لا مړ کېنې د انسان لمحے لمرګ او اجل واچوي

خو مرګ ډېر پرده پوش کړي د آدم زوال د هوشه ورک
مرګ هغه خزان دے چه ګل کړي د ګل فروشه ورک

مرګ ګواه د رب د مينے رحم د انسان سره
مرګ يوه وعده د سپرلي شوے د خزان سره

ژوند يو ښاخکے مينه ده، د مينے ننداره کړي
تورے خټے واخلي ترے نه جوړه مناره کړي

ساز د ځوانئے ښخے دے د مرګ سره د جنګ قصه
دا ده د انسان د زغرے تورے او تفنګ قصه

دا ده د غلام د فخر، صبر او د ننګ قصه
شمع پتنګ نه دے، دا د ستورې او پتنګ قصه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند د آدم څه دے ، مینه مینه ده د خان سره

خاورے دے آدم خاورے جنون سره جانان سره

مرګ لویه نیکی ده چه تا اوکړه د انسان سره

مرګ ستا کوره یوړه کنې وبه تل د خان سره

مرګ هغه نیته چه جانان کیښوه د جانان سره

مرګ پته نکاح ده د مکان د لامکان سره

مرګ کښې د ژوندون د دریاب پته کناره ده

مرګ مجبوره خان له د خپل حسن نداره ده

مرګ بس یو کواه نه ما د ژوند ستا د جلال

اے عجیبه خانه د تیرے او د هلال!

غني

خانپور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه

مینه حُسن جوړکړی بیا پې شی مینه مینه
مینه لیونۍ ده، لیونۍ ده مینه، مینه

چرته چې م داخیال وُ چه خائشت، خوانی نیاز
پټ دې بس په دوی کښې دَشوق، عشق او طلب راز

ما وې وُ ایاز خیشته، محمود وُ دَخیشت ویړے
خکه داستان جوړ شو دَمحمود اودَ ایاز

اوس په دې شوم پوی چه شهباز دَ ستر کو ننګ دے دا
بل خان ته کمتره کړی او خان وته شهباز

لوږه لوږه ده، دَخان سر ولو خوب دے دَ عشق
دا دے دَ آدم او دَ حوا دَ ستر کو راز

مینه جُمات جوړکړی په تیږو کښې دَ خپل غمه
مینه په مستۍ، خائشت کړی جوړ دَ خپل صنمه

بیا په سجده تیته شی، د ړنه په کلو وُنه
مینه حُسن جوړکړی بیا پې شی مینه مینه

غنی
خانپور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنّت

ډوډۍ غوړه په مُلا، جنتي مُلا
حلوا تب مُلا ، ولایتي مُلا
په پیسو قربان اوَستي مُلا
دَ پلاو په شوق خوري پیټي مُلا

دا بې عشقه، بې جوشه او مړ آذان
دا چلي دماغ او لرزان ضمیر
دَ دې سپین دستار دې توهین ئې نه
په دې کور دَ خدای کښې دَ بت سفیر

ما ته وائې چې څه چه جنت ته ځو
ستا جنت ستا دَ لوږې ارمان دے
ستا جنت دَ خوراک او دَ څښو ډک
ستا جنت نیم پیرس نیم طهران دے

ستا جنت کښې دریاب دَ شوروا روان
پیمانې دَ فیرنۍ نه برپورې دي
ستا جنت کښې جنون او تالاش نشته
ستا جنت کښې څړې خړې بې حورې دي

ستا جنت کښې نه سوز نه ارمان شته دے
غټې خیټې، لمدې، سپوږې شونډې دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا جنت کښې غوښتل د بلبل نشته

واره حورې، رضا او بربنا ے دي

ستا جنت د جنون بې خبره زړونه | ستا جنت یو او بنیار ښائستان تصویر د خان

ستا جنت د شهوت او د تندے ډک | ستا جنت ستا د لوړې د تا او امکان

دوه دي غرب ملا، جنتي ملا

په پیسو قربان، او ستي ملا

راشه واوره ته چه جنت څه دے

د غني جنت، د غني ملا

ته په جنت کښې مزے د دنیا لټې | د حورو ستر کوکب د د موخندا لټې

ته په آسمان کښې ومېږ د دیوان لټې | او په تیرو کښې سپوږمۍ امکان لټې

لیونۍ نه شوے ته خمار او مستي نه پیژنې

مستانه نه شوے دلربا پرستي نه پیژنې

تا د دنیا د پاره سینه د جانان ورکړه | مجنون په سبعه بېخودي د جانان ورکړه

لاس کړې اوږد د بادشاه لاره فقیر شوے | یا زما خان و دیا د لنډه رنځه پیر شوے

تو له خیته خیته شوے مستي او جانانه پیژنې

تو له زیړه پیړه شوے مردي او میدانه پیژنې

زما امیده، تا لې ختم او تکړے خوږ شوے زما

زما سهاره، ته مړ شوے و ځیغه خوږ شوے زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم په هغه رب چه ته نې د خدمت دعوګیر
چه تې د حورو د غلمانو، د جنت دعوګیر

تورې را واخله تورې پورته که میدان ته ځې
لوګې لمبه شه په مستئ کړې جانان ته ځې

کنې د وېږې په پستئ او په حلوا کښې مُلا
جنت دې بانلو د تېپو په پېړو کښې مُلا

د موسی که آئینه ده د لوړې ننداره موږه مُلا
تمبې هر شېبه د دهر مرې اې زوړه ملا
د سامري د زور شته دوه نفیري د موسئ
د زر پرست نه یار پرست بنده، نا جوړه مُلا

---

قسم د حورو په مستئ او په خندا د یار
قسم په شرنګ او په نسیم او مشغولا د یار
قسم په سترګو، په خایست او په خوا د دلبر
قسم په ساز او په سرود او په ثنا د یار

ته سجدې زړو ته کوې ما توم د یار اخلې
شوق کا نه کوې په بدل کښې کلمانا اخلې

راغه چه زه د رته جنون او مستي او بنایم
راغه چه زه د رته محبوب پرستي او بنایم

سرداري نه کیږي که تورې مستئ نه بغیر
الله لیدنه شي د حسن پرستئ نه بغیر

مسکنت، قلندري دواړه سره غواړي
دواړه مستي او خوا مرد خندا غورځه غواړي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته خو جنت کښې مزې د دنیا غواړې
بورېنا، حورې او تر سکون نه حلوا کوړې

نهر د شاتو او کنار وال د شرابو ډک
نمکین غلمان او ښبانک د کبابو ډک

ملا چې شونډې[1] نو ځوړ به په غټه ښکلوم
چې قلفې[2] خاوړې شي نګرې به په غټه مضموم

---

جنت یو خیال دے د عشق د مستۍ پورنګ
جنت یو شړنګ دے د ګنګرو د خواږه غږ رنګ
جنت نازک دے د ګل د ارمان هسې
جنت خیشته دے د زړه د جانان هسې

جنت د رباب یو د مینې اوشان دے
هره قطره نے سپوږمۍ هر څاڅکے جهان دے

غني
خانپور



---

(۱) ئې : ندوي . (۲) قلفې : کولفې .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شمع

محفل له شو رڼا شمعې له سوزه ورکېدل شو
او چا له نه کېږي تحمل کښې پټې سترګې رڼې، بدل شو

شو یو له دَ ښکاري مستي دلته دَ چل دوام
او بل دَ زړه زوي نصیب دام کښې ایکېدل شو

شو یو له سر کلونه، ما بنا مینه او جامونه
او بل ته غم دَ دوا او لوږه تنده ژړ بدیل شو

او ګوره انسانه چه بادشا دَ ښنا ورور دې
دې که ډېر زور ورکړي ته نه شي دَ خپل ځانه
دې دَ خپل وجود دَ فطرته لوېدې نه شي
سل ځله که جمع کړي ګلونه دَ ایرانه

دې دَ خپله ځانه دَ جهانه ورکېدې نه شي
کله دَ منبر تا وشي کله دَ جانانه

ځه وکړي غرهېدا په لاهاو قلا کانوبند
واړه ماپروکړي زه داکتر پیدا ایشی یمه — شی پو سودیشی (۱) یمه

سوال: ته څوک نې چاتا ! ؟ — دلې که کوا تا !

چیچي د پاڼې دی نو ژوازکین نې بې مقدار — دا مزنې دېنار

خوږې مهینې کلام — غوږ دې هر مقام

(خو: ) ستر دې دماردي پانه خیمه دلرم — شان شوکت دې کم

خواب: دېرکوپې دې خان — کوږه کېښې تاوان

لسو باندې واخیسته او خرڅ نې کړه په شل — خپل کوږه ولو تل

دلته چه بیو پار و — یار زمونږ ستا پلار و

مونږ بیو دوه کالي هم هغه نه واخیستل — خپل کوږه ولر تل

---

(۱) وطنی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

دلبر دوار ود لبرانو دے دلدار زما
سردار دوار و سردارانو دے سردار زما

زما پټ کله شغلے کښے د سپوږمۍ شې جانان
کله لاله شې کله یا بنیسته لولۍ شې جانان
کله اهیل کله دسور ګلاب غوټۍ شې جانان
ورته به وایم چه بیا ما سره یو ځای شې جانان
دلبر دوار و دلبرانو دے دلدار زما

یا لمر خاته کښے ځما هستر کے را پورته کړې
سپینه سپوږمۍ شې موسکۍ خوله د جانان لو ته کړې
ما په خندا خندا د غم له کنده پورته کړې
دلبر دوار و دلبرانو دے دلدار زما

سردار دوار و سردارانو دے سردار زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

لاړه که ځواني شي ده ځواني جانه د تللو شي
لاړه که ښکلي ننګ شي ښکلي ننګ دے د بايللو شي
خلکه ژوندون د خلاص شي دي ژوندون د خلاصيدو شي
واړه دا فاني دي بې فنا د عشق سازونه دي
عشق به تل ژوندی وي څو چې ځمکه آسمانونه دي

# دلربا

نه مې پلار رشته نه مې مور ده    واړه خونه مې تالا
نه زما په غم څوک پوه شو    نه زما په واويلا
دا چې ما ده کومه کړې    څوک دي هيچ له د ګنا !
دا ګناه ده د فطرت    دا ګناه نه ده زما
خو بې کس مه دنيا کښې    دي هم پلار رحم مور زما
تل زما د غمه ژاړي    سودائي مې ده سودا
نصيحت به پسته ژبه    شکايت هم په خندا
وارخطا لکه د موره شي    په پوره سختۍ زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکیزه لکه سپوږمۍ ده  دمه خوږ و خوږا (۱)
په ښایست دجنت حوره  په خویونو فرښتا (۲)
ماپخپله مینه پټ کړې  له غمونو د دنیا
دجنت د رنګه زیات  دی رنګین دلبر زما
که دنیا کښې وحدت نه وي  ماليدلی ده چینا (۳)

دالله د نقش کمال دی
مخ زما د دلربا

# هی هی زما لیلی

ما وې زما لیلی به ښکلې مسته مسته ګرځي  یو باغ کښې به چنار !
ما وې زما لیلی به لکه ګل ترو تازا (۴)  د ګلونه ښیستا
ما وې لیلی شونډې به غوټۍ وي د ګلاب
ښیسته به یې ساز ونه تنګوي لکه رباب
په سور اور د مستۍ به یې تنګي وي سره کباب
بې تاجه ملکه به وي د حسن د دنیا

د ګلونه ښیستا (۵) هی هی زما لیلی

ما وې د لیلی سترګې به سرې مستې په خمار وي

---

(۱-۲-۳-۴-۵) د ضرورت شعري له کبله * په الف لیکل شوي.
(۱) خوږه ۰ (۲) فرښته ۰ (۳) چینه ۰ (۴) تازه ۰ (۵) ښایسته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماوې په سپینه غاړه بې (۱) د سرو کلونو هاروې
په لاس به ئې کوټه چه به د نرګس ببل قطاروې
ورېښمینه دوپټه کښې ښیست پټ او څه ښکاره

دګلونه ښیستا　　ګۍ ګۍ زما لیلیٰ

ماوې زما لیلیٰ ده د لا لا د سترګو توره
بابا ته دیره ښکرانه ده نیازبینه ده د موره
زما د زړه بي بي لیلیٰ بي بي ده د خپل کوره
موسکۍ ما ښام ویده شي سحر پاڅي په خندا

دګلونه ښیستا　　ګۍ ګۍ زما لیلیٰ

نشه په د خیالاتو خوبونه په جهان کښې
محل ته د لیلیٰ مجنون روان شو بیابان کښې
نه باغ و نه بنګله ده لیلیٰ ناسته ده دالان کښې
ښیسته سره ئې سترګې توره ده غوجل کښې لوبتا

ګۍ ګۍ زما لیلیٰ　　دګلونه ښیستا

ببل د نرګس کوټې د څپیا کې نه چاپیره
په مخا، ریمن (۲) کمیس ئې ده هم کیاړه باړه تیره
لیلیٰ مینځ کښې لوغیږي ښین لوګي تر مینه چاپیره

---

(۱) بې ئې. (۲) خیرن غوړندی.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلوینبت خوازه دوستان نه ؤ راغلی دلا لا

مۍ مۍ زما لیلۍ    دکلونه بنیستا

لبنستی نه دخولو دملا په تیر بنکته روان

په زلفو کښې څو قسمه غوټې وې دویران

سرې شونډې سپېرۍ و چې دخندلو په ارمان (*)

مۍ مۍ زما لیلۍ    دکلونه بنیستا

## پلوشه

داد ې وېنم دلربا! په مخ کښې ستر ګې    که دحسن ممنډله کښې دنور کرې

داد ې وېنم دلربا! په خوله کښې شونډې    که دوه حورې دجنت د باغ کښې بربنډې

داد ې وېنم دلربا! ستر ګو کښې نم
په ننګوکه دنرکسو دې شبنم

## بهار

بلبل ګلزار ته نن په دیر سینګار راغی    په خمار وستر ګو کښې نوې خمار راغی

جوړې بهار راغی جوړې بهار راغی    غوټۍ شوې پیغلې وخت دبهار راغی

بلبل اریږې نن نه دلدار راغی    خو نه خبر راغی او نه مې یار راغی

غوټۍ شوې پیغلې وخت دبهار راغی

---

(*) نامکمل.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ شراب لوڼي د بنیست په جام یاره — ورته مړې مړې کړم پوره ته مستې یاد ما یاره
چه د ستا رواني بیا زما گلفام یاره — سپوږمۍ مې ونه لیده د ستا په بام یاره
دا څوک شراب لوڼي د بنیست په جام یاره

کله دې ستا شرابو کښې کړم سپوږمۍ ستوران زما — ورو به ښوولمه دا د جانان زما
وایه چه ښکته شي اوس دا د آسمان زما — چه خوب کښې ودینې تول رنګین جهان زما
کله دې په شرابو کښې سپوږمۍ ستوران زما

څواني له مانه واخله مستي له مانه واخله — دا روه کلونه سپوږمۍ لیمبابانه واخله
په ښوولونوه وایه جانانه واخله — صدقه د سترګو شونډې د خپل آشنا نه واخله
څواني له مانه واخله مستي له مانه واخله — بلبل ګلزار ته ننه په ډیر سینګار راغې
جوړې بهار راغې جوړې بهار راغی — چاته سلام راغې چاته دلدار راغې
خونه خبر راغې او نه م یار راغې
په خمار سترګو کښې نوی خمار راغې

## وړکی (۱)

څوک دے ماته رواني — څرنګه شیدا شي څوک ؟
څوک چه چاته وخاندي — وړے په خندا شي څوک ؟
ستورے د غره څوکے ته — غلی شان بیکاره وے

---

(۱) دا شعر غني د خپل واده په شپه لیکلی دے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینے په ژړا وی — حسن په خندا وی
مانه موسکو سترګو کښے — ښکلی دلربا وی
ولے څوک زړه وبایلے؟ — څه رنګه شیدا شی څوک؟

څوک چه چاته وخاندی
ولے په خندا شی څوک؟

سترګو د مجنون وی — او ښکو د لیلیٰ وی
ووے په نشه خُوائی — غم ورو په سودا وی
مانه موسکو سترګو کښے — ښکلے دلربا وی
ولے څوک زړه وبایلی؟ — څه رنګه شیدا شی څوک؟

څوک چه چاته وخاندی
ولے په خندا شی څوک؟

## ورو ورو

ورو رو ظالمه دا چغے ناوړے
ورو رو پرے پښے ږده دانه دی خاورے
داخو مستئ دی داخو خُوائی دی
سپینے دے کوکے لکه دواورے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړے ته

سر په مځکه باندے کیږده — چه په راز پوه د آسمان شے
ستر کے ستورو ته کړه پورته — چه په شان پوه د جهان شے
لږ سرښکته په ژړا کړه — چه مزه د خندا واخلے
د دنیا نه ځان راغونډ کړه — چه مزه د دنیا واخلے
د چیلے په کوتکئ کښے — یو پیاله د شراب واخله
خوله دے وچه په ژوړه کړه — بیا مزه د کباب واخله
لیونی زما په شان شه — چه په راز د خودئ پوئے شے (۱)
سر او زړه دے ماشوم کړه — لیونیه چه سړے شے (۲)

## مینه او حسن

ستورے ته آسمان کښے یوه ورځ وویے هلال
خدای آدم له مینه ورکړه مونږ له تش جمال
زه به په خندا ورکړم داخپل ښیست د کمال.
مال که یو ښاغلے مینه راکړی ځواب په سوال
مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده — حسن له زوال شته مینه نه لری زوال

---

(۱-۲) چه د پوه (ه) او د سړي (ی)، په مجهول (ے) تلفظ شي نو قافیه به برجسته شي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما د کلو لښتې

خدایه زه به وم خوشحاله د جانخبر به زړه کښې
ستا وفا لا لوغړن کړم بې وفا به وې لا ښه

موسکۍ شونډې د لښتې د عما د رڼو ښیرڼو ستي کړې
ستا خندا د ښتې کوزار دې په ژړا به وې لا ښه

تحچه ژاړې زما غم کښې بل غم هم په ما انبار کړې
ستا سودا زه سودائي کړم بې سودا به وې لا ښه

خان مې هم خاوره ایرې کړ ته مې هم په اور دستي کړې
اې زما د کلو لښتې بې زما به وې لا ښه

# ځواني

دا بسم الله خدایه: دا لیونۍ ده
چه ځواني نیست دې او نیست ځواني ده
بوډا خوشحال بابا سپین سر کړ پوره
وې خاني توره ده او توره خاني ده
د منان خان هسا د منانۍ دا ملا
دا هم فاني ده
دا هم فاني ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسته رندی زما        روغه مستي زما

خانداني ده

خانداني ده

## پلوشه

د مستې جینۍ نښه ده بنګړي پیزوي

چه لږه نوره مسته شي زړګی یې ماتوي

## ګډې وډې

شوق کښې د وصال        چه مس خوټه ورته دې شومه

خوله کښې نې سګرټ و        زما خوله وسوځیدله

راغې د تهذیب باران        په ملک د خوار پښتون

نځ جومات لاهو شو        ځمکوته ئې تخمیدله

نوې زمانه ده        که د کلو وصل غواړې

اوس په انګریزۍ کښې        واویلا کوه بلبله

ما سړه یو نه کاوه        پیدا شوه بله

بند د لاس نکریز شوې        ګوتې وچلیدله

تلې د لندن ته مجنون        اوس درایور زده کړي (۱)

او سنه لیلی خرڅه کړه        موټر کښې ګرځیدله

(۱) ګي، کړي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوناست شاعر په کوټ کښې — همغه شان قصې د ګل کوي

شمع سره خاندي — ساقي سره محفل کوي

راشه زما وروره — د یار سترګو ته بیتري وایه

ګل و بلبل پرېږده — الجبرا او جومیټري[1] وایه

وایه ستا وجود دې — دوې آیته د زاړو په شان

ښکلې دې آواز — زما د ریډیو په شان

دې[2]، سترګې د «کاربو» لرې — او شونډې د «کترین»

او ښه رنګین د کریم ممین — ستا ښکلې جبین

هېر دې کړه رحمان[3] سعدي[4] — غزلې د «بایرن» وایه

«کیټس» او «شکسپیر» دې — «شیلي» او «ټیني سن» وایه

او زه لیونی خدایه! — کله خاندم کله ژاړمه

لاړه پښتو لاهو شوله

زه په ژړا وته ولاړمه

## پلوشه

په غمو نو کښې خندا کړه — په خندا کښې غم هېر نه کړې

او د دېړ په سودا کښې — په قیمت د کم هېر نه کړې

د وصال په لمغرو کښې — د فراق ستم هېر نه کړې

(۱) هندسه. (۲) ورایه. (۳) صوفي عبد الرحمن مومند (۱۰۴۲-۱۱۲۸ ق) (۴) د پارسي ژبې مشهور شاعر او لیکوال مشرف الدین مصلح بن عبد الله سعدي شیرازي (۶۰۶-۶۹۱ یا ۶۹۵ ق)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چه ته ئے سترګو ته خاندې ‌ ‌ ‌ د دے سترګو غم مېړ کړے

د الله الله په شور کښے

چه صنم صنم مېړ کړے

## پلوشه

نه خوشحاله دے وفا کرم ‌ ‌ ‌ نه خفه دے کرم ستم

ژوند يو تال دے چه عزيزي ‌ ‌ ‌ کله زير او کله بم

دا يو دوه ګړئ ژوندون دے ‌ ‌ ‌ په خندا خندا ئے تير کړه

دا جهان خدائي جنجال دے

کله وران او کله سم

## پلوشه

ژوند او ساز واړه د باد دے ‌ ‌ ‌ ژوند هغه بويه چه ساز وي

ساز هغه چه سا پکښے وي ‌ ‌ ‌ سا هغه چه په نياز وي

## کډے وړے

خوند ورور جانه ډير کوي خبرے بنوسئ (۱)

دوی وائی۔ لکه شوی ده ۔ موږ وايو ده هوسئ

نوم ئے په کور کوړه دی۔ ببوغيه بي بي۔ ايځئ (۲)

ژبه خوږه ګران دے راله ئے وکړاوه تسريځي

---

(۱) بنوځئ ۔ (۲) ايښئ د شعري ضرورت له کبله په د خ ليکل شو ؛



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینا، سره سره، شمشتي خواره، شکرتاتي.

تښتي سره ځي شوق دی نه ئې لګي بنګړیواتي

وائي، وړکیه، ګیرږیګیه میدون ته بیږه بیږه

سه کښني لوړدے د ښځومه په ډے پیږه

## ځار درنشمه

اے خدایه! عقل راکړه
اے خدایه! پوهه را!
زړګے مضبوط راکړه
او سینه لویه را
سترګے د لمر راکړه
رحم د خان را
بیا تول غمونه دي
د دے جهان را
ما ته ئے په سر کړه
ځار در نشمه

زه به ئے وړمه

زه به ئے وړمه

یار بها دړ را کړه
که همت نه راکوي
غیرتي ورور راکړه
که غیرت نه راکوي
د سکندر بخت را
د دارا خیال را
ست د خالد کښې
توره هلال را
اسلام دې پرېږده ما ته
ځار در نشمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به ئې کتمه

زه به ئې کتمه

د شپې خيمه کښې　　د عشق شراب را

پاک مل د لارے　　لکه ګلاب را

د سپوږمۍ نور راکړه　　لوبو کولو له

د بودۍ تال راکړه　　جوتو و هلو له

جهان دے پرېږده　　خمار دې نشه مه

جنت به ئې کړمه

جنت به ئې کړمه

## پلوشه

مخ ئې و، قبلې ته ليونے ترې خبر نه ؤ
سترګې ئې وې وازې د انسان په تماشا

عکس د سپوږمۍ ئې د شبنم څاڅکي کښې وليد
ځکه په سجده شو د جانان په تماشا

نشته دے د ژوند د خوب تعبير کتاب کښې نشته دی
سترګې دې کړه پورته د آسمان په تماشا

خدا ے مکه کښې نشته د منصور د خولې مې واورېده
لاړ شه ليونيه! شه د ځان په تماشا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بے پروا لکه لولیٔ وای

بے پروا لکه لولیٔ وائے    په کلونو کړ خیدلے
او چه تول عمر ما شوم وے    په بلا نه اوریدلے
د دنیا د وږ و ستړکو    بے خبره گرځیدلے
چه په خوله د جانان نه وے    د فراق وړه پیتے غزلے

بے پروا لکه لولیٔ وے
په کلونو کړ خیدلے

بے خبره چه آدم وی    د رازونو د حوانه
نا اشنا مجنون وید وی    د غمونو د لیلی نه
او چه حسن خبر نه وُ    د خپل حسن د غوړ ننگه

داز مازړه نا اشنا وے
د دے منو بد و د جنگه

# بنارې

ستړے ستومانه خا: خیر سړه را غلے    "دوه: دوه پیسې د کلچے[1]: دوه پیسے دي چا؟
سه؟ گرځي کنې چا نسکے خانو به بنار سه دی؟    مخ سه ست نا جوړه بیبوا[2] نا کبنے منبه نه دی

---

(۱) په هند کو خپل منزه ویته وائی: منځ گوره د دوه پیسو کلچے او دوه پیسو چای خان له راوړه (۲) بیبو لیمو



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا قسم دی خان: د ودې نمونې سره به نوش کوې

د نا، ونه وې خان مونږ د غم نه به بې هوش کوې

د اشنه لاړو د ښیم تا له زوم (۱)، نړه انتظام کوم

خدایږ ونن د ښار کـــریلا متول په تا تمام کوم

څوره هغه کوټ باند ے دے پېټ د سیټ دوکان

هغه سیټ دوکان پیسے دی بل د سیټ دوکان

هغه سیټ د کان پیسے یو ورپورکی شان مسیت دے (۲)

خوا کښے یو پېبل دے یونانۍ (۳) لـــیږ شان پلیت دے

اخوا دوه کوټه دی یو راځی او یو ورځی

هلته ناست دی کوټ بانا، ے د کان یو د د رزی (۴)

شاته زموږ کوره دے موږ ورځو به بله لاړے

اسی اوتی بیتهی او سان وینی دکارے

لاړو که غلط شی کوړه د غه خی دکان دے

دلته به تیکه جوړیږی الله مهربان دے

---

(۱) خم. (۲) مسجد. (۳) نالی: لیتے (۴) خیاط.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوره

خلاص شراب جنت کښې شو نو لګي راغې څوړ ګل ئې په خندا شو بیا غنچه کښې د انګور
نه ترې چرته پټه شوې د ګل د بوټي خوا کښې څه مجبوره تا شوه د بلبل په واویلا کښې

راغې د شبنم اشنا ما لیار د باغ غمګین
وې لیدۀ په ګلو کښې د یو بل ګلاب رنګین

وې کتو کاو په شونډو د سرو کښې د یرې مینه کینود،
راغله لیلې سرې د مجنون په سینه کینود

خوب کښې دې جوړ بیا چرته د خپلو خونړو ساز واورید
چرته د باغ کوټ کښې دې د زوړه وطن آواز واورید

وې لرو ستوروته په مراو سترګو ګورې
د باغ درته یاد ګړې خورې! باغیچې نورې

زوړ زنګ د دره ستوروته چې ستا د زړه تمالۀ
پروت چې په د زلفو کښې د منګ په ځای هلالۀ

صفه چې به لرو کښې د ستورو ګرځیدلې
یا به د سپوږمۍ شغلو کښې پټه کیدلې

خورې: ما هم بو څه د رنګ د غه جهان له
تا سره به زه هم خوا کښې تالا چمن خال له



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غمگینو سترګو

خوب کښې بابا ولیدم          مور م پېدا کړم
دسپوږمۍ عکس وې          زه هم رڼا کړم
قسمت خلق کړې          کله په دنیا
خوانۍ وېده کړم          راوېښ لیلیٰ کړم

غمګینو سترګو
دغم اشنا کړم

مینې شاعر کړم          اوغم دانا کړم
یارلیونی کړم          بیا نې اشنا کړم
مرګی ته خاندم          ژوند ته ژړا کړم
کله موسکې شم          کله ژړا کړم

غمګینو سترګو
دغم اشنا کړم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# علم تشدد

د غضب په نیلي سور شو — د شیرشاه[۱] لمسی با تور

ستر ګې یې د پښتو سرې شوې — چه نیم اور دی او نیم نور

خواږه ګرل شنه بریتونه تاو بیا — په مستۍ چتر روان دی

دیار مستې سترګې وینې — بې خبر د جهان دی

مورنۍ ژبې د په سر قرآن بیا — خوږ سترګې کړلې تورې

ورته وکړې قصې نورې — د بابا پښتنو سترګو

اې زما د نیکه خوږیه! — اې زما د مینې وروره!

اې د نن بابا بچیه! — اې پیدا الهي نګړې موره!

سترګې د ګې دي ناستا — لا سې دي تش تورې د خه شو؟

د غضب په نیلي سور شوې — فولاد دي زغره د خه شوه؟

وې په نوي مستۍ مسته — پاکه وینه د پښتون شوه

وې ګوره که لیلی بیا

تش په مینه د مجنون شو

(۱) مرکز شیرشاه (۱۵۴۵ ع مړ) د هند د بهار د ایالت په سهسرام کې ښخ دی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جدائي

جدائي راغله بیا تکه توره

که لوګی وخوت د عشق له اوره  جدائي راغله بیا تکه توره

بې خودي لاړه زړه مستي شوه  وریته پخپل اور وریته مستي شوره
بلبل ورور راغی د بوټي خواله  ویل خدای دې ګل شه دخاوړې لاله
جدائي راغله بیا تکه توره
تازه په سرلي کښې په ما خزان راغی  ساقي کړه خلاص بیدي د بلبل دوران راغی
سرې ګل بنکته بوي د بوستان شو  مجنون شو خاورې روح د جانان شو
جدائي راغله بیا تکه توره
که لوګی وخوت د عشق له اوره

# فلسفه

واوره فلسفه د لیونتوب د لیوني نه  دا آیت خو نه دې خو قرآن کښې ما ویلې دې
مرګ او ژوندګی یو د غم او خوشحالي یو دي  ژوند چه تېر نه شي مرګ چا ملته لیدلې دې
زړه لکه پیاله د خوشحالي غم نې شراب دې  توبه نه رخصت شي تا غم ته نسکور کړه نصدې
ژوندنه یې جدا د ده نشه یو د دواړو  دواړه کښې خماریږي د ساقي د سترګو ټپلې دې
مرګ کښې پټ دې راز د مرګ ژوندي پرنه پوهیږي
دا آیات خو نه دي خو قرآن کښې ما ویلي دي



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فقیرانو سوال

سترګو د جانان کښې زما ښکلي جهانونه دي
وا دې خله دنیا زه وږے ستا د دنیا نه یم

کوره د فقیر کچکول کښې تاج د سکندر دے پروت
زه یم د سخیانو د شومانو ګدا نه یم

زه ئې په غرور درنه د مینې په نوم غوارم
زه ملنګ بې نیازه ستا د ویر واویلا نه یم

هغه مستي غوارم چه ئې مرګ نه شي وژلے
زه دے د غمونو د بیګا او سبا نه یم

یو د سپوږمۍ څاڅکي ماله تمیک له د جانان را
زه یم د خوبونو د لالونو ګدا نه یم

تښته دنیاګۍ که دې ښې نو اے امیره!
ستا شوه ستا دنیا
زه وږے د دنیا نه یم

۱۴ جنوري ۱۹۴۱ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جانان

دوه مینو سترګو کښې ژړګونه په سوونه
ماته ئې جهان ډک کړ د ګلونو د نورونو

ګوټ ئې د ښاپود جنت په جهان راکړ
خوب کښې ژوندون داغې شو ژوندون د خوبونو

سینې د سپوږمۍ د رڼا لپې ډکې ډکې
ونوستي(*) تا خاورو کښې زما په قدمونو

رب دې راته وښود پټ د مینې په رازونو کښې
واده چول غولۍ کښې زما ستورې په پلوونو

ساز د حورو اوږم ستا د حسن په سازونو کښې
ماته دې رب وښوده پټ د مینې په رازونو کښې

## رباعي

که تش په عقل وې په لیاقت وې
نه په نصیب وې نه په قسمت وې

شیطان به نن ولوې له جبریله
غني به هم لایق د ولایت وې

(*) نوستل: شیندل.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پلوشه

نه په لیونتوب تر فلسفې کړله څه جوړه — نه په فلسفه تر څه کړه جوړه لیونی

داکړه وړه دنیا کړه وړه روانه ده — بویه دومره بویه بویه بخت د خوار غنی

دا دستور د شاهد وخت تلل د ساز لیدل

سنه خو نیتو لا دنیې چه دیر و شو کنی

## پلوشه

مرتبتو براق دی کنه سوره د محمد په شان — مرچیر کعبه د دو کړه او سیری ابراهیم پکښې

مولا ره مکې ته څی چه نیت دے د مکې وی — مرتبه گلشن دکعبې ورته ورته اکی نسیم پکښې

## لیونی

یو بنار روان کړے د نورو نورو کو خودی — یو خیال ئې روان کوے نه رهی د نړۍ تلوسو دے

یو سره روان کړے مکې سوز او مکی ساز — یو عشق د حقیقت د جوړه د عشق نو د مجاز

یو کوره روان کړے د خوبونو د رنگونو — د توره تمتر سیو کړه نکیلو نکو سره نگونو

او خانله لیونتوب ته نې د مکې د مستونه — وحدت ئې روان کړی د دلکها بت پرستونه

او کله لیونتوب فلسفه گل او صنم وائی

او کله د مستی خبرے دیرے په غم وائی

سره پاکه گل غوړنی څخ د شبنم پر پتهوی

او دبل مست خوروی ستر کو غم پر پتوی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوال ځواب د لیونی او ملا

لیونیه ! مینه څه ده؟ — ملا : کور د یو عاشق دی
کوټنۍ دی کښې ډیرې — د معمور رب خالق دی
لیونیه ! ایمان څه دی؟ — ملا : دا دې پوخ ګمان
د یو خوب په زړه لیډ دی — د وصلونو د جانان
لیونیه ! جنت څه دې؟ — ملا : ستا جنت پیتی ده
او زما جنت وصال دې — یو خمار یوه مستي ده
لیونیه ! حوره څه ده؟ — ملا : لهړ (۱)، د خمار دې
یوه کرښه ده شفق ده — د خندا بربرکۍ ده
لیونیه ! نشه څه ده ؟ — ملا : دا په سیل واته دی
د مستۍ رنګین محل کښې — دا واته نتواته دی
لیونیه ! چه لموغ څه دې ؟ — ملا : خاورې ښکلول دی
د جانان کوڅې ته تلل دی — د امید ارمان کېدل دی
لیونیه ! سجده څه ده ؟ — ملا : ځان خاورې کول دی
د مستۍ د ګلو هار — د یار پښو کښې اچول دی
لیونیه ! ژوندون څه دی؟ — ملا : زه یمه ژوندون

(۱) چپه - موج.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زما د خوب لیده دی — د سبا او د پرون

لیونیه! وصال څه دے؟ — ملا! بنیست کښې د ویده دی

دا په ستورو کښې لیده دی — په سپوږمۍ کښې خوریدلی دی

لیونیه! حسن څه دی؟ — ملا! لهر د خمار دے

یو موسکی موسکے شان خیال دے — یو نرے د رڼا تار دے

لیونیه! ته نے څوک؟ — ملا! زه د چا ارمان

زه یو ګل د چا د ګوتو
پروت په پښو کښې د جانان

دارالامان ۲۰ فروری ۱۹۴۴ ع

## پلوشه

چه بیخودی دیره شی د خودۍ رنګ ورکوی
یا بودا توب له هم د ځوانۍ رنګ ورکوی

غم چه ډیر زور وکړی د خوشحالۍ په شان
د ژوندون تار له د رقصانه شرنګ ورکوی

ستر کے چه تشے شی خو بیا نه ډک وینی
په تش کاغذ مصور مستانه رنګ ورکوی

سحر له شپه ورکوی شپې له سبا ورکوی
د فلسفیانو سره ارنګ دو رنګ ورکوی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلې وړې

مچ د زمرې سترګې شکوي ماشي د اوښ وینه
خدایه! ستا دا عجیبه دنیا توره ده که سپینه

مړ لسو ګیدړو ببر شیر په بوډۍ چړګه کړ
سپوږ شغال په پړانګ دے دغږ خوږ ښکاره خینه

پریوځې چوارۍ ته خان ګانه په دتۍ زړو کړي
ښکلې ستا د ګوتو جوړه ځوانه نازنینه

ناسته ده د دم دلندن لوړ په سرو وړینمو کښې
لوړ د لوې شیرشاه لوړي په لاس دے لوله خینه

مست مغرور سر د پښتون تیټ سترګې ئې ښکته دي
شرم داسې شرم چه شرمونه شرموینه

## پلوشه

که شړنګ دے که ړنګ دے
ټول راز و نیاز دے

که ښایست که مستي ده
یو ناز یو انداز دے

که حسن که نور دی
یو سپین سپین سحر دے

که ګل که یسین دے
یو سوز او یو ساز دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پلوشه

روند به څه قصه د دې رنګين جهان د رنګ وکړي
دا نيمې مړې ګوتې به څه ستا د طبعې شرنګ وکړي
وچې سپېرې شونډې به په څه ناز او نياز وکړي
دا غمګينې سترګې به په کومه نشه رنګ وکړي

## د پسرلي شپه

د پسرلي شپه وه مسته مستانه — ستوري کېدل د پېر رڼا د و رڼانه
سپوږمۍ ولاړه وه ښکلې حيرانه — لېونۍ سوال کړه د خپل جانانه
د نامې پوړې له د لامکانه را — مستي مې سترګو له د خپله ځانه را
د خپله ځانه يارا! د خپله خپله ځانه — لېونۍ سوال کړه د خپل جانانه
ناګاهه برق شو د رباب د نوره راغې — څه په مستۍ راغې څه په غږ ور راغې
مستي شوه ګونګه مستۍ ګويا نه — لېونۍ سوال وکړه د خپل جانانه
او لېونۍ چه ورته زړه کې کړ لړې — ډېر په خوارۍ ښکلې به خاى شو يو خبرې
نور دک د ځانه وو دک د جهانه — لېونۍ سوال وکړه د خپل جانانه
د رباب د نوره لاړه نېست او رڼا لاړه — او د جانان مستي جانان له بيا لاړه

لېونۍ پاتې شو څيرې ګرېوانه
د پسرلي شپه وه مسته مستانه

شمله - هندوستان - ۷ ستمبر ۱۹۳۴ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعا

دې بې انصافه د زور جهان کښې     دې بې کسې د بېغوره جهان کښې

دې په غريبو نسکوره جهان کښې     سترګې لېدونکې را عقل روښان را

زړه م مين را رتبه! زړه م جهان را

دې د مطلب او تګي په دنيا کښې     دې د راهبنکو غونډلو سودا کښې

دې خوږ زړه هر وښکلي بلا کښې     مينه طمعې را زړونې ارمان را

سترګې لېدونکې را عقل روښان را

دې د دروغو او تور جهان کښې     دې بې کسې د بېغوره جهان کښې

دې د بد نيتو داور جهان کښې     پاک دا ټکي په شان نيت او ايمان را

سترګې لېدونکې را عقل روښان را

دې بې همته کمزورې دنيا کښې     دې په نفرت توره توره دنيا کښې

• • • • • • • • • • • • • • • • • • • • • • • • • • • •

مرګ چې په ترديږي دا سې ايمان را

سترګې لېدونکې را عقل روښان را

سر بې پروا مستانه د منصوره را     سترګې خاکساره مينه د نور را

ښکلي هر خيال ايمان د سرور را     زړه د ملنګ را او شان د سلطان را

سترګې لېدونکې را عقل روښان را



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعري

لږ خيال کړه، لږ تال کړه، لږ شان د جانان
لږ رنګ کړه، غوځنګ کړه، يو آه د ارمان

لږ نور کړه، لږ نار کړه، لږ سوز کړه لږ ساز
لږ يار د سپوږمۍ شه د ستورو همراز

لږ کوټ د کعبې کښې لږ چکل د شيراز
لږ باغ لږ باغچه شه لږ توره بيابان

لږ خيال کړه لږ تال کړه لږ شان د جانان

# جنازه

سر مې لوګي شه له تا ستړې مې
شونډې مې خاورې ستا د يار شه

قربان خلمي لتانه قطار قطار شه

ته د خزان کښې يو ګل د بهار نې
د توره شپه کښې ته يو زير د سار نې (*)

ته د بهار خوب د ګلې وران نې
ته يو تصوير د پښتون د ارمان نې

ته د پښتون د ناموس او د ننګ نښه
ته د پښتون د سپين ږيري ملنګ نښه

ته زمونږ د دې صبر د جنګ نښه
ته يو ګواه د پښتون د مړانې

ته يو تصوير د پښتون د ارمان نې

ته د مينې او د زور او طاقت قصه
ته د شهيد د مستۍ او د شوکت قصه

ته د پښتون د يو خيال او د نيت قصه
ته يو آواز د مظلوم په آسمان نې

ته د بهار خوب د ګلې وران نې

---

(*) سار: سهار.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاس به دې ویړ قوم زه په حصار ننبې  —  یا به ته په خیبر یا زه په دار ننبې
سر هم لوګی شه له تا ستر ګې هم خار ننبې  —  ته د بهار خوب د ګلي وران نې
ته یو تصویر د پښتون دارمان نې

## مور

دا په سترګو د مریم کښې  —  چه ژړا وه که خندا وه
چه نې سوری په صلیب ولیدل  —  د عیسی د زلفو ول
دا خه و وایمه تا ته ؟  —  چه رحیم نې که رحمن نې
چه په خاوره ګښي ګرې خاورې  —  د ګلاب ښکلی او ربل
دا مستي وه که معراج ؤ ؟  —  دا جهان نې چه روښان کړ
که د نور دیار د سترګو  —  دره یا بو نه بهیدل
چه دا کفر که ایمان ؤ  —  چه دا زه نې لیونې کړم
چه دا غم هم په خندا شو ؟  —  که مستي هم وژړل

## د ښایسته پیرو شهزادګۍ

د سرو زرو محلونه کښې یو تخت ؤ د لالونو
او چت د غره په سر ؤ یو کمال د کمالونو
چا پېژندلې تر خندا وه او مستي مشغولا وه  —  ګلونه ووسره نه وو رنګونه وو رنا وه



A .S.K B

او ناسته دې د محل کښې شهزادګۍ د ښاپېرو وه
چه جوړه له خوبونو ښايسته نړۍ نړۍ وه

ما وې اې بي د جنت ! زه ستا د دې ملنګ يمه
دې تنګ د دې جهانه د غمونو نه تنګ يمه

لږ پټ مې کړه د غم د توږې سترګونه محل کښې
زړه ورکه دا ذره به شي د ستورو په غوبل کښې

او سترګې ئې را پورته کړې پستې د ښا سپينې
نازکې نازنينې په رنګونو کښې رنګينې

ورو غم پکښې راوخوت لکه لړه د ماښام
چا ډک کړه له شرابو د سپوږمۍ د ښا جام

وې واخله دا محل دا تخت دا ټول ساز و سامانه
د غمه پټيږه نشته څوک پټ به شي له ځانه

ځه ! ښبوله د جانان دې دا نغمه د جهان يوسه
ځه ځاځکيه ! دا د درياب له يو قطره دارمان يوسه

نه غم ئې نه خندا نه بهار ئې نه خزان
خو ماليدلي خوب کښې دې د حسن يو جهان

چه ډوب به په مستۍ کاندي ستا غم او ستا ارمان
ما وې سر مې لوګي شه له تا سترګې مې قربان



(c) ketabton.com: The Digital Library
A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځه چه د دنو جهان له دوارو شور روان

اې ستړنګه دکونګرو! درباب تال او شرنګ کښې ډوب شه

او اې اوراورګیه: دلمر په رنګ کښې ډوب شه!

دې رنګ رڼا نیولی یم ماد، تلوته نه پرېږدي (۱)

او ما خپلی وزرې الوتو ته نه پرېږدي

# زه

اې د منطق فلسفو ملا! اې دجنت دقصو ملا!

اې دجزا او قسمت ملا! اې د دوزخ او جنت ملا!

مکره ماته قصې د ژوند ما ورم ته خه مستا قصې د ژوند

زه نه مالی یم نه خان د باغ ماته ته خله کړې داستان د باغ

زه خو د شاتو مچۍ یمه شاتې پېژنم او ګل پېژنم

زه یو وړه لولکۍ یمه ساته ته راتلل او تلل پېژنم

زه یو چپه د نسیم یمه بس یو لمحه دما بام پېژنم

زه یو قطره د شرابو یم شونډې پېژنم او جام پېژنم

نو ما ته ته خله کړې داستان د باغ زه نه مالی یم نه خان د باغ

زه خو د شاتو یوه مچۍ یمه شاتې پېژنم او ګل پېژنم

---

(۱) دا شعر نامکمل غوندې دی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یوه وره لولکسی یمه　　ساتله راتلل او تلل پیژنم
زه خوبوشه نګ دګونګرو یمه　　پېښې د رقاصې کښېنې تال پېژنم
زه یو بخرې دسو زیمه
غم پېژنم او وصال پېژنم

## تول او تال

په سترګه دې پردې دلیونتوب دی لیونیه:
ته نه پېژنې تول، ته تش تال پېژنې
ته سترګې دلیلی وینې لیلی نه وینې
ته زره د سیپۍ نه پېژنې لال پېژنې
ته وینې دګلاب سترګو کښې سور سور ژړوندا خمار
نه ئې جال الجهېدو وینې نه ئې جنجال پېژنې
او ای دادم زویه ای ناز بینه دالله:
د زړو کالو باب کښې ته یو کال پېژنې
زما او ستا خبر دماتی ماشی واده دې
زه تول لیلی وینم ته ئې یو خال پېژنې
نه ترک دلوګی ترک یمه دتول د آدم
ته نه پېژنې تول ته تش تال پېژنې
خو خاص دی دوو لیونو سترګو د پاره
زه جوړه خپل تصویر کړمه دټکو د غباره



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خرو

تو تو تو خرو: وړه تته تته

ارمان زما الله یې له فرنګه شنه جامه کړه کته
خبرې اوس پیټي کوي شمله نې ده بې بته

یو نوې اسلام راغی د خانانو د محلته
چې خوښ یې دی موټر دا کوي هجرت د جماعته
تیز کرځي په پترولو کله بره کله بنکته
په بله تماڅه کرخیږي (*)، ویریږي د پناه ته

وړه تته خرو! وړه تته تته

ارمان زما الله یې نن په اسلام کړې دې ننګ
ارمان زما الله یې سبز کال کړلی دی بادرنګ
ارمان زما الله کړنې یې دي چالونه رنګ په رنګ
ارمان زما الله یه: کله پلن شي کله تنګ
ارمان زما الله وې کله بر کله بنکته

وړه تته خرو! وړه تته تته

---

(*) کرځیږي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان زمالنه یه : لوړے خپته د هاتی
په نسل فتح خان او په خویونو جلاتی (*)

ارمان زمالنه ے زړه کښے زړه کینه ساتی
ارمان زمالنه ے نن کوی کارونه خیراتی
زمالنه ے حاجی شونه سوکان می ژړنه لته

وړه تته خرو: وړه تته تته

زمالنه ے غصه دے نن غیرت د مسلمان گټی
مړوله جنت گټی ژوندوله دا جهان گټی
زوے له نوکری گټی او خان له پاکستان گټی
داستا د رقیب دلال به نن تاله جانان گټی
په بله تمانچه ساتی وییږی د پنډی ته

وړه تته خرو! وړه تته تته

ارمان زمالنه ے چه پخو رالکه زمرے دے
په لنډه کښے سنبه د ړنده ے د خوکو بوروو کښے نرے دے
په فکر افلاطون دے په اخلاقو نبا پیرے دے
په عقل لږ بخین دی خو په ژبه چرچرے دے
ارمان زمالنه ے د ډک د چل او د حکمته

وړه تته خرو! وړه تته تته

---

(*) فتح خان بړیځ او د جلات مخبر باد غنی جلات ته اشاره ده.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله : زمالنې نن د فرنګ نه ګټي خان
الله : زمالنې هسې ګټي مصر هم ایران
وې نیت م د کعبې دی خولنان ته دې روان
هند دې فیرنګي ته خوږې نه لګي هندوان
ارمان زمالنې نن نه کوکړې داونه بته
ووه تته تته خوږو ! ووه تته تته

پرون زمالنې چیرته لاړو په دیران ؟
پرون زمالنې چیرته خوړل پردي توتان
پرون چه جهان وران و ، و زمالنه وودان
پرون دچا په دین و چه دانن شو مسلمان ؟
زما د بنا دي مشه ! ستا وی غم کښې کومه پته ؟
ووه تته تته خوږو ! ووه تته تته

زمالنه یه : واوره د بونډي لګي د خار شم
دښمن ته م دښمن شه نو زه یار به ستا د یار شم
که خې د جانان کوته زه به ستا د پښو غبار شم
ته خار شه په وطن نو زه به ستا د سترګو خار شم
که سم نه شې روان چه که به زه د وهم بنګته
ووه تته تته خوږو ! ووه تته تته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلام

اے په اسلام مینه!   اے سیاسي مؤمنه!
نن چه اسلام ستائې   ستا به دے څوک پروڼ!
دا هغه مخ د تپوس   خونړي شنه پرونه
دا د عقاب پنجې   د ښاپېرک د ړونه
نن د جنت وعدې   پرونې دوزخونه
چاربیته هغه زړه   خونړي دې سرونه

اے په اسلام شیدا!
اے سیاسي مؤمنه!

ستر دے بر کے بھر   برک دے ایمان دښنه
پرون دے خان نه کاته   نن دے اسلام کړې
په خرخ د ننګ د پښتون   خپل ننګ او نام کړې
زما په وینو چا له   ایران او شام کړې
او د شرابو تاجر   ساقي او جام کړې

اے په اسلام مینه!
اے سیاسي مؤمنه!



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خه به وے رب ته خپل — چه ئے د کوړ دننه
تا د پښتون ستر گو ته — د تیارے جال جوړ کړ
او د جناح د خره — دے خر دجال جوړ کړ
غلاف کعبے له دے — د روایت هال جوړ کړ
ماله لندن کښے تا — نوے هلال جوړ کړ
او د بلا نه دے — ما ته بلال جوړ کړ

اے په اسلام شیدا!
اے سیاسی مؤمنه!
گلاب نیوے نه شی
چرے د زور زونه

او د رقیب نوکر — نن ماله یار گتی
زاغ نن بلبل گتی — خزان گلزار گتی
منا پیرک جنگ له وړځی — د شهباز پلار گتی
نن په بورا له گونگټ — د گلو مار گتی
او د کافر نوکر — کړی د اسلام پالنه
اے د کنو وطنه! — اے د ړندو وطنه!
او کور شر مښ ته — کوی د شپون آواز
نن چه بانگونه کوی — خه ئے کړ پروڼ آواز



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نفرت کړیکو کښې     د مینې سوز او ساز

پروت عمل د یزید     او نن نامه د ایاز

لږ خو پلاے سوچ وکړه     زما ساده پښتونه !

اصلي مومن کړه بیل

له سیاسي مؤمنه !

څوک د عیسی په شان؟     مستي د دار اخلي ؟

څوک د نمرود کاله کښې؟     د موسی لار اخلي ؟

څوک د رقیب په محل؟     نوم د دلدار اخلي ؟

څوک توله جهان غور څوي؟     سترګے د یار اخلي؟

غماز لږ وپیژنه !     ایاز لږ وپیژنه!

اے دکنو وطنه !

اے درند وطنه !

# سیل

څه چه لږ سیل وکړو     بره آسمان ته څو

د دے تیارے له کوره     د نور جهان ته څو

څه چه مستۍ له ور کړو     د بے خودۍ وزرے

څه چه جنت ته څو     څه چه رضوان ته څو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د خـزان تیار ے — کړو په تیارو کښې د ے
څـه چه بهـار له ځو — څه چه بوستان له ځو
دا د جهـا ن خبره — دا د ملنګ تکوره
تخت تاؤس ته ځو — ماه تابان له ځو
او د رقیب د کوڅه — د ربانۍ نه کوو
مونږ مستانه لیونی — کور د جانان ته ځو
مونږ د جانان د شونډو — شراب څکلی دی
څکه مست مست مجنونان — ږن بیابان ته ځو
مونږ یو، بخـرے د نور — لړ ے لیدلی دی
د ګل په شان په خندا — غیږ د خزان ته ځو
راځه چه هیر ے کړو — د دنیاګۍ قصے

څه چه لږ سیل وکړو
بره آسمان ته ځو

۹ جنرۍ ۱۹۴۶ع

## ګلے وړے

د محمود غمګینے ستر ګے — ځان له خپل ایاز لټهٔ (*)
که زما بیګانګی ږن — ستا د زړه نیاز لټهٔ
د لیلٰی ستر ګے ژړیږی — د مجنون د ستر ګو غم کښې

(*) لټهٔ : لټوي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرګس مړاوی مړاو ګوري　　د بلبل آواز لټهئ
راځه وجد څه مستي ده!　　چه الله ترے آدم جوړ کړ
که معشوق د مینے ساز لره　　د عاشق آواز لټهئ
نه دا غم د فلسفې دے　　نه دا رنګ د لیوني دے
د کونکر وشهنکار روان دے
حقیقت د ساز لټهئ

# مسلمان

مسلمان هغه بنده دے　　چه شونډے ئې تل موسکۍ وي
سترګے ډکے د رڼا ئې　　له خولے یو په بل موسکۍ وي
سپین ایمان ئې لکه تنده　　بے د ځانه هر څه سیځي
د جانان د دربار وته ئې　　زلفے ول په ول موسکۍ کي
چه ئې زړه ډک د آرام وي　　لکه بیخ د سمنله وي
خوله ئې ډکه د ګلونو　　لکه باغ د صنوبر
داسے مست دا سرشار　　لکه مینه د کافر
اراده کلکه بے کړکے　　لکه څوکه د خنجر
وجود هر څاڅکی وینه　　سره په مینه د دلبر
په سینه کښے ئې رڼا وي　　لکه څرکه د جوهر



A .S.K B

په ژړا کښې ئې تاثیر وي — په خندا کښې ئې اثر
مست ئې بر په هر څه بر وي — لکه مست د سکندر
د ذره نور ئې لکه شمع — پرې اورونه بل موسکي دي
د بلبل د خولې آواز ته
راغوږ ئې د ګل موسکي دي

## رڼا د شمع کښې د سحر نور راغی

تا و د غرمې لار ماسپښینې شو — لکه د مني یخ باد د سپینې شو
سړو ستړو د ویر خود ذره کم شو — او د فراق استاځي یخ د صنم شو
ساز کښې سر ئې نن د خاموشۍ خیزي — د هوش جنګ ئې په کوږ د بیهوشۍ خیزي
بادشاه شهزادګي شو د خپله کوره — د شفق سره ټکونه شولړه توره
او ستار کښې شرنګ هغه د ماښام نشته — سړو په ستړو کښې د خیام نشته
پښې د رقاصې خوبانو ئې هغه نه دے — بانګ د بلال هغه بلال ئې نه دے
په جام کښې کوټ کوټ شراب ګمیږي — سپر خلاصیږي ګلاب ګمیږي
او رڼا د شمع کښې د سحر نور راغې — باغ د بلبلو ته نوم د باتور راغې
د غوټو ستړو کوله خیال د خزان راغې — لږ مستي لاړه او لږ ارمان راغې

او د فراق سوړې په وصال پریوت
ستوري راختل او هلال پریوت

۴ مارچ ۱۹۲۹ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

زمانې د شمع بخت کړیا به مړه یا به سوځم　　یا به ځم له د دنیا بې غم یا به یاسه په چیغو ځم
عجبه عجیبه لاره عجیبه کاروان روان دی　　ما ورته مستي په اوله بیاني که ژړا او که نه ځم

# اګست ۱۹۴۷ع

نن انسان شو د انسان د وینو تږی　　نن مجنون شو د جانان د وینو تږی

دا سړي روند په سترګو روند شو لوږې تنده　　چې تر لوږې تنده شو حیوان د وینو تږی

دا محل د چا پاچا د شان او شوکت دی　　که دا پروت دی د بیابان د وینو تږی

دا قصه د یار د کور او استانه ده　　که د ظلم یو داستان د وینو تږی

دا سړی هم چې بنا مار ورته پسخېږي　　دا تا و چې کړي جانان د وینو تږی

دا تهمت چې لمبه کړي خپلې سترګې　　دا خان چې وي د خان د وینو تږی

دا رند چې د آدم په وینو مست کړي　　دا شاه چې کړي آسمان د وینو تږی

لیونیه! د مستۍ باغ ته تر تنبسته
نن د تنده مري جهان د وینو تږی

# تول (۱)

جال نه دی دام نه د تول بلجکي! تول!　　یا به په دوه خانه یاره یا به شي پردول
یا به قلمه یو سړی یا حق به دلته (۲) وادري　　جال نه د دام نه د تول بلجکي! تول!

(۱) د منلو په شان منزل. (۲) هغه الته چې مرغۍ پکښې نیول شي، او کښې م ورته ډیل کېږي.



A.S.K.B

# ارمان

ما د ګلو باغ کړلے د خزان کښے
د جنت خوب مے لیدلے د هجران کښے

ما د مځکے په مخ هغه لال کتلو
چه موندلے شي په برجونو د آسمان کښے

او زما په ځوانۍ مست په عشق خوږ زړه
فرق ونه کړو په تصویر او په جانان کښے

زه په خپل ارمان مین وم په تا نه وم
ځکه خندیږے تیر وم په ارمان کښے

ته چه را غلے ستا د زلفو ارمان لاړو
هغه مستي د مجنون پاتې بیابان کښے

ماله سود د وصال نه یا شو پکښے ورک شو
هغه یار چه مے موندلے و په زیان کښے

زه په غم مست په فراق باندے مدهوشه
مرم د تندے د ګلونو په باران کښے

پتنګ رونده شو د لمر سپینے رڼا رونده کړه
لولکۍ ګل پسے ژاړي ګلستان کښے

د ځوانۍ مستي مے شوله ځوانیمرګه
د جنت خوب مے لیدلې د هجران کښے

# بکواس

راځه زما زړګیه یو به ته شے یو به زه
یوه ورځ لولکه او یو ګل د لالا

یو مشرنګ د غور ځنګ ګکار نګ مستي
شو سور په ملغ په خندا خندا

روان شو جانان له پسه او سره رد
په نیاز په خرام په مزا مزا (*)

یا خوب به لے په کټ د لولکۍ کاوه
یا ته به داور او ر کو په رڼا

خو د وب په قطرے د شبنم کښے شو
او چت په ملغ په خندا خندا

(*) مزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

او د بنده مثال لکه خس دے — تود شي لوګي وکړي رڼا کړي جوړه
لمبه شي وسوځي خاورے ايرے شي — بوره ايي پرے ذرا کړي جوړه

# دوه خبرے

نن مې مانه جانان وکړے دوه خبرے د مستئ
د فقير کچکول کښے کوړه ملغلرے د مستئ
چه زور ئے وُ که جمال وُ ما سره ئے پښے کښے کينود
چه به زه ترے ګرځيدمه لرے لرے د مستئ
د فراق سلو صدو له يوه لمحه د ديدن بس دے
د غم زر کاله ايرے کړے يو نغرے د مستئ

# کړے وړے

څه که نه وينمه سترګے خمارے — نه ئے پيژنم د سرو سترګو خمار
نه کعبه مې ده ليدلے نه پرے پيژنم(۱) — نه خو پيژنم لولئ او لاله زار
نه مې حورے ده ليدلے نه ئے غوارم — زه ليدلے شم سپوږمئ د دنيا تار

(۱) پوهيږم.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریب خضر ته وند لیواله د چینے کړ
ما له ګوټ را کوی شرنګ د ستار

لکه بیخ د سمندر دوب او خاموش دے
دا پروت دے د مستۍ بیخ کښے قرار

او پر ته د قرار جرو کښے مستي ده
عجیبه مرګي ته ده عجیبه لار

په نصیب او په تقدیر م برے وکړ
توکل م شو قسمت م د اختیار

په جنت او په دوزخ م څه کار نشته
د دے دوارو بره مالیدلے لار

له جزا او د سزا نه بے پروا یم
خو پوهیږم په فراق او په دیدار

که غمونه که فراق وي که دیدار وي
مستول کوي کنځل هم د دلدار

په خندا به شي غني په لمبو سور
په دي شنو سترګو که ستا پیرزو شو اور

## دنیاګۍ

دنیاګۍ څه ده غم او غوغا څه ده
سوے داور سوز او سودا ده

لیونۍ واوی یاره خره داده
چا جوړ کړے خیالونه، منه مشغولا ده

## ډالۍ

سترګے دے رنګینے دي نیاز بینے دي مینے
شونډے دے ترسکوے او خبرے دے حسینے

ستا سینه د ساز او د آرام یو خزانه ده
څي دم چا شونډه وله ستا کوتے سپینے سینے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے د حاتم لورے! خزانه د عشق دے لوټ کړله

چا له لپې ډکې کړې چا له پیسې پیسې

دا خو د جانان د سترګو رنګ د زړه مستي ده

دے نه جوړ جنت دے او د حورو خولے وریښمینے

تا چه باغ تالا کړو د مالیار کور له به څه یوسے؟

ته چه زړګی تش کړے نو د یار کور له به څه یوسے؟

۲۹ جولائی ۱۹۴۶ ع

## ګله وړے

پښتو! تکی جنه، تا ملا بابا دهوکه کړو
راضي شو په پېتي د ګل کلونه خبر نه شو

او سر غړے چیرا د کلے غنې کړې کله کاوُن
به یې لاهو لاهو دا د تلونه خبر نه شو

منمه د جناح کاکا چه لوخ بنانکے راغي
د دې به د کوتکه د کولو نه خبر نه شو

کوره لیونی ته په مړه خیټه بودا شو
د خولے او د کوامو د سلسلو نه خبر نه شو

## قصه

توره توره شپه د هجر ئ
توده توده د غم قصه

صبا نه صبحینه نشه د ځوانی
سپینه ښبسته د شبنم قصه

ښکلے ښیسته د امید دنیا
سپوره زړه د ستم قصه



A .S.K B

خوږ او مهين دی نوم د يار — شکلی پسته د صنم قصه
مانه قصه د پسرلی وکړه — نا ورم د ديرا و کسم قصه
مانه قصه د جانان وکړه — نا ورم د دير او حرم قصه
مانه موسکې مخ را واړوه — پرېږده د فضل او کرم قصه
وايه د رحم او نور خپل — مکړه د دوران او ستم قصه
زور او اور او شور دا — دا ده ستا د کرم قصه
شرنګ ستا غور پرنګ د زړه — دا ده زما او صنم قصه
اور او خوږې سوز او ساز — خه د مستی خه د غم قصه

مالره خندا خندا راشې
مه کړه دوران او ستم قصه

# ګډوډې

ډيرنر زما لا لا د خوچيني (۱) رانه خراب کړ
ملا پيشتي ته تينګ د خو فيرنې رانه خراب کړ
صاحب هلر کړ فتح خونې خپته فتح نه کړه
دې ترشې مسالې هندوستانې رانه خراب کړ

---

(۱) صوبه سرحد کښې بوری ته چيني وائی. يو وخت چه بوره ډيره سخته شوه ده د خو مره پرمټ لری رشوت او لالچ وچه د انګريز او د هند دوا دارو له خوا به د قومی تحريک مشکرينه ورانده کيده. غنی دې خبرې ته اشاره کوی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خان لالا م ورک ځ په اسلام او په ملت

مرید به د جناح ځ خوجینئ رانه خراب کړ

کوږ لیونی به دیر غښې او لوے قاضي ځ

قصے د آدم خان او د خانئ رانه خراب کړ

## ځوانه

وران د گلستان دے آبلبله : د پښتون د باغ

نوم د رقیب لیک دی په هر بوټی د مجنون د باغ

خوار و زار چې دے د بے هنره بے کماله دے

غوږونے دی کانه لاسونه شل سر کے پړ کاله دی

لال د دوب دے ایرو کښے او مرجان پروت دے په خاورو کښے

زوے د شهباز کرګے چرګی خوری په سیل د داوړو کښے

پاڅه آخلیه : مستی توره او ایمان واخله

مشرقی شه او هېشه تناره شه او نور شه خپل جانان واخله

خار دے د شنو بریتو شم غلام د غلام زوے ته

پروت په دوسئ کښے نے که زر خُله خُلے ته

توره دے را واخله ننګ پښتو او اسلام پوره ته کړه

لا خپلو مستو سترګو دے نامه د غلام پوره ته کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڅه ننګیالیه! نن دلبر او جانان وګټه

نوم د پښتون وګټه ناموس د افغان وګټه
ټول جهان حیران کړه د خپل شان په تماشا
اے د احمد(*) زویه اے بچیه د شیر شاه!

# سلام

نه ساز شو نه سوز شو — بس مې ژوند تمام شو
نه خوب شو نه شرنګ شو — نه یاد د ګل اندام شو
د اتوره توره شپه راغله — نه ستوري نه سپوږمۍ لري
ځواني وه لاړه لاړله — یو ګوټ او خالي جام شو
یو ستورے د سبا ؤ لاړ — سور ګل یو لاله ؤ لاړ
سور لمر زیړے زیړے شولو — نرے نرے ماښام شو
قصه د حسن هیره شوه — مزه د مینې تیره شوه
ملا بانګ د سباوے — آخر په سول خیام شو
مستي بې پروائي درکړه — په خود کښې بې خودي دره

(او)؛ ګوره لیونے هم نن
بادشاه ته په سلام شو

(*) لوی احمد شاه بابا (۱۱۶۰-۱۱۸۶ ق) چې لوی سپه سالار سرتېری او پښتو صاحب دیوان شاعر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژمي ماښام

اونن د ژمي ماښام　　د جرګې شپه ده
پوست شبنمي باران　　بهر وريږي
غاړه د اور او خيام　　شروع قصه ده
د شاعر سرا و ستار　　مهين غزيږي
تنګ او ټکور د ژوند　　ناز او مستي د جانان
شړنګ د ځوانۍ کښې پټ　　شاتار د غم وهي
خندا مستي د ساقي　　بت پرستي د ساقي
ستيني د(۱) د مرګ سره　　د کونګر وشړنګ وهي
اونن د ژمي ماښام　　د جرګې شپه ده
پوست شبنمي باران　　بهر وريږي
يار شروع کړې ماته　　د غم قصه ده
کله موسکې شي
کله ژړيږي

---

(۱) ستيني: ستاينې هغه ساندې چه د مړي په سر ښځې وائي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

هرڅه د رب او همه د رب — زه يو ما بنام له راغلے يم
باغ او انګور ميخانه ديار — زه خو يو جام له راغلے يم
مينه مستۍ او خمار د بل — رقص او خندا او سينګار د بل
ګل او نرګس او ګلزار د بل — زه تږے تش ديدار له راغلے يم
زه د لولکے وړے په شان — ګل او غوټۍ او بهار ګورم
زه لکه شمع بلېږمه — ښيست او مستي د دلدار ګورم
لوے سمندر د مستۍ له ما — څاڅکے د رنګ راوړے دے
زه پرے د لمر رڼا لټوم — ما هم مشال بل کړے دے
هرڅه د رب او همه د رب — زه يو ما بنام راغلے يم
باغ او انګور ميخانه ديار
زه خو يو جام له راغلے يم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رَبّه

اے په ښیست مینه جوړونکی دګلاب ربه؛
ستا ښکلے دنیا شوه دخاروی او دقصاب ربه؛

اے چه دما شوم سترګے جوړے کړے ګل په شان
وړوکی او خوږے خوږے خبرے دبلبل په شان

زړونے پاک دبلبل دهسے خیال او دازاره پاک
پاک لکه شبنم ؤ دګناه او دازاره پاک

تا چه تا ته تهیت دفرښتو ښکلی سره نه کړل
جوړ چه دچا سترګو له تا ستوری او ګلونه کړل

تا چه دچا حسن له دخپلو سترګو نور ورکړ
تا چه دخپل خانه چاله مینه او سهور ورکړ

هغه محبوبه ستا آدم نه دے آدم خوړ کړے
آ ښیسته ګلاب ستا ګلاب نه دے اوړدے او درد

هغه ستا دلاس ګل پروت په دنیو کښے سمسور دے
ستا خلیفه ربه! آدم نه دے آدم خور دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا چه چاله جوړه کړه د حسن او ګلزار قصه
وکړه مشغولا له دې د مینې او دلدار قصه

تا چه چاله ستورې او سپوږمۍ او ماښام جوړ کړلو
تا چه چاله مینه او مستي او خرام جوړ کړلو

سترګې ئې دې پټې هغه نن د زړو وینې څښنی
ستا په نامه ربه! نن سرې د سهار وینې څښنی

## اول سترګې ستا د لیدو خوړا!

زه خو ساز او سرور او خمار پېژنم
زه لیلی پېژنم یا ایاز

زه خو غم او غرور او ژړا پېژنم
زه نه جانان پېژنم او نه نیاز

دې نسکورو شمکو ته د نور قصې ؛
د جنت قصې د جلال قصې ؛

منږ کوږکې ته د زړګي قصې ؛
د ماښام قصې د ملال قصې ؛

زه خو ګل او چمن او شراب پېژنم
زه بهار پېژنم او خزان

زه خو شرنګ او رنګ او کباب پېژنم
نه ګناه پېژنم نه شیطان

دې شمکو ته ستا د لیدو طمع ؛
دې نسکورو تا ته د تلو طمع ؛

اول سترګې ستا د لیدو خوړا
بیا کوه د مینې د طمع

زه خو ساز او سرور او خمار پېژنم
هغه خوړم ربه! چه خټکې شم

زه خو شرنګ او غورځنګ د ستا پېژنم
او جانان هغه چه لید لی شم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خو ناز او مکېز مسخره پېژنم — ښکلې خط پېژنم ښکلې خال
زه خو سترګې پستې او خوله سره پېژنم — او نګینه خندا د وصال
دې نسکورو ښکلو ته د نور قصې! — د جنت قصې جلال قصې!
دې ګونګو توته د باتور قصې!
د پرواز د ښیست او کمال قصې!
زه سترګې خوږې په ارمان پېژنم — او نوې ترورږمۍ د ماښام
د سرو شونډو خندا د جانان پېژنم — د ساقي په سرو ګوتو کښې جام
زه خو مست او مست او خندل پېژنم — نه ګناه پېژنم نه شیطان
زه خو غم او صنم او ژړا پېژنم
نه دعا پېژنم نه اذان

## رباعي

که پتنګ د لمر رڼا نه شي لیدلې — ګنهګار شو که په شمع شو شیدا!
زړه کښې چونګ په ایله د خاورو خلې شي — څنګه ځای کړم په کښې داد نور دریا
څنګ څنګه په یو کوټ کښې د جهان او آسمان او هجوم موږ د شبنم څاڅکو کښې ځکره د سنبله د نعرو د وړو تېږن
بیا لا دا د د پاسه په حساب ادب کم کړی — د رند سترګو بادشاله په زړه او علم دی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رتبه زمار تبه د مستئ اود خزان رتبه!          اے د تنګو د کودر کرو د جانانٛ رتبه!
اے د ښکلو سترګو د خمار اود ارمان رتبه!          اے د کشمالي او خیټور اود رنځان رتبه!
ښکلی ښکلي به یو کوت کښې د جهان او آسمان واچاو؟
د شبنم څاڅکي کښې ښکلی د سیند د نو دوران واچاو؟

۱۳ نومبر ۱۹۴۲ ع

# یاد دے دی

اے د پستو سترګو ښاپیرۍ! چه ستا دی یاد که هیر؟
هغه دوزخونه تیرا او هغه جنتونه تیر
یو نخړے نو ر چه به کړ کل جهان د نورہ ډک
یو رنګین نظر به غمګین زړه کړ د سرورہ ډک
ما ته به سپوږمۍ کړلے د صبر تسلۍ قصے
کل به راته کړلے ماښام کښې د لولۍ قصے
حسن ادځوانی اوسپرلی مینه، سپوږمۍ، زه ورته د دیو
وصل او مستي جنت جهان او زه او ته وو دیو
اور، د جهنم د خوسیخل پاسته د ساز مسے
لاس ئے د جلات رخو که ځانته نے د ایاز مسے
وے به هر نظر کښې د ساز و نو خزانے پرتے
هره اشاره کښې د عمر د نو ترانے پرتے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړونه ښت په نور نکه لیده وي په کاکو کښې پټ
مرګ ؤ په خندا بانګ د زړکو په نارو کښې پټ

ساز ؤ بېخودي وه سوځیدو دوجهان ورکې ؤ ورک
زه ووم او ته وې ځمکه ستوري اسمان ورکې ؤ ورک

وخت ؤ بې حسابه بې پایانه سمندرونه ژوند
پښتو کښې جهان پروت ؤ بېنیازه قلندرونه ژوند

خیال به د نسیم په شان ګلونو له ما بنام له ته
عقل مرور د حورو ساز له او خیام له ته

تن کښې م زړګے نه ؤ یو لال ؤ د شغلونه ډک
سترګے د هر رنګه، هر اندام د ولولونه ډک

واړه دنیا وه ما ته باغچه د دلربا د کوره
هر ستوری به لاړ ما ته ښود له د اشناد کوره

اے د پښتو سترګو ښاپیرۍ: چه ستا دی یاد که میر
هغه دوزخونه تیر او هغه جنتونه هیر

۲۷ اکتوبر ۱۹۴۶ ع



A .S.K B

# دنیا

ما د یخنې پښو کښې شهزاده په ژړا ولید
ما مړی بت ته ژوندون قیمت په دعا ولید

د بې نیازه سر یې د مستئ د بیخودئ کې
وچه تر مستئ شو شوک د سپي په یې ګلکی

لا مې سکندر هم غخولی په سوال ولید
پرون د منات پښو کښې هم په ذکر بلال ولید
ما د یخنې پښو کښې شهزاده په ژړا ولید
دا مستانه زړه هم د دنیا په سودا ولید

۲۵-اکتوبر-۱۹۴۶ء

# ژوندون

دا ژوندون دے دوه ورځے
خلاص به شی او تیر به شی
داغنی به خوار به شی
ورک به شی او هیر به شی
دا شوندے تو دے خوږے
دا د غم صنم قصے
دا کاروان روان روان
ځی به په مخ تیر به شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنتي ته

ته چې جنت کښې مزې د دنیا لټې
د حورو سترګو کښې د دې موخندا لټې

ته په اسمان وریځې کښې د دیران لټې
ته په سپوږمۍ کښې تیارو له مکان لټې

ته د عاشقو عاشقي او مستي نه پیژنې
لیونۍ نه دلربا پرستي نه پیژنې

تا دنیا د پاره، مینه د جانان ورکړه
مجنون حلوا کښې، بېخودي د بیابان ورکړه

لاس دې ګرا وړند، بادشاهي لاړه فقیر شولې
یا زما خان، دې یاد کوند، ونړه و پیر شولې

تول ځیته ځیته شوې مستي او جانان نه پیژنې
تول بډ بډ شو، مرګ دې او میدان نه پیژنې

زما امیر وې، تالې ختنا ته کړې خور شوې زما
زما سردار وې: ته مر وظیفه خور شوې زما



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم په هغه رب، چې ته ئې د خلوت دعوه ګیر
چې ئې د حورو غلمانو، د جنت دعوه ګیر

توره راواخله، خیټه هیره کړه میان ته ځه،
ستې پټې شه، په مستۍ، کوڅې جانان ته ځه

لمبې د وینې، په پټې کښې به حلوا کښې یاره
جنت دې بابلو، د ټیپرو به سودا کښې یاره

دوسې ګمراه نه ده، د لوړې نه کاکا جنتي!
تپ زمرې بنه دې، له څړې مرې زما جنتي!

د سامري له زړه سنه ده، ملنګي د موسیٰ
د زر پرست نه، یار پرست سنه دې زما جنتي:

قسم د حورو په مستۍ، او په خنداد یار
قسم په شرنګ او په نسیم، او مشغولا د یار

قسم په سترګو په بنایست، او په ځوانۍ د دلبر
قسم په ساز او په سرود، او په ثنا د یار

ته سجدې زرو ته کړې، ما ته نوم د یار اخلې
شفق کنه کړې، په بدل کښې د ګل خار اخلې

راځه چې زه د ته، جنون او مستي د بنیمه
راځه چې زه د ته، محبوب پرستي د بنیمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرداري نه کيږي د توري د مستۍ نه بغير
الله لېدلې نه شي، د حسن پرستۍ نه بغير

سکندري قلندري، دواړه سر ورد غواړي
دواړه مستي او ځوانمردي، خدا غروره غواړي

ته خو جنت کښې مزې د دنيا کوره
بربنډې حورې، او تر سکونه حلوا کوره

د شا تو نهر او کناره ول د شراب و ډک
نمکين غلمان او ښانک د کباب و ډک

ياره چه شونډې نيني (*)، نو حورې به په څه ښکلوم؟
چه کولې خادرې شي، کورکورې به په څه مضموم

# واوره جنتي!

جنت يو حال دې، د عشق د مستۍ يو رنګ
جنت يو شرنګ د لکرو، د ځوانۍ غورځنګ

جنت نازک دې، د ګل د ارمان سې
جنت ښايسته دې، زما د جانان سې

جنت دريابيږ، د مينې او رشان دې
هره قطره يې سپوږمۍ، هر ځاځکي جهان دې

---
(*) نيني، نډوي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شان او شړنګ

فلسفي:

داسوز او ساز — داشان او شړنګ
یوسوې دوخت — داخیال او ړنګ

دالمبې کاروان — داسحر ماښام
داکوټې او شونډې — او مے او جام
امید او خندا — او ژړا او خیام

داګل داساز — داشان دا شړنګ
یوسوې دوخت — داخیال او ړنګ

دازور دا زر — دتورو پړق
دعا او ژړا — او دحورو پړق
داپړق دسرو شونډو — مغرورو پړق

داچال او جال — داخیال او ړنګ
اهنګ دورنګ — سپاړې تړنګ

دابنګلې کاته — په نیاز کاته
داورو نازک — په انداز کاته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالرو کښې تا دسپوږمۍ دمخ
نرګس کښې پټ پټ د اياز کاته

دامينه رنګينه داشان او شهنګ
يوسوري دوخت دخيال اورنګ

داناچ دلولکو بهار او ګل
ماښام او خيام او ستار او ګل
ګلزار او چغار او خمار او ګل

داسر او سرور اوشان او شرنګ
يوسوري درخت دخيال اورنګ

# شاعر:

نامرد: ته ستړې ديار نه وينې
دستر کوسره وينې خمار نه وينې

ته ټنګ او ټکور اوسرود وينې
مستي او جنون د دلدار نه وينې

داسوز او ساز داشان او شرنګ
يوتار د دلدار دخمار اورنګ

دانبکلې کاته په نياز کاته
داورو نازک په انداز کاته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالړو کښے ، تا ، دسپوږمۍ د مخ
نرګس کښے پټ پټ دایاز کاته

دامینه رنګینه داشان او شړنګ
یو تار د دلدار داخمار او رنګ

دا ښکلی کاته په نیاز کاته
دا وروناز ک په انداز کاته

داناچ د لولکو بهار او ګل
ګلزار او نسیم او ستار او ګل

سرے شونډے د یار د سپرلی په شان
ژوندی کړی مستی او بهار او ګل

دا سرا و سرور او شان او شړنګ
یو تار د دلدار دخمار او رنګ

سپرۍ دل د ګلاب او خندا د یار
ګاڼه کاته په رضا د یار

انداز د مستئ او تول د غم
سرے سترګے او شونډے زما د یار

دامست ما ښام کښے د ژوند غور ځنګ
یو تار د دلدار او خمار او رنګ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اوښ کاروان     دا سحر ماښام
دا کوټې او شوندې     او مے او جام

دا تله په امید     په ایمان او زور
دا تله په مستئ     پرېوانه دخیام

دا ګل او ساز     او شان او شرنګ
یو تار د دلدار     دخمار او رنګ

# ترانه

نه ما سره زر نه مرجان شته دے
نه ما سره شته د لالونو ډیر (۱)
جانانه! جانان د ملنګ نے ته
ملنګ سره وی د سوالونو ډیر

ما ته اله دا لئ، (۲) راوړے ده
وطنه! مستئ او خوانئ نهما
سره وینه تود او زړګے نر
نر توب او پښتو او خانی زما

زه خان او جهان په دلبر نه دمه
زه پښو کښے جانان ته خیګر نه دمه

(۱) ډېرئ . (۲) دالئ : تحفه ، سوغات .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مست دا سې مست ننګیالی یمه

فقیرته کچکول کښې خپل سر بږدمه

زه مست او سرشار او مجنون یم　　زه ډېر ننګیالی د پښتون یم

لوګی شه له تا دا خوانی زما　　ترتوب او پښتو او خانی زما

زه سر او سترې صدقه درکوم

دسترګو د نور صدقه درکوم

زه زړونه او خوانی تالا کومه نن

مستی او غرور صدقه درکوم

ماسر خپل جانان ته ښنیلې دی　　خمار م د رحمان ته ښنیلې دی

خندا په دلبر لوګې کومه زه　　ما هوښ بیابان ته ښنیلې دی

زه جوش او جنون لوګې کومه له یار　　زه تمک او تکور صدقه درکوم

زه نیست او مستی ستا په پښو ږدمه　　زه مینه او زور صدقه درکوم

زه ورک لیونی د منصور په شان

لیلی له په تمیک کښې قمر بږدم

زه مست دا سې مست ننګیالی

فقیرته کچکول کښې خپل سر بږدم

خو نه ماسره زر نه سره جانان شته دی　　نه ماسره شته د لالونو ډېر

جانانه! جانان د ملنګ نې ته　　ملنګ سره وی د سوالونو ډېر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعر او لیلی

## شاعر:

دا ژوندون او مستي او خندا زما
دا ځواني او تازه دے یو دوه ورځې
دا مسترګو کښې ستا د شونډو رنګ
زور د تور پلو دے یو دوه ورځې

اخر تلونکے مخلوق یارو ته یم
چه د کوم مخلوق یارو نه راغلے یم
اخر ختم به یا مخلوق ټوله
کوم کوته چه زه غځولے یم

دا ځواني لکه د سپوږمۍ ماښام
یو لمحه د ساز یو قطره د نور
دا خندا اوستانه حیرانه ستا
یو جهان د رنګ یوه ذره د نور

ستا د سترګو جانان مستي وروخوند
ستا د شونډو خوږو او مزو وخوند
ستا د کوڅې پېتو او غمونو وخوند
کرشمې د شتاب او حورو وخوند



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د ستر گو بنایست او د شونډو خوند
او دا سوز او ساز او ارمان زما
د نسیم چپه او د ګل غوټئ
او مستانه حیرانه جانان زما

دا یو تلونکی تلونکی کاروان دی
یوه قصه ده چه وشوه او تیره شوه
دا یو ښکلی ښکلی تصویر د خیال
یوه تپه وه چه وشوه او هیره شوه

باقي یو مغز د تیارو جهان
باقي یو مغز، د دنیا وطن
باقي یو مغز، خوانی داشان
د خوبونو او د خندا وطن

## لیلیٰ :

یوه لپه ترینه واخله د ګ دریاب د مینی ببوزی(۱)
دا ته وله په ژړا وی، چه پیاله یم دریاب نه یم؛
تول جهان د نور د ګ دی کله : خان د نور د ګ کړه
دا ته وله په سلګو وی چه سپوږمۍ یم او آفتاب نه یم

(۱) بمبوزی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اې نایکه! (۱)

| | |
|---|---|
| اې مالياره د دې چمن! | اې نايکه د دې جهان! |
| اې د نرگس او نسيم زړه! | اې سرداره د دې مکان |
| دا خليفه او مجنون ستا | ستا د شرابو او حورو خان |
| دا ستا د گوتو جوړ گلاب | ستا د چشمانو مخمورو شان |
| تا خو جوړ کړې د مينې له | گل دې کا ته بيابان له |
| ته خود مينې ليواله وې | تا خو عاشق کا ته خان له |
| تا خو ښبنلو او رحم له | سترگې ښيسته د ليدو کتې |
| تا خو خمار او خوږ والي له | شونډې د پېژندو کتې |
| تا خو خپل شان او کمال له | ورکړه موقع د کمال او شان |
| ځکه دې سترگو ديدار لره | ورکړه رڼا د هلال په شان |
| تا خو په لې دلربا کړه جوړ | ستورې سپوږمۍ او سبا کړه جوړ |
| تا خوانې مستي ورکړه | تا خو شيرين او ليلى کړه جوړ |
| خوږ روند او کوڼ شمکوړ همه | گل او بهار او جانان نه وينم |

---

(۱) مادار - څښتن.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د غضب او سرو اوښو ډک — د ننګ او مستۍ او خمار نه ونیم
تاکړ جهان د خندا نه ډک — ماکړ د شور او غوغا نه ډک
تاکړ سرور او مستۍ له جوړ — ماکړ د غم او ژړا نه ډک
ماکړ د ورونو په وینو رنګ — ماکړ د خوار د آزاره ډک
ماکړ د ظلم او زور وطن — ماکړ د مرګ د غاړې ډک
تاکړ خوانۍ او دلدار له جوړ — تاکړ خندا او خمار له جوړ
تاکړ سپوږمۍ او ستوري وله — ماله پسرلی او یار له جوړ
خو ماکړ د وینو او چغو ډک — ماکړ د سوز او ارمانه ډک
تاکړ سرور او مستۍ له جوړ — ماکړ د غم او ژړانه ډک
اے مالیاره د دے چمن! — اے نایکه د دے جهان!
دا دنیاګۍ دے سنباله کړه — دا دنیاګۍ دے په تلو ده خان!
ګوره! علم او زور دے خوري — ګوره! هنر او شعور دے خوري

نور دے د آدم آدم خور شولو
وګوره! ورور ته ورور دے خوري



A .S.K B

# ژوند

چه خمار مستي تړے وي    شراب نه ترخے او به وي
چه سرور غرور نے نه وي    دا ژوندون ژوندون دغه وي

چه د مينے زړه شي پاتے    لکه ګل وي رژيدلے
يا شغله يوه د نور وه    يا يو موتے د خزلے

چه په ژوند کښے سخته نه وي    لکه بے مالګي طعام
چه په خوله کښے خندا نه وي    لکه ډک د خاورو جام

چه خواني کښے تکليف نه وي    لکه بته ميان کښے توره
نه نے پرق شي نه شرنګ شي    په نه نکو نو شي سخوره

چه آرام وي او سمام وي    او يارې په جايداد وي
خو بانوم شيرينۍ وي    مرتهرو پرو فرهاد وي

چه ئے سر په خندا وړ شي    هله خوږ راز و نياز شي
چه د سپينو تورو جنګ شي    ښکاره هله کښے اياز شي

ژوند که تش ميرني تحمل وي    دا خو بس هم شي تحلے
که تش نسل زياتول وي    دا غوني هم شي کولے



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند نه خیټه نه ماڼئ دی　　نه ډیرئ د سرو لالونو
نه یاران نه معشوقې دی　　نه باغونه نه ګلونه

ژوند خو تله دی په یو مخه
غورځیدل او پاڅیدل دی
تکې سوز او تکې ساز دی
څه خندل دی څه ژړل دی
ژوند په سترګو د عاشق کښې
پلوشه ده د خمار
په صحرا کښې لټول دی
د آشنا د کوڅې لار



حیدرآباد جیل
۱۱/۹/۱۹۴۷ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

مینه مینه مې کوله خبر نه وم

چې د ورځې مازیګر او ماښام مې شته

لکه زرکه د سپرلي وم په چړ چقو

خبر نه وم د ښکاري سره دام مې شته

دنیا ښېښې بنا پیرۍ په بستر پروت وم

خبر نه وم چې رقیب مې په بام مې شته

د ساقي په سخاوت باندې مدهوش وم

خبر نه وم تشنې د جام مې شته

سپینه شمع د محفل په خندا وائي

د رنا سره د سولو سام مې شته

دا ویل لیونی ډک د دریاب له لاړه

آ ورو بل چېرته یو ښکلی مقام مې شته

خو وخوځه د ملا دروغ معلوم کړه

دی وئی هلته مستي انتظام مې شته

حیدرآباد جیل سند



A.S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبادت

دملا عبادت کسب — پاڅیدل اوکیناستل
دحلوا په ارمانونو — تــل الله الله کول
دملا مینه عجیبه — په پیتی مینیدل
اودحورو لمغــرو ته — دخــرچوکو ضیدل
دصوفی عبادت ویرد ے — سوځیدل اوژړیدل
درحمن رحیم دنوم نه — رپیدل او ویریدل
دصوفی مینه عجبه — دزړه ګل مړاوے کول
بےکنار دریاب دحسن — په کوزه کښې بندول
دزاهد عبادت چرته — سوال منت ژړا کول
په جنت اودنیا کښې — دفاید ے سوداکول
دزاهد مینه عجبه — په خپل ځان مینیدل
ددریا سپی جوته کړے — دلربا له ورکول
دغنی عبادت مینه — ځان جانان کښې ورکول
دمهینو سترګو شرنګ ته — ګډیدل او خندیدل
دغنی مینه عجبه — تول بیلات[*] هیڅ نه ګڼل
داخپل ځان اوجانان وار — یوخمار کښې ډوبول

(*) بیلات ، بایلول.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دایلم توتیان

چابند کری دی پنجرو کښې — دا ایلم[1] د سر توتیان

چاعقاب په لاس کینولے — د مرز هسې چغولے
چا منصور په سر اوسپینو — او خوږ و باند ے غلولے
چاقسمت په زور تورتہ ړلے — د کوډئ هسې لوبولے
نن د کومے بادشاهان دی — سکندر او شاه جهان
څوک خیولے[2] شي کوه کښې — سمندر بے پایان
سیلاب چا دے منع کړ ے — په بندونو د شنو شکو
د قسمت په کور کښې نشته — شمیر د دیرو او دلږو
بادشاهي لښکرے اړ ے — تل د وږو او د تږو
فقیری چه فقیری وی — بادشاهی ترے شه قربان
چابند کړ ے دے پنجرو کښې — دا ایلم د سر توتیان
چا سرود په لاس کینولے — څوک مستي شي سوځولے ؟

(۱) ایلم: د سوات په سیمو کی یو هسک غر دی. (۲) ختیرلے: ځایولی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بهار ولولې څوک شي — څوک د پښو لاندې کولې ؟
کلکونه ژوندي مړو کړي — ژوند څوک نه شي مړ کولې
چاد بوټین منع کړې — ښکلونه د ریحان ؟
چا بند کړي دي پنجرو کښې — دا ایلم د سر توتیان
بلبل ناست بندي پنجره کښې — د سپرلي خوبونه وینې
په شهشم زیر میدانونه — د نرگس ګلونه وینې
سره ګلاب مست او خندان دي — د لولو پرونه وینې
ولي (۱) ریبارته راشه تور — دا پیغام د غني خان
څوک اچولې شي کوزه کښې — سمندر بې پایان ؟

## سزا او جزا

هیڅ په پته دې پوه نه شو — د سزا او د جزا
تا ته یو دې لویه خدایه! — هم خندا او ژړا
څوک نیستمن خوالي کړي خوارېږي — په یو خیال باندې مین شي
څوک څمونه وینې وڅښي — چه په مال باندې مین شي
څوک غوټه په رنګ او تال کښې — په یو خال باندې مین شي
څوک مدهوش په حق او نور — په هلال باندې مین شي

(۱) والي .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخو! ستا سپوږمۍ هر چا ته خاندي    که زهري وي که بلا

هيڅ به پته دې پوه نه شو    د سزا او د جزا

څوک په پټو سترګو ډوب شي    سمندر کښې د غرور

څوک په تخت لکه فرعون    ناست دي خاندي په سرور

څوک په محکمه پروت ملنګ دي    ياد دي قيصې د طور

څوک په وينه موړ خندا نه    څوک په مينه کښې رنځور

روند قسمت ګذر دې نه کړي    د فرعون او د موسیٰ

هيڅ به پته دي پوه نه شو    د سزا او د جزا

عجيبه ده فرق نشته    د غرور او د نياز

عجيبه ده بيلتون نشته    د يزيد او د اياز

عجيبه ده انعام يو دی    د تپوس او د شهباز

تا ته واره چغې يو دي    که د ويرو دي که د ساز

تا ته يو دي لويه خدايه!    هم خندا او هم ژړا

هيڅ به پته دې پوه نه شو    د سزا او د جزا

يو خوا سرې سترګې شاهين    په پنجو کښې پروت ژړيږي

بل خوا زيړې سترګې شغال    په ځنګلو کښې لوغړيږي

يو خوا ننګ مينه او توره    ورو ورو سوځي او ړنګيږي

بل خوا چل د مکر دروغ    راخوريږي زرغونيږي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آستا غنچې لا پې څه شوې؟ د قسمت او د سزا
ماته یو دې لو یه خدایه؟ هم خندا او هم ژړا

# ماتم

ذلخونه و غم له جوړې ستا داسترګې د غم ډکې
چاتې بزبره اړې د افسوس او ماتم ډکې
په ژړا بانډې چاڼه دی، سر ماڼۍ آباد کړې
په شېړو بانډې چاڼه دی، مرېږۍ آزاد کړې

داستا کوتې د پولا دو تش دعا زارۍ له نه دی
داستا میني د مرانې جوړ دې خوارۍ له نه دی
داستا زور پښتوا او تورۀ، ستا د سر و ډېنې غورځنګ
چه ابنکلې سر دینې شي خو آبنکارې ډېر بد رنګ

پاڅه پاڅه چپه وکړه ستا د سر و بنې غورځنګ
نه آفت نې نه غضب نې د سور تندر یو ګوزار دې
ستا د لاس د قسمت لاس دې، ور انو جونو لله کالا
ستا په ستر ګو کښې اجل دې، د و کول سوځل د وی کا

د فرعون د کور په شان نې د احصار خاوره ایره کړه
د امغرۀ سر تس نس کړه داغرور ذرې ذرې کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڅه و بنیه دنیاته د پښتون د بچو ننګ
پاڅه واوره شغال ته . د ویستلو توره شرنګ

## پلوشه

زور شومه زور شومه    مسلمان نه شومه
ارمانی ډیر شومه
خو پښیمان نه شومه

## شاعري

د سکرو تو بیخ مې وښکه    سر مې خوږ که په کړ ولو
ډیر مې سره ونه مې را یاد کړه    یو هم نه دی د یاد ولو
نه ټپه شوه نه چاربیته    نه غزل نه نیمګی شوه
نه قصه شوه نه بدله    نه ساقي شو نه کوکی شوه
شاعري هم یارانه ده    نه په زور نه په زاری شي
نه په چل نه په هنر شي    نه په مال نه په خواری شي
شاعري لکه باران دی    کله تنده کړ زهر شي
ناګهانه داسې شړق شي    چې صحرا مې سمندر شي
کله نرم نرم پشم    پوست نازک نازک ښیښین



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نسیم په شان مستانه
د مخمل هسې مهین
کله سبه درنه شیبه شي
په اوږده صحرا دربږي
کله تور باران د ژمي
نه کمیږي نه ودربږي
کله شر د پشکال شي
چې ته لمر چې ته باران
عجیبه لکه دژوند
خه خفه او خه خندان
کله داسې سوکه راشي
باغ چمن شي کربلا
لا د خاررو وتې نه وي
چې بیا خاورې شي لالا
کاش چې وي زما په لاس کښې
د وږمې غوفر بنتې
ما به هر وخت بنکلې بنکلې
سپینې لړې راوستې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ښنام به مې جوړ ولو      په قبله د بوډۍ تال

ما د رخ به مې ستايلو      د اشنا د زنے خال

ولے څه وکړم جانانه      واک د بل اختيار د بل دے

دا په تا مينے سترګے      د دوی نور خمار د بل دے

دا چه ته پرے راته خاندے      د دے سرے شونډے د جام

د دوی ښيست مستی د بل دے      د دوی سره سينګار د بل دے

(او بس:) دا د دوی وکړم بس دے      چه زه وېم د ته غزلے

ته ښيسته په پښتو سترګو      راته ګورے غلے غلے

چه سات ګړۍ مشغول شو      بيا به څو زما بلبلے:

مونږ له تورے اوږدے د شپه ډ

دی د ما دا ديوے بلے

حيدر آباد جيل

۴-ستمبر-۱۹۳۹ع

# تک

مالا قصه د دروغو تا ته وخوړه قسم

بے وفا ته بے مې هسے تا ته وے صنم صنم

ستا معصومو سترګو وکړه په تکئ باندے اتبار

لکه ونيسي ماشوم چه په خندا اخلي بناما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماچه ستا په سرو لبانو قسم وخوړه مابنام
د شرابو په نامه مې درکړ د ک دخاورو جام

ستا معصومو سترګو نه ولباسي سترګي لیدلي
خکه زړه پکښي روښانه شوي مینې ډیوې بلې

زه وم غل د دوو خلکو تا د حسن دریاب راکړ
ما په چل چرنک د کولو تا د مینې سیلاب راکړ

تا د خپل ایمان په زور زه کافرکوم مسلمان
زما زړه کښې د کړل خاوره د تکي مه بوتان

ستا د شونډو غلا له لاره وم خپل ځیګر م پکښې بایله
د خوارۍ او تکي جمع تول دفتر م پکښې بایله

جام مې ورې ونوکوت له د وب دریاب کښې د سرو د شوم
د منصور پښو له لاره م لیونی شوم زه منصور شوم

لیونی مه زړه ګي یووه، نازنینو، موسکو شونډو
غلا له ته په راکه واورید زړه نی وچاوډ په منا

حیدر آباد جیل
۱۲- ستمبر ۱۹۴۸ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کړے وړے

یاد م باندے کړے دے — خیال پخوم پلاو
ځان له سیخکی وریتوم — د زړه د اور په تاو
ناست لکه منزرک یم — جیلخانه کښے په دے ساو
څوک به تری خدایه! — د قسمت د پیښو میاو
خلاص کړے نه په چل شو — لیوے او نه په داو
ګډ ئے په ګلزار کړ — نصیب بے موسمه لاو (۱)
ګوره کشمیری تنه — په پښتو کوی دباو
کال چه شی کونی، بخ
هم مرغی ونی (۲) د تلاو

# پلوشه

کعبه جوړه ابراهیم کړه — زه جوړ کړے بسم الله
وایه څوک لوے شو او چت شو؟ — وایه وایه اے ملا!

(۱) لو. (۲) ونی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پائوس

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لکه واخلی چه ماشوم

لکه واخلی چه ماشوم　　دکَ شکرے دسرو کلونو
خاندی چغے وهی غُرزنی ئے　　پسے پسے په موجونو
دے په غاړه ورته خاندی　　خو سیلاب ئے کلاب یوسی
نه په زور د سیلاب پوهیږی　　نه په قدر د ګلونو
دا سے ما دا خپل جمدون(۱)　　دَ مستے سیلاب کښ لاهو که
په خپل لاس مِ ځان بندی که　　د څو قسمه دوزخونو
لکه واخلی چه ماشوم　　دکَ تالے دسرو او سپینو
په خندا خندا ئے نولی(٭)　　په کوڅو په بازارونو
غله وائی واه واه دَ نرزویه　　څه سخی ارسلان خان ئے
دے نه زور د دولت وینی　　نه درد دو نه دغمونو
دا سے ما دا خپل جمدون　　ژرک(۲) که خاورے که ایرے که
ځان مِ وتړه په خپله　　دغضب په زنځیرونو

---

(۱) جمدون، ژوندون. (۲) ژرک، زرکې. (٭) نولی = لوفی = شیندی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا دا ژوند بیللې جنګ دی
او یا زه پهلوان نه یم
ماخو هیڅوک هم اونه لیدل
چه زوره ور شو په غمونو

زه لا وړیښ نه وم د خوبه — چه زیړې مازیګرې شو
چه ئې زه په قدر پوئې شوم — ګلزار تش وو د ګلونو
اوس نه رنګ شته نه مستي شته — نه سیلاب شته نه ګلونه
دی وخوب لیدلې وو تېر شو — ژوند شو ډک د ارمانونو
باغ د ګلونو تالا شو — دالونو شکورم تش شو
دالا وا وره ملا جان — کړئ(*) تنګ تنګ د حسابونو

وخت او ژوند د تقدیر غځه دی
دیوا وړئې بل له بوتلم
دا جهان وو که یو دام وو
دا ورونو د غمونو

(*) کړئ : کوي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقسیم

څوک لیونی شي
څوک لیونتوب شي

څوک شي په خوب ویده
څوک رنګین خوب شي

څوک احرام وتړي
مخ په قبله شي

څوک جلال واغوندي
پاکه کعبه شي

څوک مست بورا شي
مسته لولۍ شي

څوک ړنګینه نیاز بینه
د ګل غوټۍ شي

څوک یو د ړه تصویر
د غم قصه شي

څوک ے په مینه مینه
په ننداره شي

یو څو ساعته د رنګ
د خنداتیر شي

اخر تیاره راشي
او واره هیر شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیا

قسمت مِ ژوند جولا دے ناست کړے (۱)، تَه په آرام
دَ منو بلو عجبه تنسته بُـده روانـه
د وخت ملګو چلیږی زر سپنهی (۲)، بَه شي تمام
خبر نه یم داخه له او داخه جوړی ُ زما نه

زه ګرځمه چاپیره تپوسونه کوم مدام
د ګل نه، د ساقی نه، د کتاب نه د ملا نه
داخه له دے جوړ شوے دومره اوږد دا انتظام
داخه وی چه ژوند راوړی او مرګ یوسی د دُنیا نه

دانګه هسے رفتار دے که لري چرته مقام
تیارو نه دا راغلے لاړ تیارو ته ده روانـه
اوه! هغه دِ ولاړ دے په کلونو کښ خیام
ولی (۳) ژوند خاورے ایرے دے بے د مینے او جانانه

---

(۱) د جولا د اوبدلو دستګاه.

(۲) سپنهی. (۳) ولې: وايې.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَے درد لړلی ځوند کښې بے خودی کښې دَ آرام
دَ ظلم په دے اور کښې یو ساقی دے مهربانه

دا مست بے خوده سړی، نشه ځوانی او د ږلاړه ام
راواخله په شکرونو ئے قبول که غنی خانه

خو هغه دے جمات کښې او چت بانګ او دَ امام
وئی دا دنیا بلا ده تښتئ تښتئ دَ بلائنه

ساقی د ته ډک کړے دے د سورانګاره جام
دا سړے شونډے ئے او ردے دَ دوزخ په لاړه روانه

دا ځوند د دنیا څه دے، لوبے ټوقے مسخرے دی
جنت کښې شرابونه، سپین غلمان حور مستانه

سقراط و کړه آوازونه دَ دے ټولو دے سرسام
هیڅ ته رسا نشته بے د عقل دَ جهانه

په پوهه او په فکر کښې دے حُسن هم آرام
دا نور دے د رب نُور د آدم خاوره کښې پټ بنانه

دا خبره دی نه پوهیږی وائی وهم ته الهام
منطق او فلسفه ده چه پرې ګرانه شی آسانه

راځه روح له دِ هم ماپوره کړے انتظام
که بُت وی او که ربّ خه بره آمنه دَ خانه



A .S.K B

شو چاپېره چاپېره شور هر خوا ولاړ وُ یوا ملام
هر یو وے زه په سمه یم دا نور دي ټول په دړانه

یو یو ته ورنږدے شوم منبه مې ولټول تمام
یو هم نه کړم آزاد دَ نخښیرونو دَ سودانه

مستي مِ کته دا سے چه نه مے غواړي نه جام
مغوُي ډیر وډک، کوُمکا مرے جوړُوُ زمانه

جانان مِ کته دا سے چه مِ هوش واخلي تمام
هر ساز مِ د مستیُ نه همه سوز مِ دَ ژړانه

دلبر مِ کته دا سے چه وي تل رونبان په بام
یو ګل د ړنا جوړ، خبر دَ مینے او ارمانه

یوازے ترے روان شوم زړګي کښې مِ ماښام
نصیب نه کیله مند، په هوش جمدُ بانګے ستوماُنه

ورغلے مِ په ولي باندے لاس کینبو دخیام[1]
وے په دے کوڅو کښې څه تلے راغلے یم دپخوانه

دخاوروده آدم آخر دخاورے دے مقام
هیڅ دا سے علم نشته چه ژوند خلاص کړي دَ خزانه

د وخت هر لمحه ده هم شروع او هم انجام
د ژوند را زونه مرګ کښې دي پټ شوي دانسانه

---

(۱) عمر خیام (۴۴۰-۴۴۱ - ۵۱۵ یا ۵۳۰ هـ ق)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ئې سرښته نه لګي، یو دایره ده خُله د جام
رڼا د تیارې تا او ده او تیاره تا ؤ دَ سرښانه
په خود کښې درد دے، او درد، بےخودګۍ کښې دے آرام
دے درد لړلی ژوند کښې یو ساقي دے مهربانه
دا مست مستانه سر، نشته خواني او دِل آرام
د دې به زیات څه ذکر ي، او زیات څه غواړې د جانه
چاپېره خیشت او رنګ تش د کتلو په انعام
په هر مهتي د خاورے کښې زرګونه ګلستانه
یو ښا غلي کښې ، د ژوند، دَ عقل، پوهے، کل سمام
زرګونه د نـ... بڼے او دَ بابانه
دَ تال او ساز او شرنګ او غورزنګ بے میو خمار
دا ټکلے لیو نتوب د بے وجوده شان هوانه
دا دا سے هنرمند هـنر له نشته دے تمام
قسم دے جهانونه شته بنایسته دَ دے جهانه
دنیش نه راروان شوے شور دِ دا رنګین مقام
چه هر چرته دِ بیائی زه، ورځه ورله خندانه
او پرین ده جولاګے خپلے کړ ئے ته په آرام
جوړ ئے دے، چه کم شے وي که وي ګرانه که ارزانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او چه دا قوته پوره شي، دا پښتنې(٥) نے شي تمام
نو څه په خندا یاره دکډے نه دَ جولانه
چه تش یو یاد او هوش شے لکه بوی باغ کښې یا بنام
آزاد شے دَ دَ تورو زنځیرونو دُ نیانه
بیا به جهان، او نوے هوش، او نوے مست خمار
او به قسمه سرود نورو پرد و کښې دستار

(٥) پښې : سپښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیډر

د کاږغه خوله کړه　　ژبه د مار کړه
دَ چړکې عقل کړه　　زړه د سیاړ کړه
مړنے د سپي کړه　　چه بنبه غیاړ که
ضد د کچر کړه　　غرور پرے بار کړه
خته د کلی　　ویران د بنار کړه
بیا چه رته روند　　کولال یو یار کړه

تاله به نوے
لیډر تیار کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوکه

لړې لړې په وریځو کښې یو سپینه څوکه ښکاري
خو په لاره کښې دي غرونه او درې دي د غمونو
غلے غلے مې رګونو کښې یو ښکلے آواز دی
پکښې تور سوري سازونه، زیړې پاڼې د ګلونو
رو رو پټ پټ مې ځیګر کښې یو ټمبین ستا غږېږي
عجب ساز د خاموشۍ دی لیونی کړم سُرونو
او ماته ډېره لویه لاره، د ازغو د تیاره پاتې
خو چې دغه څوکه وینم اور مې بل شي په رګونو
دک د ګاو کود مې ګور شي، مړه ګلاب راته پیغور شي
همه خیښت(*) د ژوندګرې پټې تورې لړې د غمونو
زړه مې وائي چې پاڅه پاڅه غني خان پسې ملنګ کړه
دغه څوکه کښې پټ پروت دی د ستا مطلب د مطلبونو

(*) خیښت: بنایست.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وخت

تکنه غرمه دَ لیونو د ګرځیدو دے وخت
لړه، تر ملګی (۱) دَ یاره دسترګو دَ لیدو دے وخت

زیړ ماز یګر دَ ژوند غمګینه شان نشه لری
توره شپه ژمی دَ اوررولو او ریدو دے وخت

هغه ده سپوږمۍ د ونو څوکو کښې مسکۍ شوله
پاڅیږه لالیه! اوس دَ باغ دَ ګرځیدو دے وخت

لاړه ساقی بوده ماشو، خیام هم د بزمه پریوتو
اے د مستۍ جامه دغه ستا د ماتیدو دے وخت

مه ګوره آینه کښې لیلے هسے به دِ وژړی (۲)
لاړه چه ځوانی شی بیا مه وخت دَ ژړیدو دے وخت

---

(۱) ملګی: تروږمۍ.  (۲) وژړی: وژړوی.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګ به ما مَیّن نشو ، اوس ئې هر وخت سلام له ځي
وئې مخ که یاره ما ته اوس نه هو نږ د لیدو د وخت
مګر صبر او کړه لږ شان اور دم به وجود کښې ښته
ډیر م دی سوزولي اوس نه مآ د سوز یاد و د وخت
هغه سې م ساز لیوني ، مست نظر هسې تولې شي
وینه کښې م اور دمې د ول د ګله یاد و د وخت
سوز او ساز چه لاړ شي ، تښخاوره شم نور اشنه یار!
دره به شم سینې له دغه وخت دره کید و د وخت



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وائی مُلاجان

وائی ملاجان چه په جنت کښې حورې پلې دی
غټې غټې. سپینې سپینې. مستې او بربنډې دی

کوره ټمباڅه چې ځانه د لاړو دکه شوه
ښانګو (۱) کښې د حورو تې. الحمد قاموس کړه شوه

کوره د آشنا په بیل لاړې راروانې شوې
تول شهوت شهوت. سترګې ور استونې تنځا شوې

دا وجود د خاورې. دے نه پاتې جنتونو کښې
دا د خاورې ګل مستوی د خاورې په کاونو کښې

خاوره به شی خاوره به احساس او یاد به پاتې نشی
ساز سره به لاړ شی خوښئ تښتې باد به پاتې نشی

زه به خوږ ځه کړم چه په غیبر کښې کینوې نشم
غټو مستو سترګو ته به سرو سترګو کتے نشم

---

(۱) ورنوکی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوداوجود که بیا شي جوړ شهوت خوړے شراب وي
مست مست هلکان چه به هسې بنګلو هم خراب وي
کوره ملا کے ته دے چه لس نے د هغه کیره کړي
ته به ورله کورے او هغه به ده له تیره کړي
اولونه دے راونیسي. لامور دله په مخه کړي
تول خیلخانه به دله کرمه کړي اوځه کړي
دغه که جنت وي ملا رب د ورله بوځه زر
دغه دله توب نه زما زړه خله دے غوبه سقر
یا خو وجود نه لري یو مست او رنګین خوب دے
حورے او غلمان د مینے خیشت او لیونتوب دے
یا داته چه وکه دار بنتیا ستا په کتاب کښې وي
تول غلمان به مرو وي پښتانه به په عذاب کښې وي
تالا ملا جانه رب د دکړي جنتونه دیر
اوس پوه شوم چه ولے داو ړ د کورے مخونه دیر
زه به سور دوزخ له خپل غیرت او غوره یوسمه
ځان سره به خپله حیا. خیشت او سرور یوسمه
او روي که عذاب وي تیروم به نے لکه خان
ته همسایه لاس شره د بنځے نه غلمان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

ژوند او ساز وارۀ د باد دی
ژوند هغه بویه چه ساز وی
ساز هغه چه سا پکښې وی
سا هغه چه د نیاز وی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نرس

د درد مند خوار خدمت
خدمت نه د عبادت دے

لکه مور، رحم او مینه
د حوا اصلي فطرت دے

دا د مرګ سره جګړے
دا نړتوب او شجاعت دے

دا د درد په اوږو کښې رحم
او تیارو کښې سپین مشال

ژوندون د ښځے نوے دے
هم ئے خیښت او هم کمال

که دنیا ورته سپک ګوري
دنیا خوګ دي پیژندلي

د شمکورو خسرو کاله ده
هم یو لال یے خاورګړے

لور د خیښت او مور د ژوند ده
دے له رب پیدا کړه

داخو مونږ د شاعرانو
یا ساقي یا دلربا کړه

د مغرب قیچ تهذیب دا
نو مسته شان بلا کړه

نه ئے مور کړه نه ئے خور کړه
نے د دین نے د دنیا کړه

د حوا اصلي مقام
رحم مینه او خدمت دے
دا د مرګ سره جګړے
خدمت نه د عبادت دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپه وه د سپرلی

شپه وه د سپرلي ژوند ئې پيدا وو په ګلونو کښې
ټول جهان روښانه وو، وه تيارې زما خيالونو کښې

او ښکلې د سپوږمۍ رڼا د مينې د آواز په شان
روح ئې د ژړندون نيوه د حُسن په دامونو کښې

څه دَ ولې ولې په درياب کښې ړوک لاهو وُمه
ډوب په بې حسابه لاجوابه تپوسونو کښې

ما وې ژوندون څه دے، يو جنجال چه معنی نه لري
بې مطلبه ډېر لړلې اور کښې او غمونو کښې

کوز شومه چمن ته د لښتي غاړے ته لاړ ومه
څاڅکي له دَ جوندم کته کوږ چَله سيندونو کښې

حُسن باغ کښې او خندل د هر سوال ئې جواب وُکا
ژوند شو لکه ناوے د امید په سرو ګلونو کښې

هغه سړے غُټے چه قسمت کښې ئې سپرل نه وُو
غُټ شُے سوے د باد لاهے خوږ شوے په بادونو کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ذکې چغه کړه چه ژوند د ړوند ډیوه نه ډ

نه د غم قصه بنا دی د اور په زنځیرونو کښې

حُسن دې بس حُسن چه هم خدای او هم جانان دی

د فانی مکان کښې بل مثال د لامکان دے

یو د کلاب غ کښې چه ښکاره کوم جواب نه دی

نشته یو هم نشته د منطق په کتابونو کښې

مینه چه تالا شی یو امید شی یو ارمان شی تول

حُسن په خلا شی تورو لړو د غمونو کښې

ژوند او درد او غم همه کړی شی د زنځیر د نور

مرګ او قسمت ډوب شی په دریاب د خمارونو کښې

وخت بابا د تال دی، بې پایانه سمندر نه دے

تال د ساز ژوندون دی، چه کډیږی په سرونو کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کیمیاګر

راته ښکاري جوړ پاست — په آسمان کښې کیمیاګر دی
ګل سره زر کاندي خاورې — ګل خاورې زر کوي
ډېر ګلونه يې راغونډ کړل — د جانان شونډې کړې جوړې
چې د ګلاب خاورې — په کوم ګل عجب کوي

د تقوی زر شپې کړې جمع
د عشق یو ساعت ترې جوړ کړي
خو په ناز غني ته خاندي
چې دل بر دلبر کوي



A .S.K B

# د بوډۍ تال

داکم جانان له باڼه جوړ ښکلې تال کښې
رڼا بندې کړې خښکه د رنګ په جال کښې
داغه لجوړ که چا ، دغه تصویر دے دا
خوب دیو خوب د دا . که ئے تعبیر دے دا
که د جنت ورچا لمحے له لرے که
که د وصال ارمان دچا د لکیر دے دا
که مخ زما د خوانئ ، ارمان او خیال کښې
که امید ونه خاندی ، مخ د جمال کښې
ښکلے دهوکه د نظر وه ، په آسمان کښې سراب
که د کتاب د جهد وان . دیوه نګین غونا باب
دریاب د رنګ ، که ثبوت ، چه رب مٔمین دی په خښت
بنه صحرا کښې روان ، یو د نورو نور ، دریاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

که رنګ د یار د سترګو، د وبلې په خیال کښې
که د جانان مسکې شو، خوب د وصال کښې
تجرنې تلې بدې باغ ته ماښام کښې
ګلې خپلې او ښکلې ګلاب د غم په جام کښې
په مراو مراو سترګو، وائې نصیب ته ولې؟
وله کړې خیشت پیدا، وله تمام کښې
ناوې خزان، خزان، د سپرلي شال کښې
رنګ او رنا بندیوان د وخت په جال کښې
نږیم ډیر ستړې بدې دیر د جهانه ستړې
د خوشحالو سکین، او د خفګانه ستړې
داسې سفر خدایا. نه ئې پړاو نه دمه
د هوش په بیرته واخله یمه د خدا ستړې
بس تش خزان او خزان د ګل په خیال کښې
یو سور عقاب ګیر پروت د غم په جال کښې
ومه یو ښاخکې د رنګ، شومه نه ګل نه تصویر
لمحه خماره ورک شو. نشو د سترګو اسیر
یو ساز چه دام کښې د سُر، د چا رباب او نه نیو
یو خوب چه خوب پاتې شو، ژوندي او نه که تعبیر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو لال بندی به سینې د کوتې لال کښې
یو بې قراره ښاخکې، سینه د کمال کښې
ما هم لږ پرېږده بوډۍ، دې خپل جهان ته
ستا د رنګونو، خندا، رونړ ګلستان ته
زړه به یو ښاخکې دَ رنګ ستا دَ دریابونو کښې شم
اور دَ آدم به وښیم، زور دَ آسمان ته
پټ م که، پټ م که، لږ، د رنا ښال کښې
یوه تماشه راکه، دَ بوډۍ تال کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز

زه یو مست شان لیونتوب یم　　دهوا په اَس سوریږم
که یو رنګ دیار دسترګو　　شل رنګونه شم ګډیږم
دا زه څه له ولې جوړ شوم　　خبر نه یم نه پوهیږم
ولې سوز شم، ولې ساز شم　　یو آواز یم چه غږیږم
دَ زړه پټو تارخانو ته　　یو شغله یم چه کوزیږم
یو سُرور یم چه شرنګیږم　　یو خمار یم چه مستیږم
چه په رګ رګ کښې دِ اور شم　　یو لمبه یم چه رپیږم
دا زه نور یم چه برقیږم　　که سُرور یم چه سوریږم
حقیقت م نشته بادیم　　مستول کوم هم مستیږم
په خندا کښې م ژړا ده　　په خفه سترګو خندیږم
وایا وایا لیونیه!　　ولې ژاړې چه ژړیږم
او چه پړق دا تن ولچیم　　ستا په وینه کښې ګډیږم
دا زه تش دخیال دهوکه یم　　که یو خیشت یم چه خوریږم
که یو مست دباد نیلے یم　　په فکرونو کښې څغلیږم
که تال او شرنګ نه جوړه　　یو دُعا یم چه قبلیږم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناوې

اُف دنیا کې پلیتې — ګنده، دګنده وبوټې
نه یو لمبه نه دَ اور — ډېر کښې غیرت سوزېږي
سړیتوب، علم، پښتنه — ډوب او نازک خیالونه
ددې نه ښه شو چنده — حرام حلال مالونه
بال بچ او دین او ایمان — په مال او ښیارو ورکوي
دَ سرو بدل کښې والله — جانان دِلدار ورکوي
لوړ خاندان ښه خصلت — دا هیڅ قیمت نه لري
خیشته صورت دَ ګلاب — چه حبیبې تشرکي خوري
دلوُړ دخوښې تپوس — وئی دا سپک کار دې
یو سپي ته ناوې ورکړي — خو سپې مالدار دې
ډمه غریبه سپېره ده — چه په ښکاره چلیږي
دلته زر کونه ډمې — په سرو ډولو کښې پټې
په مزکه مال او دولت — ښه په عزت ورکیږي
که په یونوټ لاړه — ډمه ده ډمه ده
د زرجریب خرڅه — ترې په څه کمه ده
دا نه تیر باسې څوک — په دَسرو بریتو خان ؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماله دهوکه راکوے — که دهوکه کئے دخان ؟
مُلا دغت پتکی — او د ببرے ږیرے
کیُ معربے غُتے — دَغوږ تالو خبرے
خان او جهان دَ یاږ — څه تماشه جوړه کړی
جنات مُلا سپین ږیری — قصه دڼه جوړه کړی
لکه غوا خر خه لیلیٰ — په شرنګا شرنګ ورکوی
دے دَله توب له بریتو — د پښتو ړنګ ورکوی
بیالا رشی کت کښ د کور — نو تونه او شماری
که زر پردو کښ پټ شی — دَله منګاره بنکاری
او دګلاب هسے لور — که دَسپی کوړ له لاړه
خیر دَ چه ته مور شوے — که هغه خور له لاړه
اے مصوره دَخیشت — اے دخوائے الله
اور سے سلګئ دَناوے — پته برستن کښ ژړا
که وی خنزیر سره مال — ګل او جانان به اخلی
ستا شهیان فقیران — تش بیابان به اخلی
دا دله ګان شو مونږ — که ستا قانون دے دا
دا زه چه ویم (*) پښتو ده — او که جنون دے دا

اے مصوره دَخیشت
اے دخوائے خدایا!

(*) ویم: وایم



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسپتال

مستا دجهان کښِ خدایا!

یو سور غضب دے خواری

مړیو په زړو دے خرڅ — دَ دوی رسول سامری

که وی دچا موټر — دِ نه لږ لوُئے ارنکلے

دَ صحنه پلار نیکه هم — شی ستانه سنبه کنېلے

پورته به پوزه کړے دے — ډک دغرور شاخیلے

داغل لومبړ به غالی — زهرے به ناست وی غلے

زړونه زور شو جوړ

شو ستا دملک بادشاهٔ

که ئے وی دغه رفتار

ورانه دِ واله (*) دنیا

یا ئے که سمه جوړه — او یا ئے ورانه کړه

یا دِ داخپل عاشقان — ورک دَ دُنیا نه کړه

دَ دوی یوه سودا ده — زمونږه نور غمونه

---

(*) واله: واخله.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خوښه د او بنیاروی مال

## د لیونو سلونه

ستا جمالتو نو کښې نن — د زړو سخې(*) دې ولاړ
په ممبرو نو ورته — خرمن شوي سپي دي ولاړ
ستا په نامه مولا — بل ته سجده کوي
تا ته ئې لاس نیولې — بل ته اسره کوي
ستا عاشقان مولا — اور کښې ترلې دي تول
ستا غریبان بادشاه — په ژوندون مړي دي تول

دغه دعا قبوله م کړې جانانه
یا ئې که سمه جوړه او یا ئې ورانه که

---

(*) سخې : خوسې .



A .S.K B

# شهید ډاکټر صاحب (*)

(د مرګ په اووم کال)

د بهرام بابا چې به ستا په وینه کښې نرتوب وُ
په ځیګر کښې د قام وینه یو سور او دیولیونتوب و
دا چې پې تا لوګې له پښتون د غـــزت خوب و
هم بابا وې هـــم اشنا وې عجیبه د سړیتوب و
زر ځلمي به تر قربان کړه دا مستي د باباتوب و
پاک زړګی د ماشوم و تا لره د ښتله چلو نه
ننګ، پښتو، توره، غیرت و کاکا ستا د باغ ګلونه
د هر چا به به ښل تا، زړه دریاب د رحمت و
په سوړ اور کښې به خندل تا، دومره مست د شجاعت و
بادشاهي او ملنګۍ کښې، هغه خوي هغه خصلت و
تخت غرور تا کښې رانه وست، او ایرې ته د ذلت و
زور، زور نه دی، اور دی اور دی، سوځي زړونه ملکونه
تا د زور د خان غلام که، سپي کول د خدای تونه
چې به زړه د ی مخامخ شوم، لیوني او پریشانه
په خپل خود په خپل احساس او په خپل ژوند باندې ستومانه

---

(*) ډاکټر خان صاحب د باچا خان مشر ورور نوم یې عبدالجبار و (۱۸۹۳ - ۱۹۵۸ع)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا شنې سترګې به مستې شوې وې وے پهلوانه
بچې هيڅ کښې قرار نشته. د خپل درد د خپل ځانه
ديو اوره بل ته دا ننګې، سمندر ته د طوفانه
بچې ستا سر کښې جوهر دي، ته هير جوړې د ځانه
که مزار به دې ژړل زړه، پښتو به دې زمانه
ماته تل مستې کاکا وے، مينه ناک او مهربانه
نشته نه به را پيدا شي، پښتنو کښې دا سې ترونه
کاش چې ته دلته کښې ناست وے ما ښکولول دې قدمونه
خوټالو نے د بابا يو ړل د خپل سوي زړه غمونه
دَ ولس د ننګ جنګونه. د پښتون د شان خوبونه
او چه کله را په ياد شے. سترګے نا وينه م ژاړي
خوبند زوے د ارمان دے، تل ورک شے جانان غواړي
که زه ژاړم ستا بچے يم، ټول خواران دې پسے ژاړي
ستا انصاف او ننګ به ستائي. پښتون چرته چه ولاړ ي
کاکا زه به دې څه وايم. دا خو دې به تاريخونه
تا چې خپله وينه ورک کړل. د پښتون ننګ ته جامونه
ستا دَ پاکې وينې څاڅکي، سره ګلونه. سره اورونه
دَ هر يو پښتون په زړه کښې دے يو اور دوهي توپونه
مارا وړي تا له نه دي درامبيلو اميلونه
د جنت بلبلان څه کئ د دُنيا دَ باغ ګلونه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پروت یمه یواز

پروت یمه یوازې، تورغمونه رانه تاو دي
مسې خوظاهره، سره کلونه رانه تاو دي
کورنه دې جنت دې چکښې زرقسمه کلونه
هرخوانه چه گورې په رنګونو کښې رنګونه دي
هر دو کې قالین کښې دایران دتلې شانقصه
هغه شان تازه دادې دارا د باغ کلونه
زه په دې کښې ژارم، آزارونه رانه تاو دي
پروت یمه یوازې، تورغمونه رانه تاو دي
لور م خاندان، د محمد زوجدې خانان
پلار مې م شین زمرې، د پښتنو یاد په جهان
پاک ښکلي اولاد لکه کلونه د ایران
مورئې دا سې نره، پښتانه ورته حیران
زه په دې کښې سوزمه، اورونه رانه تاو دي
پروت یمه یوازې، تورغمونه رانه تاو دي



A .S.K B

پاکه لویه خدایا، دا احسان دې که سزا ده
ژاړمه ګلونو کښې دا څه برخه زما ده
عیش دې راله زهر که، آرام راله بلا ده
روڼ د تیښتې نشته، تیښته لا تر بلا ده
داسې د قسمت سره ځغیرونه رانه تاوُدي
پروت یمه یوازې، تور غمونه رانه تاوُدي
ولې دې زه جوړ لکه مشال کړم، ولې دې لې
هله شي رڼا چې زه په سر لمبې وي بلې
وژنم که دا اور، ګلزار او حسن شي خړ لې
اور کښې که بدل دي، خدای نیکو ستا د کوړ مزلې
چارچاپیره تور د تیرو غرونه رانه تاوُدي
داسې په ښکاره خو سره ګلونه رانه تاوُدي
زه د خپل زړه خان آدم یم، ځکه دې پیدا کړمه
زه که سل ګیلې کوم، که سل ځله ژړا کړمه
یو ښا ښکې د حسن له په تول ژوندون تالا کړمه
هره ساه که اور کړې زه به لا ډېره رڼا کړمه
یا به یو لیدلې خوب د هوش کښې را رښتیا کړمه
یا به ستا په دې، دا اوریت احساس تالا ژوندیږدمه
بل څوک په پستي کړه، زه ایره شوم نه بلیږمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ړاندهت

چه نه خوند لری نه جوش، نه سرور او نه خمار

تش خمونه اغشتل وی، د جنون او د دِلدار

تش بے خوندۀ کړوبے دے، ډیرانونه د تنظیم

که هر جام کښې دغه شے وی، خم کړم ځان له افیم

چه هر تکے ئے شماروی ځی ګُټے ګټے هر تال

هر یو خیال ونې تپیند کونه، نه ډُلکی نه ټکه چال

څه ضرور وو کچے خر دے، د عربو په سیال پریښود

د شاعر د خیال لیلیٰ له، دِ په ستر که کښې خال کیښود

دے وینا نه خوچیپ شنه وے، ښکاریدلے شنه او ښیا؟

ولے پوے دِ که جهان چه، ستا خمار وو کان خار

شنه تکره شه غږ وهٔ ئے. تا ته ښکاری چه شرنکار

خو کاسه ئے کلنه ماته. او بے سره د هر تار

او والله که زه پے پوے شوم

چه ړاندهت دے که سِتار



A .S.K B

مرثیه

# حُسین

دا قیامت دے که معراج دے او که ورځ د کربلا؟
دي دا شګو کښې سرې وینې که ګلونه د لاله؟
سو خمار نه هر و کښې کم دے ترینه ډکه ده پیالا (*)
څه په جوش ورېږه روان دے د مُینو سربالا
وے خپل عاشق ته اچې د سکرو تو کر مالا
چا ته وے ګلاب بچې دِ ورېږه غوارم حلاله
چا ته اور صلیب او دار کښې هم خلاصے هم وصال
چا ته سره چاپه ګلونه، ژوندانه حسن او کمال
ته بادشاه د عاشقانو. در روان دي اے جانانه
شان د مینې درته ښائي، توان د د خاورے بے توانه
تول جهان تیاره کښې رپي. یو ځرګې خې روښنا
کوره ستورے ګې خلیږي. په څه نوي نور مستانه
ستا منصور ورته پسخیږي. ستا عیسیٰ ورته حیرانه
دا د ده د درد لمبے دي. که د نور ستوري روښنانه

(*) پیالا: پیاله.



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ګلاب خان له روان دے. تک تور سوی بیابان کښ
یو سپینه شمع خاندی، دیو تهر په طوفان کښ

ولے کم خواته روان یے! اے حُسینه ولے
کربلا نه ده بلا ده، په دے شګو کښ څه ګورے
ولے غم دِ لاخیشته کړے، پستے ښکلے سترګے تورے
زور او زر، اقبال او بخت دے هم ماده هم سوے
یزید خان دِ دَجهان نن، انسان وږے او کمزورے
دَانسان دشان مثال ښئ دے خرڅ شوی زرک غلام ته؟
دَ سبا دستورې تورې ښئ دِ د ژمی تورې ماښام ته؟

بره مه ګوره حسینه، نن ستا خدائے دے ستا جانان
نه ما دکئ نه پړه کئ ستا دے وخت دَ امتحان
ستا اختیار او تقدیر یو شو په دِ ورځ په دے مکان
ستا دَ مینے مستی ګوری، زور دِ ګوری دَ ایمان
آے د سرو ګلابو څانګے، نن ما ښام دے دَ خزان
دا کافر شګے تږے، ستا دَ وینو په ارمان
څه ورځه زما جانانه، ساقی لرے میخانه کړه!
دَ سور اور او سور خمار نه، تالئے د که پیمانه کړه!
آے زما غمګینه یاره! غم د مینے دے حصه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سور دَ ساز خیشت اخمار دے، دَ یقین موړ تلوسه
چا چه مونتے دِ جانان خپل په آرام به د لاسه
نوم نشان ئے مرګي روک کړل، وخت ئے روک کړه قیصه
چه دَ سر سره ئے داؤ کړی مستی حُسن ارمانونه
سُرور زر قسمه مستی شی، خمار زر رنګه نشه
ګوره ګوره اے حُسینه، ګوره دغه دے عیسیٰ
دغه مست ملنګ منصور، او ابراهیمؑ دَ رب آشنا
یو په دار، یو داور میخ کښ، حُسن ولید دَ دِلبر
بے ګناه یو په صلیب شو، د ازغو تاج ئے په سر
ستا د یاره اے حُسینه، دغه سپین تیغ دَ شمر
هم ایمان دے هم نرتوب دے، هم قسمت دے هم باور
آ دے مینے بل مشاله، رڼا راغله دَ سحر
داد قهر طوفان راغے، که یزید سره لښکر

ګوره ګوره پاک ربه، عجیبه میدان د جنګ دے
یو خواه زور زور تورے صفونه، بل خواه تش حسین تنګ دے
یو خواه زور، غرور او حرص، قت قت په اوخنګ ښنګ دے
بل خوا یو مئین ایمان دے، مستانه او په غورځنګ دے
رَبه او ګوره فرعون نن بیا موسیٰ سره په جنګ دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه شین زمرګی دی، هم بادشاه دی هم ملنګ دی

یو خواه ستړی دی دکانو، هم ضمیر خوړلی زنګ دی

بل خواه ورو کی خوار تیوړی دی، هم دنیا په سیاسی تنګ دی

دم یو نظر کښی کوړه، نړ توب څه چه لیونتوب دی

د آدم دشان قیصه ده، کلک یقین د سړیتوب دی

تول جهان توره تیاره ده، دوی د نور لیدلی خوب دی

جنګ په تاج کی نه په تخت، جنګ په حق د سړیتوب دی

---

دلمغروره فرعون ناست دی، که یو مست بی حیوان

ځی بی رحمه چمچمار، چی به شوی ویران

مری د تنده دمی لتی، روکی روکی ماشومان

چار چاپیره تی ولاړ دی قطارونه لښکریان

یو یو ګل د تنده ړژی، د رسول د ګلستان

او یزید ولاړ دی اوری، داسلګی اوها سوان

دا بلا د کربلا وه نیم لیوه او نیم شیطان

په دنیا کښی دی تیر شوی، ډیر بی رحمه بلاګان

داسی ظالم نه دی شوی، نه به اوشی په جهان

د چینی په غاړه مړه شو، تول د تنده ماشومان

---



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر څه کړه حسینؓ، نن بچي زه د حسین یم
څه که نن یم او نن یې نه یې، زه په اصل شیر ببر یم
راشه او ګوره فرعونه د حسین د وینې اور
لمبې راځي دا ګنه میدان ته، چې ښکاره کړو سره زړی
خونړیالي ښانه پټ شو، چار چاپېره جنګ شروع شو
کربلا په وینو رنګ شوه، بیابان ډک د نارو شو
دا د لسو او د زرو، جنګ خونړی وی قتل عام وی
په لکها په زرو خرڅ، د خپل حرص هر یو غلام وی
د حسینؓ ملګری واړه، په ترتوب کښې حیدری وو
خو سیلاب د توره روب کړه که سل حمله زمري وو

*

سر تر پښې خوره یواځې حسینؓ او کتل آسمان ته
وو علیؓ مسکې ولاړ، نه کتل ښکته میدان ته
وې اې حسینه زمونږ وینه تل د خدای الله بخښلې
سټانیکه او بابا دواړو خو خوشحاله بیولې
او ربس آورد کې بچیه، چه پاکېږي په فولاد
د شهید وینه مستیږي، تل په توره د جلاد
تول جهان تیر وکښې کیږو، خپل غیرت ایمان هیرو
چه بند د بل بند شي، ډیر نسلونه کړي بر باد



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوږ مې زهر مې شراب دی، د سړي نه ځان خطا کړي
د غرور مانۍ وی د ننګه، خو کچه ئې وی بنیاد
د آدم نوسانو سوکښ نه بادشاه شته نه غلام
خپله خیټه سړی سپې کړي، سړیتوب ئې شي برباد
بل په مکر په فریب، په دهوکه په چل ولونو
نیم لومبړ نیم زمرکی وی، په چل علم کښ اُستاد
رحم روک شي، ظلم ډیر شي، سړیتوب کم سو هیڅ شي
یو سود او د ترینه چا پیر شي، هر څوک چل عذاب کښې ګیر شي
قانون مړ شي، زور زیات شي، نر تالا کیدې دلیر شي
بې غیرته غیرتمن شي، سپي غوبیږي ببر شیر شي
زر شي زور د هر چا ځان شي، خوار غریب به ژوند ستومان شي
بل خنزیر د هر چا پلار شي، که خنزیر سره مال ډیر شي
وزیر غل، امیر ډاکو شي، ایماندار به سیند لاهو شي
روغ به مړی یا به غل کیږي، چې تول غله ترینه چا پیر شي
تول وطن یو تور ځنګل شي، یو د بل به غوښه پائي
ځناور ترا مان غواړي، چې انسان به کمه تیر شي
علم چل شي، مذهب دام شي، رنګ حلال و کښ حرام شي
هر بیا الکه ما ښام شي، ژوند به تور آفت کښ ګیر شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه وخت کښې د خدائے رحم ، او رحمت په جوش کښې راشي

چې ته غلے د چا کور کښې ، يو حُسينؑ په کښې پيدا شي

چې که مبه کلک پهلوان شي ، ورته جوړه کربلا شي

مرګ له نوي معنیٰ ورکړي ، ژوند کښې نوي رڼا راشي

آخر چې ته په سپېلي کښې ، پے باران او برقا راشي

ناګهانه وچ صحراتول ، سره ګلونه د لاله شي

خُه وړ خُه وړ خُه حسينه ، په خپل بخت شکر ګذار شه

ستا شمر سره نيته دے ، سپيلنے د مخ د يار شه

که ربښتيا پے ته مئين ئې ، په خندا ورته تيار شه

اے په غم سوي کلابه ، ورشه خمله په قرار شه

حُسينؑ اووے مرحبا ، دا ارزانه ده سودا

کاش چې وے م په تنا ، قط سرونه په زرها

او بويو ورکولے ما ، په زر قسمه کربلا

دا دے د غم بابا ، لآ اِلٰهَ اِللّٰه :

اے بادشاه د يزيدانو ، اے مالکه د جهان

ستا تقدير هسے يو اور دے ، خي په مخه کړے روان

کله وسيزي بے د رحمه ، سپين ګلونه ماشومان

کله تاج د سرو په سر کړي ، ګيلے ستر ګي شرمسان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ یزید په لوئے محل کښې ، د شرابو رود روان
د رسولؐ بچی دِ مړه کړو ، او چے شونډے په میدان
دَ یزید په سور پالنګ کښې ، په ژړونده خوږے غلمان
د حُسینؑ جانان مړ دے ، او پالنګ ئے ریګستان
ظُلم ظلم دومره ظلم ، وران دِ نه کړو پے جهان
د حسینؑ په زنګدن کښې ، دیو کوټ او بوارمان
امتحان دِ کو دَ مینے ، د حُسینؑ څه امتحان
وے زوے دَ حیدرؓ نه و ، شیر ببر مرد دِ میدان
مکوه مکوه اے اجله داسے نه دے دَ وژلو
دَ آدم شان او سینګار دے ، تا پے اور او لګولو
مُتے خاورے ، داسے مسته د زهرےؓ په شاخلینی
سترے سرے نے داسے اور کی لښکرونه تے تښتیږی
یو مثال د حریت دے . د خپل زړه په زور بلیږی
پټ دَ زړه په تار خانو کښې یو سرور دے چه غزیږی
حُسینؑ او کتل چاپیره ، او رشو ژوندہ او رشو اور
دے بے حِسه تور ملحول کښې هر ساه شرم پیغور
په دَ ظلم پے دِ اور کښې یو ساعت ژوندون حرام دے
دا دَ د رحلم مرکیه ، زور او صبر مِ تمام دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کربلا ذره ذره ستا ، وئی به چغې تر قیامته
چه انسان به زوره آوره په هیڅ شان سره کړی منکته
غلامی نه هرڅه منه دی ، دا چه تیر شو او تیریږی
رتبه دا سی زمانه ده ژوند د مرګ په بیعه کیږی
په خپل ژوند کښ په هر چا به کربلا یوه جوړیږی
چه څوک ځی د جانان کوڅه په دلاره به تیریږی
دا یو ستړی غمګین مهری د. لوګی کومه نے له تا نه
دا رومتے مراوے سور ګل دے د حیاته د ګلستانه

---

سر دی ورکه لکه نر ، شیر بچی د شیر ببر
نه د خیښت دِ څوک ثانی شته نه د نورِ برابر
اے بادشاه د شهیدانو . نرخانه د نرانو
ستا مرګ هغه یاد تازه که چه هیر کړے هر انسانو
ستا د ژوند او د مرګ تول ، ما ته او ښو کربلا کښ
څه رنګین سرود دِ وا چه لا اِلٰهَ اِلاَّ الله کښ
خکه کله کله زه اوس هم د شپے ژاړمه
ستا د خیښت او نور کمال بیا په دنیا غواړمه
کوم د زړه منت دعا . اے حُسینه راشه
هر قدم شو کربلا ، اے حُسینه راشه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ وُمه په اور کښې ما وې اور زما قسمت
لمبې دَ قسمت نه وې ، ولې لمبې زما دَ نيّت

نه ګل نه دلبربا منم ، نه حُسن نه بهار
يو ستا دَ سترګو خيال منم لو ستا دَ شونډو وست

نه بخت او نه کمال منم ، نه توره نه جلال
يو ستا دَ خندا راج منم ، بې تاج بې سلطنت

نه چل او نه تدبير منم ، نه عقل نه تقدير
يو زير دَ سپرلي ګل منم ، ضامن دَ يار دَ بيت



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپوږمۍ

اې ليونيه ساقي　　دليونو د شراب
ستا جادوګره رڼا　　د خمارونو درياب
نن مې په سترګو کښې ستا　　سوري دَغم وليدۀ
دارمانونو لړې　　خاموش ماتم وليدۀ
ياده که هيره دې ده　　خُما خوانۍ ليونۍ
چه تا به سره لمبه کړه　　نه مې نشه د خوانۍ
ستا پلوشو به رانه　　آرام او خوب پټ کړه
يو بې قراره ارمان　　کښې به مې هوش ورک کړه
چه را ښکاره به شوې ته　　لکه مسکۍ محبوبه
خما هر رګ به دکه　　يو دَ جنون لمبه
بس يو آرمان يو درد　　سوز او خمار به شومه
هر سر کښې اور او ژړا　　داسې ستاره به شومه
يا به دې داسې مست کړم　　يو سور انګار به شومه
يا به دې راوړو اُميد　　يو سپين ګلزار به شومه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خونن خفه غونکے سئ — زیره حیرانه شانئ
سترګې دِ مړاوې مړاوې — او پریشانه شانئ
پیتول جهان دِ که خوږ — مړاوې غمګین ارمان
لکه سبې وسه مالیار — په تور ماښام د خزان
نن دِ رڼا کښې هغه — رنګ او سرور نشته
هغه مستي د ځوانئ — د خیشت غرور نشته
سترګې دِ مړاوې مړاوې — خفه روانه وې
لکه زما دَ زړه — سترې ستومانه وې
هغه جادو د خه شو — هغه شراب خه شو
هغه د اور لمبې — او سره ګلاب خه شو
زما رنګینه ځوانې — خو وخت به غلا یوړه
خمار ځوانې سرلار — مستي سودا یوړه
ما ځان باچا ګڼلو — دَ بل غلام او ختم
ما یو دریاب ګڼه ځان — دَ خاورو جام او ختم
خوستا جادو ګره رڼا — د خمار ونو دریاب
خه شو ستا د ګ خمونه — دلیو نتوب دَ شراب
بس هیڅ جواب نه ګې — کم خواه ته ځې زمانه
سترګې مسکې مسکې — مړاوې خفه حیرانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوے بلا

کله کله را پیدا — شي يو دارنګے بلا
ژبه ښکلے او پسته — سرے ډک دی د ړنا
هر يو سوال کښې ئے معنی — هر جواب ئے فلسفه
هر دليل ئے ښه پوره — پوئے په هره مسئله
فکر تيز او ښه روښان — علم خور لکه آسمان
د ړوند په عقل هر بيان — د منطق په تول پوره
دا په شکل فرښته — ده بلا توره بلا
زړه کښې قهر او تياره — باهر[1] سپينه تجلے
د ده هر خيشت او نيت — يا ورانے کړي يا علت
دا سکرو تکه[2] د نفرت — سوز ولو له پيدا
د ده هر زور د کمال — هر لطيف او مهين خيال
بس يو جال او يو ځنجال — ستا د خود او هوش پړکه
د ده دا ښکلے ګفتار — دے يو دام د منګلي تار
دلو مبر هسے مګا — راګير ئې دې په رضا

---

(۱) باهر: بهر- (۲) سکروتکه: سکروټه-



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوئے غازی مست په اسلام — لیونے په ننګ د قام
تاجوړی د خان غلام — یا په زور یا په دهوکه
په هر چل په هره لار — د کمبکاری او ته بنګاړے
دغه ستر کے د بنلار — ستا د دره دېکښی اسره
سپین کمبت کښی د جمات — دی براته لات او منات
دا په شکل آدم ذات — په هاره وینه اژدها
د ده دا شیرین ګفتار — کفر کفر او انکار
پروتے زړه ته دے زنار — د ده هوش توره لمبه
دغه علم د جهان — ورته لے نبودے شیطان
د ده دا رنګین بیان — اړ ولے بسم الله
دغه ښکلے سپین صورت — مقبره د ده د نفرت
دغه پند او نصیحت — دی د زهرو پتاسه
دا دلال دے د تیارو — د سکرو تکو د سکارو
دغه سپینو منارو کښی — اوردونه دی زرها
دا په شکل فرښته — ده بلا توره بلا

هم آفت دے هم وبا
غنی خدائے دے تے ساته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دغنئ تپوس

غوټۍ ماشومه کوکۍ    دکه دخیشت سینګاره
الله ته پورته کړله    خفه او بې قراره
وې اې دګلونو خدایه    اوړې که نا اوړې
ولې کړې ما ګلاب    او ګلاب خاوړې
مابنام د باغ مالکه    لیلی په سیل راغله
وې واه دا زیړه غوټۍ    پرېکه و یښتوله زما
مابنام د ساز او محفل    تول دخوانئ غوبل
یوازې ناست د غنی    غمګین غمګین نې کتل
لیلی نې خواله لاړه    وې ستړې د څه کوړې
وازې دي ماته اشنا    بل خواه ، بل څه کوړې
غنی د غمه ړکې    ستړګې ور واړولې
هم هغه سوال نې اوکه    چه سار(+) غوټۍ وکړې
ستړګې روښانه لیلی    غلا مسکۍ غوندې شوه
وې د دې سوالونو جواب    چرته منتلې(*) د ې چا

(+) سار: سحر، سهار. (*) منتلې: مونږلی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانانه بس دے دا　　　چه شته دخیشت په دنیا
دعقل تور خنګل کښې　　　نه شته ګلاب نه رڼا
ستا د زړه سوالونو　　　رنګین جواب زه یم
چه نه تا مستے جوړکه　　　هغه ګلاب نه یم
د ولے ولے جهان　　　دالا جواب سوالونه
بس د رب شکر کوه　　　او سنګلوه ګلونه
شکر او باسه چه چا　　　خیشت او خوانی کړه جوړه
زړه ما شکرونه په دے　　　چه نے فانی کړه جوړه
د زړو کالو لیلیٰ　　　او وسل ګلیز جانان
دخوانے خیشت د دغه　　　چه نے خلاصینی ستان
چه مستی خیشت شی خلاص　　　شکر چه شته مرګونه
شکر چه خادره خوانی　　　تو کوی زیړه ګلونه
د ولے ولے تپوس　　　نے دمالیاره او که
زه دیوسات سیلانئے　　　پوتے مسکے شه یاره
جانانه کی(*) خوانے کښې　　　خوند د مستے او رونه
دے فلسفوله د شته　　　دا پاتے تول عمرونه
راشه د سره شونډو کښې　　　سوز او سازونه دی
عجب رنګین خمارکی　　　دجوند(+) رازونه دی

(*) کی = کوی.　(+) جوند = ژوند.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حساب کتاب

په ژړا ژړا مې عمر په سجدو مونځونو تېر که

نتيجه ئې بس مرګی يو ، تور لحد را ته چاپېر که

د قسمت او د تقدير دا څه قانون لاړه ګوره شته ؟

د ځوانئ اور ته مې ولې ، بيا وې او سوزېدې ولې ؟

لاس او خپې مې دې تړلې ، او وې شا به کله شکله شه

هر انسان دې دا اتڼ ته ، زنځيرونو کښې بللې

د مسکو سترګو جانانه لر د خپوم که دا پړې

بيا مستي د خادرې ګوره ، او تو پوه نه د آدم

کله شرنګ د خواخواکښې ، کله زيرو او کله بم

د تقدير ګرځي که سسته ، بيا زما ګلدا ته ګوره

ستا د عرش په مناړه کښې ، ليونئ خندا ته ګوره

چه زه مست شم په هوا شم ، او رشم تنده شم ، رڼا شم

چه يو ساز مست او سرشار شم ، نور شم پرتم ، پخلا شم

روښان تور د مرګي سورې ، برېند سترګې تکې تورې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو نظر راته را واړئ . یو نظر کښې روک تالا شم
دنیا نوره مستي لا هوشي ، مُتې خاوره د صحرا شم

اے زما د زړه د نوره ، د و دنیا او د خیال رتبه
د خوانئ د سرو ، نخکونو ، د مستئ او جلال تبه

اے چه زه جوړ تش د خاورے بس د خاورے و مه سیال
ولے تار اکړه سازونه ، او ښکلونه ، او جمال

د انصاف دے مُتې خاوره ، د خپل تخت پایوله یوسے
بیائے درو زنګے له راولے ، هسې کار بنایستے یوسے

دلیلي نه بنایست واخلے ، خوان بوده اکړے بوداغاورے
نور د یر ښه دي راروان دي ، د مُلا صفه چه واورے

مستي ، غیشت ، کمال م واخلے ، خپل یو تور دې سینه پرې ن دے
زه دې لوټ تالا کرم دلته ، ته به تله کښې دی خه بز دے

د ګلاب په شان خواني دې ، راله خاورے کړه تباه کړه
ترمغے به م انځورے ، چه مړ کړې م واویلا کړه

د الېز ژوند پورې تے احساس د غي مرګی له غلے غلے
چه آخر به رانه جوړ کړے ، یو تو یکے شان د غزلے

حساب ؟ ستا به څه حساب کوي ، جناب راوسپوه روکړه
لوټ تالا ، برباد دې زه کړم ، خو کمزورے دله پرې دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ زړه خال

په سپینو ګوتو ایږدې کړې پوړ ته
په ښکلو سترګو په کښې تلاش کړې
لا لونه کوردې ته په دیران کښې
لیلی دا ته ئې دا چه مجنون د ې
چه دې مرباغ کښې ګلونه کوړې
دا ستا مستئ دی، او ستا جنون د ې
زه ؛ زه یم څه، ستا تخیل یم
ستا خوبونه، ستا ارمان یم
بې خودی زه ستا دَهوش یم
ستا چشمے له زه طوفان یم
چه ستا زړه مېن په نور شو
زه شوم شمع زه مشال شوم
چه تا ځان سره له وړ که
نو زه ستا د زړه خال شوم



A .S.K B

چه ستا خود د ساز لیوال شو

زه سرور شوم زه بلال شوم

نه چه طمع د سبا شوې

زه سبا شوم زه هلال شوم

نه خفه چه د ایرو شوې

زه یو مست او د روک جلال شوم

چه تلخان په عشق کښې ډوب که

زه مستي شوم او وصال شوم

نه چه وږې د کمال شوې

زه همه کمال کمال شوم

چه تا یره (+) د تیغ وکړه

زه قلا شوم زه ډهال (*) شوم

چه نه وږې د دولت شوې

زه الماس شومه زه لال شوم

چه نه وږې د مستۍ شوې

زه منصور شوم زه بلال شوم

چه تا نیت د کتې وکه

کله دام شوم کله جال شوم

(*) ډهال ـ ډال. (+) یره ـ ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه تا واغیستم جانانه
زه بنا نُست شوم زه کمال شوم
چه تاوُلیدم دلبره
زه هلال شوم زه مثال شوم
چه ستا زنه په کسم لوېږدم
بس زه ستا د زنخ خال شوم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تیارو غلام

وې ماله د نور که په خوا دَ اور
د شغلو په بستر ولې خوب راځي

وې ماله په جنګ کښې خوانۍ مستي
په آرام کښې فنا بلها توب راځي

ولې ماته دلرو په سوړي کښې
د جبلونو توان اخانښت نمایان شولو

ولې ماته هر کل مستانه او مست
په مابنام، په مابنام د ځان اشنولو

ولې شور د وجود نه ما ساز شولو
ولې ماته ارمان خپل ایاز شولو

ولې ماته د ژوند همه نوې اورنګ
یا شکرې یا شاهین یا شهباز شولو

ولې ماله د ژوند ګل سوب. ضرور
نه نیاز شولو نه انداز شولو

ولې ماته خانښت دم هسې او تال
د غمونو د دردونو آواز شولو

ولې ماله دِ نور که په خوا دَ اور
ولې ولې شو سپین مې مرکې دَ تور

ولې ژوند بس پیغام او مطلب د ګور
زما سوړ ګلاب شو غلام دَ اور

ولې ماله همه خوشحالي د ژوند
یو تک تور بې مطلبه تصویر شولو

تش په خان په جهان پسې ژړا مې
زما ساز هم مرګ هم ویر شولو

کمزوري دَ وجود او خیسکر زما
زما خود شو قسمت شو تقدیر شولو

او زما دَ تیاره تاریکو غلام
زما خان شو امام شو او پیر شولو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مینه دعوه دَ دېرو غو شوه — زما حُسن لیدل د راندو شولو

زما زړه شو غلام دَ وجود ټها — نظرونه بچې د لیدلو شو

تورې لړې، او لړې اوکړې خوب — نه اُمید شولو نه ئې راز شولو

زما ژوند، یو سلګۍ دَ شکست شوله — چه نه سوز شولو او نه ساز شولو

خپل وجیاړه ژوندون پسې ژاړمه — زما ژوند مې مرګے هم نه وېر شولو

چه دَ عقل رڼا مِ یو برق وکه — هغه هم د تیرو یو تصویر شولو

ځکه ماله هر تال او سرود ژړسان — د غمونو دردونو یو راز شولو

ځکه ماله دِ نور که په خوا دَ اور — ځکه ورځ مِ دَ شپې د روند آواز شولو

دَ ژوند هره شعله، شوه لمبه د اور — هر اُمید، ارمان، یو دهوکه دَ ځان

زه غلام د تیارې په پنجره کښې پروت — که یکې دام (*) چه نو یم دَ کل جهان

زه چیغې په دیران کښې غنزیږمه — رندې سترګې مِ رنګ دَ بهار نه وینی

زما ونه کښې اورے دَ خواورد دیران — دَ یار سترګو کښې مړا خمار نه وینی

زه لوئے شوے صحرا او تیاره کښې یم — دغه شکو کښې ستورے هلاک کم دے؟

زه یو تور او او بسیار شان کو نکت یمه — شمع چرته دُ سپین دِ مثال کم دے؟

د اُمید، داخیشت یو دهوکه دَ ځان — ژوند تیاره ده او مر سمندر دِ تور

زما سر کښې سپوږمۍ او ګلونه شته

خو هر رنګ دِ تور، لکه کور، کور

۱۹۶۵ع

---

(*) دام: وهم.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوړپ

دَ مغرب دَ سوی زړه نه یوه سوے کړیکه وځی
جنګ دے داسے درد وے اوس هم رپی اوس هم سوی

ماشومان ګلونه ښکلی
امیدونه نیاز ولی

د سبا خوبونه خاورے
پرونی سازونه غلی

دَ یو بم په سُور انګار کښې تول ذره ذره هیره شی
دا تورتم چه په چاپیر شی ورته تول جهان تیاره شی

ژوند یوتوقه بے مطلبه
رک دَ درد دَ غضبه

څه ثنا به دَ رب واوُرے
په سرو تیلو کښې دَ کبه

دا راندهٔ په بغو کوری، لمبو سوے ئے نظر دے
دوئ بیناؤ ته راندهٔ وی، او چغر پیغمبر دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ماښام مغرب راوړي، شپه راځي دَ دهٔ د کوره
دَ مشرق رنګینې خاورې، تا نه تل ختلې نمر دے
پاڅه پاڅه راپیدا که یا یو بده یا مسیحان
کنې لاړه تیاره ویوړه دا ړندهٔ شله دُنیا ن
ورته او وایه چې مرګ بس د ژوندون د لیلٰی تول دې
د ژوند سرهٔ ګلاب بې بېخ دی، مرګ که تور دې ازغو ښیو دې
که مرګ نه وې ژوند به نه وُو، هر ماښام به د پوهیږي
بند ښکله په ورځ پوهه شي، چې ماښام کښې تیاره کیږي
انسان نه دهٔ تشه خاوره، چې پخاوره کښې مټي خاورے
دهٔ کښې ساز یو ابدي دے، که لږ چپ شوې ته به واورے
دهٔ کښې سوز دهٔ کښې مستي دهٔ، دهٔ کښې مینه او خمار دے
دا به کم لحد کښې ږدې ته، د دهٔ له کم قبر تیار دے
آے غلامه د ځنځیر د تیاره کښې پروت، خان که مېړه لږ چاپېره خوا او کوره
د جانان د ښائست او د مینې نور، په هر خوا پرسېره خوا او کوره
هره پاڼه کښې ژوند لا زواله ژړا، هر ګلاب کښې د رباب سرود دے
بدلېدل د ژوند د دوام دلیل، ګوره هره غوټۍ کوه لحوړ دے

۱۹۶۵ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اې زما وطنه

اې زما وطنه د لالونو خزانې زما — ستا مړه دکښې د تورې تبانې زما
ستا سر چې وي ټيټ نو زه به شان و شوکت څه کړمه
ته چې خوار و زار يې زه به مال او دولت څه کړمه
ته چې روان وېجاړ يې زه به خواب او راحت څه کړمه
مستې به د خاورې کړم په وينه مستانې زما — آ زما وطنه د لالونو خزانې زما

عقل مې اېرې شه ستا د پاره د فکرونو نه
سترګې مې قربان شه ستا د پاره د سوچونو نه
زار شمه قربان شم ستا د خاورې د کورونو نه
ستا زړه کښې پرې دي ټولې تلې نهمې زما — آ زما وطنه د لالونو خزانې زما

يا به دې زه سيال کړمه وطنه د جهان
يا به ستا په خپو کښې تورې خاورې کړم خپل ځان
ځان به دړې وړې کړم خو تا به کړم ودان
نن زه مې پښتون يم تاته يادې افسانې زما — آ زما وطنه د لالونو خزانې زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنّت او دُنیا

چې مستي وي او ځواني وي او جانان وي او ډک جام
ډېر کلونه، لږ یاران، او غمګین غونډې ما ښام

عشق څه او روې او څه نور وي زړه لېږي لکه تنور وي
په دې ژوند به زه ورزار کړم جنتونه ستا تمام

خو داکته په دې وکړه چې هیڅ رنګ له قرار نشته
هر ساعت . هر رنګ د ژوند . ستا دوخت دې کس غلام

او جنت کښې مُلا وائي وخت به وي زما غلام
د دې چې روک شي او زه شته شم، تول به وران م شي تمام

چې زه تول غم ژړلي یم، نو لې توب به یو عذاب شي
ځکه اوس را باندې ګران دي، چې نې خیشت شي زړ تمام

تل سپوږمۍ دخوار لسمې، تل جانان دَ ښاپېرۍ
تل ځواني، سپینه د ښرابو، دا دوزخ دې که انعام

دې دنیا پسې به ژاړم . دا تیاره هلال به غواړم
هره ورځ به یادومه . نرې لره د ماښام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تمنګ د حورو وفادارو ، بې وفا جانان به غواړم
ستا آدم په ذلت ښکاري دے ، د ښکار خوند ګوي هر ګام
د مستۍ د سيند په غاړه ، ثوابي روژے به نيسم
اسويلي به کوم يا دوم به د ساقي نيمګړے جام
هر څه چه ابدي شي ، يو آفت شي يو عذاب شي
بس يو تا سره مزه کا دا ازل ، ابد ، دوام
بند نوے رنګ محل کښې نوے نوے جانان غواړي
بيابان کښې سره ګلونه ، توره شپه ، چراغان غواړي
تل تيارو کښې د روکيږي ، تل رڼا کښې هم ړنديږي
دے بچے د تغير دے ، يو حالت کښې نه ټينګيږي
که ده ستا جنت له يوړم ، دا فطرت او دا وجود
يو څو ورځو کښې به سوزي ، په سره سترګو به ژړيږي
اے د لوے فضل مالکه ، ماله دا دنيا جنت که
فارموله ئے ده آسانه ، د درے توکونه جوړيږي
لکه ويلي م دے سر کښې ، بس جانان خواني او جام
چه زماليونے سړے کله کله مشغوليږي
او هغه بل د مرګه پس م ملاجان سپے خيرات که
تش د حورو په خوبونو که د خوار ګذاره کيږي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماله دلته یوه راکه غونډه، مسته تکه سپینه
مینه ناکه، سپینه شمع، چې لمبې وهي بلیږي
شل رنګونه نظر کښې، شل مزاجَ په خیال کښې
دَ سپرلي هسې خوبونه، کله نمر کله وریږي
یو خړمنه کښې دننه، یو حرم دَ جینکو دی
کله مسته او سرشاره، کله غلې شي شرمیږي
او زما دې ستړي زړه کښې شل رنګونه او لمبه کړي
چې دَ اور هسې سوزیږي، دلبرتو هسې ګډیږي
چې په یو بې تاب نظر مې داسې مست دا نشه کړي
میخانې ورته حیرانې او ساقي ورته پسخیږي
دمغې زړو بدل کښې ماله دلته یوه راکه
دَ ابد تول خواني مې، دخوږ کالو مشغلا[1] که
که دانه کړئ اې جانانه، سر بې حور دِ سبالکه
نه مې مشغلته پکار دی، نه مې دلته کښې یادیږي
غنې غنې، سپینې سپینې، چې نه سوال نه منت غواړي
ارتې بیرتې، آوږدې سترګې، په نخملو به لغړیږي
رَبّه! اې جانانه رَبّه! دغه یو سوال خو منظور که
کنې لار غنې دِ مرشو، ورپسې نې جبې[2] کیږي

(۱) مشغلا = مشغولا. (۲) جبې: زړي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مينه او حسن

ستوري ته اَسمان کښې يوه ورځ ووے ملال
خدائے آدم له مينه ورکړه مونږ له تش جمال
زه به په خندا ورکړم دا خپل ښائست د کمال
ماله که يو څاڅکے مينه راکړي څوک په سوال
مينه حقيقت حسن سايه د حقيقت ده
حسن له زوال شته مينه نه لري زوال



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ریدی گل

یوه ورځ یو صحرا کښې په ښکار روتې وم روان
یو ګلاب مې ولاړ ولید، په رقیب د خیشته خندان
زه خفه ئې خواله لاړم، ما وې، اه! زما په شان
ته هم ګل ئې بد نصیبه، روک د زلفو د جانان
نه د جانان سینې کوتې، نه مخ له به دې یوسي
نه به ښکل دې کړي سرې شونډې دیا ښې نازک لبان
هغه غلې شان مسکے شو، وخان مې کوه خفګان
زه به دا صحرا ونکړم، د ایران په ګلستان
دلته زه یو او یکتا یم، هسې دلته نه زما په شان
چار چاپیره سپیرخاورې، زه یوازې یم روښان
دلته د تور ریګستان کښې زه د رنګ او نور لمبه یم
د خانښت چپه نغمه یم، کرشمه د لامکان
ستا په باغ کښې به زر ګونو، دي ګلاب زما په شان
یو به نوم هم سوری ریاب کښې یو به نوم څاڅکي روان
ته د هم په ځیل صحرا کښې خفه مه شې زما دوره
آخر ابه شي دید له د خوک سوے غني خان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دُنیا

دا په خپل خود کښې دے دنیا ته کتل
گرانه ده، گرانه، ډیره گرانه ده
دلته شل قسمه دهوسان(*) گرځي
ډنگ د شهباز کښې تیږو سان گرځي

کیږدو بریت دَ ببر شیرو ایښي
غږ مباکوي لکه شیران گرځي
څوک د غرهیے خوار لکه زنگ کښې
آدم خواره او شرمښان گرځي

یو غټ پتنگے، سپینه مساپلا مس کښې
په اوږد زیږه کښې شیطان گرځي
زړه خو سینه کښې دي پټ، پټ پروت دي
نقشے سترگو کښې روښانه ده

دا په خپل خود کښې دے دنیا ته کتل
گرانه ده، گرانه، ډیره گرانه ده

(*)، دهوسان ه دیوسان.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خوا ته کند کښې د ملنګ سامړی
د فقیر نوم ئې سپک بدنام کړلو
د ملک کښې داسې وخت تیر شوے دے
بادشاه به سوال د خپل غلام کړلو

فقیري هیڅ جامه لباس نه لري
بادشاهي تورې او الماس نه لري
د لخو یو نور د ذره په زړه کښې بل وي
د روح مستي ده، نه لباس نه چل وي

دغه بو بل چه جونکې چا ښو
ښکاري د خورې تاته دام کړلو
دا چه هوهو لکه کیدړ کوي
دا ذکر نه دے تاته خان یاد وي

یزید د ناست په چغو چغو تاته
په کربلا کښې شهیدان یاد وي
که یو که لس و مابه منلې و تول
دغه شمار ښخو ښه آسانه ده

دا قسمه، قسمه پیژندل منتریان
ګرانه ده، ګرانه، ډیره ګرانه ده



A .S.K B

اوګوره دغه دے یو صیب راغے
بریت ئے جنډ الکه قیصر نیولے
سترګې ئې سرې دي د شاهین غونډے
خومره مغروره ئے د سر نیولے

د دیرشو زرو په موټر کښ ناست
خومره دولے ئے درانیو رنیولے
سُوټ ئے د زرو روپو لاندے نه دے
شمله ئے نیغه ده په سر نیولے

دالنده سپے دے د ګیدړ بچے
هر دله توب نه تیټ ئے سر نیولے
نه دے په لُور نه دے په ښخه حیران
لُورے ښکاره ئې مښه ارزانه ده

داقیصر شکله دلالان پیژندل
ګرانه ده ګرانه، ډیره ګرانه ده
دغه دے یوچه شمله نیغه لری
ګرمے خبرے په لاسونو کوی
دوه غلچکی ورپسے روستو روان
ښځے خبرے د خونو کوی



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه معجزه او رزډ کوټ تک تور
دَ مولانا تور، د قبا بنکاري
سپینې پرتوک تور و بو تا نو سرو
خیښته سپین ستوري د سبا بنکاري

دادِ بنهیا[1] اتڼۍ[2] او بنکے ده
د پلار ننګه نوم او عزت خرڅوي
تا خرڅ، ما خرڅ، اَتسنا خرڅ
چه څه تے غوارے په دولت خرڅوي

دغه رون غر، دغه بت شوے شمله
په تش د دکان کښ شاشوکت خرڅوي
څه چه تے غوارے، سبه داده په ورځه
دَدَه سودا تول ارزانه ده

دغه چه سپین لکه کلونه ناست دي
دا دَ رنا ورځے داکوان[3] ګي تول
ژبے ئے تیزے، چلولي ستر ګے
نیم ازمري، نیم لومبړان دي تول

څه ښکلے بنکلے مخونه او بنسیار
بلد خبرو سپین قارغان دي تول

(۱) بهیا: نیل، ماکنګه پکړکه . (۲) اتڼۍ: دوکان . (۳) داکو: داړه ماړ، داړه ایچونکي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی په خوږه خوږه کښې مارۀ کوی

د انسبي پاخه ښکاریان دی تول

پښتنې ته دولی قبا پرته ده

مسکو لبانو کښې بلا پرته ده

کرښې دنیا کښې په لکهاو تکان

هر یو د ځان له یو ښه اوږد داستان

که زه تول عمر کښینم، خلاص به نه کړم

د اتعارف دَ دے قلم په بیان

خو په انجیل کښې دی عیسیٰ لیکلی

دے دَ بندۀ دلید و یو امکان

ستړے ګوړکے دی، دَ روح رنګ بنائی

ستړ کوته ستړے همیشه بنائی خان

دعا کوه، وے خدایا لاؤم (*) نه کړی

خو ربه دنیا دَ دَ هوسے دے طوفان

چه سمه دمه ده نو کرانه ده

او چه آسانه ده نو ورانه ده

(*) لاؤم : لاهو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چه آدم
# خاورو کښې کښيني

سر ټیټوب چه لوړ او چت شي لیونتوب شي
چه خودي د خودۀ وځي نو خمار شي

چه فولاد د وینې موړ په مینه مست شي
نو حیران او پریشان تار د ستار شي

چه ترې عشق او جانان دواړۀ وخت فنا کړي
هله پوځي سړے په شان د ځان او یار شي

چه آدم خاورو کښې کښیني څه زرغون کړي
منجیله چه په دولت شي نو بنا مار شي

ما ته حورے غلمان مه ښندوه بس دے
په والله که بے له تا م په چا ګکار شي

دا چه نن پکښې زۀ مست او مغرور ګرځم
سبا خدائے خبر د چا به دا ګلزار شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د مرګه نه یریږمه پښتون یم
خو م تش جسمدون او خوشې مرګ ته قاړ شي

زړه کښې ډوب د وسوسو دریاب بهیږي
جوړ به کله د اُمید رنګین آبشار شي

دا خپل زړه ستا بې پروا نظر ته ګوري
کله کله په ژړا خکه شاه تاړ شي

ساز ژړا ده که مستي ده نه پوهیږم
هر آواز کښې کله سوز کله چغار شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قسمت

ملاجان وائی ازل کښې تالیکلې هر یو کار دے
یوله سترګو کښې شفق د بل له مسے کلیخار دے
ستا تقدیر هر لمحه کښې د هر یو وینته واکدار دے
یوله ګل یوله ډیلدار د یوله او ر یوله انګار دے

یو به تول عمر نالان وی، او بل تن ہ پریشان وی
یو نیاز بین به په مخملو بل به پروت په بیابان وی
یو به تږي د سپي غپار کا، بل خوړل به لکه مارکه
یو به ښکلې ښاپیرې وی، بل به باډوی تورابان (*) وی

ملاجان وائی اے ربه! د هر خون ته ذمه وار ے
دا تول ظلم تا لیکلے، ستا د کوتو دا آزار دے
دا بے رحمه افتونه، دا بے ځایه رحمتونه
د حسین په مرګ توره، او یزید د ملک سردار دے

ملاجان وائی تا ایښے په آسمان کښې یو کتاب دے
چه هغے کښې تا لیکلے هر آدم له هر یو کار دے

(*) توراباں دی چه د شهزاده بهرام په فولکلوري قصه کې یاد شوي دي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو چه دا سې انتظام دے اے زما منصفه خدایه
ما نه څه له کے تپوس، نه مې واک نه مې اختیار دے
ما کښې دومره طاقت کم دے چه ستا لیک دَ ابد وران کړم
نه دَ زر و زور و روخانؤ زه بے وسه خوار غلام
که زه خاندم که زه ژاړم، ستا یو ټکے نه بدلیږی
دا بتان دی ستا دکوتو. دا کفر ونه ستا الهام
دا حساب کتاب به څنګ وی، دا پوښتن جواب دَ څه شی
هر کلاس چه زما څکلے ستا دکوتو وُو اکرام
مُلاجان وائی ساقی هم د تقدیر دکوتو جوړ دے
مُلاجان وائی دا خیشت هم تاجوړ کړے دَ تمام
نو چه زه د ساقی سترګو ستا دکوره خان له بوتلم
ما کړه سینه را وچته په آسمان ماه کلفام
چا نه تبکیل کړمه په دام کښې د سرور او درنا
چا کړه جام کښې راته کله په شرابو کښې خندا
او مغه راته روښانه سینه شمع بلیدله
زه جلبل لکه پتنګ شوم، دَ دے شمع په لمبه
دا به نه په کوم قانون کښې راکوے ما له سزا
ما آسمان کښې بره لیک کړه، او ما اوکړه په دنیا



A .S.K B

چه اختیار نه وي جانانه څه ګناه د چا ګناه

راته ښکاري ملاجانَ چرته تللې دې خطا

که قانون وي که رواج وي که منطق که فلسفه

دا ګناه خو اے تقدیره ټوله ستا را وخته

که اختیار وي ګنهګار یم، که اختیار نۀ ګناه کم دي

دا خو لاس د بري کار دے ته په هر څه کښې ټکره

وایا وایا ملاجانه که اختیار راځي قسمت ځي

د قسمت سره دِ وار آرامونه او راحت ځي

د تناړي لیکلے روک شي، بس سړے د خان مالک شي

که په باغ کښې دِ آرام ځي، که په لار د مصیبت ځي

بیا کیږي شي حسابونه دَ جزا دَ ثوابونو

چه سړے په ښنه په باده په خپل وس په طبیعت ځي

خو قصه چه دَ قسمت شي، ملاجانه زه بري شوم

تل به ځم په هغه لاره چه په کمه م قسمت ځي

زه موټر، هغه ډرائیور دے ځم په کمه چه م بیائي

که جات که میخانه وي که په سمه په صحرائي

که موټر ګنده کښې پریوزي، نو ګناه د موټر نه ده

دا چه هر قسمه سزائي د ډرائیور سره ښه ښائي



(c) ketabton.com: The Digital Library

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ګناه ده که ثواب دے، زه په دواړو کښې بے وسه

مُلا جانه دا کتاب دِ خوږښه برغے ژبے وائی

زه بے وسه ګناه اوکړم، بل بے وسه ثواب اوکړی

په دِ دواړو کښې به کم یو قسمت سور دوزخ له بیائی

زمابوتله خوسړو پ جفاده دغه بل کښې لا ځاے شته دِ

دے جهان کښې خوږه عمر سنه تیر کړے په خندا ئی

مادیو بے واکه اوړه بیائے بل بے واکه اوړته

بیا دا سا خو یو غضب دے، که دا بعیه ددے سائی

ستا کتاب په دے کښې څه وی لزوم بوئے که ملاجانه

یا خو راشه کوده شروع که قلاړه کښینه د آسمانه

یا خو تله مله نه ده، دَجنات کرړه دینګرے ده

یا خو تاڅه اکو بکو ایجاد کړی دی دَځلنه

وران او سم د بل دَلاس دی که ده وران که ودانه

اوړ او ددد او منا ماران به چا پیره وی زمانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرګ

ماتم وُ د خانانو د میاګانو ډک کمونه
بخے بخے خبرے وے او کلک نه دَلیلونه
ټولو په نظـر کښې یوه لړه یو ارمان وُ
روک شوے ترے منطق کښې وُ د حسن امیدونه
دَ مرګه یریدل داسے چه ژوندؤ ورته اُوده
غرے دُ پلاؤنو ښکاریدے ورته قـبرونه

دَ ټولو سترګے وازے، لکه اسپے تږیدلے
نغه خغه خبرے او پاسته نه آوازونه
چه زه شوم ور ښکاره یو یارم بَل پاتے لګیا وُ
لاله دیرے مرشم چه دَ مرګ مخ را ښکاره شی

چه فکر مے ور سارښتی زړه م ولویږی خوریږی
د ژوند هر یو امید م د هیرو ذره شی
یو تورغوند ښامار وازه خُله ناست خری عَلمونه
هرچا ته چه شوے په هـرچا ده حمله شی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه خوان ګوري نه زوړ د قیصر او ورده مرګه سیزي
که فکر ورته وکړے ژوند یو توقه مسخره شي
او توقه هم بے رحمه. توقه نه ده سره لمبه ده
دا څه مطلب د ژوند شو چې ئې خاورې خاتمه شي

وے وایه لا له وایه څه په پته خوم پوے که
په کم هنر به جوړه د ژوند ورانه ماشوه شي
که تا پکښ څه خوند مطلب لیدلے وي نو وایه
زمونږ په خیال خو ژوند یو دَ ډېر وړوندے کاروان
ګوتم بو دا رښتیا وے " چې پیدا سو نو تباه شي "
دا داسے جوارئ ده هر یو د اوږده تاوان
یا لس کاله یا شل سره په او رافت کښ تیر کړي
آخر ئے چرته تور و تار خانو ته کړي روان

د هغه خا خبرے قیاسونه دي دعوے دي
په عقل چې ئې ګورے خرافات هر یو بیان
لږ عیش. لږ ځواني، مال محبوبه. بس دغه وایه
بس یو خیام خبره نور رانده دي شاعران
زما په خوا کښ ناست یو لیونے و په خندا شو
وے وا ورته دا خبرے دَ باچا دَ دسترخان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وے دا ژبه د پېریانو، دَ دے ځاے دَ بیابان
دا نشته په کتاب کښې دَ منطق اودَ امکان
نو ټول ترینه را تاؤ شو ښه خېشته او ښیار مخونه
په سترګو کښې تیرے وے خو تندی ئے وو روښانه.

وګړا یه لیونیه خلق وائی ته مرګ ته خاندے
دا دے کښې دَ خندلو څه خبره ده آشنا
لږ مونږه هم خبر که کنه، یار چه په آرام شو
که تا چرته کښې پته وی مونږ لے مامله

هغه پاڅید په سپین دیوال ئے سپینه کرښه را ښکله
وے خان دغه جواب دے د رښتے دَ مرګ اوسا
هغوی چشمے کړے پاڅے وے "والله که مونږ څه وینو
په سپین دیوال سپین خط چرته لیدے شی بابا

هغه وګړے مرګ نو ژوند به هم دَ غصے روک وو
چه عقل دانسان کښې بس دَ فرق انداز
چه سوړ او تیاره نه وی رڼا نشی لیدلے
د ژوند نظر کښې تل وی یا تیاره او یا رڼا

چه دواړه یو کښې راشی رنګ ځانښت حُسن ترے جوړ شی
که مرګ نه وی دُنیا کښې ژوند به څه پوهیده په سا؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تول حُسن د ځمکو د مرګ د تورو سترګو نور دی

دَ ده په تور جهان کښې تول رنګونه د دنيا

که مرګ نهٔ وُ، ژوند به نهٔ وُ، که بڼ وُ سنه به څه وُ

که توره بلا شپه نهٔ وې چا څه کا وُ سبا

راځه زما ګلابه، ژوند او مرګ دواړو ته خانده

په دواړو کښې يو هم نه دے د لايق ستا دَ ژړا

که خوامخواه ژړا د څه انسان ته، ځان ته ژاړه

چه دغه په رښتيا، او که ګُلا کے دے د ژړا

يو حُسن رب ورکړے دے چه ژوند له معنی ورکړی

او د غريب تے ځان ته جوړه کړے ده بلا

خزان که نهٔ وُ، نو يو ګلاب، يوه ميوه نه وه

که مرګ نهٔ وُ جملان به يو رګ خوب وُ په دُنيا

که نه وے دښمنانه به جهاز نه به بيړۍ وه

که نه وے بلا توب خوانی به څه کوله چا

يو زهر دی خوانۍ له او مستۍ له او ورنا له

د ژوند چينه د خضر چه يادېږی په دنيا

انسان دريدی ګل دے، د ده کور د بيابان

بهار د ده خوانی ده، خزان وُ نے د خزان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که یو منے خطا شو، شي به ړوک مې ګلستان

او ړوک شي هغه ساتَ دَده دَ هوښ دَ احساسه

کم شي چه ورته شي قایم. دانسم، او جاویدان

دا ژوند کښې چه څه خوند دے د مرګ جوړ کړے یې په جهان

که مرګ نه وَ جهان ون به وُ، د ړوکو ړوک جهان





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوآن

قسمته کښېنه په آرام کښېنه — سباله ولیکه چه څه دې خوښ وي
دسپین سبا په مخ خالونه کېږدۀ — چرته او چرته تور لالونه کېږده
تراخه بر خورمه که تراخه دې خوښ وي

خواوس مې یار لږ مسکې شو یدې — قسمته چپ شه ژوندۀ شه په قرار
وخته دَ خدای دپاره ساواخله — دغه لمحه مې که دَ کال مقدار
سبا شو ستا خو نن که یار د واکدار

مټول ژوند دِ ستا دایو بڅرې زمونږ — مټول ژوند مې واخله خو دا سات پرېږده
نن دِ دفتر که بند او سترگې پټې — قلم دِ مات که داسې مات پرېږده
واوره ، اوه ، واورۀ ، دوه خبرې زمونږ

په تورۀ شپه کښې دَ غم غاټکی رنگ — پرېږده چه رنگ په ټول جهان کښې زۀ
دَ خزان سترگو کښې تصویر دَ گلاب — دَ منبر په منځ کښې شه رنگ د رباب
جمه دِ خوانی قسمت مې ستا دی واخله
قسمته ماته دا یوآن پرېږده

سباله تور که ټول جهان په تېر وو — خو دا لمحه ما او جانان پرېږده
بس چه نۀ ولیکم دَ زړۀ په کتاب — دَ خزان سترگو کښې تصویر دَ گلاب



A .S.K B

# رنګ

ښه دے په رنګونو کښې زړګیه د خوانئ رنګ
مرګ او غم له ورکی د جهدونو جاودانئ رنګ
ځنې ځنې په ممبر او محراب کښې تقبور کوی
یاد شو ملاجان ته د کوګے جهدانئ رنګ
زیړه شوه د شرمه د پیرس مسته بیبانه
وے لید چه د سترګو د خړے پاکستانئ رنګ
سړلنډے تے جوړه کړی چخړک او قولنګی تے کم
توپ چه کله وُونی په بډاکښې د خوانئ رنګ
ورنے شونډے وخاندی په تش لاس شمله نیغه کی
کله چه شی پوړته غنی خان کښې د خانئ رنګ

داخو ستا په دربار کښې قبلولوله — کله شین، کله سپین، کله توریشمه
داخو ستا قدم په ارمان کښې زه — په ازغو د قالین په شان خوریشمه
داخو تا ته خپل خان ښکاره کولو — کله ساز کله رنګ کله اوریشمه
داخو زه د جهدونو یو آوازیمه — ځکه ځکه یا شرنګ شم یا شوریشمه



A .S.K B

# کړے وړے

جنګ ؤ د سنډه کانو، چینړ خو بلی نے یوړه
ورانه به وړوشي چه دَ غټو شي جګړه

سرله دَ غونډ ے چه دَ سیلاب چپه روانه شي
کنډو، ډنډو کوکښې به نیزو خوره کړی خړه

غم د سبا کؤ به سبا، نن د نن مزه واخله
خانده خوشحالیږه، وارا کار د غوړه زیړه

داخو بربو عشق دے چه غنبل کړی بے غرضه
مسے څوک نارې کښې چاله نه ور کوی ګړه

ملـه به خبر شے چه دکنډے مینځ له ور شے
ژاړے به محل کښې یا دَ وے به دِ جونکړه

بے سره سَرَ دَ غنيَ نه دے دَ خر شولو سر
خکه مدام سپوره خوری نصیب کښې نشته غوړه



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تصوّر

زه یم ناست خان له جانان یو تصور کښې جوړومه
کله ئې سترګې تورومه. کله ئې شونډې ښکلومه
زه یم ناست د غم په ښار کښې د درنا بختۍ پېیمه
خُم د رنګ کښې لا خمار شته، زه ئې لیچې ډکه ومه
دښتې کوتو دِ خُمار شم. خنګه ښکلې ویش دِ ډکه
زه یو خاشکې خو ځیګر کښې دریابونه بحر زومه
زړا و زور او تخت دِ واغښت. خیشت. نظر او خیال دِ را که
دَ سرور په سُور طوفان کښې دِ کړوه دوبه لوېږ طمعه
دا یو غم دو یشه پاتې چرته پټ تیاره کښې ناست وُو
رو رو پټ م زړه له راغې لکه مار د ښکار په سمه



A .S.K B

په ډکمرښه دې رضایم دَ لالونو زړو خـانه
غم ښه، مرګ م هم قبول دې په خندا نے قبلومه

داخوتا اور اور کے یو دسـرور ماته ښبلے
څکه زه دې تور محل کښ خپل خوبونه بلومه

خلق وائی لاړ بلا شو، غنیؔ خپلے مستۓ وخوړه
زه یم ناست دیار ویښتو کښ د نرګس ګلونه بدمه

مرګه نه چرته ګرځېږه زه لا نه یمه اوزګار
خُم درنګ کښ لا خمار شته زه تے لپے ډکه ومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَسامري محل

شمع نشته دِ رڼا نشته — وجود شته خو سرور نشته
رومیدل او ترقیدل دي — لمبه نشته دِ اور نشته
عجیبه د رندو ښار دے — سترګے شته خو لیدل نشته
دے کوڅه کښ دَ ملیانو — ښلنکونه دي جام نشته
دا مکه دَ سامري ده — خانان ډیر دي خیام نشته
یادا کور ؤو دَ منصور — دلته خاورو کښ مستي وه
دلته هوش یو مست جنون ؤ — دلته مرګ خه ؤ هستي وه
دلته حُسن د وحدت یو — د عاشق بت پرستي وه
عبادت دَ ستار سُر ؤ — بندګي خه ده دوستي وه
یا خو دا تا تمام ژوند — هم آخر و هم تمام
دلته دا زما خوبونه — هم اَبد ؤ هم دوام
اوس دا ښار په ورانیدو دِ — جمات شته دِ امام نشته
هسے نوم شته دَ ګلونو — د باغونو سمام نشته
هاے افسوس چه جنون شته دِ — سر سُرور د جنون نشته
محل جوړ دے لیلیٰ ناسته — مجنون نشته مجنون نشته



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے عجب دَ رنګ جهان کښې　　سپین غائب دی او تور نشته
روتیدل او ترقیدل دی　　لمبه نشته دِ اور نشته
عجیبه لار مِ نیولې　　نه پړاو شته نه مقام
نه جنون نه بے خودي ده　　عجیبه زما ماښام
نه ښائست شته نه رڼا شته　　عجیبه ساقي او جام
نه خندول نه مستول کړي　　دا زما ماوِ ګلفام
او زما په دِ جهان کښې　　دَ رڼا خوریدل نشته
سترګے شته واز لو تشے　　دَ خوبونو لیدل نشته
دلته اوګوره جانانه　　ستا په غم مستیدل نشته
دلته اوګوره دلبره　　ستا د نور بلیدل نشته
دلته رنګ نه رنګیني شته　　نه شراب شته نه خیام
دلته شړنګ او غړنګ نشته　　تور او سپور او نسکور جام
دلته چغے دي دَ نن　　نه سبا شته نه پرون
دا محل د سامري دے　　نه منصور شته نه مجنون
دلجمعون د تیرو ړنګ دے　　دلته رنګ د خیام نشته
دلته تول تشویش تشویش دے　　اُمید مړ دے آرام نشته
دے تک تور د غم وطن کښې　　اور بلیږي اوربل نشته

عجیبه دَ ړندو ښار دے
سترګے شته خلیدل نشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کمزوره ځی په شا

چه زور په مخه وکړي سخته اوږدې دېره
ماڼغه ورله کمزوره کړي خپل رقیب کاندي اوتره
ډلرے راشغله شي، توپ وچت وکړي په بره
یو تنله دځوانئ په زور دخپل طاقت نشته
کمزورے ځي په شا

کمزورے ځي په شا چه بل له اولګوي شا
کمزورے ځي په شا

وي مرورخپه مرشي ته په غصه دا سے په قار
په مرچا ډده دق دے که وي مور او که وي خوار
بل زور خپل ورته ښکاري خاص د خپلے ښځے یار
خپل زور ته اور آفت پردي ته نه لري نشه
کمزورے ځي په شا

یو تنله په خلوري، اور د زور، آفت د جنګ
په ځان دے نه په بل، لیونے کړے د خپل ننګ
که ځادي که بے ځادے د بس جنګ او جنګ او جنګ
غیرت یولاشاله په خپل جهل کښې نشته
کمزورے ځي په شا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جلال

چه زه غوارم د هیرونه مستی سره ګلونه جوړ کړم
د سرو اوښکو نه لښکې شونډې، د زړ اسرونه جوړ کړم
د خزان تیاره کړم ورو به، د امید په سمندر کښې
د ګنجکو نه لالونه د غلو پلونه جوړ کړم
چه دا روح م په ښکار ادی، د رنګونو د خوبونو
که نور نه وی د تیروزه رنګینی نورونه جوړ کړم

چه د خیښت شم زه لیواله، د صحرا هره ذره کښې
په زرهاو بوستانونه، په لکها ګلونه جوړ کړم
چه زړه ورته دارمان شم د سپرلی په سپین سباکښې
بې حسابه ما ښامنو، بې پایان غمونه جوړ کړم
تور او سپین زما دستر ګو، کله تول کله تلل دی
شپه او ورځ زما نظر ده، ورکول دی او موندل دی
که خندا ده که ژړا ده، دا ځګر مشغول لول دی
که وصال دی که فراق دی، خپل سره تر ګڼه بدل دی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زه مست شم د دیران سره خیشته کلونجوړ کړم
د سرو او سنکونه سرے شونډے د جرا سره جوړ کړم

چه زه نیت د کتے او کړم د پریوتی د شکست نه
د فاتح د ستر کو کبر او د شونډو غرور جوړ کړم

دا چه زه ځان له یو تخت د رنګین بادنه ودان کړم
د غلام خواری بدله د پادشاه په رنګ سرور کړم

دا چه ته ئے اے جانا نه، دا چه ستا مستی رنګا ده
دا زما مینه ارمان دے، دا زما زړه خندا ده

د ملا خبرے خو شے، معامله ستا او زما ده
دا داستان د لوکے نه دے، دا قصه د عشق او ساز ده

دے زما سرود کښ پټ راز ستا د حسن او کمال دے
دا زما کمزورے ستر کے ستا د خښت جاه و جلال دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا زمونږ غوندے
# دُرکو کمه لار؟

خوش نصیبه خوش قسمته وے منصوره
خلقو جوړ که دِ له دار څه مزیدار
مار اوړے دے زړګی کښ له ازله
هم منصور هم سرور او هم دار
وایا وایا دُرندانو بابا وایا
دا زمونږ غوندے دُرکو کمه لار؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما محترم رور سردار علي خان

## (امير جماعت اسلامي) ته

داچه ته په سجدو پریوزے اوزه ډک د میو جام کړم
دام زه غواړم فرار، دا هم ته غواړے فرار
ته لټے مغبچان کښ حورے سپینے ګل اندامے
زه جنت دلته لټومه . نشم کولے انتظار
تا په قرض حوالو کړه ، زه ترے نغدو سودا غواړم
دا ته سبه شوے په بیو پار کښ. که ما سبه اوکه بیو پار
شیخه راشه میخانے ته ، چه مقصد زمونږ و یو دے
ستا د مرګه پس قرار ، زما دلته کښ قرار
نور د سوال مقام مو یو دے. د ژړا خاموشۍ یک دے
یو ارمان د دواړو زړه کښ کې جدا جدا اظهار
پتنګان د یوے شمعے. که بینا دے که شمکور دے
داخو خکه ده حاجي صیب . لیونے دے د زړه یار



A .S.K B

# بینوا ته خط

بینوا په هشتنغر کښې ستا یو رور دلته او سیږی (*)
بېرته بې ستا نه دی، پټ پټ شونډې وکښې مسیږی
ستا قلم چه نولی او بنکلی د هغه ستر که د کیږی
نا چه خپل درد په ژړا کړی، هغه دلته کښې ژړیږی
دلته ناست په هشتنغر کښې ستا یو یار دی په رښتیا
په خانانو کښې یو خان خو، ستا په شان دی بینوا
خلق وائی لیونی دے عجیبه سکوی کارونه
سره او سپین د خان ولی چرته کوری زیر کلونه
د شرابو جام په لاس کښې اوریده وائی حدیثونه
کله غواړی په مسجد وکښې دَ الله نه شرابونه
تول بے تولہ شان تلل کړی د مرګی او دَ دُنیا
وائی که ستر که د مرګ نه وے ژوند به نه لید لو چا
چه نبه روغ وی چرته جمع دے به ناست یکښې حیران وی
خپل غمونو نه بے غمه، او پردو ته پریشان وی

(*) د هشتنغر یو کلی ته اشاره ئې دی، چه د خان صیب اشرف خان ټاټوبے دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غرمه کښې به یو ازمے چېرته شړو کښې روان وي
د ملا د ذات دښمن دے، ډېر خوار به وي ته د مان وي
مات توبک د منطق واخلي نښبه ولې پړے د سا
عجیبه وړانے خبرے، مرچکې سره حلوا
ستا په شان د دې زړګے هم د مرخوار سره خوږېږي
په وجود ئے خرمن نښته په بخرې اور سوزېږي
زړه ئے ډک د میو جام دے که لږ رقې نو توئېږي
ته به وګوره ئے اوږدے په لږ تاؤ سره لمبه کېږي
ستا د مرتمک سره هنګ کئ یو ستار دے بے بها
ته د نوي قندهار دے د زور (۱) دے باشنده
ستا د مر سر سره رپي، یو شا تار ستا د رباب دے
نیم او سنیار نیم لیونے دے، مړاو شوے شان ګلاب دے
از غې ډېر شو خاتشت کم شو، واے دا سے انقلاب دے
زه طوفان یم سمندر یم، په د څه که څوند حباب دے
زما خاوره کښې ډېر نور شته، تشنه نه لرې داسا
زه غرور، ننګ او سرور یم، سره رنګینه مې ژړا
ته چه کم رنګ کښې غوبه شے د هم هغه رنګ کښې رنګ شې
ته چه مست بما تن ورشې، دے کنګرو شې په شنه رنګ شې

---

(۱) د وادی پېښور زړو نوم قندهار ؤ. دلته یادوونې بانې د خان مطلب قندهار نه، بلکې ګندهارا دی. (مولف)



A .S.K B

ته چې غم فریاد شروع کړې، د بې خوبۍ له غمه ستړی شي

ته چې توره کړې راپورته، د یو سور زړه توب په جنګ شي

بل د ده په شان به کم ځای خان له رور کړې راپیدا

یارانې له دا سې یار، دا سې بل د زړه آشنا

ستا به زړه کښې چې کوم نور دې، ما کښې هم هغه ځلیږي

ستا د زړه چینه د رحم، دلته رورد دې چې بهیږي

ته چې وینې کم خوبونه، زما ستر ګو کښې غړیږي

ته چې زانګې په کم تال، په هغې غنچې زنګیږي

بېنوا په هښنغر کښې ستا یو رور د لته اوسیږي

بیرسه پېښې ستړګې، خاڼ ته خاندي اوژړیږي

کله تنګ کله تکور شي، کله ساز کله ژړا

کله وو د و کښې لړلی، غیرتونه فلسفه

دیر ځیرونه رټ ورکوي چې بنا دیږي بې دنیا

چې څه غواړي هغه نشته ستا په شان د بېنوا (*)

(*) مراد د پښتو ژبې لوی لیکوال او شاعر مرحوم استاد عبدالرؤف بېنوا (۱۳۶۳ هـ ش مړ) د پښتو ژبې ته یې په نظم او نثر کې ډېر خدمتونه کړي دي، او همغه آثار یې هم چاپ شوي دي چې په علمي کچه کېږي او هم کېږي کې چاپ شوي دي. استاد عبدالرؤف بېنوا (خدای دې وبښي) تر څو سوونو آثارو مستقل آثار او لیکنو سربېره مقالې هم تر ... پرېښي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

هوش دِ دَ علمونو نه جدا جدا روان شو
خدایږ ولیونیه جوړې سم لیونے کیږي
مړ کړ کنډا ښکاره راته جهان یو جاودان شو
زه وړ پوره خاندم د دنیا، ته وېره ته ژړیږې

# پلوشه

نن رباب د خیال دنیا جوړه بدله ده
نوے دِ مضراب دِ نو لاهو کښې غږیږې
هغه دِ رباب هغه پردې خو نن ئے شان د بل
را د کړل تال دِ، یاره پاخه که کړیږې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نقاب

داچه زه ځان لیونی کړم، دا زه تنګ شمه د ځانه
شیخ بابا ته لګیا دے، مسئلې کې د عذاب

زه خو دلته په عذاب یم، دد ے خپل خود او احساس
ځکه کله په سجده شم، کله او څښمه (*) شراب

چه بے حسه شم روکیږم، چه احساس لرم سوزیږم
نه طاقت شته د سکون او نه همت د اضطراب

چه حیا پیرو نظر او کړم، همه پټ او ښکاره زه یم
دا شراب دې ما جوړ کړے، ما جوړ کړے دا محراب

مذهب څه دے شے د خور سمو نه، مسئلې او منطقونه
او د مغے سوال جواب دے چه نشته د جواب

(*) و څښم، و چښم.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان تش د عاشق سینه، د خپل زړه وینه څښل دي

چه د ویرو ږړے شو مجنون، ځائے که ځان له کباب

رباب څه شے د مرګله ورے او د توت او چه تنه ده

خو چه سوز د آدم راشي هله هنګ وکړي رباب

کله نو کله رڼا شي، کله غم شي او ژړا شي

دا ځیګر دَ رباپي دے، چه هم جام شي هم شراب

خو دا زړه م راته وائي، دا هله وکي م کونیږي

چه آخر به څوک او چت کړي دَ جانان دَ مخ نقاب



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اختر

غنی او خور دا سے غم | نہ دارولری نہ دم
کل جہاں دِ ستر کے ستر کے | نشتہ ستر کے د صنم
خلق وئی اختر اختر دے | ماتہ ښکاری محرّم
چار چاپیرہ سازاو شرنګ دے | مالہ سوز شہ بلا او غم
چہ جمل ون پہ کمیدو شو | شو ھسر خیزو ہ سرہ کم
د شہوت نہ وحشت لاڑ | دَنیکے سرور شو کم
دَ کنا ہ نہ مزہ لاڑہ | پیکہ خولہ شوہ دَ صنم
نہ پہ بام دلیلیٰ مست شوم | نہ سایہ کښ دَحرم

خلق وائی اختر اختر دے
ماتہ ښکاری محرم

اختر خوستر دےؤ دَ دِلبر وی | مسکے مسکے نتاں پکښ نظر دی
ایماں چہ زرہ یو دک دَ درنا وی | مرحبا کعبہ وی مرحبا کوثر دی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا به د شعر همه احساس کړي — چه خیګړ تش وي تش د اثر وي
حُسن خو سترګو کښې د عاشق وي — رڼا د دوی روښان دِلبر وي
رنګین ګلونه، ښکلې صحرا شي — تش د ړنګونو چه د چا سړه وي
جمدونیو او ورشي توره بلا شي — چه سړه شي نو ماڼۍ ګړي
جانان په ښنګ کښې خمار په سترګو — د وصال مهر د اختر اختر وي
خو نه د ډلدا نښته او نه خمار نښته — د دا زړوند به بنه سقر وي
لاړ به لا اشو جوړ غنی خانه — د ځوانۍ ما او دِ آخر قرار شو

دَ رنګینۍ وار دِ لاړ لوتیر شو
تره سامان دِ اوس به سفر وي
زه نه یم پرېږم دَ سفــرونو
دَ ځمدون هره لمحه سفر وي
خوږ به وي م دا شوم قسمت خپل
چه یا سبا وي یا ماښیګر وي
ځواني مستي م چه کم خوا لاړه
ورپسې خدا یږدم هاتخمه
لاړه دَ علم وي که دَ تورتــه وي
که تور غمونه که سور سقــر وي


A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تپوس که جواب

وایا وایا ملا جانه ژوند تپوس دی که جواب
ژوند وصال دی که جنون دی که آرام که اضطراب
ژوند امام دی که غلام دی که ممبر دی که محراب
که یو مست غونډی جبلۍ کښی رنګین خوب دی د سراب

که لمحه د نور کمال دی
د دی تور تاریک جهانه
ژوند تپوس دی که جواب دی
وایا وایا ملا جانه

ژوند فرعون دی او غرور دی که جنون دی او سرور دی
د نمرود د زر و تخت دی که رنګین مرګ د منصور دی
د احسین مسکی مسکی دی که یزید مست په غرور دی
د ابهار د، که ګلاب د، لږ پټ شو د خزانه
ژوند تپوس د که جواب د، وایا وایا ملا جانه

ژوند یو مست د میو جام دی که یو مات د غم کچکول



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونۍ غ د خیـــام دے　　که اوبنیار مځ دَ بلبل

یو رنګین باغ دَ ګلونو　　که دَ اور دَ ازغو شپول

که یو تیښته او فـــرار دے

تښتیدلی دی له خپل ځانه

ژوند تپوس دے که جواب دے

وایا وایا ملاجانه

ژوند یو خیشت دے چه خوریږی　　که جمال چه خادرے کیږی

داسا زخپل مرګ ته کړی ساندے (*)　　که یو اور دے چه بلیږی

د دے تلو، مقام، دمه شته　　که د سا نه سا تښتیږی

منګوټی که دَ ارت دی　　څه د کیږی څه تشیږی

که یو نور دے چه خوریږی

ناخبره دَ خپـــل شـــانه

ژوند تپوس دے که جواب دے

وایا وایا مـــلاجانه

(*) ساندے: دمړی ستاینې.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تلے مرګ

به لکه کاله اوده وي　　　يو ساعت له را بيدار شي

خو لکه به نور او ده وي　　　چه روان د مرګ په لار شي

شاته توريو سمندر دے　　　مخکښ لا توره بلا ده

مينځ کښ يو د شبنم څاڅکے　　　په غور ځنګ لکه آبشار شي

د آدم ذره د کتور دے　　　د ده توره دريابي ده

داسے تلو داسے راتلو کښ　　　دسے خوږ شي خمار شي

وو پکار چه ساعت ګوندے　　　په ژړا ژړا تير ولے

که دے ديره په ليلىٰ مست شي　　　خو آخر به د مرګ يار شي

نه په تلي مرګ ستومان يم　　　نه راتلونکي نه يريږم

زه به تل د غمے خاندم　　　که په اور شي که په دار شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې پاتې د قيصې شوې — د دوزخ د حسابونو

دغه شئې د ملاجان دې — زه خو ستا د سينې يار

اوکه وې چه سوزه، سوزم — عشق کښې نشته انکار ونه

زه څه شيخ ملا خو نه يم — چه نه کار کوم نه انکار

خو د سولو ده نه يم — ساهو ښانکه د شاتوت يم

رانه جوړ که يو رنګين — او او نګين غونډې ستار

که يو تنک دي که زړ تنکه — سبه په سر کښې بزغ بزم

يو قطره ستا د درياب — يو ښکالو ستا د خمار

اے زما د سترګو توره — دا يوه خو يکښې وادړه

دلته سوے يمه دير — نو دم پريږده په قلار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمتون

غرمه د اوري
لکه شپه د ژمي
یو خاموشي
او قلاره خوره ده
د کور کور کوکو
او چپ چاپ عالم هو
وخت خپه نیولی
په رکاب سور دی
دُنیا دِ خپل زړګی ته غوږ نیولی
د مرګ او ژوند حساب کتاب اوري
فضاګانې کله یو مسکي توب شان دِ
لکه په خوب کښې څوک رباب اوري
او زه یواځې
په خیالونو کښې ډوب



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ خپل ارمان
تلاش کښې کړ ځمه
يو روک
مجبوره
مسافر
يم روان
په مزکه پروت
په آسمان کړځمه
ما دِ هم خپل زړکی ته غوږ نيولے
دژوند څه وجه څه نساب لټوم
دردله اومرګ له څه سوب(*) کودم
ابد کښې خپل دهوش حباب لټوم
دَ ولے ولے
په درياب کښې روک
جام کښې شراب
او په شرابو کښې
په سُور کتاب کښې
دجمات دتاخ

(*) سوب : سبب .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مرګ اوږوندله
یو تړون کوم
چپه چپیا
او خاموشئ
کښې زه
شرنګ دستار
د تال مضمون کوم
چاپېره رنګ کښې
شنو کمترو کښې
ځان له جواب د څپل جمدون کوم
زه لیونی یم، لیونی یم، د ښتیا
په میخانه کښې افلاطون کوم
ځان ته چه سترګې م را واړولې
بس
مرګ
او نیش
وړو ینه
زه لیونی یم، لیونی یم د ښتیا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمرګ په سترګو کښې جمدون ګورم
غږمه دَ اوري
لکه شپه دَ ژمې
یو خاموشي
یو قلارے خورد ے
چرته کښې لرے
یو بځرے
دَ نور
ستورے ؟
که لرے د صحرا اورد ے
ما ته ورو کو
پلوشو
کښې وائي
که غږ دِ لوې
په سرئ لار خوشته
څه ؟
که جمدون
یو روک



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساعت دِ

دهوش

یو

ابدی

دَ دهٔ . دلدار خوشته

زړګیه ، ځان ټکے که ماټکے

خنکه ځان خلاص دهـر جنجاله کړے

زړګیه ، اے ته زړګیه زما

ځان کښ مشغول او ما خوشحاله کړے

خوستانه منم

غرقیږمه

سم ، په رښتیا

لیونے کیږمه

د اضطراب په تور دریاب کښ زهٔ

اوس سرسری یم بیا ډوبیږمه

په تورو ویرو کښ ګرکیږمه

دلته په خپل اور کښ سوزیږمه

په جمدون تورے خاورے کیږمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپلو وینو کښې ډوبېږمه
غـرمه دَ اوړي
لکه شـپه دَ ژمي
یو خاموشي یو تلاره خوړدے
چرته کښې لرے
یو بخـرے دَ نوره
ستورے ، که لرے د صحرا ور دے

ماته وړو کو پلوشو کښې وائی
که غږ دِ لوئے په سر کے لاړ خوشته
څه که جمند یو کو ساعت دِ دَ هوش
یو ابدی دَ ده دلدار خوشته



A .S.K B

# کاروان

یو نیم ژوند دک د مستۍ وی، یو سهروردی چه شړنګیږی
پړدې توله په خپل ځاوی، پاکې ښې په سرغږیږی
هر یو تار مست بورا وی، چه کلونو کښې بونګیږی
هر یو تال یې جنت په توا کښې، زیروبم یکښې ګډیږی
خوشحالې په چوړلکونو، په شادولو[*] یکښې دانګی
یو هوش مست په خپل سهږرکښې، د خمار په تالې ځانګی
یو نیم ژوند خوږ او بې نوره، ګډ په شلوخیږ[**] روان وی
هر قدم یې یو تیندک وی، تور په غم کښې کل جهان وی
هر آواز یې د درد چغه، په خپل اور کښې بندیوان وی
د آرام په ارمان سوی، لکه غرځته میدان وی
د غمونو سیلا بونو کښې روان یو کنګهر وی
په جلدون دوزخ کښې پروت، نیم ژوندی او نیم مړ وی
یو بل ژوند د شمعې ژوندوی، لا به مری لا به سوزیږی
هله نور او رڼا راشی، چه په سر یې اور بلیږی

(*) شاه دوله، یو دول ملی نڅا ده. (**) خیږ: پښو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ے یو اور دی سوز دل کړی، لاس د ځم پہ سوزیږی

پل د ښمن د بل غلام وی، ځان سوزی بل تہ څلیږی

نہ نور دَ دہ انعام دے، دَ قسمت گوتو ورکړے

نہ اور د دہ جملون دے، چہ جملون دے لگولے

ومرہ قسمہ دَ ژوندون دی، خو بیا چہ د آدم دے

وک پہ یو ځائے کښں لږ لوئے دی، څوک پہ بل ځائے کښں لږ کم دے

د کاروان کښں قتول روان دے، کہ راندہ دی او کہ سم دی

وک پہ چغو څوک مسکی دی، څوک خمار کښں څوک پہ غم دی

فلہ یوہ روانہ یوہ لار، یو مے منزل دے

ترمخکښں څوک روان دے، سپین مشال دے اوربل دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه کېږي

چه په خاخلکي کښې مستي د دریاب راشي
لکه ویر کښې سُر او رنګ د رباب راشي

صحرا لاړه شي سمندر کره خندا له
او چینې سره یاري له سراب راشي

لکه غم د خوشحالئ کره میلمه شي
یا په مرګ قربانيدو له شباب راشي

لکه خوند له دا امام د اوربستر کو
په جهات کښې بګل، ساقي، او شراب راشي

لکه اوره . اوبه زړګي په نمر منین شي
او د غرزوره او پښتې له حباب راشي

دا زما او ستا یاري دَ ده عجبه
په شبنم کښې چه طوفان او سیلاب راشي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راکه ساقي راکه

راکه ساقي راکه، شراب نا (+) اورم په کار دے
زړه م تورے خاور ے ها م (*) تاو رانه انګار دے
پرېږده چه نے وڅوم، دا زړه نه دے يو سزا ده
ساز سرور ئے زړګ شو، بس يو قهر بے قرار دے
ده به زه ګرځولم، مُښينولمه، مستولمه
اوس م دينه ځکی، بس تش يو دړهه دے ديوازار دے
ميړنے کنډا شوه، اوس نه تال دے نه شرنګار دے
راکه ساقي، راکه، شراب نا اورم په کار دے
نشته هغه زور سرور ساقي ستا په شرابو کښې
باغ نه ځسن لاړ، رنګونه کم شوو په ګلابو کښې
واچوه سور اور د جام کښې راکه چه مستي شمه
مست ليونے نه شوم هسے شمار شوم په خرابو کښې
دا د خه جهان دے چه م هوش پکښې په دار دے
راکه ساقي راکه شراب نا اورم په کار دے
بهار راغے، بهار لاړه، زمانه ژړنده سوے ګلزار ووُ
يو تباه تالا ګلشن ووُ، په خپل اورکښې ګرفتار ووُ

(+) نا . نه (*) هاهر : بهر - د ياند سے



A .S.K B

یو بې کوره، بې آرامه، سرګردانه مسافر دم
نه زه یار جانان دَ چا دم، نه زملګر ته دِلدار وی
جهان تش د جهان درد وو، هغه ښکلی جانان نه وو
هر نظر چې د سترګو، نوې رنګ نوې خمار وو
زړه م توره ادیره ده، د تیارو تاریکو ښار دے
راکه راکه ساقي راکه، شراب نا، اور م پکار دے
یو بې حسه، دروب قرار دے دَ مرګي ښکلي مکان
که ساوړنې، اور م وړنې. د تیارو دغه جهان
تورو سترګو کښې نشته چرته یو دَ اور بڅرے
یو بې خوده چپ قرار دے، دَ ده کور دَ لا مکان
نه دا سوز، نه دا تالاش شته، بې جانانه فراقونه
ابدي وصال، وصال دے. مرګ دے داسې ښه جانان
دَ ده کور تورے لرے دَ غملونه سپینے دی
تورو لاسو کښې نے رحم په غریب سوي انسان
د ده ملک کښې دروب آرام دے، یو بې خوبه دَ خوب دے
روک جهان، روکې احساس. یا صلیب لیونتوب دے
راوړه. راوړه چې فنا شم، زړه د ژوند م بې زار دے
راکه، راکه ساقي راکه، شراب نا. اور م پکار دے

# دیوداسي

په کوګو وړې کوګوشتکې، توراڼې په تنانه
پچپو چپو مستي به د نسیم چپو راوړه

سحر راغې لکه زیړې، د خندا او د رڼا
غنچې تو لووې مسکا کښې، نن نسیم کښې نشه

وخت یو بل پراو پوړه که، یو بله شپه په تلوشوه
چاکړه تیره د چا غیږ کښې، په چا تیره په سلګو شوه

ملګم تیږ کړه په ناسته، د رنګونو په جهان کښې
هوش او رنګ به م یو ځای کړل، جوړول م تصویرونه

د زړه غم به م ورخور که، د جانکلي په احساس کښې
مړاو مړاوې نظر شو، سوسو نیان رنګونه

کتصویر لیلی جوړ کړم، د شیرین که د منصور
د مړو سترګو کښې نړیم، زما درد، زما خوبونه

تورا و سور دوه رنګه و اخلم، که چنګیز [1] یا تیمور [2] جوړ کړم
د دوی سترګو کښې دا تصویر، زما او ورځمې توپونه

---

(۱) چنګیز خان (۱۱۶۲-۱۲۲۷ ق م، ۲) تیمور خپور (۱۳۳۶-۱۴۰۴ ع)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځ دې رنګ ليونتوب لور ته، يو پرې راغله نګينه

نه ليلى وه، نه شلځې وه، نه هيرا وه نه شيرينه (*)

خيښت نې نه وو، يو ارمان وو چا شاعر خوب کښې ليدلے

مراد وستر کو کښې نې غم وو، خمارې د چا په مينه

هر نظر هر حرکت کښې، ليونې د ځوانۍ تال وو

ټول وجود دے يو سرور وو، يو رنګينه ځوانه مينه

ما نه وے اے معصومې، ما نه او کړو زه څه يم

يو خوار او د بت ريزه، د کمينو نه کمينه

ما وے ته د حسن لورے، ته رنګينه شهزادګئ يې

ستا په يو سوى نظر به، زر تختونه شي قربان

ما وے اے د غم مينې، ته د ګلو بنا پيرئ يې

د ځوانۍ بهار کښې دا رنګونه د خزان؟

ستا د اسوېلي سوځي، سو ژنګه نه دي، ارمانونه دي مستئ دي

يو نه پيغانه، ستا هر ښکلي کښې طوفان

د نازک نياز بين جهان کښې دومره تور او درانه غرونه

د اسره و کلابو ښانګے، ستا خولې دے خزان

نور د شل پرده د پرېنزده، دا پرده د غم کړه لرے

چه خندا راشي ګلشن ته، چه روښانه شي جهان

---

(*) د ليلى مجنون، د لى شلځې، هير رانجا او فرهاد و شيرين د قصو مينې.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بت ته نه ئے د بت وینزه، ستا په سترګو کښې رڼا ده
نه ساقي ئے نه شراب ئے، نه خمار ئے نه جانان

دومره خیشت آز دید نه ئے، دومره مینه بے جانانه
ستا غاښت چه لید نشي، نو روند شوے دے جهان

وفا، مینه او ارمان، لکه نور تا کښې ځلیږي
یو غمګین ارمان بت کړے، ستا د شونډو رنګین ارمان

راځه خوا کښې نه کښېنه، زه هم ستا د ارمان رودیم
ته هم ګل د بیابان ئے، زه هم ګل د بیابان

زه هم ژوند یمه خوږ کړے، درد و لے، ژړولے
ورنه مینه د واړه ژړا ري، غواړي مینے لجانان

ما ته ئے او ګل مسکے شوه. سترګے ئے د شوے له اوښکو
تورخښا د ګل پل راغونډه کړه، ځان له غلے شوه روانه

خپل امید او خپل ارمان ورته ستورے د کاروان شو
دسرو ګلو په تلاش کښې، په صحرا کښې سرګردانه

د رقاصے په قدم کښې، د ګل ښائسته نګے په انداز کښې
یو دنیا د سوز او حسن، هوش کښې رکه شوم مانه

راته ئے زړه کښې یو بل درد، یو رنګین شان ارمان پیدا شو
یو زرین د نور بڅرے د نور و نو د جهانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منم

ولاړ مه وه په اور کښ ماوے اور زما قسمت
لمبې دې قسمت نه وے ولمبې زما د ميّت

نه بخت او نه کمال منم نه توره نه جلال
يو ستا د ستر گو خيال منم او ستا د شونډو وست

نه گل نه دلربا منم نه حُسن نه بهار
يو ستا دَ خندا راج منم بے تاج بے سلطنت

نه چل او نه تدبير منم نه عقل نه تقدير
يو زير دَ سپرلي گل منم ضامن دَ يار دَ بت



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلونه د ورخارې

ګلونه د ورخارې — درنګ ښاښکي ولاړې
سحر په خندا ئیر کړې — ما بنام تول ګي وخفه مراوې
ګلونه د ورخارې
اغښتې (※) ئې سل رنګه — خندېږي ښنګ په ښنګه
سحر ځواني مشرنګه — او ما بنام ولاړ وي ژاړې
ګلونه د ورخارې
ځواني د یو سحر ده — چه ون دیوے وهڅے
بیا هم مانه نژان دې — چه هر سحر خندان دې
اونږ یو پوسته غم ته — دلته ساعت تور تم ته
آدم داو بنګو نوم دے — په ګلونو پسے ژاړې
ګلونه د ورخارې
څه ښکلے ښکلے خاندې — رنګینه دې تابان دې
بنا ګست د ګلستان دې
غني ورته همیش حیران حیران تان ولاړ دې
ګلونه د ورخارې

---

(※) اغښتې ...



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څمه، څمه، څمه

په رڼا باندې مئین یم خو، تیاروته نه یریږم
که پښېمان په ګناه نه یم، په خوږه غاډره کېږم
پروت تخم وم، نن ګل یم، سبا بیا به خاوره کېږم
زه د بادیوه چپه یم، په صحرا په باغ تېریږم
کله باد کله باران شی، کله اور کېنې او سوزیږم
خوږه څم به مخه څمه
که او دریږم مه رو کېږم
چه ورپېښ شم په کلونو، کړم څوکې دعطر دکه
خو ره مه ئې چا پېژو، ورته خاندم خوشحالیږم
چه د رنګ په جهان ورشم، یو رنګین د بو دنیا ل شم
رنګا رنګ رنګین جال کېنې، سپینه شمع شم کډیږم
چه د مستو په محفل کېنې، په ساقی او په جام ورشم
لیونۍ شانې خمار شم، په خوبو نو کېنې خوریږم
چه جهان تیاره تیاره شی، او رشی تندر شی عذاب شی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پښتون د پښتو غږ شم ، نه یریږم نه نړیږم
چه د علم په جهان کښ ، د اوښیا رو خواکښ کښینم
هم مغوی پورې خندا کړم
هم په خان پورې خندیږم

په فکر و نو لیو نے شوم ، په لټون ، لټون شوم ستړے
خو آخر د غے له داغلم ، نه پوهیږم نه پوهیږم
خوزه څمه څمه څمه ، تل روان یمه په مخه
یو مقام ته ور روان یم ، یو مقام ته به رسیږم
او په لاره چه څه راغله ، که تیاره وی که رڼا
زه رڼا کښ یم خوشحاله
خو تیاره نه نه یریږم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو تکے

دا لکه زړه ګټاه، مونږ دا یو تکے زده کړے
که تک تور وی هم خیشته شی، بار چه ستا د زخال شی

خسته خسته زکخسته، بے دره که بے زبان
د کلال کوزے چه وشی، د کلال د ستر کو خیال شی

یا د چاوره دیو که، یا ګلاب کوتو کښ جام شی
د خیام لونګین خیال شی، د ساقی رنګین جمال شی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باميان

يو خوا د قدرت جمال ، بل خوا دَ انسان کمال
زه يې ليونے کړمه ، چار چاپېره نور دے
نه دِ باميان(*) نه دے دا ، دا خو کوه طور دے
دلته د فطرت کمال ، دلته دَ آدم جنون
دواړه په ضد شوي و ، جوړے کړه تر خه افسون
هر خوا چه دِ لاړ نظر ، غرونه ، نا ، کلونه دي
هر غږ دِ درياب دَ رنګ ، يونا په زرسکوڼو دي
بل خوا دَ آدم دَ ژوند ، مينے او ايمان قصه
هر غار کښې نغمے د عشق ، هر خوا دَ جانان قصه
هر يو غار کښې پروت خاموش ، ساز يو دَ نورو نو دے
دا روک او ويجاړ جهان ، کور م دَ نيکونو دے
دے تالا جهان پسے ، دے دَ پښتونستان پسے
دے تباه دوران پسے ، دے شهيد جانان پسے
دے سوي ګلشن پسے ، دے روک ګلستان پسے

زه د زړه په سرو وينو ، ژاړمه ژړېږمه
زه چه دَ تَه کومه ، ستا لمبه سو ځيږمه

(*) باميان د افغانستان په [illegible] يو ولايت دے چه [illegible]
[illegible]



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپرلے

اوګوره جانانه د تیارے نه رڼا جوړه شوه
نوے سپرلے راغے د ګلونو دنیا جوړه شوه

زمکه لکه شاړه اَبۍ بوړه، وړه که سپوړه وه
چرته مروړه مستي تلې د خپل کوره وه
یا ئې غُټۍ نه وه په هر بوټي د مرګ سوړے وه
شرنګ د ژوندون غلے، میخانه ئې تشه توره وه
یا ساندې او اوښکے، یا تے سپینه خندا جوړه شوه
اوګوره جانانه د تیارے نه رڼا جوړه شوه

یا جهان د ارمان وو، یا رنګین نشه رنګونه شو
مینه زوے مسکے شوه، په خندا وریته ګلونه شو
مست شو ساقي داسے، کل جهان ئې مست بے هوښه که
هره سا امید شو، هر نظر کښې خمارونه شو
هر قدم کښې تال په هر خُلے کښې مُسکا جوړه شوه
اوګوره جانانه د تیارے نه رڼا جوړه شوه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا سپوږمۍ کاسیره شوه ، په سترګو اشارې کوي
بنګلې ، نوې مسته ، شرم شرم کښې نخرې کوي

مرخوا مینه مینه ده ، شرینه ده ، رنګینه ده
رنګ اد حسن یو شو ، مست شو خاندي مسخرې کوي

خوب نه جوړ خمار شو ، د فراق نه لیلی جوړه شوه
خاندی غني خانه بیا دِ ورانه دنیا جوړه شوه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماښام

اوږنځیه راغله په ماښامی کښې
څومره غمګین خدایه دا تور ماښام شو

اوګوره سازبیا . مهین مهین شو
رنګین رنګین شو . راښکلے دام شو

هوس ئې لږ شو . شو ده زړګے بیا
خان کښې رنګونه دَ مستئ ګوري

زه په ژړا شم . چه ورته ګورم
دا ژوند څومره لاهو تمام شو

دخوانئ مشرق اودَآسمان تنده
زوړئے مزه کا . اوړئے مزه کا

زه سم راویښ لا . نه وم دَ خوبه
چه نمر زیړے شوا ورو ماښام شو

نظر کښې لیږے زړه کښې ارمان
خود کښې خوبونه دَ بل جهان

دغه بوڅونک ازغی م لاس کښې
نیم دساقی دی نیم دَ امام

خه دَ خودئے ته کئ[1] مستونه
سوزئی وریتی م داخپل اوږونه

ما ځویه خاڅکی خمار کښې ډوب که
خانه سجانانه . اوچت کړه جام

خوره بے خوده هغه سروړه
چه ستا علاج دے . نشه په جام کښې

ناپیمانه[2] کښې دَ ساقی شته دے
نه په خنداکښې دَ دِلا رام

خو راغله اوږنځیه او ساز مهین شو
امید روښان روښان په تور ماښام شو

راکه چه وځکم اولیونے شم
دَ نن ثوابئے تول دَ خیام شو

(۱) کی: ګوري . (۲) خان خانی خانی - نه ه د - نا - په بنهه را وړی دی .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپوږمۍ مُسکۍ شوه

سپوږمۍ مسکۍ شوه وے دا، تول دَ خه کړے،
مینه کښ مره، څوک تلل نه کوي

په سؤ بهار کښ دګلونو حساب
خاندۀ مستیږه او چرچے کوه

دَ دے لګها سوالونو دے جواب
څه کښینه کوده دَ دَ غاټچے کوه

دَ زړه وطن کښ دَ سرلاړه نشته
دفکر تول، لکه بالول به څه کے

دَ یار حساب دَ خپله یاره نشته
سپوږمۍ مُسکۍ شوے وه دا تول دَ څه کړے

خاندۀ سپرلی کښ خوند تڼل نه کوي
مینه کښ مره څوک تلل نه کوي



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چینجی

پسې مې د بابا کړې امیدونه د خپل ځان
کړه جوړ مې ځان له کور
یو باغ تې نه چا پیري په کښې میوې د کل جهان
ګلونه ډېر لور

په هر قسمه میوه کښې نوې نوې قسمونه
انځر وو که املوک وو، که انار وو که بادام
عجب عجب نمونه، لا عجب په کښې خوندونه
خرما هم ثوابونه، جنتونه په آرام
څو کاله مې خدمت ورله د کور د سرې وکه
ما وې ددې بدل کښې به میوې خورمه مدام
ما وهم یو آشنا ته به ډک د شکو رونه بڼ دمه
سه شوې په غوږو کښې کړینلې کچه بادام
یو کال ئې خه خپې او ایشار غوندې شروع کړې
چا دوه دانې چا شل او چا په مخه انبارونه



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل کال نے نقشے جوړے دَجنت دنظاره کړے
هر خوا ته بس کلونه او ګلونه او ګلونه
سپرلے نو جنت دَ یار وعدے دَ وفا کوے
هر ګل یوه وعده هره غوټۍ دعا سلام

باغچه دبوټونه ده، منارده ده دَ امید
هر شاخ دمیوو ډک دیار دَ مینے وو پیغام
چینه وه، که چړه وه، بابا سیند وو، که لښتے وو
هر ښاځکی دَ او بو کښ راز د حُسن و دوام

هر ښاځکی دَ او بو کښ رنګ دَ حُسن دجدون وو
ارمان د مشغزن، د رخسار چین ماچین او شام
او دا فصل نے کوره، دکلونو نه میوے شوے
او ل نے د خمار بیا دَ طاقت جوړ که نظام

چه ستر کو ته رنګونه وُ، نو ژبے نه مزے شوے
هر څوک پوره ساتی که وی خیام او که امام
او دائی ملاجان، شا به که او باسه شکرونه
دا شکر خوزنا نیکه هم نشی پوره کولے

رنګونه او ګلونه، ته بخښے خوجها نو نه
خوزه وه م خو تکنی دے ده، او مضبوط دے په بر نے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اے د ښاخکو ته ستا مځاڅکے دریابونه
سینلونه ستا بیشماره، زه بس لږ شم دِ کولے
او ستا په سخی دړ کښ خوورېږی امبارونه
دِ تشو په کچکول د سرو مهرونه دِ لګولے

راواوره غنی باغ ته دا په کمه باندے لاړے
میوے چه دِ بخښے شوے نو په چا دِ اوخوړے
او دا څنګه میوے وے چه کړبوړی دنزی شو
په خټ دِ لګیدلے دے ګړ منړے زیړے

هغه ګیاره واوره چه میوے په بخښیدو شوے
او ښکلے دا سے ښکلے وړه ته صبر کول ګران
په وَنو کښ پیغلو کو دَ وصال سترګے وهلے
په مرګ پورے خندل وه، ګډیدل وړه ته خزان

نو راغلے پرګنیی . یاره پهرنګه کښ دېرښو
په رحم کښ داکوان، دَ غلا او چل پروفیسران
په ناکو په پټنګو، په هر ښیز وړه حواله شو
دَ ددی په کور اختر مشو. او نها په کوړ تالان
انګر، که شلتالو وؤ، که مه وه که املوک وؤ

دَ ده دَ آبے باج



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډ پوست لکه ریښم خو دَ ښېرلو تېره ډوک وو
او ډېر نازک مزاج
دا زړکښ چه دانه وي دَ ده مور پکښې لښکېږي
نیاز بینه دَ جهان
دا اېله، د آفت ختم ئې میوو بانډې غښتېږي
دَ سیلې نوابان
سړي مِ وړخواره کړه ما وې غوارم د اساعت
بابو صیب دَ داره
که آس، که موټر غواړې، پکښې زړکي دا رخصت
سره دَ چکاره
سړي به تله راتله دَ بابو کرم وود کا ن
منّت، زارۍ، سوالونه
دے مېنځ کښې لکه ناوې تر چاپېره باغوانان
کول ئې منتونه
بائیسکل به تانګه کښې، کله بس کله موټر کښې
سړي به م روان ؤ
منّت ئې منځ پرته، سبب ډېر لے نواب زاده ؤ
مونږ ته ئې نعیم ان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخرم وے سړیه د روپو نوټونه یوزے

دافضل ربانی دے

ایمان نے بس په دغه شین تصویر د خیل بابا دے

سوچه پاکستانی دے

چه داغے بابو کل، په رنګ او فکر ښایسیږے دو

پوره په کمالو نو

په عقل لږ میخین دو او کر بوړ و کښ نرے دو

خوښکلے نے پتلون دو

چه دار مدار وشوے، د ښه وایه کنه خان

چه تا ته څه تکلیف دے

قسم دے په کار موشو، کرم کوخی افسران

خو زمونږ سړے شریف دے

په خُله خوږ د ګلو باغ دے　　په زړه سخا لکه ويران
غرمبيده لکه زمرے کړي　　غريده لکه حيوان
پنجے د وبے په سر د وينو　　سرے بره په آسمان

ماته وی چه ځوانه راکه　　ستا پښتو توره او ننګ
راته وی غيرت د پريږده　　شه زما د در ملنګ
وی سر ټيټ کړه کنی کرم به　　په تا مسلک د الله تنګ
وئی زه اوښيار لکه ابليس يم　　زه خونخوار لکه پلنګ
ته راکوز شه ښکته کينه　　ساله را د يار پالنګ
يا ما خدائے که سجده او که　　يا زما او ستا دے جنګ

وی دا ټوپک زما لاس کښ　　ستا د ژوند اختيار زما دے
ستا خمار غيرت او مينه　　د دے ګوتو ښکار زما دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داشمله دننګ کړه تېته — دېر تېره عوزار زمادے
دفرعون چنګیز وار تیر شو — اوس را غلے وار زمادے
شه غـلام دَ دے غلام — په ده دېر اتبار زمادے
خاوره خته کښې پراته دي — چه خوړلے وار زمادے
که زما شوے زما خوانه — ګوره دا د زرو تخت
پاس په دِ دَ پاسه کینه — خوشحالـېږه په خپل بخت
داجامونه دَ شـرابو — مسندونه دَ زر بفت
داسپرلے دا پیغلے مستے — ستا دَ سپینې خوانۍ وخت
داجنت د عیش اوزور — بل خوا اور داوره سخت
خوانه زه ساقي له وړشه — کړه داسرو سینه بالښت
رټه خنکه سودا کردے — خنک ژوند دکرم جهان واخلم
خنک نظر دسترکو ورکرم — او چشمے د مرجان واخلم
خنک بهار اوسپوږمۍ ورکوم — دلا لونو دیران واخلم
ددکسه دطوق بدل کښې — خنکه دين اوايمان ورکوم
دَ ديار دَ يرے خنکه — بے خودي او جانان ورکوم
دا دنور او مستۍ ډک سر — په سجده کېږدم غلام ته
دَ قصاب دَ چيچرو مينه — خنکه او بنا يم خيام ته
خنک دبل دتا لي پاتے — کرم چوکه د مستۍ جام ته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خنک دلدار په دنیا ورکړم — رقیب او خېژوم بام ته
د جانان خښته سر ښکلمه — د فرعون په پښو کېږدم؟
نه د لیلې سودا کړه — تا د سرې وینې غوړنګ
په تیت سر باندې نه ښائي — دا زما شمله د ننګ
د سرو زرو تخت قربان شه — په آزاد کنډ د ملنګ
تیتو سترګو کښې او چیړې — د سرو او مستۍ رنګ
ستا شراب د زهرو ګوټ دے — خلاصول کړي د ایمانه
ستا ساقي د څکلے دمه — په دوه نیمو پیسو ګرانه

---

زه روکېږه سودا ګره — لیونۍ مونږ د دلدار یو
ته ئې اورې دلالو نو — مونږه اورې ښکاریو
نه ئې دم نه ئې دارو شته — مونږ په داسې زخم بیماریو
ته مغرور په خپل زور ئې — مونږ په مینه کښې سرشاریو
راشه اوګوره فرعونه — دا دوهه د ملنګانو

په دے خاورو کښې خوړې دي
کبرې د بادشاهانو

---

غني
مرګ پور جیل
۱۹۴۷ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوګل

دے کوګل کښې م د ننه ‌ ‌ ‌ ‌ هم دوزخ دے هم جنت
دے کښې قهر او غضب دے ‌ ‌ ‌ ‌ دے کښې رحم او راحت
دے کښې پروت یو سمندر دے ‌ ‌ ‌ ‌ د نشے او د خمار
دے کښې پروت یو تهتړین دے ‌ ‌ ‌ ‌ د لمبو او د آزار
دے کښې پراته دي دوه رنګه ‌ ‌ ‌ ‌ د سپرلي او د خندا
چه یو برق نے پوره جهان کړي ‌ ‌ ‌ ‌ د مستۍ او د رڼا
دے کښې پروت دے دوه رنګه ‌ ‌ ‌ ‌ د تیارے او د ژړا
چه یو اور نے تور لحد کړي ‌ ‌ ‌ ‌ د خندا ډکه دنیا
دے کښې دوه شجاعت دے ‌ ‌ ‌ ‌ چه د ګل جهان مرګونه
یو نظر کښې تار په تار کړي ‌ ‌ ‌ ‌ لکه باد د وړې بوسونه
چه په یوه بانډه راشي ‌ ‌ ‌ ‌ زړه غټ (٭) دے د منزک
داسې رپي داسې تبنستي ‌ ‌ ‌ ‌ دا او بو ښاخکے تے کلک
او چه کلک شي دا کلک دے ‌ ‌ ‌ ‌ لکه کاڼے د فولاد
نه پرے زور ترے اثر کړه ‌ ‌ ‌ ‌ نه پرے زور کاله فریاد
دے کوګل کښې م د ننه ‌ ‌ ‌ ‌ هم دنیا ده هم قیامت
دا هم لاړه هم کاروان دے ‌ ‌ ‌ ‌ هم تدبیر دے هم قسمت

---

(٭) ښتے : سړي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروت په دے کښې قول د داستان دے    دَ جزا او د سزا
خور په دے کښې لوئے جهان دے    دَ وصال او دَ وفا
دا هم باغ دے هم خزان دے    هم بلبل دے هم بهار
دے کښې سره نیازبین گلونه    او د شنو اوبو شړار
دا هم زهر هم زقوم دے    هم گبین دے هم نبات
دا هم تور د مرگ غار دے    هم چینه ده دَ حیات
ده کښې پروت داسے شراب دے    چه یو څاڅکے د مغے
په بد مستئ او سرشارئ    کړی دا واړه فرښتے
دے چه څوک په بره درومی    شی جبریل ورته حیران
چه په بد و باند راشی    امان او غواړی شیطان
عجیبه دیم جوړ کړے    اے زما خدایه عجیبه
بے د تانه نور دَ هر څه    دَ همه یم مرکبه
دا داوړ او نور دریاب    دومره لوئے لکه آسمان
دومره روکے لکه څاڅکے    دومره لنډ لکه یو آن
دا قصه دَ سوز او ساز    ولے ولے څه له څه له ؟
خیشت او غم راز و نیاز    ولے ولے څه له څه له ؟

غنی
حیدرآباد جیلخانه
۲۳/۹/۴۸



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جناب شیخ

زړه ډې ډک دے دَ خپل جانانه — په کښې ځاے نشته دَ یار
دا سے ډک نے د نیکونه — لکه ډک دَ مرو بنار
د وار و ستر کے ډیرے ړندې دی — دَ بل بد دَ خان ښه وینی
تل آئینه کښې ځانته گورے — د یار نه وینے سینگار
شُنړے سترگے اوز کارے نه دی — چه صفت دَ آشنا وکړے
د خپل نور قصید سے واے — په کوخه کښې دَ دلدار
دا سے ته په نیکے مست ئے — لکه وو فرعون په زور
د ریا ښه دېره تاو دی — لکه لوے او تور حصار
چه په بل کښې بدی وینے — خو مره زړه ډیشی خوشحاله
دبل خیشت د ته غلا ښکاری — ستا د تور تاریک جماله
دا شکور رانده چه وینے — چه د غرے کړوی غُزیږی
دا م ستا په شان روان دی — دا چه پریوزی او پاڅیږی
دا چه ته ورپورے خاندے — دا مجنون او دا ملنگ
ستا قبا د شنو رینبمو — او دَ دوی شلیدلے لنگ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هم زوی دے د آدم
د الله د کوټو جوړ دے

خو که ډوب دے په تیرو کښې
په شرابو کښې شور پور دے

دے هم غنی په چغو چغو
دے هم غفلته روان دے

ته چه ئے د کسم په طمعو
هم هغه دده مکان دے

اے چه ډوب په فضل ډوب ئے
اے چه بره ځے خوشحاله

دده شور چغے هم واوره
دا هم ځان له وئ هم ناله

دا چه دے پړې پړ غږ پرېوزی
تا ته ښیئ تیندک د لاړے

دا دے دے سرماتے ولیا
ځکه ته روان او ښیار دے

شیخ چلو د نیکو ډکه
گنهکار دے ستا استاد

ستا دعا د خان دپاره
ناله دے د ده فریاد

ستا د ښو دیوه بلیږی
په سینه کښې خان دپاره

دده سرے لیمبے داوردی
د همه جهان دپاره

دے تصویر دے د آدم
د ختو او پریوتو

او په سوو وزرو نو
د پتنگ د الوتو

غنی
حیدرآباد جیل
۱۹۳۹ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاریخ

دخوبانو سره مینه
د خوراک د زړګی وینه

چه د بانے وی تندی کښ
تل به رخ وی ماه جبینه

زنګ وهلے توره چړے
تویوی نه سکے وینه

قتل عام د مخے کار دے
چه ځلیږی تاه سپینه

د خزان رنګ دسړی زړو
د غنی یاره حسینه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز

شونډو له خوند    اوسترګو له رنګ
پوزې له بوټین    دَ نرګس دَلونګ
زړه له امید او    مستي او ارمان
غوږ له سرود او    شنا راو شرنګ
ماله سرور او    جمدون او نور
دا څو آوازه    دَ ژوند دَ رنګ
تق تق دَ اوړ    تپ تپ د باران
اَخ اَخ دَ وصال    اُف اُف دارمان
وَی وَی دَجنون    وَخ وَخ دَ صنم
نانا ، اَو اَو    هر وَخ دَصنم
قت قت دَخندا    پرق پرق دَ مستې
شرنګ شرنګ دپانزیب    چن چن دَ لبتی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شړ شړ داوبو — شغ شغ دَ نسيم
بس بس دَ دِلبر — بړ بړ دَ غليم
ميں ميں دَ ډنګ — شنګ شنګ دَ کولئے
قړ قړ دچلم — پړ پړ دَ لولئے
دُم دُم دَ دوړے — تنګ تنګ دَ رباب
غړ غړ دَ پيالئے — سخ سخ دَ کباب
چپ چپ دَ کوکئے — پس پس دَ دلبر
چړ چق دَ تارو — کوکو دَ کمتر (*)
بس بس د آشنا — بد بد ے روان

ايش ايش دا قلم
هاں هاں دا بيان

غنی
حيدرآباد جيل
۱۹۴۸ع

(*) کمتر: کوتر و کبوتر .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب

زوړے م راغے دیورپ د تربیته
جوړ سنبال لکه دَ ناوے پوټه ښکته
تریو تندی پوډری مخ ئے وۀ نیولے
تا به وے وۀ د لاټانو دَ محلته
دَ ډوډئ او دفیشن سره ئے شوق وۀ
ډیر نفرت ورله ورته دَ جماعته
لګولو د پیسو کښ افلاطون وۀ
خو کتلو کښ غریب وۀ بے همته
نن چه ما ورته په فکر نظر وکړ
خرم هغه وۀ بس نوئے وه کته

۱۹۳۰ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اور

ګنهګار یم ګنهګار یم — هم د خدای هم د دلدار یم
بې وفا په محبت کښې — نفس پرست او بې اختیار یم

مینه مینه په خوله وایم — مینه نه لرم حیوان یم
نه م لوظ نه م قسم شته — نه مین په یو جانان یم

چه کم ځای ځواني او رنګ وي — چه کم ځای د ګلګوشو رنګ وي
چه د چا د تمبل ټنګ وي — نو زما د زړه غورځنګ وي

یو مکه د مسلمان وي — د کافر یو بت خانه
مړ وړځ زه بد له ومه — نوې نوې میخانه

هم م مینه ده بې پته — هم ګناه م بې وفا ده
چه م کمه مخامخ وي — زه وېم دا خما لیلیٰ ده

کله لاړ شمه جمات ته — په سجدې په زارې پرېوځم
شل سجدې م کړې نه وي — بیا د چا په یارې پرېوځم

یو سور اور م د کوګل کښې — ما سوزي د نه بهر
نه دې زړه خونه دښې کم شو — چه دا اور دې که سقر

که ساقي د کوه قاف وي — که شراب وي د شیراز
بس پېکه م ترې زدې کې شي — چه معلوم نې کړمه راز



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کہ ماښام وی کہ سپوږمۍ وی — کہ وی راز او کہ نیاز
روح م تنگ لکہ لحد کہ — کہ وی سوز او کہ وی ساز
دا زہ څہ پسے حیرانہ — سرگردان پریشان گرځم
دا زہ کم خواتہ روانہ — پہ باغچہ بیابان گرځم
گنہگار یم گنہگار یم — آدم خور یمہ خپل ځان خورم
خپل ښایست خاورے کومہ — اژدھا یم خپل جانان خورم
دے پہ زړہ د ننہ اورم — رو رو تن لوگے لوگے کہ
دے ضمیر (*) گرہ سوځلونہ — شین چمن لوگے لوگے کہ
دے دا اور مے خوراک کہ — نوے نوے امبار غوارې
نوے رنگ نوے محفل کښ — نوے نوے خمارنے غوارې
دے دغجن یم دے وغجن یم — دا د قسمتہ کوم فریاد
نہ یم تنگ زہ دَ دے اورہ — زہ پہ دے یمہ آباد
زہ بہ دہ لہ خاشاک گورم — کہ باغچہ کہ بیابان وی
زہ بہ دہ تہ لوگے کومہ — کہ خوانی وی کہ جانان وی
دادَ دہ پہ شنو لوگو کښ — زہ اوربل د دلدار وینم
دادَ دہ پہ لمبو کورہ — زہ سپوږمے او گلزار وینم
دے زما پہ وینہ پائی — زہ د دہ پہ لمبو پایم
دے زما وجود او سادہ — زہ د دہ وجود او سایم
چہ د دہ پرق او ښنار وی — ھلتہ ژوند ھلتہ انسان وی
چہ د نیٔ دخا ورو توپ وی — پنلہ خزلہ دَ دیران وی

(*) ضمیرے ، ایرے .



A .S.K B

لیونی یم لیونی یم — نه م سرشته نه سامان

نه په مینه مستے پوهے شم — نه په سود او نه په زیان

عجیبه سبے دوره لار دو — عجیبه پېڅی کاروان

که قدم اخلم غوږ خیږم — که او درېږم مه تاوان

عجیبه غوڼد شراب دی — چه نی څکم لا تږی کېږم

عجیبه من او سلوی ستا — چه نی خوړم لا وږی کېږم

دا په زړه دننه اور م — که نی وژنمه روکیږم

که نی نه وژنم سوزیږم — لوګے کیږم ایرے کیږم

لکه شمع بد نصیبه — لا به سوزم لا به مرمه

لا به خان تالا کومه — لا به تور دریاب ته څمه

بس دے بس که لیونیه — داد ولے ولے باب

جام که ډک سترګے که پټے — تنکوه د خوږ رباب

ور نژدے شه ور نږدے شه — چه د یار شونډے شکرے

رو په مینه مینه او کړی — دوه خوږے خوږے خبرے

تورے سترګے بلیږی — لکه شمعے د معراج

دغه سرے شونډے کښے اورد — اور د غم د اور علاج

په سرو ګوتو کښے جنت دے — که دوزخ دے که بقا دو

وی سوزه سوزه خاندے خاندے — ژاړه ژاړه دا دنیا دو

غني
حیدرآباد جیل
۱۹۴۹ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آدم

عجیبه م وجود لا عجب م خکر
څه بې توکه بې توله دا ستر او سر
یا په بام د حرم دَ مستۍ ترانه
یا په شپه دَ وصال د نفلونو بهانه

یا موسی ته قصې د فرعون دَ محل
یا فرعون ته بیان د ابد دَ اجل
یا د غم د ږبې نه سرور غوښتل
بُت خانه کښې پرقونه د طور غوښتل

کله روح د مجنون او ساقي او پیاله
کله نُسر د خیام او ژړا او صحرا
کله خوب د منصور د رنا دَ وصال
کله شوق د حبشي د کوکې او دَ خیال

کله دوب بې پایانه کوسې د غم
کله هره پیاله کښې صنم صنم



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا دَ ژوند کاکوکښ د مرګ تصویر
یا دَ مرګ ساګوکښ دَ ژوند تعبیر
یا پیغام د فراق په خندا کښ دیار
یا امید د وصال په ژړا کښ دیار

یا دَ جیل کوټکۍ کښ خوبونه دګور
او ایروکښ ارمان دَ رڼا او دَ اور
دا بیخوده دماغ بې کماله وجود
پچاری د مندر او شوق دَ درود

هم غلام د بنایست هم مرغۍ دَ وفا
هم دریاب د تیرې هم مستی او رڼا
بې آرامه ارمان بې قراره نظر
خه بې توکه بې توله داسترګې او سر

یا په بام د حرم دَ مستۍ ترانه
یا په شپه د وصال دنغلونو بهانه

غني
خان پور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه کیږي په عقل

سپین ولېنه دِ تاوکه ستو کې څنه ترِ جوړه کړه
قرض رنګ پر تِوی که قالین جوړ د خپله پوړکه

نه کیږي په عقل تو کل غواړي د چرسیانو
نشته دے کلونه په کوڅه کښې د ملیانو

دلته بنانګو نه دی تالی دی رکیبۍ دی
دلته شراب نشته پیکوړی او زلوبۍ دی

عقل له سرور کښې سره عقل کښې کور نشته
داخبرے ماته م رو رو کړے آبۍ دی

مینه خویږ مینه وی نه سود وی او نه زیان
دلته په کچکول کښې خورے شوے نوابۍ دی

لاړه د هوښیار په کنډو کنډو په دړ دړ ده
مینځ دلوړے ژورے دے او دکه د اسړ ده

داسے آواز کوړۍ چه نه زیر دی او نه بم وی
خوښه نے رباب کښې خاموشی د مقبرو ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبنځ خوارله پالوړ اوصحــــراووپامهاردو
خــرد موسئ ووردے خومین دے په جواردو

کورد طمع ځه دے تورمحل د بلا کانو دے
روح نادے کول په روتکی کښ دپیریانو دے

تن دکباب خوند له اسمٰعیل حلاول دی دا
مادااوریدلے په کوڅه کښ درندانو دے

زور او غــرورنه لوی عشق صبراوارمان دے
سُراوسرورنه لوی سرخان دے اوجهان دے

رحم نه انصاف دے یو تدبیر دے د دوام
هرڅوک ئے پکار دے که خیبوئے که خیام .

شنک وی دنزدنه او روبکے دلوے لوے
دوارهٔ غزئ یوشان اویوډنگے خبرے

دک دظلمه زورهٔ د طاقته د بازپرے
جوړے دمهین اوړنگین بوی دګل وزرے

کومه لا رچه اخلے خو مقام ئے بس یو دے
دلته زرځماته دی امام ئے بس یو دے

خکه لیونے دے مرور شی کـــله کله
بل خواته ورتاوکړی داد هوش تهقه شله



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېوزي په پړاو کړې ېغانه کښې ډېوه بله
خپسې سپينې پولۍ طمع تاڅتي دَ منزله

تاته اور سرور دے يو مار ولے وژني اوکښې؛
اے دسپين او تور ما الکه څه مزه ده تورکښې؛

ولے زما لال وي پروت په خُلے کښې دَ بنامار
ولے دے ګلاب له نه اوربل او نه بهار

ولے دِ بندي که ښاغلے تن کښې دَ ډنډ وکي
غواړے ترڅپے دسيند سازونه دَ اَبشار

ماله مرګ او ژوند دے تاله تش دَ ښځنے ولږے
اور کښې دے بل کړے ولے حُسن الول دے

اورته دے نبولے يم فولاد جوړ ے زمانه
سنه چه زه فولاد شمه نو څه زما جانانه

جسلو فولاد وله جوهـــر وله کمال له
بس خاور ے کېډ دي روکېډ دي دَ دُنيا نه

ولے دِ ورانو لوله جوړ کړے سور محل دے؛
اور کښې دے بل کړے ولے حُسن الول دے؛

ډېره اسماعيل خان
۱۹۵۰ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اختلافات

پلار مې ورک په خپل وطن
زه د خپل وطن نه ورک

د هغه خوینې دې تعلیم
زما خوینې ساګ د پالک

د هغه خوینې دي ځوانان
ټول د قام په جنګ روان

زما خوینې هر ګلستان
هر چمن د لولو ډک

د هغه وطن جهان
دا بې نوره بیابان

زما ملک ښکلې آسمان
د ښیسته ستورو نه ډک



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوږه

چه شي خُله د خوږو سپوږمۍ　　د دنیا خوږه همه
نه ملام ملام یادیږي　　غونزاخي (*) او تتلمه
چه شي خیته ډیره وږې　　د دنیا ګُل خوراکونه
نه په سترګو کښې غړیږي　　سیخکي او کباپونه
چه شي سترګې ډیرې وږې　　د دنیا ښکلونه واړه
ورته ښکلې ښکلې کیږي　　تورې زلفې سپینه غاړه
چه شي شونډې ډیرې وږې　　د جهان همه خوبانې
ورته ورانې ورانې کیږي　　سپینې تورې سمې ورانې
چه زړه کې د مینې سپوږ شي　　تیرې نوې خوشحالۍ
پکښې د نه رَپي رَپي　　لکه ناوې په ډولۍ
او زه یم او زه یم داسې وږې　　په یوه کوکۍ ورکه مه
دا جهان او جنت دواړه　　په دوو سرو شونډو خرڅومه
کښېنه کښېنه لیونیه !　　دا لختته وهه کوکارې
دا مزې د دي نصیب کښې　　چه ته زوی د داسې پلارې

(*) غونزاخي: [illegible]



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر خله به دِ خوږ شي — کښېنه وايه څه کړه

دَ قسمت غا خاوړنے ګرځي — راغورځي کنډ نے ته لوړه

که بهار کښې دي ګلونه — نو ميوے دي په خزان کښې

سبا دغه دے راوخوت — ستورۍ ښکارۍ په آسمان کښې

سره ګلونو شنو اوبوله — بيا به لاړ شے هشتنګر ته

په نر توب عزت به ګورے — خوږه سترګو دَ دلبر ته

بيا په غاړه دَ تالاؤ به — دَ سرو ميو ډک کړے جام

بيا به ګرځے په مالتو کښې — دَ سحر او دَ ماښام

بيا به او ترړے په يوه — برګ او مست هندکي غوايان

بيا به نيسے په جينډۍ کښې — مار مهښۍ او سره کبان

بيا به شور شغرب د ژوندۍ

د يارانو شتے مستے

چپ چپ شه مخکښې مه ځه

ژړا راغله بستے بستے

غني

حيدرآباد جېل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ویش

باغ کښې ځوک ګلاب شي ځوک شي سرې ځوک ورخارې
ځوک د مینځ غنچه شي ځوک کېل د غاړې غاړې
تاج د چا د زرو د چا تاج شي د غمونو
ویش د بل په لاس دی که ته خاندې او که ژاړې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَغم لوَر

لنګه تیاره شوه رڼا ئې راوړه
آدم چه مست شو حوائې راوړه

مرګ چه د خپل ژوند تالاش کښې ووت
ژوندون ئې راوړه او سائې راوړه

توره چه چغه د کفر اوکړه
د مال ئې پیاله که قلائې راوړه

چه اوبنګې سره شوې شراب ترې جوړ شو
چه غم بابا شو خندا ئې راوړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زور

خدای چه پیدا کړ د ځان نه زور
کړل ئې ترې لاندې خیزونه نور

سړی او چت کړ تر نیم آسمانه
بادشاه د هر څه ؤ بې سره زور
الله موسکې شو حسن پیدا شو
طاقت په مزکه پریوت نسکور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بُت

د اشوندې سرې د ګل غوټې — د اشوندې سرې ورې ورې
د اشوندې سرې قطرې د ناز — د مجسم مکمل نیاز
تش او وچو زړه کوته دا — رنګ د مستۍ او ارمان خوري
ما بانده نښې او خوږې لګي — ماته نقشې د جانان خوري
دا خوږوندون مست شوندې — مرګ پورې مسخر کوي
دا خو ګلاب خندا نه کې — بل پسرلي ته آسرې کوي
دا خو د تور مرګي په مخ — رنګ او امید د دنیا خوري
دا خو د مجنون سترګو ته — خیشت او سینګار د الله خوري
پوهې د مدوې د آدم په راز — پوځې په تللو د سوز او ساز
تولې قصې نې یادې دي — تولې قصې د راز و نیاز
دا د عیسې د لاس په شان — ژوند او امید او خندا خوري

"بت" ورته څنګه او وایمه
ماته چه نور او رڼا خوري



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پېژندګلو

هوښيار هغه وي چې ځان کښې خرتوب ويني
خر هغه وي چې خپل ځان ګڼي هوښيار
عاشق هغه وي چې طمع د څه نه که
په شړنګار په مخه ځي لکه آبشار
غوث هغه وي چې له ځانه خبر نه وي
خو خبر وي له ژړا د غريب خوار
چې د قام د پاره دانګي اول اورته
د هغه منم بريتونه کړونه دار
غني هغه دے چې سړے دے بے سره
کله خر کله نقلي کله هوښيار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولے؟

ګل له بنده خانُشت          ستړګو له پسته دنیا
شونډو کښې دابیخودي          شونډو کښې نشه نشه
خیشت له دخپل خان پښان          نور او سینګار او خمار
یار له دخندا په خاے          سپین دسره ګلونو خار
مینے له دَ زور دَ سمندر          زړه دَ بادشاه ورکه
ساز له ره آواز، اثر          خانُشت، تادشنا ورکه
ماله دغمونو ارمانونو          جهان راکه تا
ماله زړه کے پوست او مستانه          او حیران راکه تا
او ستر ګے خمارے دَیار          دحُسن د آرام ډکے
کله د سپوږمۍ دړنا          کله د ماښام ډکے
کله دَ خوانۍ د امیدنو          د اَرمان ډکے
کله لیونے ستا دخمار          او ستا د شان ډکے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے دَ دوزخونو قیامت — او د حساب رَبه!
اے دتورو زلفودلالونو — دَ رباب رَبه!
اے دَ مستوسترگودنرگس — او د گلاب رَبه!
اے دَ مینےحسن دخوانئ — او د شباب رَبه!
اے دَ لولکئ د حُسن — اے دگل دخیال رَبه!
اے د راز او نیاز او — دَ نسیم اود ملال رَبه!

ولے دے دحسن نه
جورکه دا د خاوروښار
خیشت له دپل خان پشان
نور او سینګار اخمار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باچا

بادشاهي دجهان څه کې؟ — خان له وې زياتې غم
د انصاف تلل مشکل دي — څه به ډير کړې څه به کم
خپل غمونه د لالنو دي — دجهان غمونه غواړې
داسې تخت به څه کړې څه — چه پر شپه او ورځ ژاړې
د تهتوانو په حلقه کښ — غټ تهتو مخکښ روان وي
لوی باچا د خدا وړو — د همااو لوڼې حیوان وي
دا دنیا دسپي لکۍ ده — نه نیغیږي نه سمیږي
په وجود توره پیشو ده — چه ئې وینځې لا توریږي
بادشاهي هله جوړیږي — چه نیم لګي شي نیم مړه کړي
چه یو کس د بل په غوښو — دخپل کور کوترې ماړه کړي
د دې ژوندۀ څه مطلب شو — چه یا مرې یا به بل وژنې
دا میوه ګلاب د څه شو — باغ ساتې او بلبل وژنې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رتبه مالا که ډرا کړه          بادشاهي دګل دې
زه به ئے وغورزوم له کوره          لکه سوي به ویران
دا یو دوه ګرې ژوندون زه          په جګړو نشم تیرولے
ددے ظلم په کتوئے دے          رتبه بل کیږده بوغولے
مالا راکړه خو کلونه          یو نیازبین شانتے جانان
یو ورود کے غونډو باغ          او په خوائے سیند روان
چه ئے زه په غاړه ناست یم          په یخ سوری دخرولے
په مزه مزه لیکمه          د مزے مزے غزلے
کله سوال منت جانان ته          کله بد او رد ملا ته
دساغرساقي صفت کوم          دتهیرو دک لاله ته
کله کله تا نه رتبه          د ورو په شان کیلے
کله تور جمدے (٥) امید          کله سوے اسویلے
کله تنګ کله تکور          کله جام کله دلبر
یو جهان کښ درنګ ډوب          دجهانه بے خبره
بادشاهي مغوله ورکه          چه زغملے ئے شي زور
چه په لاس لکه قصاب وي          په خصلت لکه منګور
چه خپل خان ته شي کولے          قرباني د رورو دینے
هم مغلو هم خورے شي          دغریب دغو بنو پینے

(٥) جمده: ژړنده.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج ور لے هغه سرشی　　چه وژل لکه وبا کړه

لکه پړانګ دا اېل خېل کړه　　یرول لکه بلا کړه

تخت هم نه پائی بے زوره　　بے د توري د جلا ده

بادشاهان چه خوړه دین وی　　دومره وی دنیا برباده

لوی بادشاه وی لویه زړوه　　دے په وینو زوو پائی

بادشاهی لکه د اور　　په روتو په سوو پائی

رتبه فضل په مونږ اوکه　　مونږ ساته د دے آفته

چرته غټ خرته په شاکه　　دا د سرو لا لونو کته

سفارش ورته دا وکه
صیب زمونږه د بابته
وے پام کوه د دله خره
غنی ونه وے (*) په لته

حیدرآباد جیل

(*) وے: وهے .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوزخ

دَ آدم دَ نظر تول دے　　کہ دا تور دے کہ دا سپین
دَ آدم دڑ بے خیال دے　　دا سپلنې او انګبین
دا آواز زما دَ ګوتو　　پوست مروند تنکے ملمین
دا زما د خګر لوبے　　ګل اندامه او شیرین
دا زما خودے جوړ کړے　　داوبو شراب رنګین
چاله خجر دَ شرابو　　یو قطره ده دَ زمزم
چاله خجر د زمزم دے　　یو غمګین ما بنام دَ غم
چا ته روکے سپینه شمع　　دَ سپوږمۍ نمره روښانه
څوک پیغام دَ جبریل واوري　　دَ سره شونډې ده جانانه
چا ته سور په وینو تاج شو　　چا ته تور په تیرو تخت
چا په سر دَ صلیب ولید　　چا په سور ریښمین بالښت
دَ موسیٰ پښان څوک سیخ کړي　　په مریت کښ مخ دَ یار
څوک ترے جوړ پره ژړا کړي　　څوک تر حُسن او خمار
څوک د ګل د ماشوم مخه　　دَ آشنا شونډے کړي جوړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپه خوا دنرگس ومنت  چا ازغوګنې دګرورے
لوش نصیبه ښوک ولاړه  په خندا غیږے دیاره
چا دَ ناوے دجورے نه  کفن او شلوو دلدارله
رَبه ! رَبه ! زما رَبه !  لیونے شوم په فکرونو
ښکله خور قهر او غضب کړم  په سپرلی اوسره ګلونو
ښکله غوږ کیدم مُلاته  تو راسے بلبله هیره
ښکله ستا د نور او خیشت نه  بد رنګی تیاره چاپیره
دَ خندا دَ سپین سبا نه  تور ما بنام او لحد جوړ کړم ؛
دَ انسان د مایوسئ نه  سُره سرو ډ ابد جوړ کړم ؛
دَ فقیر دَ تلوسو نه  د بادشاه خمار کړم جوړ ؛
دَ دوزخ داور او زور نه  ستا خایشت سینګار کړم جوړ !
ښکله و منم تا جوړه که  داجهان او آسمان دے له !
چه خیام روان په زور کړے  طوفانونو دَ کعبے له !
دَ مستئ دا دو مره ډک زړه  بس پیدا او وسوسے له ؛
جوړه دِ حسن یارانه کړه  د جزا سزا قیصے له ؛
تا کړه جوړه د خپل خایشت نه  یو حسین یو نازنین
ستا دَ بنګته بهو سوری  هر ما بنام پوست او رنګین
تا خندل چه د ګلاب رنګ  دَ لوګی وزړ یوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په لاس، خیام، په جام کښې — بې خودي او دلبري وړه
څنګه غم غني له ورکړم؟ — د قیامت او حسابونو
کړکه زړه کښې د بلبلې — د سپرلي او د ګلونو
څنګه شال دوېنزے خوړکړم — د لیلې په سپین جبین
د حبشي د عشق لیواله — ښاپېرے کړم د ماچین
څنګه لاس کښې محبوباله — خنجر ورکړم د غماز؟
څنګ ډېرے ګوي کښې ډوب کړم؟ — د مینو سترګو راز
څنګ جهان حسن ډوب کړم؟ — په ریو ښاڅکي د تیرو کښې
او د شمع رڼا څنګه — کړم بدله په ایرو کښې

ربه! ربه! زما ربه!
لیونے شوم په فکرونو
څنګه خړ د قهر وغضب کړم
په سپرلي او سره ګلونو

خانپور خیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیونی

یو ښارے روان کړے د نرو نرو کوخو دے
یو خیالے روان کړے دَ زړګی د تلو سودے
یو نشے روان کړے تکے سوز او تکے ساز
یو عشق د حقیقت جوړ د عشقونو دَ مجاز

یو کوږنے روان کړے د خوږونو دَ رنګونو
د تورو تهترینو کړنګیدونکو شرنګونو
او خاندی لیونی سترګے ډکے دَ مستونه
وحدتے روان کړی د لکها بت پرستونه

او کله لیونتوب فلسفه ګل او صنم وائی
او کله دَ مستئ خبرے د پیرے په غم وائی
سرے پاڼے ګل غوړیږی مخ د شبنم پرے پټوی
او ربل مست خوروی د سترګو غم پرے پټوی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه

زه یم زه یم رنګ سهر او د اوښرنګار زه یم
دَ جانان سترګو کښې پراوے خمار زه یم

دا تعبیر زما دمست زړه د تالاش دے
یار زما د زړه ارمان دے دلدار زه یم

دا زما زړه چه دخیشت او رنګ شي وړے
سپېرلے سره ګلونه راشي بهار زه یم

دا چه زه وشم دمسکو شونډو لیوالہ
لیلیٰ جوړه کړم دحُسن معمار زه یم

دا خوزه دخکر سوز په هوا سور کړم
روح ، مطلب ، معنیٰ ، آواز ، دستار زه یم

چه زه نه یم بے معنیٰ جنت آسمان دے
دَ جهان دسوز او مینے مختار زه یم

دوم د پوی شوم په دے رو کې غونډ ژوندکښ
یار زما کمال ، کمال دَ دلدار زه یم

خانیو خیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوښ

لکۍ دې د خر چوکۍ او غړانګه دې د بېتې
کوږ وږ او وران ویجاړ او دولس ئیم کږه اوچتې

په غوږو کښې عرب ئې او په شونډو کښې حبش
که پاو مې خوک د راچې ورته ته شغ اخلتې

ډیر زیات بې نوره ښکاری ستا په پوزه کښې مهار
دې دومره اوچت سر کښې د پستې نیستې زنار

نصیب کښې دې چنهه شته نه اور بشې نه شلتې
بس لوټې درانه بارونه، کجاوې تغرپې کټې

ستا سترګې د شاعر دی تله د لچک د نواب
په شکل معتبر، معقول ملک ې د نیستې

خندا دې زړه کښې نشته په سنیرو دې تل خوله توره
بوډا په هغه ورځ شوې چه پیدا شوې ته د موره

مستې وچه نوره او ځوانۍ دې بې سروره
غوږونه د نیلي، تش د نیلي د خیال غړه

او زړې دې خپې دې د رنګ د توپ او تله بې خبره
د قبر په شان ملا دې د سرګي په شان مجبوره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته تول ناکام ناکام ئې نه رنګ وینې نه خمار
همت او جوش دِ نشته ګرځه او زړګي تږې خوار

په خیټه دِ ځان ورکه خکه د رب سپکاوے درو شوے
مین په پیکوړې شوې خکه پاتې د جلوس شوے

جنون خندا دِ ورکړه د زوزانو په بدل کښې
د حسن بادشاهۍ کښې د ړوندو دِ جاسوس شوے

تا خیشت د ارمان وکړه بله ننګي کښې د ړوندو
تا ورکړه په تیږو فلسفه د افلاطون

ته ړوړ شوے د خره پرے دِ ښوه رودي دازمړي
تا غږ د موسیٰ ورکړو په ګوړخه د سامري

تا لے د یزید وینې وینې نه مړګ د حسین
په ژبه دِ شراب تراخه خوږه لګي ترې

ته نن په سبا نه ورکے ته نه ئې جوارګر
داخکه مهار تیپ که، ستا د تولو اوچت سر

اے اوښه غټه اوښه، ته نې روکے د میږي نه
لس چنده که زمرے شے، خو ویریږے د لړګي نه

تر مڼې به ویریږے، او ژړیږے او کړیږے
تر کومه چه ونه باسې دِ طمع د زړګي نه

د طمع ستانه ډیر اوچت سر ونه کړم را ښکته
د سپینې شهزادګۍ په سرخوږے د ړمے کته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا طمع مړې او ږغې کاندي ستړي نړې نړې
دا طمع خرڅوي بازار کښې شونډې کړې کړې

دا طمع شهزاده کاندي غلام دکوردَ ویېنې
دا طمع دجنت حور له ستړي کړې بې شهې

دا طمع شهزادګي کړي دمړني سوو نوکره
دا ډیر غمي هیرې کړي، کړي کوڅکه تره نه بره

دا جوړه دعقابه کړې د تور ککوري کمتره
دا زړه نه غم راغونډ کړي او خندا خواني درشه

دا جوړه د کعبې نه کړي منډې د سود او زیان
دا ځل خاورې ایرې کړې مستي پوسي دَ عنبره

دا جوړ کړې دعیسی نه مقتدي دسامري
دَ ده په خپو خوړ کړي نظر و نه دلبري

اے او بنه خواره او بنه بے بنا نُستمه بے جاله
اے او بنه دَ زوزانو بے خبره دَ کماله

ته نه لوبږه او تنده نه سرور ورې او نه ساز
هم دغه دے دا دنبس او د آدم د فراق راز



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرکے

مرکے دِ راشي
چه کلمه نه وس وي

کل به مِ لاس کښې وي
او یا به اَس وي

یا به توپک وي
یا به قـلم وي

دوب به خندا کښې
دَ دنیا غـم وي

چه څه موبخت وي
دو مره به بس وي

مرکے دِ راشي
چه کلمه نه وس وي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کمترہ

د جنت مرغۍ کمترې — د غم درده بې خبره
که سپرلے وي که خزان — ستا وي مستې بازيګرې
شپه او ورځ په تقبقورې — د آشنا په ننداره
د يارۍ مستې قصې کړې — د جمات په مناره
دوه دانې کړې چرته پورته — بيا مستي غوږې شروع کړې
د پيړيانو په کومې کښې — لمغړې د بنا پيو کړې
اے د مينې ليونيه! — بې ګناه او بې آزاره
د محراب د پاسه تاځکښې — کوکې اخلې د دلدار!
خپې دِ مړو ګورو سرې وي — هره ورځ په تا اختر دے
تل نشه نې بې شرابو — مدام خواکښې د دلبر دے
خوش قسمته بې خبره — د دوزخ نه د مُلا نه
د نيکو د ثوابونو — د شرمونو د ګنا نه
ده کوکو له حوريو شوې — ستا مينو که بې آزاره
ستا سره سره نرۍ نوکونه — ډک د خيشت او د سينګاره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دِ جنګ نه دِ غم پښتنه
سوچه مینه بې نفرته

نه دِ چل نه دِ دوکه شته
یاری پاکه بې علّته

الوته دِ مسـم دسیل دی
د مستی د بازیګرو

که باداشې هم پیښې کړې
دَ وږو کوتوتکو

غونډو سترګې دِ معصومې
د رڼا اتباره ډکې

پیمانې د سرو شرابو
دَ خندا دیاره ډکې

کاش چه زه هم ستا په شان
اې کمتره مستانه وې

چه نه غم وې نه ارمان وې
بس خندا او یارانه وې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باویړے

بیا شروع شوے په ما د غم چپے
بیا بے خوبه بے آرامه مے شوے شپے

یو خوا رند یو خوا ساقی یو خوا شراب
بل خوا آلوت کښېنژ زاهد اړوی تسپے

په لوګی دمغه اور دواړه تودیږی
چه عالم ئے کړو جلیا سپے تپے

غنی خوبه د ارمان په لمبو سوزے
خوب وړی دا دفراق سهے تپے

د ځوانئ اختر دے لاړ نکړیز خه کړے
شپه به وی چه په دیوال ئے وتپے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میږے

اوږد کاروان ستا ګرم روان وي
سم په قطار قطار لکه اوښان وي
په هله هله په منډه منډه
شمېر درله او سوه لښکره بربنده
لکه دَ سپي مسے خُله کښې اوړکے
او دَ پلټنے په شان په پرېټ تلل کوے
دمه مېتي په شان هم غل هم نرے
په حکم کلک روان دَ خپل افسرے
دَ خپل نظام تابع لکه انګرېزے
په زړه مضبوط مړنے لکه چنګېزے
ملا لچکداره نرے لکه لښتۍ لړے
خُله دَ کلنګ هسے خپے پټ پټے لړے
وجود دَ درے بله او شپږ پښے دي
نرۍ نرۍ چکے دي کږے وږے دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولاس دیو نشته　　دا عجیبه ده
څه بې توله غونډ　　د معامله ده
د پیدا کړو آفت　　د جمع کړو بلا
لکه د شوم خنبوے　　زمکه کښې واړه دنیا
په هیڅ حیله نه کړے　　لړم خوړے مار خوړے
ته د مچو د ښبرو　　تر سکون اچار خوړے
د سبا فکر کوے　　نوے فلسفی ئے
مستی خندانه کے　　پخو صوفی ئے
یو قدم نه اخلے　　ته بې غرضه
رتب د مونږ وساتی　　د دے مرضه
بس د خوراک له غمه　　لیونے کړے ملام
ته نے د حرص بنده　　ته نے د خیټے غلام
ستا طبیعت د قارون　　د خزانو شوقی
مین په هره میوه　　د هندوانو شوقی
د اسے په دوزخ زغلے　　لکه بګی
اچے د چرګے هسے　　سپینې اګی
دیرا ستکارے ته　　خولا مو کښې نه وے
په سر زمری ورځے　　ژوندے ملخ نه وے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکل جهان صفائی — ستا به تنکه ده
ستا نوکری په ماچین — په امریکه
اوړے او ژمے — منړ پشکال
ستا دغه لاروی — او دغه خیال
دَ پیدا ایښ نه واخله — تر دَ مرګی
تل دغت پناه لانه — کوے زوییږګی
نه دِ پوره کړه — او نه ته موړ شوے
اوږے پیدا اوے — او اوږے زوړ شوے
تاکښ خبرے دیرے — دی زما خوښے
خو صیغ مستی نه کے — په زړګی سیخے
بس منا و منا نے — تُل اوګاوانه کے
بے دخوږلو خکلو — بله سودا نه کے
خو زما خوښے په دے — نور بهادرنے ته

په ماچک مه لکوه
که زما یارے
الله دِ درکړے
دانے بسیارے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وصیّت

کهٔ خازهٔ ښخےمِ په قبروی ولاړے
کهٔ غلام مړوَم دَ حُي تورکړیٔ پړے لاړے
کهٔ ځپلو وینو نهٔ ووم لمبیدلے
په مامه پلیتوئ دَ جمات غاړے
چهٔ قطرے قطرے مِ نوځُ دَ دښمن نهٔ کا
مورے ما پسے په کومِ مُخ به تهٔ ژاړے
یا به دا ننګهٔ ملک باغِ عدن کړم
یا به کړم دِ پښتنو کوځے ویجاړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماښې

دَ ماښامه تر سبا — سرېنده کاږه سرنا
پینه پینه پنگه پنگه — هم خوړل کړې مې دنیا
سپک به وخیږې په تول — دوو دانو سره غوښتو
خوماتې ستا دَ گذاره — خان کړي پټ په خټو بوختو
پچکاړې دِ نۍ تل دکه — وې هر چاله انجکشن
ته به وې ستا باباجي وو — د نوښار سول سرجن
دَ مېږې صوره کوچنۍ کېښ — دِ هم خوله نشته هم خرتم
اوږې دَ خپې دِ دَ جولا دي — نر چوکي وزر دَ ډم
اوږې ده دونگه ډنبرې — باد دِ نشته په لاشه کېښ
وارو زهر دِ راغونډ دي — دَ وکیل په شان پخوا کېښ
نور همه غله د جهان — وې د مال د فصل غله
ته زما د ژوندون غلې — زما وینه ستا خوراک
په زړه سخت نې دیزیلې — د کلاب په شان وړوکې
سر تر خپه سوري سوري کړې — هر سوري کېښ آفت پر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زه داشمه ستومانه
په کټ پرېوزم بے اختیاره

ته به وې تا ته غوړے چا
د پولاو کینبوه تیاره

تک م او باسے دغوږه
پوست بالښت ته رسیدکښ

بیا تمری خپله شروع کړے
په نورو نورو پردو کښ

ستا په طمع گذاره کړم
ځان له ست او سوزومه

ته م شا ته سرښند وے
زه غوږ ونه کړومه

که ریښمین شان مانام وی
سور گلزار او شین چمن وی

چه یاران اوده په ولېنبه
نشه شوی په دیدن وی

په سر خپو د لیلی کیږدے
پلیت وریږے د سپی داره

لیلی وخ اوویش شروع کړی
خوار مجنون پرېږدی ولاړه

که څوک پټ شی په څادر کښ
ته نے پاس کړے پنکه پنکه

چه آخرے پوزه راوزی
لکه شکون د خپل سر نکه

ته پے شغ شے دا پرېوزے
لکه باز کیني په زرکے

حمله پرېږدے په قلاره
چه جلا ترے نه استړے

بنایان لوئے وړوکی څخه کړے
هر څه ستانه په آزار دی

غوان سنا که میښے آس نه
دلکو مالوبے آزار دی

ورکے خاشکے د دوزخ نے
که د شرافت مخ ته

خله زما په وینو سره کړے
بیا پے وے راته سناړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی ملا بابا چه ستایو — قرنیکه په پاپو شل
د نمرود سپین مه کښ لاړه — غاړه غاړه په چل وَل
هغه اور غوریدل په زمکه — کلک ئې ونیوله تشی
چه شروع ئې په یو ځل کړه — هم تیز و نه هم انتوشی
خوګل ئې دننه ناست ؤ — د قول به ئې وزر
هاله ئې پرینبود چه ئې ونبکه — دَ غریب نه کچو مر
حرام توب کښ د شک شته شو — چه کړدَ غې بابا زور ئې
چلولی لکه لومبړې — اوږدې ستړې لکه سپې ئې
لا یوه بله غره دې — د هماو ده عجبه
خان سره ګوزې په بله — نبه تو ده دمنی تبه

را دعا دَ لیونی ده
پاکه ربّه که قبلې
که را نبکې په وار و ماشو
تیزه سوړ دَ مړ سیلې (*)

(*) مړ: امار.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیرے

ویره پیرے دے — امید دنیا ده
دَ شک تیاره کښې — ویره بلا ده
که جوړیده دی — که ورانیده دی
کاروان روان دے — دَلارے تله دی
ویره تیاره ده — او ورکیده دی
امید ژوندون دی — امید لیده دی
دِ دے ویره کفر دِ — خدائے نه منل دی
یو تور دریاب کښې — غوپه وصل دی
لمبې دَ روح — لوګے کیدل دی
په ژوندون ګور ته — ورګوزیدل دی
امید هستی ده — امید بقا ده

ویره پیرے دے
ویره بلا ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آس

# بَدُو

ترپ ئې دهوسۍ په شان — زړه ئې د زمري وو
رنګ ئې د غمي په شان — خيال د ښاپيرۍ وو
سترګې دکور کوړې — غونډه غونډه ئې ښکلې ښکلې
تله ئې دَ نرانو — طبيعت ئې دَ بلبلې
تن ئې د طاقت او د مستۍ — او دَ نرانې ډک
روح ئې د همته وو — ځيګر ئې د مړانې ډک
خوګښ ئې ګړا وه — د ساقي د سپينو خپو په شان
سترګو کښې غمونه — اميد ونه د هوسو په شان
زړه ئې دَ پښتون ووه — په کنده نه په غرا يسار
جوش ئې د غازي ووه — په ځان او په سر ايسار
چه خُله آشنا زما — لاړه چرته لاړې ته
چرته د چاکور کښې ئې — چا نه ودړي غواړې ته
شته هغه دنيا کښې سنه — نوکر دِ لاور په شان
شته هغه دنيا کښې واسنه — شته دَ هشتنګر په شان
چه خُله آشنا زما — چه خوله دې تول عمر

---

(۱) بدو : زما عربي آس وو. دِلاور ئې سائيس وو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه چه زه نه لمې وې تل　　　اوه چه ته وې تل عمر

دغه وو آشنا زما　　　دغه وه دَ ژوند قصه

دغه دَ آدم وجود　　　دغه دَ سمندر قصه

ترپ شو او تم‌پوه نه شو　　　خوب شو او خوب‌پوه نه شو

دوه دمستئ ورڅخې شوې　　　دوه دَ غم کاڼه شو

نه ئې دَ راتلو سبب　　　نه ئې شته دتلو علاج

نه ئې دَ ژړیدو دوا　　　نه ئې دَ ولولو علاج

نه ئې دَ کمولو بند　　　نه ئې دَ زیاتولو شان

نه ئې دَ هیرولو تاب　　　نه ئې دلیدلو شان

نه ئې دسلګو تپوس　　　نه ئې دخندا وجه

نه ئې دَ پرون سبب　　　نه ئې دَ سبا وجه

اې مسته آشنا زما　　　لاړې چرته لاړې ته؟

چرته دچاکور کښې ئې؟　　　چانه وړې غواړې ته؟

څوک به نوا لې دړکي؟

څوک به کوي ستا ملار؟

کوم جهان کښې الوزې

ستا دمستو خپو غبار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

هندوستان کښې دوو تنو منډې راغلې
په کښې خلق خر خوري ایمان په ختمو
بابا وے: غنيَ! سړے شه جیل ته لاړ شه
غنيَ وے بابا لنډے نه دے دَ ختمو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قارغه

تور دې مخ دے غل چکیه — تور دې زړه تور دې آواز دے
سپے نے خیته د کول بس — ستا انجام او ستا آغاز دے
چا تورے که د ماستو وی — که د بچے د کچالانو
که پولاو د خان لاله وی — وظیفه د ملیانو
ستا په هر څه کښې حصه ده — تول جهان اد دے ستا دپاره
یا تورنګ وے یا تغیر دے — نه آرام کړے نه قرار
غل هم غل نے بے غیرته — دیوتی چرګوتی غله
نه دې پرک شته نه دلته — ړک د شوره د چلو له
موتے خیته کښې دپروت — د ننه د حرص تهترین دے
نه د کیږی نه څخیږی — عجیبه دې کښې مشین دے
که د سوتو مخا دیران وی — که اګڼ وی د کرکوړے
که بچے د تورانړ وی — که وی سخا مردار کپوړے
که غریب وی که ماشوم وی — که حلال وی که حرام
ورته ستا کیه کښې د ړ دوی — که سحر وی که ماښام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل مارغه کښې دومره پوهه — دومره چل او هنر نشته
خو افسوس قارغه په تا کښې — د عقاب سره وزر نشته
تش په چل سردار نشې — د سرو نه د مارغانو
دا په مینه مستي کیږي — په مور زړه د لیونیانو
ستا تغار د سپي کونکار دے — یوه چغه ده د لوږے
د بلبل په شان نه ئې — د شبنم د څاڅکي تږے
په هنر که سامري شې — په حکمت باندے لقمان
تل به خورے چیچړے او سوتے — اے جوړیه د آسمان
سره کلونه د لولي دي — ښځے کمرے دي دکړي
یخ سحر د تورانۍ دے — ماخیګر د تو تکړي
ستا حصه ده دغه سوتے — دغه شور او دغه منډے
دا کنځل د خدمتګارو — دغه چخے دغه غونډے

څه که تیز لکه وکیل ئې
خپله وائې د بل ناورے
په مارغانو کښې چوړے ئې
که وزرے د ربّ خاورے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

یاربي مغه مزه که
چه د وار وسیال وي

سړي هم دومره وي
چه خومره ئې خیال وي

شپه به د جنت خدایه
چه د وار و ال وي

څومره چه زړه وي ښکلې
دومره ئې جمال وي

د قام په مینه مسته
کوڅکه لال وي

دا بوټې به همه
خدایه خوشحال وي

چه لاس او زړه وي ورته
د قارون مال وي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چرګ

خوراک کوے دَ سپی — او مسئلے د ملیانو
بانګکونه دَ بلال — او لنګوټے د چنګړیانو
پرتوګ دِ یارې نشته — او شمله نیغه دَ خان
شل شپې دِ ساتلے — خو سحر وانے آذان
په جنګ کښې بهادر — او مستانه لکه چنګیز
په مینه کښې بے شرمه — بے پروا لکه انګریز
او ربوز دِ دَ قاضي دے — طبیعت دِ دَ ملتې
آواز دِ دپنځو دَ نے — او انداز دَ منستر

انجام دے تبخے دے
اے مجنونه دَ دیران
یو روخ به روستے بانګ
وکړے دوډۍ به وکړي خان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بنځې

چاله شراب ورکړي — چاله سرې وینې د جام
چاله خرابانو د پاره — چاله کل انام
څوک په ادیله بانډې — پرې د ماچین واخلي
څوک په چوارنې پسې — دنیا کاندي تمامه
چاله سنه خړ به خوره — بوچن لکه د ګړې
چاله غنه غنه شیخ — رو کړې د اُبو مړې
چاله د لوکي په شان — چسته او رنګینه
چاله د کونټ پشان — توره او مهینه
چاله قتقي کوکاري — ګُرګه زره چرګه
چاله غونډه مونډه — مسته تکه سپینه ګړګه
چاله داسې ستغه — لکه اوچه بکیانه
چاله ړوبه مسته — لکه نوې دوک بیانه
چاکره صابره کور ودانه — درنه مینه
چاکره سیمه کوترۍ — په هر چا چه شوه پېښه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاکره چلی دَ چلی — لوره بده مکاره

چاکره کمتره چه هم — بنځه وی هم یاره

چاله زره خره بیخونده — بی نوره پواره

چاته لک سروه — دخندا دکه والاره

چاله بنه ترسکه نه — چاله بنځوره حلوا

یوله دنیمبوا چار — او بل له مرتبه

یوله خمیره دودئ — پر سمنه پسته نرمه

بل له دمسورو پیتی — کړمړ کړمړ کړمه

ورکره دَ قسمت دی

چاله دیره چاله کمه

خدای دهغه درکړی

چه دی ستا په شونډو سمه

حیدرآباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تیروتې

سقراط(*) د غه ځانے کښې تیروتلے
ایمان دِ واغښت فلسفوله یوړ ه

د غلته ُزک دغلته ُزک شوے غنی
زړ گے دِ خپل په دو سینوله یوړ ه

خیام دغه ستا د مرګ دو ساعت
چه خپل سرور دِ صراحوله یوړ ه

منصور خکه خو په دار او ختے
چه دَ آشنا راز دِ حجروله یوړ ه

دا ظلم ظلم دے زما جانانه
چه دِ مرګ خاورے کیلو ته یوړ ه

(*) سقراط د افلاطون استاد مشهور یونانی فیلسوف او حکیم



A .S.K B

# زبرګ

چه دې وس د باده نه وي　　څه به ته څه به ډېنه وي
توبه هسې د شرابو　　چه شراب درته پراته وي
چه باده ها شتې خانګړې شپه　　بیا توبه توبه د څه کړې ؟
هغه شپه د باده وباده وي　　د ناکامه چه ته شپه کړې ؟
مُلا ناست د تکړو شکور ته　　وي رندانو ته خراب
غریب څه وکړي حیات کښې　　نه معشوق شته نه شراب
دا چه باغ د ګلو ډک وي　　مستانه غونډې ما بنام وي
دا چه سرې شونډې د ساقي دي　　په سوړ الاس نیولے جام وي
دا چه تاته ر سې ستړې　　غلے وواي سلام
په مکیز دې زړه کښې بل کړې　　د مستۍ دوزخ تمام
او وي راشه راشه یاره　　وخت د کړنې خبرې دې
بیا دې روښان د اوږدې　　پستے لیچې کړې چاپېرے



(c) ketabton.com: The Digital Library

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځله دِ ځلې ته کړې درپوره — شونډې سرې تو دے بیهوشه
لکه بله ډیوه ږلې — دخوانۍ مستۍ دجوشه
سینه دروړې سینې له — دَ مخمل هسے ریښمینه
د ارمان او مینې ډکه — دنرګسونه نیاز بینه
او ستا وجود پوسمندر شي — د طاقت او دَ سرور
ذره دِ واخلي هغه اور — چه هم اور دے او هم نور

ته چه دغه وخت اوچت شې
ـ شې جمات کښې په ژړا
لیونے وائی قسم دے
یا خو غوث ئے یا مجرا

غني
حیدرآباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګُلے وړے

راشه راشه ساقي راشه — ډېرے ډېرے مالا ډېرے
په ما باندے بدے لګی — ستا پخے پخے خبرے
غنته پګه دِشه خاورے — عجیبه ته خناورے
ته دَ مینے بے خبره — ته دَ حُسن نه منکرے
دا محفل دے د رندانو — اخوا اخوا لرے لرے
د شرابو د څکونه دی — ستا ترخے شونډے ببرے
ورشه د غاټه خيرآت دے — تا لئے تول اينبے دے لرے
د کُنجۍ په شان خورے که — په مردارو دِ وزرے
ساقي سترګو کښے مسکے شوه — بیا ئے دَ خیال کینوے وزرے
په تُل مسته مسته راغله — سرے پاپڼے نے د کمترے
ستا اووه وارو جنّته — دَ دے یو د ناز نخرے
ستا څلوینت زره کتابه — دَ دے دوه خورے خبرے
ستا دعاګانے اوږدے دحورو — دلته سرے شونډے شکرے
تاله قرض زه ملّو ډېر کړم — دا راکړے پرے ماغلرے



A .S.K B

ماشوم یم(٥) چه جنت پرېږدم — ستا د سوړ دوزخ ډېرے
جانانه میخانه ورکړم — واخله ستا ګندے دے
ملا تا ښکلے نه دی — نورے سره ښونا کافرے
ستا په غېږ کښې نا ستے نه دي — د کالوړو کے کمترے
د جمات په چارچونی کښې — یا ده وه پرده تورسرے
ډک ګلزار کښې ته ولاړ — په ډیران لکه دخرے
اوږے ستړے اوږے خیته — بد قسمته بد نصیبه
خیشت او مینے ته شکوړه — او په زړه په روح غریبه

راشه راشه لیونی له
جام او چت که مسلمان شه
د رندانو په مذهب شه
جنتی په دے جهان شه

حیدرآباد جیل

---

(٥) یم : سه یم



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کړې وړې

مسلو مِ زړګې دروند که یاره ماته بګټنې شه
نور دردو تو تاب مِ نشته پراته شه چپاتنې شه
دا اوږدې اوږدې خبرې داواره واره فکرونه
دَ ملګې هاغې دَ کوګلو نه یم ماته مې تنې تنې شه
رندوسترګو د پتنګ نه دَ نورونو قیصې مه کړه
پتنګ لمرته کتې نه شي ډیوګۍ شه موم پاڼې شه
ماته ماشیه: قیصې ته دهاتیانو دَ تول مه کړه..
بس په دغه خانې نې پرېږده بګنې شه

A .S.K B

# عجبه فلسفه

زړه مې واچوه په تال کښې — دَ جمات کوټې له لاړم
دَ مُلا په خپو مې کېښوده — ماوې دا مې صدقه ده
دا چه څومره زه پوهېږم — په "طٰهٰ" او په "یٰسین"
دا چه څومره ښکته تلی شي — په سجده زما جبین
دا چه څومره اخلي نور — دا زما خاکي وجود
دا چه څومره زما ژبه — شي څښلې انګبین
مُلا غږ زمانه واوړه وو — وې دا څه دي ستا تالی کښې؟
نه پلاو دې نه فرني ده — نه حلوا نه فالوده ده
وې نو شرع ظاهر ګوري — او ظاهر ته فاسق نو
دا دَ رب سره دَ مینې — تا راغښتې څه قصه ده
یره یره دَ قهار نه — د ایمان اصلي حصه ده
د جنون او دَ جانان ستا — څه مهمله فلسفه ده
زړه دې کېږده په سینه کښې — دلته رنګ او لباس راوړه
ستا شراب دلته حرام دي — ښه هیت راوړه ګلاس راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخپل تال ډک ذ خوبونو　　　د قاضي دربار له یووړ

رو کے لال م را اوچت که　　　تار خانے او مار له یووړ

ماوے اے دسبو او باده　　　اے د تورو سپینو خانه

د دانے زما قبوله　　　په نامه کړه ذ جانانه

قاضي ګیناسته په تخت چپل　　　په سپین سر ئے دستار ګینبوده

په یوه لاس ئے توبه ګینبوده　　　په بل لاس ئے حصا ګینبوده

تله ئے پوره ته ذ منطق کړه　　　یو خوا دے یو خوا م تال و

یو خوا شوروو کم زور ئے وے　　　بل خوا ژړے و، کمال و

یو خوا عقل و دلیل و　　　نه مستي وه نه جلال و

بل خوا روڼا غوڼا تلاش و　　　ذک بے خوده غوڼا خیال ئے

ماوے دا یو نتوب واخله　　　او خپل عقل پے تاله کړه

ماوے دا زما خمار　　　ذ خپل علم کتماله کړه

ماوے اے دانصاف ذبه!　　　دا ذ زلو منزل کړه

ماوے اے ذ تول امیره!　　　دا بے توله تلل کړه

قاضي ستړے کړلے سپیتے　　　شو نارے بند مخ پریشانه

وے افسوس زمانه ورک ذے　　　دا چه ته غواړے زمانه

زه خوزور یم ذ انسان　　　زه سرور د آدم نه یم

مادی سپین او تورا غشتے　　　د مستي ذ ګلستانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه تور وینم او سپین وینم

بس زما دغه قصه ده

دغه تول زما امید دے

دا تلل مې فلسفه ده

ماخیل زړه لاسکښې راغونډ که — تورې شپې او غم له یووړه

د مابنام تیاره کښې ور ک که — دَ سبا شبنم له یووړه

اوس یوزه یم یو ارمان دے — د جانان دَ شان قصه ده

روک ګل اولوے خزان دے — یو امید، یو تلوسه ده

ما مرګی ته شروع کړے

درونډونو د خیشت قصه ده

د جنون او د جانان دا

څه عجبه فلسفه ده

بهنګوتر (هزاره)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د توت بناخ

که دے سر که سپوږ　　نو دے پاڼي په غم
دا رحمت او بخل　　زور د زور او ستم
مایوسي او مستي　　دواړه شال د صنم
دا خندا د یقین　　او دا شک د ژړا
دا تیاره د جانان　　دا هلال د صنم

بناخ څه دے، یو ستار دے
د توت بناخ د سیمو تار دے
هنګ او شرنګ او ترنګ د درد دے
د بل لاس د بل خمار دے
مجلس چې په خندا شي
دے بس شور دے او تقار دے
غږونکے چې بلبل وے
دے هم ګل دے هم بهار دے
چې منصور په کوټے کیږدي　　هم دار هم خمار دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عطر تول د بل دخیال دے
دے یو ګل دے بهار نه دے

دے روان کاروان د بل دے
دے ارمان دے د دلدارنه دے

دے مجبور شان مسافر دے
منزل نه دے اولار نه دے

د بل خیال د دهٔ تقدیر دے
دے نه نصیب دے او نه زور

ناز او راز، آواز د بل دے
د دهٔ شرنګ او د دهٔ شور

شپه او ورځ د دهٔ تول
د سبا او ماښام

د دهٔ هوش جوړ وی
هم ساقی هم خیام

دے نظرے د ګلونه او نور ګی د بل
د دهٔ سترګے خو خیشت او سهر ګی د بل

غنی
(بهار پور)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بس دے افلاطونه

بس دے افلاطونه فلسفه د سنبال کېږه
غوټه د کوه دا مونډه خپل او تهمه د جال کېږه
عقل عقل عقل څه دے؟ ګف ګف ګف دے
عقل چې نے کیمیکری دے غلام غلام زما
زړونے څه لا او نیسم نه یو کے دے زمانه
لا نه کوم د خپه خندا تر ستے د مقام زما
د مه فرشته کړم وینه د کړم نے د هوش ذکر
[illegible] لیوه مالک د خښت د مټے او د هوس [illegible]
[illegible] خیال انتقال اختیار د تاب او هوش د
[illegible] او خدا د کلفه وش د کور
[illegible] خیال [illegible] د [illegible] بوت کم
دا ما د حسن دے تخم د عقل کوه کم
دلته ټول سوالات سوالات د ښه نه د کتاب کتاب
دلته ژوند و ګول دی جمع اول اغونه نه دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته مینه تش پوښکای سینه کښې د ویدانه دي
دلته ژوند داستان د غم خند آکله اکمل نه دی
زر لکه معنی که د ملال د دنیا وکړے ته
نشته دے په تا کښې د ملال نخښے یو
زره زره رازونه دے کومې ښکاره شوي دي
نه دے خولے تا ته د ارمان کمترے یو
دلته ډېر خوبونه د رڼا لیدلے شوي دي
نه دي خولي تا ته خپلے مړے دلبرے یو
ته نیولے نه شے، لیونتوب ته جلال پرېږده
کینه افلاطونه، فلسفه د سنبال کیږده
تا سره ده تله د سېرونو د منونو
دلته کښې نجرونه دي او تور او ورانه غرونه
ته نے بیوپاري د عطرو ګرو، د چرګانو
دلته کښې پرتے دي ولولے او امیدونه
تا له یو قطره شراب، دریاب د تورو زهرو
دلته کښې پراته دي په زرګونو ډک خمونه
اے د رڼا زویه دلته لوړے او خوبونه دي !
ستا له قطرے تلی، او دلته دریابونه دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د آدم لاس نے د آدم سترګے اوسر

ته د ده پوشاک ، د ده لباس ، د ده بستر

ته د ده وجود ، د ده آرام ، د ده مجبود

ته د ده قانون ، د ده آقا ، د ده افسر

دلته تول تلل دی ستا دَ تلے نه اوچت

غرونه دعقاب دی ، دَ بلالے نه اوچت

ستا سترګے روښانه دی خو زهٔ دِ درونه وتوردے

تا کره روښانه ستوری نه دی ، اوردے ، اوردے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پټېره دا دُنیا

خانه نن مې کړه خوږه د سبا
سبه پوهېږې نه ده په پټېره دا دنیا

دکړې وخت کښې د غوږل فکر ونه مه کړه
خوږه او ترخه حساب کتاب ئې مه منا

دنیا لیکلی نشی چې خوږې
په وینو نه په ژړا په واویلا

داخوانی به همیشه نه وی نامه
څه رضا کړه د یارانو په مرضا

سبا بیا خانه! د چې سبانه مسله دې
تریخه نشته زړه وره مسئلا

نن دے زړه له ټول اختیار د بادشاه ورکړه
سبا خانه! څه چې څه به وی سبا

زخه وخانانو چې وخانانو غنی هم
ورله نه وایې څه نا، خانا، خنځنا



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جوارګر

په هواره لار کاروانونه ځي
او په غره د نور روان خط د غاړې دی

خو هواره لار څنګ ته ده واخله
شي کاڼي به په کلکه او په ډال سره دي

د بهار غوټۍ ښکلونه او خنداوې هم ټک
په شګو رڼې دېوان قربان کړمه

لېونۍ آرام له د ځان د رقيب سره!
زه ډکا نه بې خودي او جانانه کړمه

که دا توري تېرې لاړې او تور شي
او جهان ته د په قار د دوږخ پېشان

او هغه ښاخکي د رنګ د تير وړي ک
هره سا د ګلابونو به د سنګ په پیشان

زه به ساز او پرواز ور نه کړمه
او ملاله اياز ور نه کړمه

نيت مې کړی د کوږ د جانان دی
څه خنګ وي، څه شپه او څه ورځ

دا ومې اېښې په کور د سره ورد دی
څه وژني، څه وسه، څه وي مال

يخوانه ته رڼا د رڼا او چپل
مال خوا سره او سنړي او هلال

ښکلا مېن به په ټل دلته ښي ځوړ
ښکلا ګډ به په ښوروي به خال سره دی

ګله سحر په ښيښه قربان کړمه ځوړ
یا دلېره په سره جامه کړي مال سره



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه خرڅ چه د بل چا په زړو کړی
خپل جانان په ماښام د وصال سره

دادی زهر دا زهر د روح دی
خو نامه ورله ور کړی د مال سره

داو بنیار و لاړم دیرے زده
خوز ما د شان دغه لاړ نه ده

زه د زړو صحراو ارمان یمه
زما بخت کښې کوڅه د ګلزار نه ده

زه چینه د ژوندون د خوبونو یمه
لا م موندے سینه د دلدار نه ده

نه یم خادره خو دیره بے تابه یم
ما موندلے لمحه د قرار نه ده

تا لا کړے م ژوندم غرور دے
داو م ایښے په کور د سرور دے

غنی - غرنتر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الا بلا به ګردن ملا

په کل کښې ولید — چه ته نه یې نه موږ کتاب کښې
اې ملا! ستا نیم کتاب م — واوریده د رباب کښې
ستا پګړۍ د عقل — زما تاج د لیونتوب په سر
ته نې په غاړه ژاړې — زه غوټې وهم دریاب کښې
دې جهان کښې مو نه شو — د مغه خانې خدای خبر
ستا نه نشه بنیا شو — ملا تیر وتې حساب کښې
نشته ستا زمزم کښې نشه — واخله سره شراب زما
وایه ملا صاحب ستا خلاصه — څه وائې دې باب کښې
میړه دې کړ منطق کښې — په مینا کښې (*) دې ونه موندو
زه نې مدام وینم — د غمونو په دریاب کښې
حسن د رنه ورک شو — د کعبې په دیوالونو کښې
ورک دې سمندر کړ — مړ له تنده شوې سراب کښې
زار دې شم لږ پرې ملا — سوال د لیونې واوره
نوم پرې د کافر مه بده — دې غزل جواب کښې

---

(*) : مینه المصلی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جلال

چه زه غواړم د هیلو نه مستي سره ګلونه جوړ کړم
د سرو اوښکو نه سترګې شونډې د ژړا سره جوړه کړم
د خزان تیاره ګړم پو به د امید په سمندر کښې
د ګلونو لالونه، د غنمو، پلونه جوړه کړم
چه د اروح م په ښکلا روڼې د رنګونو د خوبونو
که نور نه وي د تیرو زه، رنګینې نوې جوړه کړم
چه د خیشت شم زه لیواله، د صحرا م به ذرې کښې
په زرهاو بوستانونه، په لکها ګلونه جوړه کړم
چه زه وړې د ارمان شم، د سپېلي په سپین سبا کښې
بې حسابه ما ښنا مونه بې پایان غمونه جوړه کړم
تور او سپین زما د سترګو کاله تول کاله تلل دي
شپه او ورځ زما نظر دے وګړي ال د اوموښل دي
که خندا ده که ژړا ده، دا خکه مشغولال دي
که وصال دے که فراق دے خیال سره ئې ګډ یدال دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زه مست شم د دیوانه سره د خښت کلونه جوړ کړم

د سرو اوښکو نه سېښتونې د ژړا سره به جوړ کړم

چې زه نیت د کتې وکړم د پړېوتي د شکست نه

د فاتح د ښوند وکړم او د ستړو لوغړو جوړ کړم

دا چې زه خان او بخت د رنګین بادنه ودان کړم

د غلام امید بدل زه د بادشاه په کال سره وکړم

چې خپل نوم د دې د نېکوم تر نه دیر نومونه جوړ کړم

چې زه غواړم د میوونه مستي سره کلونه جوړ کړم

دا چې ته او داته نې . دا چې ستا مستي رنا ده

دایم زه . دا بس پوزه یم دا زما ژړا خندا ده

د ملا خبرې پرېږده . معامله ستا او زما ده

دا داستان د لوړې نه دې دا قصه د عشق او ساده

دې زمانې سره ژوند کښې پټ ستا حسن او کمال دې

دا زما الهام زوړ ستړې . ستا د زور جاه او جلال دې

بهنکوټر





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

یو توره شپه د غم کښې یو ښخرې د رڼا
زرغون په ویرانه کښې ښایسته بوټی د لالا

د بېړ تور ځنګل کښې یوه زرکه په خندا
یو څاڅکی د امید د نا امید په دنیا

رنګین د بوډۍ تال د تورو شګو په صحرا
مستي ده که ځواني ده که دلبري که الله؟





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

جومات ته لاړ به میخانه کوره
په زیان کښې سود د شان جانانه کوره

نیته د دولت له او کارونه ډېر دي
پوره به نکړې شے خان له بانه کوره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اراده •

نه مې یارشته نه به وشي
اوسني یاران دي خوشي

چې حاجت نې درته وینه
ستا به پلار نیکه م ننبه شي

کار چې خلاص شي دې تښتي    ذلیندے نه لګے غشي
چې یارې ئې په شلکالو شي    دا یارې به یارې څه شي
نن خو دومره یاران ډیر شو    لکه سیند کښې خشي بشي
سخا بادام دي واني خلي    یو به ډک وي سل به تشي

په فایده دے ظاهر خاندي
خو پکښې اوبه اوبه شي

ته په دغه لار و مه ځه
غني دا به درله ښه شي

---

• د غني کاوې عمر کښې م دالیکلي وو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رښتیا (*)

چه م باغ د ګلونو نه بهار به څه کړم
چه م سترګې دیدن نه خمار به څه کړم

چه د خولې نه د بلبل وتلې نه وي
که هزار ځله شي خوږ چغار به څه کړم

که په سینه نور د الله نه وي وریدلی
د کعبې د ښکلو ډک مینار به څه کړم

مقبره د مړو ډکه تر سینه ښه ده
د جاهل بې غیرته ښار به څه کړم

چه زما ژغور لالې په سینه نه ژغیږي
ملا ! ستا قصه د نور او نار به څه کړم

چه زما د عشق ساز و نه پکښې نا وړي
د سوو زړو که وي تش سه تار به څه کړم

---

(*) دا هم د ماشومتیا د زمانې ده.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَجانان زلفې چه شته رونده زاهده!

ستا تسبیح، د برهمن زنار به څه کړم

چه زما د تمام جنت پرې نه رېږي

بیا د غرو په شان حصار به څه کړم

چه نې تل دَ بل په غیږ په خندا وینم

دَ دې یار دَ ښکلي مخ دیدار به څه کړم

ماته غوږ دَ دلبر د کوڅې کنده

دَ رقیب د محل نیغه لار به څه کړم

چه نې تمام د یاره جیب کښې پیسه نه وي

غني: دا د ښکلو غواو ګوار به څه کړم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غمونه

په خندا د سرو غوټو کښې
د خزان سلګئ پنهان

مستې سرې شونډې مسکئ زر
کړې خدائ وچې په ګريان

يو قطره ئې مستي ډکړه
ښکاره رنګ ښايستم شادان

خو دننه ئې آدم جوړ کړ
د غمونو قبرستان

او زما د وړوکي زړه کښې
دي غمونه په شان شان

يو دې غم چه د رب خوښ وي
هغه غم دے د ايمان

يو د غم د قام د ننګ
خوشحالي ترې ښه قربان



A .S.K B

یو دے غم چې څه غم نه دے — بهار به غم د ځان

یو د غم چه سړے سپے کړه — هغه غم د دے خپل ځان

یو د غم چه سړه تورے نښته — غم د شان د خاندان

یو د غم چه سر زړه لد سے کړه — غم د قام د نوم نشان

یو دے غم د شاعرانو — غم د مزکے د آسمان

یو دے غم د بادشاهانو — غم د خوار د بے زبان

یو دے غم د بے غیرتو — په پښتو لښ د تاوان

خو دا غم ترخ دے د واوره — دے اخته زما په ځان

نه په دم نه په عمل ځي

نه ئے دارو شته نه درمان

په ځان تي غني کړے مړے

غم د سته ګور د جانان

۱۹۳۰ع - لندن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تجربه

د رواج چپې مې وسوے — د قانون لنګر مې کېښود
په خندا دریاب له لاړم — ستا سپیړه کوډه مې پرېښود
د اَنا ورده او یخ بادونه — نوے ساز نوے سرونه
نوے بنایست نوی ګلونه — چه د خیال وزر مې کېښود
کله تاو غولي کښې شمه — بیا چپو کښې ونښلمه
خو نه وخمه ځمه ځمه — غم د ځان وزر مې پرېښود
خبر نه یم څه به کېږي — چه څه کېږي ښه به کېږي
که وړ کېږي که دوبېږي — پښې لاس کښې سر مې کېښود
مړ د خپله لاسه نه یم — خو بې خپل دوزخ کښې نه یم
نیم پروت د جنت کښې نه یم — سوال د بل د ره مې پرېښود
ځان مې وپېژند دانا شوم — خپل مالک شوم لوی بادشاه شوم
تیا چې لاړې سپین سبا شوم
د قانون لنګر مې کېښود

۱۹۳۱ء - لندن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدایه ولې؟

خدایه! عقل چې وو زړه دې ولې راکړ!
په یو ملک کښې دوه خودسره بادشاهان

بادشاهي او فقیري دې ولې یو کړه
د ژوندون په هره ساکښې مرګ پنهان

ولې غم لکه آسمان په جهان خور دې
خدایه ولې خوشحالي دې کړه نایابه

ولې جور دې کړه ننګې د ګل د پاڼو
خدایه! ولې نشته بیا ئې له شرابه!

ولې بنایست او رنګ دې دواړه خور او رور کړه
ولې ولې دې جهان کړ دک په رنګ!

ولې کوڼ دې نه پیدا په جهان نکړه
خدایه! ولې دې آواز پوست کړ د چنګ!

ولې ما ته دې عطا کړ و فکر و خیال؟
ولې ولې په دنیا ورڅخه خوبونه؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه! ولې دې ځواني مې چاله ورکړه ؟
خدایه! ولې دې پیدا کړل امیدونه ؟
ولې جوړ دې د یار سترګو کښې جنت کړ ؟
ولې ترخ دې کړ بېلتون او خوږ وصال ؟
خدایه ولې دې سپوږمۍ له رڼا ورکړه
چه ځنګلې مې د مستۍ په مهین تال
ولې جوړ دې کړ ازغي د ګل په څوا کښې
ولې زړه مې پاک خو جسم مې ناوړې ؟
ولې ماله دې د ولې طاقت راکړ ؟
خدایه ولې، خدایه ولې، خدایه ولې ؟

۱۹۳۰ع، لندن





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بابا ته

دا منم که عقل ډیر دی
که ته مې غني سیر دے

چه حساب کتاب ته کښینې
ته به وې خان د بونیر دے

دا منم په خیال ماشوم دے
د ملک رو رواج ته هیر دے

خو ئې تریخ سړے مغروره
د خواهش غولي کښې ګیر دے

خو ئې زړه سپینه بکوره
په یار دوست د سره تیر دے

بابا ته مه خفه کیږه
دے د زنګ لاندے شمشیر دے

۱۹۳۱ ع - لندن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه دَپاره

ازخان جوړ جهان کړ دعالمو
دَلوړو دَ ژورو ورانو سمو

زرغون شوی په اصیل ژوندې په طمعو
شو پیدا دکومې مورې؟ دَکوم پلاره؟

څه دپاره؟ څه دَپاره؟ څه دپاره؟

موږ به بیا له کومه راشو په تش لاس
ولې واغوندو دننګ شرم لباس؟

ولې جوړ کړو دین ایمان ویره وسواس
په تش لاس کوم خوا ته ځو چه ژوند شي خلاص
په کوم ملک په کوم وطن په کومه لاره؟

داویروونه داغوغا داشور دڅه دي؟
داچه زه ورته ویم کور داکور دَڅه دي؟

اوه، دا سوځي چه عالم دا اور دَڅه دي؟
زندګي څه ده؟ مرګ څه دې؟ ګور دڅه دي؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا پسې څه پسې څه بې قـــراره

غربت څه دی. طاقت څوره. دوست څه وي؟
ولې مانه چه وي سبه بل ته سبه نه وي؟

څه وي څوک چه جهان ټنی عالم نه وي؟
کوم خوا تښتي مړه رنګ کوه نه سوي؟

یو ورو کې سراو دا قیصې بې شماره
څه دپاره. څه دپاره. څه دپاره

۱۹۳۱ع - لندن





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بوډا

بوډا په بریتو لاس راښکه وې مې تښتي تښتي
لاوړ دمڼو ډکه ډادے ډلاس پیتي

هینګولي م دخوا ښے اوچه ګوړے م ډنږدي
مازغه دځوان ګډوډي اوپیړوي دکتي

په لاس دجوارۍ په باڼ سړ غوټه دپیاز
دپاسه پکوړے پړے دا ملس دسخاوتي

که دیر په زړه مالدار دپیسے کونکړي م واخله
بیاځه په تړه سکواټ کړه شروع خپله تیتني

۱۹۳۰ع - لندن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

زما بخت د شمع بخت دے یا به مړ مه یا به سوځم
یا به بیخ له د دریاب ځم یا به سر په چپو خوځم

عجب زړه عجیبه لاره عجیبه کاروان روان دے
ما وروستی په اوله بیائی که زه ځمه او که نه ځم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حال زما

هیڅ د عشق له غمه نه دی برابر غمونه کل
چه د یار فراق دې ووی دغه دې خدای اومل

چه مې زړه دا یرو ډیر شو د قارون خزانه څه کړم
چه لالی مې خوا کښې نشته څه به مې کل څه کړم بلبل
چه دنیا مې شی برباده آخرت به مې څوک جوړ کا؟
چه د زړه پښې مې شوې شلې څه به کړم د امید نغل

زه به تمو تمو اوسم په خوانۍ مې خان کړ خاورې
چه هیچا زغملی نه شو هغه ما په خان زغمل
بې جانانه جنت څه کړم بې وطنه بادشاه څه وی
یا به خان پسې الو کړم یا به ئې کړم د پتنګی کل

په جومات کښې مې ونه موند په مکه کښې را ورک شو
خدای مې زړه کښې را پیدا شو چه مې مخ د یار کړ ښکل
غنی! بل به ژړا ښکاری کښې دا به وی جوړ کړې
په سیلاب د سوخت داوښکو اباسین دې دیا وړل

۱۹۳۴ ع (اتمانزی)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه وکړم؟

یو سرک د ګلستان بل لاره د زندان
مینځ کښې زه ولاړ حیران چه په دے غم که به دے
یو خوا عیش عشرت سیلونه بل خوا کندے کندے غرونه
دے خوا ساز اخوا ویرونه اوس په دے ځم که په دے
دلته ښکلے موسکے شونډے هلته غم فریاد د کونډے
دا خوا خوب ښغه ځامنے اوس په دے ځم که په دے
یو دے ډنډ پټ په شین رنګ بل دی سیند وړی غورځنګ
دے خوا قبر اخوا جنګ اوس په دے ځے که په دے
یو خوا سوے غږ د سکور بل خوا خاندی سوځی اور
اخوا تاج دے خو سر تور اوس په دے ځے که په دے
دیخوا خښتی دَ زړه . ینے اخوا سره شراب دَ مینے

نه ړوند ئے هلته وینے
اوس په دے ځے که په دے

۱۹۳۴ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړه چاودے

ستا زړګي وچوه پښتونه      زړه مې چاودې دے له تا نه

خوی خصلت دے د غلام      نشته زیاته له بـا چا نه

کله سکه په تاسو ریږي      مغولي دے باباکیږي

بیا په تا په جوتوکیږي      مغلے څوک له کوه دامانه

عقل پس زړه دے ناپاکه      لاس دې دستې خوله چالاکه

ستا تاریخ دې عبرتناکه      چیرې خلاص نې له خـزانه

خپل خیرخواه ته لاس په بلا      سرسري ته زړکړے دده

معامله دے ګـډه وډه      خپل خانه دے بې نشانه

تا تو کړے تو کړے خوشحال کړ      د ربلا دے جمال کړ

خو امان دے په ښه حال کړ      بې وطنه سرګـردانه

په دیران ناست یې خوشحاله      دکونکټ سوتوکښ جاله

بې هنره بې کماله      په هـنر د وروړ پښیمانه

بې ناموسه ستا کارونه      ستا بې کاره ناموسونه

ستا زړګي وچوه پښتونه      زړه مې چاودې دے له تانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کله وړې

ویل کمتر وایه — خو په هنر وایه
چه ژبه لویه لري — هغه ته خر وایه
غمې په هار کښې یو — خو دُر، گوهر وایه
ساز د ماښام ښکلي — نسوځ د سحر وایه
چه وي مجرا بد و ته — هغه ته نر وایه
چه دے خدمت کړي مدام — هغه افسر وایه
چه وي په تا شیدا — هغه دلبر وایه
که وي دیار تیکري — ورته سره زر وایه
غوښه د تور تیخري — بوي د عنبر وایه
الله الله که نشے — دلبر دلبر وایه
چه په مردي لړ شي — هغه ته ببر وایه
بوډا ته خدائے یادوه — خوان هنر وایه
چه ستانه مخ کښې دړې — هغه رهبر وایه
لکئے دے پرے کره هله — غني ته خر وایه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما محل

د سینې د سپینو شګونه مې جوړ کړلو محل
دې تواخ کې جهان ورته حیران حیران کتل

قالین مې پکښې خور کړو د سرو پانو د ګلاب
او چت ئې دیوالونه وو سازونو د رباب
بیا رنګ مې ورله ورکړو د خوبونو د شباب
هر ګل مې ورله راوسته مالیار مې کړ بلبل
دې تواخ کې جهان ورته حیران حیران کتل

نرګس مې په غېږه راوړه میامه مې کړ امیل
د غاټولو د شبنم نه مې ښایسته جوړ کړ امیل
نسیم په خندا راوړل زیړ ګلونه د چامبیل
شراب مې ورله ورکړل بیا د اوښکو د بلبل
دې تواخ کې جهان ورته حیران حیران کتل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا مې د سپوږمۍ کړه د زړه اپیتے غزلے
خندا ته د تنخو و ښکلي زړےګ پیالے
د ستو ږو مستے سترګے غاړے غاړے پیالے
روږ روږ پرېوستي راغله د خدائے اور کړبل
دے تول خلکي جهان وته حیران حیران کتل

یواځې زه بادشاه ومه په سرم تاج د غم
پخوا ګښم دلبرے ومسکې سترګے په نم
په غاړه ئې امیل ښیسته د څاڅکو د شبنم
ماشومه نازنینه پاکه ښکلے لکه ګلال
دے تواځي جهان وته حیران حیران کتل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قسمت

ګوره طاؤس مې کړ بښایسته وزرو
ابلیس برباد کړو علمي خبرو

سپینې ویده وه د سینې په تل کښې
زړګي نه وچاؤدې سره ملغلرو

ګلاب خپل رنګ اوخپل بوئې ښالا کړ
منصور په دار شو چه باخبرو

پتنګ خپل نرم زړګې ستې کړ
میږې برباد کړ خپلو وزرو

غنې پوهیږې خکه ژړیږې
خه ښه به ژوند وکه ژوند د خرو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اور

زما ختمه چه خوشته کړه
په څه اورے ابته کړه

چه ئے نه وژنم ورتیږم
چه ئے وژنم لالمبه کړه

نو زمه ئے دخان جوړ کړم
دشیطان ئے یوه ذره کړه

خومړا زه چه ورنږدے ؤم
دومړا غټه ئے پرده کړه

چه جنّت وته روان شوم
دوزخ لوے دروازه کړه

چه دوزخ ته ورنږدے شوم
چاپېچے بچے نعره کړه

خدائے دِ ورکه دَ زړه اوره
تا دَ ژوند ورکه مزه کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ځو ترانه

خوږ دے ماته ملک زما

خوږ تر ټول جهان

زه به ځم په جنګ د کام

زه چه شمه ځوان

وینه ده تو ده زما رګونو کښ د ننګ — سر که مے قام غواړي زه به نه کوم په څنګ

زوږ دے د مالیا هم د توپ هم د تفنګ — زورم د غیرت دے د همه زورونو خان

زه به ځم په جنګ د قام

زه چه شمه ځوان

سر به د سپي سر شي چه نه دي په قام — نو څه ښخوني وي چه شي لا نه دي په قام

نوم به موسے څه وي چه نوم وي د غلام — دا نوم به بدل کړم یا به کړم بدل جهان

زه به ځم په جنګ د قام

زه چه شمه ځوان

زه پښتون بابا د خپلو پښتو پیدا کړے — زه پښتنے مور په غیرتي پیو لوئے کړے

مونږ به پلار نیکه دي د مړي کار نه کړي — زه به غلام نه شم که غلام شي ټول جهان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به خم په جنګ دقام

زه چه شمه خوان

زه به په وجود یمه کوټلی وزیر اَس

کړم به دَ کاروان خبرداری لکه دَ اَس

یم به دَ ظالم سترګو کښې تل دَ سترګې خس

زه به لکه باز یم دَ نرتوب مرد میدان

زه به خم په جنګ دقام

زه چه شمه خوان

زه به لوی زړګی لکه شیرشاه د بنګالي لرم

مټ به ابدالي لرم همت به روهیلي لرم

سر به ښکته نه کړم زه که مې کښت ادم

ژبه ښکته مه کړې چاته سرته دَ افغان

زه به خم په جنګ دقام

زه چه شمه خوان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

زړه م پسې وچاود خو آشنا م نکړ لاندې
هغه په موټر کاټ کښېنه په سترې تتو باندې

کوره نړا چارډې په اینبولو ترسکوینږي
ښبغه مړ به ده چه تازه وي مزه کاندي

مالي د وصال په صبا راکړ تانپ کړے بل
دومره مهذب او ښایسته زما جانان دے

ښن چه د مس کوټې د بابا په کور داخل شوم
لسونه ئې تاریخ ورکړې د وار د غنیخان دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه

ځنې وې مینه یو کال دے
اوس تازه وی اوس فنا شی

ماوې یو کال چه شی مړاوے
سل کلونه ترې پیدا شی

ځنې وې مینه ده اور
سړے وسیځی فنا شی

ماوې اور چه چرته بل شی
جهان ګوم شی رڼا شی

ځنې وې مینه یو خوب دے
چه ترې ویښ شی لابلا شی

ماوې ګوره ژوندون خوب دے
چه سړے ویښ شی شیدا شی

ځنې وې مینه غضب دے
سړے ړوند شی نابینا شی

ماوې خدائے ته بینا سترګے
ټول جهان ته نابینا شی

ځنې وې مینه دوزخ دے
ماشومان پکښ جلیا شی

ماوې ښه دے دوزخ ښه دے
له ګناه وجود صفا شی

ځنې وې مینه تیاره ده
پکښ خان ورک شی تالا شی

ماوې ښه ده تیاره ښه ده
پکښ پته سخا د نیا شی

ځنې وې خوږه دلبره
کاشکے ستا عقل زما شی

غنی وې ماشومه کله!
ستا د سره دے فدا شی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تماشه

خټک دَ پښتون شلېږي باچا خان ورته ګېنډے دمي
ګاندي لیونے شوے دے سنډاته سرپنډے دمي
ختمېنے مراوے وچ خوراک مرچ تتهي نے کور
زړګي نے روکي روکي سخا زړوکي اوړه بوزتور
دهند دا بنیادم نه لري دم نه لري زور
په نسخه هیڅ بد نه ګڼي پېسے پېسے تندے دمي
ګاندي لیونے شوے دے سنډاته سرپنډے دمي
دَ عوزيږ نه تادکري تارنو بیاکړي شادګوخي لوړته
دصوفي په ختپ راواړي تورو ختېه کاندي پوړته
صمدومولوي وي چه خني آواز سے کوړته
دختي سحر چه پاخي خوله کښ چیچي دو بنډے دمي
ګاندي لیونے شوے دے سنډاته سرپنډے دمي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل لا پے دَ تهذیب کا دَ تهـــذیب نه بے خبر ه

په خوله سوړ مزړی وی خاڼے به بنکته کړی خان بره

چه وخت دعمل راشی بل ته وانی دانسکه نره:

په خپله په تل تبنتی الله : تــل خه کړندے دمی

کاندی لیونے شوے دے ســنه اته سرینده دمی

خار به او مرغن نے لیه راڼـــ دی مالیدلی

وبنـکو کبنس نے لعاب بنایسته دَ پان وی بهیدلی

په ستیج کوی گفتار لکه سالار تور د ویستلے

که باو پورے چانغوړے کړے تبنتی خان پسے جرند وی (*)

کاندی لیونے شوے دے ســنه اته سرینده دمی

---

(*) جرند سے : جلدی ہے .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

وره دا ظلم و ناروا او دا بیداد — په خندا نه زغمه مه کوه فریاد

کوه تل د لوی مکان ذکانو زور

وي په سه بانډ د کټې دَ بنیاد

چه تکلیف او غم سهي خوږ دانا کا

دومره پوهه ښودې نه شي هیڅ استاد

طور د خټو کانو جوړ بدرنګه غر و

چه امیر شو نوم ئې شو په جهان یاد

شین زمری خپل نرتوب توره یادیږي

که ئې تن ذره ذرې کاندي صیاد

اور خپله سوځي خکه سوځول کا

دانه خاورې شي سپېټې کاندي آباد

د مظلوم دَ درد او ښکو پاک سیلاب

په لکهاو ښارونه کاندي برباد

غني: چپ شه د بزرګې خبرې مکړه — ما ته واړه ستا خرتوب شو را په یاد



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړه نوے

زوړ اشنا زین کړي اُس دے | دے زوړ کور لکه جنت
زوړ دلبر نوے برستن | نن دے واله نے راحت
زوړ نوکر سو چه قالین دے | بے بها دے بیش قیمت
نوے دوست ته چه زوړ پریږدے | بے غیرت دے بے غیرت
په کمو بانده ے زیات شي | زوړ خا نښ نوے شهرت
یا نے بنه په چپه خرابه | یا پوره پریږده سنت
یا کچه خبرے مه کړه | هم زنا هم عبادت
بنی زوړ خیال نو جامه کښې | دغني دے دا صفت

## پلوشه

مه رِم مشین که خوندے رِم پریښود
ته هیله رِم کیښود دَ لیدو دی
خوږه رِم هغه دَ مستے نا وړی
تبه رِم کیږی نری نری



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلے وړے

چه خلاصیږي بې وفا عمر زما | د جهان د ښاخه نه شي ثمر زما
تورې لړې د مرګي چه شي راپورته | چه پڅیږي د عزرائیل د سه زما
زه به ښین د سرو شرابو جام خپله کوم | د جنت باغچه به شي بستر زما
په ژړا او په سجده چه شیخ ونه لید | ما به یو کوټ ولید آ دلبر زما
مرګ یو خوب دی یو نشه د بېهوشۍ ده | په دې وار وو ده دي بلد ځګر زما
ته د روح په کوتک نه پوهیږې زاهده: | روح او زړه زما یو یو افسر زما
نابینا عقل مې مست نه بي ته پېښنود | او ستارې کښې د غم شور د صبر زما
د غني د همه لاړې کلي وړې | خان سړی بې سره لوکا سر زما

# پلوشه

چا ته نه ښایست ورکړو غمګین
چا ته نه غم ورکړو ښایسته
زه نه مست او هم هوښیار کړم
هم نه په تخت کړم هم په تخته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مخ دَجانان

کله مخ زه په قبله کړم کله کړم مخ وجانان ته
هیڅ په فرق نۀ پوهٔ نۀ شوم رَبه! خیر م کړې ایمان ته

هغه ورځ چه خلق پیدا شو دَ خالق په تجـلي شو
زۀ وم پروت مخمور مشکور په سجدۀ مخ دجانان ته

اوس زما په بیکسۍ کښې د مستۍ لمغرې وینې
زۀ دَ مزې قابل نۀ وم ولې تا بوتلم آسمان ته

دَ خبرې خوږوک نشته خان سره غني کوينږي
لیونے نۀ هله بولي چه وګوري جانـان ته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو جام

دهلے هوا نن الوځي ما بنام کښ
واخله دوب کړه ټول غمونه په یو جام کښ
څه که شوي چشتي ملنګ څه که امیر شوے
کور کښ فرق نه وي آقا او په غلام کښ
تور ښکاري مرګي ټوله دي لاس نیولي
خاندۀ خانده نن بیا نشي خندل دام کښ



A .S.K B

# هغه دغه

تمتو دوست کړه سنډا یارکا
خر کړه خپل مطلب پرې بار کا

خوار لوهار(*) ته لا لا وایه
چه تیره درله سپاړه کا

سرکار مرګ له چه ځوک بیائی
یو کپتان بل صوبیدار کا

د مستۍ چه خر شي پاتې
د شیخۍ چرغه اختیار کا

چه نرسې رنځ ور شروع شي
خان حاجي کا پرهیزګار کا

چه میږې ته خدای په قار شي
دوه وزر ورله تیار کا

چه پښتون ته خدای په قهر شي
لوئې ملک نه د سرکار کا

خان او خردې سکه دونه
مست په جر زنا په جار کا

پښتون هغه وي چه مړ شي
خپل پردي ورته آزار کا

خر چې لوئې په جهان نه وي
چه په زیره اعتبار کا

زړه کړه زهر خوله خوږه کړه
خره راشه خان هوښیار کا

یو دیار شونډې خوږې دي
یو مزه غوښه د ښکار کا

---

(*) لوهار : آهنګر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولې (*)

څوک دې ماته ووائي    څرنګه شیدا شي څوک ؟
څوک چه چاته وخاندي    ولې په خندا شي څوک ؟
ستو به دَ غره څوکے ته    غلی شان بیګاه ووے
مینے په ژړا ووے    حسن په خندا ووے
ماته موسکو سترګو کښ    ښکلی دلربا اووے
ولے څوک زړه وبایلي؟    څرنګه شیدا شي څوک؟

څوک چه چاته وخاندي
ولې په خندا شي څوک ؟

سترګو دمجنون ووے    او ښکو دَ لیلی ووے
اووے په نشه خوانۍ    غم ورو په سودا ووے
ماته موسکو سترګو کښ    ښکلی دلربا اووے
ولے څوک زړه وبایلي؟    څرنګه شیدا شي څوک؟

څوک چه چاته وخاندي
ولې په خندا شي څوک ؟

---

(*) دا ما ۱۹۳۹ع کښ دداده په شپه لیکلے وو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو جام

مستانه ساقي راشه		یو جام جام راوړه
موسکۍ شه په خندا شه		یو جام جام راوړه
پیاله کښېږده شیرینه		خواږې دخوانۍ وینه
رنګ رنګ مستي رنګینه		حسینه نازنینه

مجنون یمه لیلی شه

یو جام یو جام راوړه

یو ګل یم ژړېدلے		یو باغ یم سوځېدلے
یو ساز د ژړا یم		یو آه د بلبلے

ژوندون شه زما ساشه

یو جام جام راوړه
ګل فامه ساقي راشه

یو جام جام راوړه

یو راګ یمه خاموشه		نغمه یم فراموشه
خواږې م په غم بله		مستي راوړه بې هوشه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دد [illegible] زما شه

یو جام جام راوړه
موسکۍ شه په خندا شه

یو جام جام راوړه

مست مست راکړه خوبونه — چې پټ کړمې پر غمونه
شروع کړه د ژوند تال ته — نازک د بنیست سرونه

دلبر شه دلربا شه

یو جام جام راوړه

مستانه ساقي راشه

یو جام جام راوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کډے وړے

عقل تر ینه بېره وخوړه    خیټې تر ے ایمان وخوړه
کوره په وربشو ګېنس    خره لال د بدخشان وخوړه
کوره ئے نه خرخښېږی    خوار لاله د غمخوان وخوړه
قبض شو د صیب    ډیرے هندوستان وخوړه
خار شم د لیلی د کولمو    خیټه ئے د بنګالو لوده
چامهار چا او بنی وخوړه    اوده واړه کاروان وخوړه
کوڼ ملا شهید دے    په مزار ئے ډیوه بله کړه
مړی ووکم شوی خوار    د لوږے نه قرآن وخوړه

څه د لیونی د مرض
خوشی دارو مه کوه
غم د مرګ غوږ خنک د زړه
ستر ګو د جانان وخوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کله وړې

بلبل په هیضه مه پښو دېږې خوښ وو شاتوتان
لاله م سالار نه شو اوس نے بدیشي هندوان
وه ناسته په آسمان کښې د تقدیر لوبه لوړ ۱ ـه
یو خرے روان کړے وو شاخیل نصرت الله له
فرمان پرے را نازل شو د قادر و ذوالجلال له
کولا لے تادئی[1] وکړه بشرے چړ کړه دَ یوخان
بلبل په هیضه مه پښو دېږې خوښ وو شاتوتان
اوربوزے خوړه ته سم کړه او هم پړې کړه ترے لکی
تندے کښې ورله کینبوه دَ غضب یوه ټکی
مغزو کښې ورله واچوه مرض دَ ملکی
شمله ورله کړه نیغه که راجوړې په جهان
الله لاله م وخوړه هم بلبل هم شاتوتان
اوس څه به ساقي خلک په لکنهو کښې نوابان
اوس څه رنګ به لیکي دَ عشق غزلے شاعران
یاالله تیری شان

---

۱ ـ تادي : تعدي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بنی آدم ته
# قصیده

لوئے شے کوډ اکیه او تو پر نو نه ډِ خار شم
اے د ګنده ډ که دَ عـــلو نو نه ډِ خار شم

جوړ کړے د چا کو تو شو لے جوړ څه دَ پار ه
خار ډِ دَ قلمه دَ حـــرفو نو نه ډِ خار شم

یو یو کے د با دُ ے څه د ړنګ او جنګ خبرے کړے
اے دَ سحــر خو به دَ خو بو نو نه ډِ خار شم

حسن دے ایجاد کړو مشغولا ډِ خان لجه کړه
خار دے دَ مستئ نه دَ سازو نو نه ډِ خار شم

علم دے دَ خیال دے خوب او خوب دے خیال دے
دومره غتو غتو کــتا بو نو نه ډِ خار شم

پوه په سود او زیان د سو او زیان بیجه ته نشے
خار ډِ دَ خندا نه دَ ویرو نو نه ډِ خار شم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ګوټه ژوندون له دے خوقسمه خرے جوړے کړے
خار دے دَ سجلو د تکبیرو نو نه ډِ خار ښم

ستورو او سپوږمۍ سره د راز او نیاز خبرے کړے
اے دخاورو ګله! د رنګو نو نه ډِ خار ښم

کوم دتیارو کور ته مسافره! سپینے ستړګے ځاے
خار ډِ دمانو، دمحلو نو نه ډِ خار ښم

ګوتے دے آسمان ته او پاپئی دے ډوبے خټو کښ
لوئے شے کوډا کیه: دَ تو بونو نه ډِ خار ښم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خيال

آئينې د خيال کښې دا دنيا ده
بادشاهي او فقيري د زړه سودا ده

زما خيال دے پورته کوے تښتيسته کړے
که مکه که مدينه له دلربا ده

عاشقي د خوب د نه يو مست خوب دے
دد خوب د ملک سپوږمۍ مې محبوبا ده

وخت درياب يو بے پايانه او بے کناره دے
بے چپے او بے لنګر کشتۍ زما ده

ګل غوټۍ وي شي ګلاب او بيا خاورے شي
د پښو لاندے مې خوره خاوره زما ده

يوه ناسته مې په خوا کښې موسکۍ شونډے
يوه ناسته مې سپوږمۍ کښې دلربا ده

يوه خاندي د ګلونو په خندا کښې
يوه ناسته په تياره کښې د صحرا ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه سترګې

کله ګورم مخکې ته او کله ګورم ستورو ته
او کله ګلستان کښې د تیږو نو خازو تورو ته
ګورم بتخانه کښې ستا د حسن تجلي کله
کله په سجده د کعبه کښې وینم خلق نورو ته
لویه هنرمنده د هنر کمال دې ګوره
د غمو خبرې ته او دې شونډو کمزورو ته
زه چې ګورم څه وینم ته ګوره ته ګوره
دې نهین جهان ته او زما سترګو شکورو ته
واوره شهزاده زما: غلام دې ګیله مند دې
خلق د غمونو قیصې کړي سترګو غم خورو ته
تا ته یو ساعت یوه لحظه کښې سړې ووائي
هغه چې کلونو کښې ویلې نه شي نورو ته
څه خو م لږ پوه کړه چې ژوندانه د جهان وې
څاڅکي د نور او لیږلي د لپو تورو تورو ته
نه دې تاب د بنیست لرم او نه دې د خبرو
ما ته به ووائي ته ووایه دې ستورو ته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ستړګې مې دوه رنګه هر رنګ د جهان وینی
ګوری یوه مزلوته او بله ګوری ستوروته
په یوه کښی سرور وی مستی وی خندا
په بله کښی سوز اسلویلی او ژړا
په یوه کښی دنیا سر سینګار د دنیا
په یوه کښی ستم غم آزار د دنیا
په یوه کښی ژوندون د ژوندون بې خودی
په یوه کښی افسوس او ارمان په ژوندی
په یوه کښی جنون دے نشه ده افسون
په یوه کښی کافر دی فاسق دی مجنون
په یوه کښی پسرلی دی سپوږمۍ او جانان
او بله کښی بیان تول داستان دانسان

د دوؤ ستړګو خه ضرور دؤ | چه یوه وی بنه بینا وے
څو مره بنه به ستا آدم وؤ | څومره ښکلی به حوا وے
چه یا غم وی د کلونو | او یا غم د جنتونو
او مجنون ته په کعبه کښی | موسکے ستړګے د لیلی وے
تا په خپل کمال ښکاره کړ | او غوبل دے د ما کښی جوړ کړ
په ژړا الیوفی تاته | خکه بانګ کښی د سباوے
خلق د غمونو قیصے کړی | ستړګو غمخور وته
ماته په نے ووانی | ته ووایه د ستورو ته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورو

ورو یې غوټۍ د ګلاب وې ماته ورو — اورې که قصه د اور اشنا شه د ایرو
ما لیدلي خوب کښې د رنګونو بهار ستوري دي — شپه کښې مې لیدلي د جانان د نوښتو دي

ښکلې خلیدلو د سبا په منارو
ورو یې چپې د نسیم او ماته ورو
ستوري خوره پاک خلیږي شپه کښې د تیارو

زه یم د بهار سلام د نیست د زړه دعا
زه د مجنون ساز او وږمې د زلفو د لیلی
وي بام د عشق او چت دې د کعبې د منارو

ورو د سبا ستوري سحر وې ماته ورو
ګل خوب د بهار دی غنچه شپه کښې د تیارو

زه د سحر خوب د شپې امید یم د وصال — زه د چا د مستو ایښخړم د خیال
لمبې د یو دریاب جوړه د شغلو زړو زړو — لمبه زه د لمبو یاد د دریاب خاشکی

بام د عشق او چت دې
د کعبې له منارو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شان دانه

ـ زمالوړ ـ

او دیوه ذره د نور ده — شوه دریاب کښې د بنیست ډوبه
په خوبونو د خوانۍ کښې — یوه شغله د نوره پېلې
دا نرۍ د هلال شونډې — دا د دوو ستورو رڼا ده
دا د معنه خوب تعبیر دے — چه وو ما اوتالیدلے
دا هم زه یمه هم ته نے — هم زما او ستا خوبونه
دا هم ګل دے هم بورا دے — هم سازونه د بلبلې
داچه ستا نیازبینو کوتو — دا ازل ښائسته ته لاس کړو
دا ګلاب ترے راواخیست — په نورونو لمبیدلے
داچه زه په پټو سترګو — مستۍ دریاب کښې ډوب شوم
دام لال تاله دلبرے — د تیارو راخیژولے
داچه ما غمګینې سترګے — په ژړا کړے بره پورته
دا زما د غم خواب کښې — سپوږمۍ ګل دے رالیږلے
دا اوبه د دوو چینو دی — د دریاب په طمع دهی
زه به جوړ ترے آباسین کړم — په کلونو کښې بیالے



A .S.K B

# راشه ورو دیار غمه

راشه ورو دیار غمه
پریوځه په سینه زما

ګل غمه ګلزار غمه — اې د ګلو ښار غمه
خوږه لکه دلدار غمه — اې د ستورو هار غمه

راشه ورو دیار غمه
پریوځه په سینه زما

غم کښې چه امید وي — څه پسته نشه لري
د غم ور کښې دا ارمان — څنګه پلوشه لري
دا مستي او دا ژړا — سره ستا د ستار غمه

راشه ورو دیار غمه
پریوځه په سینه زما

راشه اې د زړه خوږه — ویښ کړه دا جهان ستا
ویښ او په لړزانې کړه — سور ګلستان ستا
رنګ زیړ د خزان ستا — بوې دې د بهار غمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه ورو دَیار غمه

پریوځه په سینه زما

مستا په تورو لړو کښې　　لړزه زما ډیره شي

اور اور کښې ستوري شي　　حسن دې ترڅا پیروشي

اے دَلیونو نشے　　مست دے دَ ستا خمار غمه

راشه ورو دیار غمه

پریوځه په سینه زما

تهٔ دَ مودو یار زما　　نښه دَ دلدار زما

ته یم دَ وفا ګواه　　تهٔ ئې نوم دیار زما

خوږ لکه دلدار غمه　　ای دستور دهار غمه

راشه ورو دیار غمه

پریوځه په سینه زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعر

پَرَ چه د شهباز لرے او سترګے دَ عقاب
زړهٔ پوست دَ بلبل خوږے خبرے دَ ښارو
سره ډک د خوبونو لښکے مینهٔ دَ قارون
سترګے مینه ناکے مستے سترګے دَ مجنون
چل دَ سامری او پاکے ګوتے دَ موسیٰ
تور دَ غم صلیب په سپینو لو د عیسیٰ
تن ئے سرهٔ رباب چه دَ قسمت ګوتو کښے هنګ کوی
خوله ئے دَ کونګرو چه د جانان په پښو کښے شرنګ کوی
دی دَ ګوتے پوتهٔ کړی نامه دَ دیار ولیکی
څهٔ چه قلم نهٔ لیکی هغهٔ دے خمار ولیکی



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنظیم په نظم
# د
# عبدالاکبر خان

غني کړې ستر پېتې ستا تصویرې ولیده
چینلوخ په لوته وخاته کشمیرې ولیده
چا ولید په ژړا جانان چا ولید په خندا
چا ولید په خوبونو کښې یو خوب د دلربا
چا ولید په سجده کښې چا مستۍ کښې دلیلی
عیسی وته موسکې شو چې شمشیرې ولیده
چینلوخ په لوته وخاته کشمیرې ولیده
چا ولید په سپوږمۍ کښې چا د شپې تورو تیارو کښې
چا ډوب د غم دریاب کښې چا د حسن ننداره کښې
چا ولیدُ پیالې په مستو نرو کښې



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اولید لیونی چه خپل تقدیر یې ولیدهٔ
چیناخ په لوته وخاته کشمیر یې ولیده
اے لویه سمنانهٔ او دحسنونو د مستو
رنګین د رنګ جهانه د رنګینو تنستو
چه بخت دلمر خاته دی که قسمت د پرېوتو
(او) عیسیٰ ولے موسکے شو چه شمشیر یې ولیدهٔ (٥)

---

(٥) عبدالاکبرخان اکبر په ۱۹۰۰ ع کال د چارسدې په عمرزو کې پیدا شوی دی د صوبه سرحد مشهور سیاسي ماري او د پښتو ژبې ستر لیکوال او شاعر دی، خواره تراخه، حوګره، سفرنامه، رو بیابان، د مثنوي پښتو ترجمه او نور یې مشهور آثار دی.
حال په ۱۳۵۶ هـ ش کال ومړ.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اې دَلیونیانو نیکه

اې دلیونیانو نیکه لمونځ ښه که مستي ښه ده؟
حسن جوړېدل ښه دي که حسن پرستي ښه ده؟
وې ښه ده مستي ښه ده خو زړهٔ پاک لکه آئینه غواړي
دا دریاب هضمول دَ سمندره هُمره سینه غواړي
حسن جوړېدل دَ بندهٔ عشق د کمال دے
تور د غم دریاب کښې سور خمار د وصال دے
او اې زما بچیه! دَ جانان ئے مینه لا ښه ده
نوم ئے ښکلے لا ښه دَے جلوه ئے رنګینه لا ښه ده
اې دَ لیونیانو نیکه مار ښه که مُلا ښه دے؟
تن مې دک له زهرو که زړهٔ دک مې دَ بلا ښه دے؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے زما بچیه وے دیران لره انکار نه دے
مړے له پیښو نه ده چینل سے له بنا مار نه دے
تا له لیونتوب نه دے مستی نه ده صحرا نه ده
چا له طاعون نه دے چا له سوړے دمو لا نه دے
دا د دنیا رنګ دے دا دنیا رنګینه لا نه ده
زیړه نه ده توره نه ده تکه سپینه لا نه ده
اے دلیونو نیکه حُسن که وفا نه ده؟
برخه د مجنون نه ده که برخه د لیلیٰ نه ده؟
وے اے زما بچیه : د دلبر د خولے هوا نه ده
یخه نرمه لا نه ده او تیزه ګرمه لا نه ده
تاو دغ دیار لوپته سره رنګینه لا نه ده
زیړه نه ده توره نه ده تکه سپینه لا نه ده
(نو) اے زما بچیه : حسن نه دے هم وفا نه ده
برخه د مجنون نه ده هم برخه د لیلیٰ نه ده
نه ده فقیری نیکه که نه دیره دنیا نه ده
ګل د صنوبر نه دے که قلا د محبوبا نه ده
وے اے زما بچیه : سوړ عقاب له دغره سر نه دے
ګل د صنوبر له نه او ګل له صنوبر نه دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جام له قلاړے او سمندر له توفان خوند کوی
سترګو له مستی خوند کوی او زړه له ارمان خوند کوی

انو، اے زما بچیه! فقیری ښه ده دنیا ښه ده
تخت دسلیمان ښه دے جونګړه دعیسی ښه ده
مشره لیونیه وزیری که جیلخانه ښه ده
ښه مے خپل لوړکی دی که قرض توتخانه ښه ده
اے زما بچیه! یار ژړ لوله صحرا ښه ده
تخت د رقیب نه دے ښه تګور د لیلی ښه دے
دوست د یزید ښه نه دے شهید د کربلا ښه دے
واک چه ئے د بل وی د دے نه زنانه ښه ده
او اے زما بچیه وزیری نه جیلخانه ښه ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دحورو ښکار

یو عاشق دګلونو دحورو په ښکار لاړ
او دجانان دکوره په توبه او استغفار لاړ

ویې دجانان ښیست یو خوب وخیال دے
ویې دا مستي بے خودي زما وبال دے

وے پروني ښا پیري نن تورے خاورے دی
د دنده ښیسنا کے او په پروني واورے دی

ویې دجانان پښتو سجده روانه ده
د مسلمان ستر ګوله نشه روانه ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ چه واورېده وسرې زرخېل یووړه
رنګ ئې دسترګو نه غوټکۍ د ګل یووړه

د ماښام لړے له دزړه ارمان لاړ
په پسرلي شپې له ئې دمستۍ نشان لاړ

ارمان چه لاړ خواني هم لاړه
خمار هم لاړ مستي هم لاړه

او د جنت په طمع جنت نه خوار لاړ
یو عاشق دګلو نه چه د حورو په ښکار لاړ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کړے وړے

مستي چه چاکښ ډېرۀ شي     يا ډم شي يا شاعر شي
نيستي چه بونيرے وُ ډي     ملاؤ دَ هشنغر شي
چه صبر چاکښ ډېر شي     يا ملنګ شي يا بادشاه شي
چه کبر چاکښ ډير شي     يا فرعون يا ډنګا چا شي
چه اَس دَ تهتو زوے شي     قد غنے بلخشانے شي
چه ډم وي په کابل کښ     • خالصه • کښ درانے شي
په چا چه کينه ډيره شي     يا تخت شي يا تخته شي
په چا چه نفل ډير شي     يا تهتو يا فرښته شي
خواني چه چاکښ ډېرۀ شي     يا غل شي يا ولي شي
چه زور په چاکښ ډير شي     يا يزيد شي يا علیؑ شي
د چا چه بخت راوېښ شي     يا مجنون شي يا ليلیٰ شي
په چا چه تهذيب ډير شي     ملوے يا ملولا شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنهیا چه ډیر سخی شی          یا پیتی شی یا پالک شی
مهمند چه معتبر شی          بې غیرته شی ملک شی
چه مینه چاکښې زیاته شی          نبی یا لیونے شی
چه دم وی په کابل کښې          ،، خالصه کښې درانی شی
چه علم چاکښې ډیر شی          یا شیطان شی یا فقیر شی
چه وس د وسه ووځی          یا نصیب شی یا تقدیر شی
چه وخت د تولهٔ ووځی          یا قیامت شی یا وصال شی
چه سر د خوده ووځی          (نو) یا شهنګ شی او یا تال شی
پښتون چه غیرتی شی          یا خان صیب یا خان بادر شی

نیستی چه بونیری ووځی
ملا د هشنغر شی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه

سوی باغ تالا ګلشن دی — مړاوی ګل خاوره چمن دی
نه بلبل نه لولکی ښته — نه نرګس نه یاسمن دی
د ګلاب د ایرې شوی — که په اور سوی ختن دی
ای پښتونه! ستا وطن دی — ای پښتونه! ستا وطن دی
د دې باغ خاورې را واخله — ترې نه نوی بوستان جوړ کړه
ای د سوی باغ مالیاره — د نورو نو جهان جوړ کړه
ای چه ښکته ښکته ګوری — نن پښې ابله سره تورې
نه خبر چه نه ځوک وی — نه د مینځ آسمان وی ستوري
ستا شمله چه به شو پورته — شوی به ښکته شملې نورې
په مستی اوږنګ به سر وی — ستا د تیټې سترګې تورې
ای د تیټو سترګو ځوانه — پاڅه هغه جهان جوړ کړه
د دې باغ خاورې را واخله — ترې نه نوی بوستان جوړ کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے دَ وران ښځے پیرنے — اے دَ وږي ښځي پلاره!

بے دړه که سر کړدانه — اے دَ سوي باغ مالیا!

اے چه نن بربنډ ښځي ستا — دَ خوراک په کشاله دي

ستا دَ لاس ما ننۍ ولاړے — په دهلي په بنګاله دي

اے دَ بل دَ درمسریاده! — پاڅه هغه د وران جوړ کړه

د دے باغ خاورے راواخله — ترینه نوي بوستان جوړ کړه

اے په غرو په سر د ړکښ — په باغونو په میروکښ

په جنډول کښ په تیراکښ — زما لال پټ په ایروکښ

اے د زرګو په خنداکښ — دَ تنزورو په ښاروکښ

دَ شیرشاه نازبینه زوییه — ته نے پروت توروتیاروکښ

کړه دَ غم تیارے راغونډے
ترے دَ مینے داستان جوړ کړه
دَ دے باغ خاورے راواخله
ترے نه نوے بوستان جوړ کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دُعا

اے دَ حسن او نور دریابه! ماله یو تڅکے دَ نور را
ستړکے د کے دَ خندا راشونډے د کے دَ سرور را
زه دے خپل وړوکی زړګی له یوه نښه دَ یار غوارم
اے دَ حسن او نور دریابه ماله یو تڅکے دَ نور را
دے تک تور دَ غم محل له یو ښُغری دَ رڼا را
ستړکے د کے دَ خندا راشونډے د کے دَ سرور را
دے مستی او دَ ارمان له یو تصویر دَ جانان راکړه
ستا په مینه نازیدل راستا په ښکلی مخ غرور را
دے دَ خود سوی باغچې له یوه وعده دَ بهار غوارم
زه دانه وایم چه جنت را زه دا نه وایم چه طور را
د دے خوب دَ ساوو رخت اشاره دَ تعبیر نه کړه
ماله نه دَ بادشاهانو او سینه دَ فقیر را کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه

رتبه دا سې لیونۍ شوم په یو خیال باندې مین شوم
خُم د وبیز مې سمندله کښې په یو لال باندې مین شوم
رتبه: دا څنګه مستي ده چه جانان مې پکښې ورک کړ
که په عخ د یار د سترګو په دلال باندې مین شوم
زه د سیند د ځنبلو نه ووم یوه لپه مې ځره پوره
زه دلبر د مینې نه ووم په هلال باندې مین شوم
چه مې نه ځانید سینه کښې پښخوبونو کښې مې ځای کړ
عخ مې ګرو عخ د جانان ته په یو خال باندې مین شوم
دا مستي نه د ځواني ده نه مستي ده د شرابو
دا خو زه د یار د سترګو په یو خیال باندې مین شوم
دا مې بانګ د لیلی وا وریده که ستا ینه د بلال؟
که د یار د پایلو شرنګ کښې په یو تال باندې مین شوم
پتنګ پروت وو په تیاره کښې په نامه د شمعې مست شو
که دا زه د یار د سترګو په یو خیال باندې مین شوم
ملغ سوري دلبر ولید په یو څاڅکي د شبنم کښې
که صنم مات مو مسکي شو په خوبونو د صنم کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مړه شمع

ماته نسیمه مه وایه — مه وایه : یار به سبا راځي
ته د مستۍ خبرې کړه — ماله ژړا ژړا راځي

اې د رند و مسلو ملا ! — اې د اوږدو سلسلو ملا!
ستا په دې راز و نیاز پوره — ماله خندا خندا راځي

ما هم یو خوب لیدلے وو — ما هم یو باغ کرلے وو
ته چه قیصې د ګلونو کړې — ماله ژړا ژړا راځي

زه هم یو شان د ځوانۍ ومه — زه د مستۍ یو تصویر ومه
اوس یو ذره د ایرو یمه — څه که بېګاه سبا راځي

زه لکه مړه شمع ورکه شوم — ورکه په طمع د سوزښتو
کله په لاس د ساقي راځي — کله به اور او ور رڼا راځي

تلے ځواني چه لاړه شي — چرته په بېرته بیا راځي
ته د مستۍ خبرې کړه — ماله ژړا ژړا راځي

---

او د بنده مثال لکه د خس دی
تو د شي لوګے وکړي رڼا کړي جوړه
لمبه شي وسوځي خاورې ایرې شي
بوره ابۍ پرې ژړا کړي جوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بنده

بنده بدلیږی داسے بدلیږی
لکه بدل شی چه وخت دَ کال
کله سپرلے شی کله خزان شی
کله مستی شی کله وصال
کله پوحسن شی یو سوز او خوب شی
کله مجنون شی یو لیونتوب شی
کله فریاد سلګئ، کله نوتوب شی
کله سینه دسقراط کله خرتوب شی

کله ارمان دَ سینې او کله لال
کله مستی شی کله وصال

مینه مستی ده داسے مستی ده
لکه مست وی دَ بنکری تال
کله سود کل شی دَ سپرلی شپه شی
کله منصور شی کله بلال



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله یو غم شي ساز او ستار شي
یا د غوټۍ ارمان د ګلو هار شي
کله سره د سوز کله چغار شي
کله قصه د ښایست کله دلدار شي
کله سینې د حورو او کله ئې خیال
کله مستي شي کله وصال

غم یو نشه ده داسې نشه ده
لکه نشه شي په بانګ بلال
داخو یو لښکر دے د عاشق زړه کښې
د یار د سترګو د خط او خال
کله شراب شي مست او سرشار شي
کله د زړه جام شونډو ته د یار شي
څوک ئې تسپې کړي د چا زنار شي
کله قسمت شي او کله اختیار شي
کله ماښام شي کله هلال
کله مستي شي کله وصال

وخت بدلیږي داسې بدلیږي
لکه بدل شي چه وخت د کال
وړې ارمان شي هیرې جانان شي
هیرې مستي شي هیرے وصال



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سلام

نه ساز شو نه سوز شو
بس هسې ژوند تمام شو

نه خوب شو نه شړنګ شو
نه یار ګلندام شو

دا توره توره شپه راغله
نه ستوري نه سپوږمۍ شته

ځواني وه لاړه لاړه
یو ګوټ او خالي جام شو

یو ستوړے د سبا ؤ لاړ
سور ګل یو د لاله ؤ لاړ

سوړ لمر زیړې زیړې شولو
نرې نرې ماښام شو

قصه د حسن هیره شوه
مزه د مینې تیره شوه

ملا بانګ د سبا ورے
اخر په سول خیام شو

مستي بې پروائي ورکه
په خودي کښ بې خوده وه

او ځور لیونے هم نن
بادشاه ته په سلام شو

---



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دژمی ماښام

اوه نن دَژمی ماښام          دَجرګې شپه ده
پوست شبنمی باران          بهر وریږی
غاړه د اور او خیام          شروع قصه ده
دَ شاعر سره اوستاً          مهین غږیږی
ټنګ او ټکور دَژوند          ناز او مستی دَجانان
شړنګ دځوانۍ کنږېټ          شاتار دَغم وهی
خندا مستی دساقی          بت پرستی دَساقی
ستیندی د مرګ سره          دګونګرو شړنګ وهی
اونن دَژمی ماښام          دجرګې شپه ده
پوست شبنمی باران          بهر وریږی
یار شروع کړی مانه          دَغم قصه ده
کله موسکی شی
کله ژړیږی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مست

چه مې زړه مست وو دنیا وه مسته
کلونه مست وو لیلی وه مسته

چه مې زړه ډوب شو دنیا بوډۍ شوه
کلونه مراوي شو لیلی بوډۍ شوه

چه مې زړه مست وو شونډې تودې وې
د زهرو شونډې به هم خوږې خوږې وې

چه مې زړه ډوب شو شونډې مړې شوې
یخې دواوړو په شان د حورو خولې شوې

چه مې زړه مست وو سترګې مې سرې وې
ملام سپوږمۍ وه د سپرلي شپې وې

چه مې زړه ډوب شو سترګې هوښیارې
خزان مې مل شو په نیمه لاړې

خدایږو ژوندون بس ځوانۍ مستي ده
دا نور ژوندون نه دی یو سکرپلۍ دی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې چه غټې شي رټب دے کړې پټې

چه مستي نه وسېږي داغه لیا دې

اوما بناسے یاره ورو را روان دے

سبا به چونګ خاورې وي نن غنچان دے

جانانه : ښونډے ماته نزدے کړه

چه زړه م مست شي دنیا شي مسته

چه بیا سپرلی شي ګلونه سره شي

چه خوانۍ و دانګي خنداشي مسته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نور او سینګار او خمار

کل د بنډ بنایست سترګو له پسه ړنا
شونډو کښې دا بېخوده شونډو کښې نشه

نیست له د خپل خان په شان نور او سینګار او خمار
یاره د خندا په ځاے سپین مرګ کالونو ها

مینې له د زور د سمندر نه د باچا ور کړه
ساز له آواز له بنائست تا د ښار ور کړه

ما د غمونو ارمانونو جهان را کړه تا
ما له زړګی پوست او مستانه او حیران کړه تا

"او،، سترګو ستا د یار د حسن د آرام ځے
کله د سپوږمۍ د رڼا کله د ماښام ځے

کله د ځوانۍ د امیدونو د ارمان ځے
کله خمارۍ ستا د خمار او ستا د شان ځے

اے د دوزخونو د قیامت او د حساب ربه!

اے د تورو زلفو د لالونو د دریاب ربه!

اے د مینے حسن د ځوانۍ او د شباب ربه!

اے د مستو سترګو د نرګس او د ګلاب ربه!

اے د لوټکي د مینے اے د ګل د خیال ربه!

اے د ساز او نیاز او د نسیم او د هلال ربه!

ولے دے د حسن نه جوړ کړو دا د خاورو ښار

نیست له د خپل خان په شان نور او سینګار او خمار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقل مې حیرانه

زړه مې بېقراره بې آرامه مې دې خیال
عقل مې حیرانه او فکرونه مې جنجال
پوهه مې د ونښتې لکه لومه کښې سرخکه
روح مې دې تیارو کښې لکه لړه کښې هلال
رتبه: زما رتبه: دَ جانان دا خط وخال
دا زړسینې زلفې کږې خوله و روخې هلال
دا سترګې نیاز بینې دا پسته سترګې رنګینې
پاکې د نرګس نه دلولکې نه وریښمینې
سرې سترګې مستانې دَ مزې سترګې حیرانې
دې که دَ جنت او د دنیا سترګې جانانې
کله د ماښام لړې کله د رڼا دې کې
کله دَ پېرون د ښکې کله د سبا دې کې
وینم پکښې زه واره دنیا د جام جم په شان
او ښکې نې دې پاکې پاکوونکې دَ زمزم په شان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوب پکښې پراته د ساز او حسن جهانونه دي
دوی لیدلي زړه لکه سپرلي او خزانونه دي
دوی کښې دَ مستۍ او بېخودۍ دَ ځانو قصې
دوی کښې د مرګونو د ژوندونو دخوانو قصې
دا به تور چینجي شي او چینجي به تورې خاورې شي
دوی به به د ناهوکۍ کښې د غرونو صحرا او ږشي
خښکه به چینجي دَ ما بنام سوز ساز د سبا وخوړي
خښکه به چینجي دَ سپرلي شپه د لمر رڼا خوري
څه شوه د ایاز د زړه مستي د محمود سوې څه شو
څه شوه زلیخا د مینې بنګلې کورکې څه شو
زړه مِ بې قراره بې آرامه مِ دے خیال
عقل مِ حیرانه او فکرونه مِ جنجال



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

ژوند مې لوئې دریاب دے ورو ورو خوځېږي سمندر کښې
څاڅکي ورک په دریاب کښې شو په طمعه د ساحل

بخت کښې د سیلاب دي په مستۍ په چپو تلل
نه ورځي دریاب له غوښتل او اودریدل

دے لمحه د ساز له تله ژوندون ودریږ مرګ دی
زیرے د ما بنام وي د صحرا خلیدل

ګله سے د چپے کړه د ابد مستانه تال ته
وګړنګوه سازنے تارخانو کښې د ازل

لاړ لیونی لار چرته د لمر شغلو کښې ډوب شو
څاڅکي ورک د دریاب کښې شو په تمه د ساحل



A .S.K B

# اَرِنیٔ

خان له خپه بهانه زهٔ دَ بېګاه او سبا ګورمه
خاوره کښې دې ګل له دَ ګلونو دنیا ګورمه

سترګې مې لټی چرته صحرا کښې مناره یوه
شونډې مې لټی دُعاله بنګالی ننداره یوه

ګرځم مابنامی کښې د زړهٔ هلال شغلې لټوم
زهٔ د شبنم څاڅکی له خپلاوی او سیلاب لټوم

خان له بهانه د خندا وجه د ارمان لټوم
شپې له د سبا زېړې او مینې له جانان لټوم

ځکه کله ګل کله پسرلی کله هلال اخلم
پورې ترې دنیا لټوم په وازو سترګو جال اخلم

کله دریاب کله کومه دَ خیام تپوس
کومه دغمونو تلوسونه دَ آرام تپوس



(c) ketabton.com: The Digital Library

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان له څه معنی زه د بیګاه او سبا ګورمه

خاوره وګڼې کال له د ګلونو دنیا ګورمه

ربه ! د خوانۍ او د مستۍ خوب له تعبیر لټوم

دے د لمر ذرو له زه تو لوله ذخیر لټوم

ربه ! زه ژوندون له او مرګی له یارانه ګورم

دے لیونی سره د منلو افسانه ګورم

ځان له ګمانه زه د بیګاه او سبا ګورمه

خاوره وګڼې دے کال له د ګلونو دنیا ګورمه



A .S.K B

# ساز

ورکړه شرنګ دې ستا رله یاره! — نور نه د مني ماښام دې
نور نه سپوږمۍ را خېژي ده — نور نه سرور کښې خيام دې
او د زړه تار خانو ته دې — ګوتې د ساز ور ښکته کړې
وې: د محمود خبګرته نن — سترګې اياز ور ښکته کړې
سترګې مینې په غم ډکې — ډکې د سرو او صنم ډکې
سترګې ستې د شبنم ډکې — ځنګه په ناز ور ښکته کړې
او دې د خاورو ستارګښ تا — ځنګ د ابد قصه جوړه کړه
او دې شرنګ او ترنګ نه دې — ماله مستي نشه جوړه کړه
تا د ګلونو د رنګ نه — ماله د یار تصویر کړ جوړ
تا د تارونو د شرنګ نه — ماله یو خوب او تعبیر کړ جوړ
تا د سرور او غرور ځنګ نه — ماله بابا، منیر کړ جوړ
تا د غمونو د رنګ نه — ماله د غم اکسیر کړ جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا د غرور او ارمان نه — ما ته بهار او خزان کړې جوړ
تا د ژړا د آواز نه — ما له تصویر د جانان کړې جوړ

تا د نرګس د دوه پا نو نه
ما له بهار او ګل کړې جوړ
تا د نسیم د خبرو نه
ما له فریاد د بلبل کړې جوړ
ورکړه شرنګ د ستار له یاره
ورکړه رنګ د خمار له یاره
ورکړه سلام ګلو نو له
ورکړه دعا د یار له یاره
بیا نشت او ارمان را وسپېره
ما له ترې ګل او خزان کړه جوړه
او د نسیم د خبرو نه
ما له تصویر د جانان کړه جوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زک خیال

یو خیشته غونډے ماشوم و . که یو خیال که یو خمار و
یو مُسکے شان تا لے وکړه د ازل د تیارخانو نه
زما خواله شغلا راغے لکه یو ست قدم د یار
که یو ستوری ستړے والی چرته لرے د تیارو نه
که د توبے کوټے وکښے شاهزادګۍ د نوي ولاړه ؟
د ما سترګو کښی غم نو . ښکلے شونډه وکښی خندل
د جامو ان یو حرکت و . که یو رنګ د تخیل و
که د تال ګنګرو په خیر کښی م خوبونه ګډیدل
لکه ړوکے صوبے باغ کښی په هیڅ شی ئے یقین نه وی
چرته پټ په کښی یو خوب وی د صحرا او د ځنګل
ما د مینے لاس خوار وکړه . څه دعا وه څه ارمان
ما وے آئینه نه وه . راشه مست که دا جهان
زه به خپل خود ستا وجود کړم چه ته ستړګو ته ښکاره شے
خپل احساس به دی جامه کړم چه یو خیشت یونډ آئینه شے
ستا مستئ له اختیار به د ځان سرور درکړم
ستا امید او مشغلا له . به خوبونه د طور درکړم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به خپل ژوند ترجان کړم ستا د ژوند د کتابونو
زما ګوتے به ستا ږدی . ستا د شهزنګ ستا د ننګ
یو قدم مے که راپورته . هم راته هم سریده
د صحرا عادت هوسے ؤ به ګلزار کښ ترپیدؤ

ماخپل ژوند ستر کو کښ خوړکه . دیر به مینه ورروان شوم
عجیبه جهان ته لاړم هم عاشق شوم هم جانان شوم
خو چه ژوند مے ورتلم خواله . نو چا چغه کړو چه خان .
لیونے شپوله . اغلی . درسے خاوری درله دوستان

یو نظر م چے تے وارو . نو د نو دینا پیرسے نه ؤ
چار چاپیرو به تیارو کښ نه ئے نوم ؤ نه نښان

اے زما ماشوم ژوندیه . ته به ګرځے کم صحرا کښ
د تیارو به شپه کښ ژړکه . ستا خوکور دے په دنیا کښ
و لے لاړے یو ژړک خوږ شوے د ازل روکه دنیا کښ
ستا خاندے کښ زما ژوند دی . ستا جمدان دے زما سا کښ
یو نظر کښ که د ماته سور ګلشن تور بیابان
لیونے . لیونے ژړګم دسے ژړک شوے م جانان
راشه راشه په خندا شه لکه ستورے یے په سبا کښ
د تیاره به شپه کښ ژړکه . ستا خوکور دے په دنیا کښ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوه قصه

څوک په ساز کښې — څوک په خوږ بېسوي رباب کښې
څوک په مسته ترانه کښې — یو تمه بل افسانه کښې
هر وخت هر یو زمانه کښې — په فراق په یارانه کښې
بس د خپل جهان قصه ده — په هر مخ د دې کتاب کښې
څوک نه وي په دې دستور کې — څوک په مست نګین رباب کښې

څوک د تال او حرکت نه — کوي ژړا او خندا جوړه
ټول وجود یې یو ارمان شي — چې د غم کوي ګډا جوړه
لاس او خپې د ګلو څانګې — د بوډې تال په حباب کښې
د اغیښت داسې رنګونه — نښته نښته په ګلاب کښې
خو هم هغه یو ارمان دی — دې د تال او شړنګ رباب کښې
هم هغه یوه قصه ده — په هر مخ د دې کتاب کښې

څوک نه ساتګي را واخلي — په خپل اور سره لمبه کړي
یو مستي سره ورته جوړه کړي — په جانان یې صدقه کړي
ګله دوب د خپل خمار کړي — دوی هم ځان سره نشه کړي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله تور غمګين ماښام کښې — دومره په غم کې په تياره وړي
یو بې وسه مایوسي شي — ناامیده او زړګی ماتم شي
یو بې نومه اضطراب شي — سوځي لوګے سپے آدم شي

د سرو جام د میخانے کښې — د جنات په سپين محراب کښې
د صوفي په پټ سوړ کښې — د عاشق د عشق شراب کښې
د شاعر د لاس کمال کښې — په جنون په اضطراب کښې
بس یو رنګ د چپه خلیږي — هم جانان کښې هم ګلاب کښې
هم په ساز هم تال کښې — هم په خوږ سوي رباب کښې

یو خوا تور مغ ویره مرګ دی — بل خوا ژوند یو رنګین خوب
یو خوا غم درد او تیاره ده — بل خوا مست شان لیونتوب
یو خوا ژوند یو بې وسي دی — لوبه تورو مقبرو ده
بل خوا ژوند یو مستي ده — د امید ارمان نشه ده
په دې سوال د هم پوهه نه کړم — د ژوندون په لوی کتاب کښې
دغه سوال بس دغه سوال دی — هم په رقص هم په رباب کښې
عاشق مینه کښې سوز کښې — شاعر غم او اضطراب کښې

هم هغه یو قصه ده
په هر مخ د دے کتاب کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مدون یادونې

# او

# څرګندونې

د پښتو د اوسني ادب د تر ټولو ستر شاعر خان عبدالغني خان له نامه سره به د افغانستان او برصغیر په علمي، فرهنګي او سیاسي حلقو کښې د یر لږ خلق بلد نه وي. خان له پښتو غږ او افغانستان او برصغیر سر بیره په نوره دنیا کښې هم د نامه خاوند دے او په خاص ډول د پښتو ادب خارجي محققین او له انګریزانو سره د لرو بر پښتو د آزادۍ د جګړو مورخین او مطالعین د ده له نامه او ژوند، کردار او کلام سره آشنا دي. او هم لږ و ډیر په هغه مقام هم واقف دي چه زمونږ د غه لوی شاعر ته د پښتو په معاصر ادب کښې لري.

سر بیره پر دې د پښتو ادبیاتو په معاصرو تذکرو (۱) کښې هم خان. عبدالغني خان زمونږ مشرانو ادیبانو پر مونږ پیژندلے دے او بوخای ...

(۱) پښتانه لیکوال د پ علوم ټولنې خپرول ص ۱۰ - ۱۹ د ۱۹۵۹ ع کال په پېښور چاپ . او همداسې [illegible] د [illegible] د ۱۳۳۶ ه ش [illegible] کال چاپ .



A .S.K B

نو هم خینې نخې تحقیقي او علمي مقالې د ده په ژوند او فن کښل شوې دي (۲)،
مګر دا چه اوس د کلام یوه عمده برخه د (کلیات) په نامه د چاپ ذکر ته راوځي. نو بویه چه د کلیات له لوستونکو سره د مرستې په خاطر د ده په شرح حال او ژوند او هنرمندۍ هم څه وکښل شي. چه له ابتدائي لوستونکو سره د رهنما په دود مرسته وکا، البته منتهیان خود خان له ژوند او هنره سره ترهسو چا ډیر بلد دي.

نو زه به په همدې نیامت خپله لیکنه د ده د شرح حال له کښنې پیل کړم او بیا به په ترتیب سره په بحث ور موضوعاتو نورې خبرې هم وکړم.

## کورنۍ او د ژوند ابتدائي حالات:

د پښتو ژبې د غه د غوڅنګلو نو د شاعر خان عبدالغني خان پلار د پښتنو ستر مشر خان عبدالغفار خان دے او مور یې د رخو پر د خانانو د یار محمد خان لور وه. چه له باچا خان سره په ۱۹۱۲ ع کال واده شوې و (۳)

د غو دوو خانخیلو له پښتنه په ۱۹۱۴ ع کال (۴)، د شمال مغربي سرحدي صوبې د هشتنغر د اتمان زو (۵) په کلي کښې د پښتو ژبې د غه نومیالي او تکیالي

---

(۲) کتاب سالنامه، د مرحوم استاد بېنوا مقاله ص ۱۰۹-۱۲۹ د ۱۳۴۶ هـ ش کال د کابل چاپ.
(۳) زما ژوند او جدوجهد، د خان عبدالغفار خان ص ۷۰ د ۱۳۶۲ هـ ش د کابل چاپ.
(۴) په پښتنو لیکوالو کښې ... د ۱۹۱۶ ع شاوخوا ښودلې دی؟
(۵) په کتاب سالنامه ص ۱۰۹ کې مرحوم بېنوا د غني خان د پیدایښت د ... ښودلې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر وزیر ید. پلار یې د عبدالغني نوم کښېښود.

عبدالغني د مور و پلار لومړنی اولاد او د دوی ډیر نیازېبین و. استاد بېنوا مرحوم د ده دیوه دوست په حواله کښلي دي چه: "غني په کوچنیوالي کښې ډیر ښکلی او د مور و پلار ډیر نازولی و. په غاړه به یې د سرو زرو د نه اوږدې وه او په ښي غوږ به یې د سرو زرو والۍ وه. په سر به یې نیله داره ډیونله ونوړه که ټوپۍ او په ټوپۍ کښې به یې د یو د زرینه جوړنه تومبلې وه چه د جوړغې نه چار چاپېره به ډېر د نظر یمات تاوېزونه تاو شوي وو."

مگر د غه نیازېبین توب ډیر پایښتی نه و. ځکه ننګیالی پلار یې هغه مهال د وطن او خلکو د خلاصون لپاره د انګرېزانو پر ضد مبارزه پیل کړې وه او په خپل کور کښې آرام نه و ناست. له بله پلوه د غني مور هم د ده په پنځه کلنۍ له دنیا سترګې پټې کړې او نازولی غني د مور له تودې غېږې محروم شو.

د غني د مور د مړګ واقعه د پښتنو لوی ملي مشر د غني پلار باچاخان داسې کښلې ده: "د جنګ په وجه په دنیا کښې سخته وبا راغله. په جنګ کښې دومره کسان نه وو مړ شوي لکه په دې وبا کښې چه مړه شول. په هندوستان کښې هم دې وبا ډیر خلک ووژل. پښتانه هم ډیر پکښې مړه شول. دا داسې عجیبه وبا وه، اکثر به یې ځوانان، جینکۍ او هلکان وهل او مړه کول او چه یو کور ته به یو ځل ننوته بیا به یې یو هم نه پرېښود .... په دې مرض د ټولونه اول زه پرېوتی وم خو هسې خدای جوړ کړم .... زما ورپسته غني چه د پنځو کالو و ناروغه شو.



A .S.K B

غني ډېر ښکلی وه. د مور ورسره ډېره مینه وه. ډېر به ورته ژړل ما به منع
کوله او د صبر تلقین به مې ورته کوله خو هغې زړه به نه صبرېدو. یوه ورځ د غني
رنځوري سخته شوه مور یې ورته د کټ سره ناسته وه د ده سر یې په غېږ کښې
ایښې و. ما د ماښام لمونځ کړے و په مصلیٰ ناست وم. دعا مې کوله غني ته مې
کتل چه بې هوښه پروت دے چه ناځاپه مور یې پاځیده د زوے سر یې د خپل ورانه
نه په بالښت کښېښوده او د زوله کټه چاپېره وګرځېده او سر ته یې ودرېده
او لاسونه یې په دعا پورته کړل او په ژړا یې وویل چه اے خدایه د ده مرض په ما
کښېږده او دے ماشوم ته شفا ورکړے. د خدائے یوه عجیبه حکمت و. په سباله
دا ناجوړه شوه. د دې مرض ورځ په ورځ زیاتیدو او د غني مرض به ورځ په ورځ
کمیدو غني جوړ شو. او مور یې خوا نیمګړې شوه. ماشومان یې را ته پاتې شو. د غه
وخت غني د پنځو کالو. ولي د دریو کالو او خور یې د یو کال وه.»(٦١)

د مور تر مړینې وروسته د عبدالغني خان روزنه د ده دانا د پاچا خان
د مور په غاړه وه. مګر د هغې هم د ژوند ډېرې ورځې نه وې پاتې. په دې وخت کښې
چه باچا خان د ډېره غازي خان په جیل کښې قید و. مور یې هم وفات شوه (٦٢)
او د غني د پالونکې او مهربانې مور له دنیا سترګې پټې کړے. غني بې سرپرسته
پاتې شو. لهٰذا د دې دا چه په غني د ماشومتوب په دوره کښې د ژوند د ناوړه چپې
راغلې مګر ورو ورو د دغه حالات مخ په ښه کېدو شول. خان کاکا (غني) د ملي شو

(٦١) زما ژوند او جد وجهد ص ١٣٢ - ١٣٤ .
(٦٢) همدا کتاب ص ٢٠٩ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سنوبخنونه لاږ دده په شخصي ژوند کښې هم تبديلي راغله .

## زده کړه، روزنه او فرهنگي محيط :

د پښتو د اوسني ادب د غه نوميالي شاعر هغه وخت د مډ يسې د ننگ شو چې باچاخان او نورو مبارزو او ملياليو پښتنو په همت په پښتنو کښې د عصري تعليم د شروع کولو او عامولو جد وجهد جاري وو . او د دوی په همت او ميرانه په ۱۹۲۱ ع کال د اتمانزو آزاد سکول جوړ شوې وو ، خو دلرو پښتنو په چاپيرچل کښې په عام ډول د تعليم څه شوق نه وو ، او ډيرنکي اجتماعو په دعصري تعليم د مخنيوي لپاره په خلکو کښې دول دول غلطې پروپاگنډې خپروې او خلک يې له عصري تعليم څخه ليرې ساتل . په قبايلي او کليوالي سيمو کښې د سبقونو عام دود په جومات کښې هماغه ديني نصاب و . چه له خوانه تر اوسه لا په ځينو ځايونو کښې چليږي .

غني خان په دغسې شرايطو کښې د سبوونځي شو ، او ميرني پلار يې د اتمانزو په آزاد سکول کښې شامل کړ .

استاد بينوا مرحوم په دې باب کښلي دي : " د غني خان ابتدايي زده کړه په هغه آزاد قومي سبوونځي کښې شروع شوه چه باچاخان او د هغه دوستانو د غريبو هلکانو د پاره په اتمانزو کښې جوړ کړې و ، او زده کړه يې کښې وړ يا وه .

باچاخان خکه خپل زامن د غريبانو سبوونځي ته واستول چه خلک



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونه وايي چه: باچاخان د خپلو او نورو د زامنو تر منځ توپیر نه کوی. خپل زامن معتبرو ښوونځیو ته بیایي او د نورو زامن د غریبانو ښوونځیو ته استوي (۸)،

دلسم ټولګي تر پاس کولو وروسته د دهلي په جامعه ملیه کښې شامل شو، په ۱۹۲۹ ع کال باچاخان د یوه مرام لپاره بیرته هلته راوغوښت او څه موده وروسته یې د تحصیل لپاره لندن ته ولیږه. او د ۱۹۲۹ ع کال د جولاي په ۲۳ نیټه د څورلسو کالو په عمر د لندن په نیت په بمبئي کښې د اوبو جهاز کښې سور شو.

استاد بینوا د ده د لندن د سفر په باب زیاتوي: «غني خان لندن ته ولاړ او هلته یې د باچاخان په مشوره د دوه نیم کاله دیولوي پادري په کور کښې تیر کړه، وایي چه په دې کښې د باچاخان مطلب دا و چه غني خان که د پرنګیانو په او چت خاندان کښې عمر تیر کړي نو د پرنګیانو د عظمت په راز به پوه شي....

د انګلستان آزاد ماحول کښې د غني نایاب ښایست د هغه د پاره یو لوی مصیبت شو. چه چیرته به تې پرنګیانۍ جینکۍ به ور پسې وې او سبق ته به یې نه پرېښود. خو په آخره کښې د لندن یوه د فلم ستاره ورپسې مینه شوه چه ډیره بې بها ښکلې وه. د ده نورو ملګرو ته ویره پیدا شوه چه غني یې په نکاح وانغلي، نو پولیس پکښې باچاخان ته خط ولیکه او د ټول قصې نه یې خبر کړه، باچاخان د تار په ذریعه حکم وکړ چه فوراً امریکې ته کوم کالج ته لاړ شه (۹)،

(۸) اوسني لیکوال ج ۳ ص ۹۷۰
(۹) همدا اثر ص ۹۷۱



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غ. خبر: ځاے ځاے د غني خان په شاعرۍ کښې هم خان ښکاره کوي چه د لندن د پیرنګو جونو ښایست یې په زړه اثر کړے و... د لندن معشوقې ترمه لیک ددې یوه توته ده چه داسې پیل کیږي :

دلته خواته ازغی دی     بل خوا ته ځانګې د نرګس<br>
د هنر علم سایه کښې     ګرځي ګل لبانه مس (۱۰)

غني خان د پلار په حکم له لندن نه امریکې ته ولاړے. او د لویزیانا د ایالت د بورې او شکرې جوړولو په یو کورس کښې شامل شو. اما دوه نیم کاله وروسته چه باچا خان بیا قید شو، نو غني خان ته ژوند تریخ شو، ځکه خرڅ نه ورسیدو او پوره اته میاشتې پیسه خرڅ هم نه وو رسیدلے. بالاخره یې خپلوان دوه روخته قلبه د ورلیږل چه د هغې پرے له امریکې هندوستان ته راواپس شي.

باچا خان هم د غني موضوع ته دا اشاره کړې ده: «مشر عبدالغني مې د چه هغه د ترو کمستوري د تعلیم د پاره امریکې ته لیږلے و. خو چه زه فیرنګیانو په ۱۹۳۱ ع کال کښې جیل ته ولیږلم او زما جایداد یې ګډوډ کړو نو هغه د پیسو د نشت په وجه سرته ونه رسولو او واپس راغے» (۱۱)

کله چه عبدالغني خان له امریکې راغے نو باچا خان د هندوستان د بهار د ایالت د هزاري باغ په جیل کښې و، چه د غني ورسره ملاقات وشو. او بیا د جواهر لال نهرو

---

(۱۰) پانوس ص ۱۱۶، د ۱۹۷۹ ع کال د پیښور چاپ.
(۱۱) زما ژوند او جدوجهد ص ۲.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نقصیدا ۱۸۸۹-۱۹۶۴ع ) په مشوره نې د سے آله اباد ته ولیږل او هلته د جواهر لال نهرو د پلار موتی لال نهرو په کور کښې دیره شو. او ته میاشتې د جواهر لال نهرو میرمنې کملا دخپل بچي په شان وناز اوه خو کله چه په هغې پسې ذکر شاري انګریزي پولیس راغلل ـ نو دے او خپله لور اندرا ( ۱۹۱۷-۱۹۸۴ع ) یې د ټاګور بین الاقوامی یونیورسټۍ ته ولیږل ـ د چه د غني د یونیورسټۍ ته لاړ ـ لږ موده پس د محصلینو د اتحاد یې رئیس شو.

دغني د منظم تحصیل دوران هم له واقعاتو سره مل روان وکله به یو ځیه پیښې وو، او کله به بل څه.

د دے تحصیل په جریان کښې د وله خپلې موري ژبے سره پیره عربي ـ فارسي اردو او انګریزي ژبے د خبرو کولو مطالعے او په ځینو کښې د ځه کښلو ترسره حده زده کړے.

په اوسني لیکوال کښې د دة د عربي داني او د اسلامي علومو د تحصیل او مطالعے په باب راغلي دي: " د باچاخان دا خیال وچه د غني به یو لوی اسلامي عالم جوړ کړي، نو ځکه غني خان او کاله د عربي مروج علوم ولوستل په تیره بيا د قرآن تفسیرونو او د احادیثو کتابونه ( مسلم، بخاري ) احسن المسائل او بلوغ المرام تقریباً ټول په یاد وو او عربي ژبه یې د خپلے ژبے پښتو په شان روانه ویله " ( ۱۲ ) وایي چه یو ځل د هند د دیوبند د اسلامي

(۱۲) اوسني لیکوال ج ۳ ص ۷۹۰



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملایان یو مولانا دانما نزو آزاد سکول ته را غلے و، غني خان د تولو نه کردانو مخکښے ولاړ شو او شل دقیقے یے په روانه او فصیحه عربي ژبه وینا وکړه مولانا پوښتنه وکړه چه دا هلک عرب دے ؟ باچاخان په جواب کښے ووئیل چه نه دا زما زوے دے .

دغسے چه باچاخان په غني باندے دعربي د زده کړے باعث دے ترڅنګه یے د پارسي ژبے د زده کړے سپارښت هم ورته کاوه ، باچاخان په خپل یو لیک کښے غني خان ته کښلي دي : " عربي او فارسي طرف ته هم څه نه څه توجه وکړه او د دے مطالعے د پاره هم څه نه څه وخت وباسه ما تا نه د دے متعلق اول هم لیکلي وو لیکن تا یے په خپل خط کښ څه خاص ذکر نه دے کړے " (۱۳)

## ملازمت :

بناغلي همیش خلیل کښلي دي کله چه غني خان په ۱۹۳۳ع کال پیښور ته واپس راغلو څه موده دے د تخت بهایي په شوګرمیل کښے ملازمت وکړو (۱۴)

استاد بینوا لیکلي دي : " غني خان هلته د بورے جوړولو په یوه کارخانه کښے د میاشتے په سلو شل کلدارو نوکر شو ، په لومړي سر کښے یو معمولي نوکر و ، خو په دے کاله کښے د ننه د ننه د خپل نظري استعداد او لیاقت په وجه د کارخانے د تولو نه لوے او غټ افسر شو . . . څه موده د رستے یے د تخت بهايي په سیمه کښے د بورے جوړولو کارخانه جوړه کړه . کارخانه په چلیدو راغله ، خو داغه څت وجه دده د پلار

(۱۳) د باچاخان لیکونه (۱۴) پښتانه لیکوال ص ۱۷



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(باچاخان) او پرنگیانو تر منځ بیا جګړه تود شوه او د غني خان قول څېلوان د انګرېزانو له خوا د استعمار زندانونو ته بوتلے شول. غني خان ته باچا خان حکم کړی وه چه خان به قید ته نه ورکوی، او د مفوری د جایداد سرپرستي او انتظام به کوی. غني خان هم د خپل جایداد په یوه کالي کښے ځانله سبه کور جوړ کړو... کرمه زمینداری ئے شروع کړه او په مزه کښېناست» (۱۵)

استاد بېنوا په اول وار کښے د ده د ملازمت خبره د بمبوو لے او دوم وائی چه: غني خان هلته د بورجېرو لو په یوه کارخانه کښے.... نوکر شو. ښکاره چه د ابحث په هندوستان کښے د ده له ژوند سره اړه لری، نو د ملازمت د غه دوره به یے هندوستان کښے وی، خو په اوسني لیکوال کښے د غني خان د خانه د معلوم.

اما په بلوشے (۱۶) کښے چه د میاجعفرشاه په نامه د عبدالغني خان کوم منظوم لیک چاپ شوے دے، په یوه بیت کښے یے راغلی دی:

چرته نرم رېښمین تار چرته میزرے

چرته زه چرته "ګوله" چرته شکرے

د محمد منظوم لیک په حاشیه کښے کښلی دی: ګوله: ګوکرناته د هندوستان په (یو. پي) ولایت کښے یو ځای دے غني دلته د بوري په کارخانه کښے افسر ؤ.

نو استاد بېنوا چه په هندوستان کښے د خان د ملازمت کوم بیان راوړے دے دا به بنایی هماغه ګوله کښے وی.

(۱۵) اوسني لیکوال ص ۹۰۳

(۱۶) بلوشے ص ۳۶ د ۱۳۲۹ هـ ش کال د کابل چاپ - پښتو ټولنه.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## واده :

اوسني لیکوال کښې راغلي دي : " .... او هغه وخت چه د بمبئي په ښار کښې یې دخپل یو دوست کره دحیدر آباد د نواب رستم جنګ کشر لور ولیده نو دلیدو سره سم ستې یې زړه پرې بایلود ... " بیا لیکي : " او تر اوږدې کالو منډو وروسته یې دنواب صاحب لور وکړه او دخپل ژړه هیتوب ارزو تمه یې پیدا کړه."

عبدالغني خان دخپلې د ملګرې په باب داسې نظر لري :

| | |
|---|---|
| یو خوب د شاعر په جامه انساني | یو ساز دور دراز ښکې خوږ آسماني |
| یو ګل دجنت په خصلت جهاني | یو جسم ناري یو زړه کې نوراني |
| شوه داسې پیدا دغني دلبرا | په غیر پښتنه په ښا ایرا بهت نی (۱۷) |

## سیاسي میدان :

که څه هم استاد بېنوا کښلي چه غني به ۱۹۴۵ع کال د سیاست د ډګر خوا ته مخه وکړه ، خو زما خپله رایه او نور شواهد دادي چه د عبدالغني ژوند له ماشومتوب څخه په یوه سیاسي ماحول کښې تیر شوی دی .

خان په داسې یوه کورنۍ کښې زوکړی چه هغه بخپله یوه لویه سیاسي ملنګه وه ، باچاخان نه یوازې دخپلې سیمې په سیاسي حلقو کښې محشور ؤ بلکه دسیمې په سیاست کښې داخل شخصیت دی .

عبدالغني په دغسې یوه کورنۍ کښې دنیا ته سترګې پرانیستې ، د هغه وخت

(۱۷) د خوږ بهار ص ۳ ، د ۱۹۵۹ ع کال ، چاپ ، پېښور . د خوږ بهار په ۶ مخ یې ځینو بیګا په ګرد په هغه یک پنځه نه ۱۹۰۵ ع کال د خپل واده د ولسم کال مبورولی دی ، خو سکار زیجه غنې به په ۱۹۲۱ ع کال کښې واده کړی دی .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول سیاسي جریانونه اوواقعات دد : په فکر او نظر او عملي لحاظ اومؤثر وو .

زه په خپله دغه . الغني خان د سیاسي فعالیت زمانه او په سیاست کښې

دده ګډون له هغه وخته راپیل کوم، چه د پرنګی دشوموضیاتو په نتیجه کښې

په افغانستان کښې دغازي اما ه الله خان (۱۹۱۹-۱۹۲۹ع ) په ضد بغاوتونه

ادبچه سقا راد ته شو، زمونږ په ټول هیواد کښې دحق اوباطل ترمنځ یوه جګړه

روانه شوه . او ټول وطن د پرنګی په لمسه په اور کښې سوځیده ، زمونږ ټونو

ورونو دد غه مصیبت برداشت نشوکولای ، اوله مونږ سره غني خان په دغه کښې

شریک باله . باچاخان او دده ملګرو دخلکو د پوهولو لپاره جلسې کولې او

دامان الله خان په ګټه یې تبلیغونه کول چنده یې ټولوله (۱۹)

او دجنګ د زخمیانو د ما .د لپاره یې افغانستان ته دیو طبي وفد دلیږلو

کوښښ شروع کړے و . غني خان هم د باچاخان له خوا دغه وفد ته مرقي

شوے و ، لکه چه او سني لیکوال کښې راغلي دي : " باچاخان پنځه زره روپۍ

اويو هم غني دغه وفد ته وبا خښه " غني خان دغه وخت په جامعه ملیه

دهلي کښې سبق وایه ، په غني پسې ټلګرام لاړ او هغه په دوه ورځو راورسید . .

خان ته یې د رضا کارانو خرچه جامه جوړه کړے او د ډاکټر خان صاحب

( ۱۹۵۶ع شهید ) له کمپوډرځنه یې دپټۍ تړلو چل زده کړ . خو پرنګی

د دغې ډلې له تلو سره موافقه نه ده کړه او د . وی پاسپورټونه یې ترهغه وخته د

(۱۹) مرحوم راحت زاخیلی (۱۸۸۴-۱۹۶۳ع) هم په دے باب ویلي دي : «یاد کړو خه مالونه په ملک کښې د زخمیانو . د واغستلو ص ۳۰ دزلمی هیواد مل په زیاتي . د ۱۳۶۲ ه ش ال چ پ)



A .S.K B

چې امان الله خان له پاچهۍ لاس وکیښ.

خنګه چې د باچاخان د غني فیصلې ته پرنګیانو په ښه نظر نه کتل او ملګه یې غوښتله چې ګرفتار کړي، نو غني یې له ګرفتارۍ څخه د ژغورلو په خاطر د تحصیل لپاره انګلستان ته ولیږه (۱۹۲۹ع). دا و د سیاسي مبارزې په ډګر کښې د غني لومړی ګام او د پرنګي داعمالو پر ضد یو پاڅون.

د روسته تر دې چې غني له اروپا او امریکا څخه بېرته هندوستان ته راوګرځید، د هند په سیاسي حلقو کښې محشور شو. له ګاندهي جي (۱۸۶۹-۱۹۴۸ع) او د هند له نورو سیاسي لیډرانو سره یې د پلار په وسیله ناسته پاسته وه. لکه چې پاچاخان په خپل ژوندلیک کښې عبدالغني خان ته کښلي دي: «غني جانه! دا خو ډېره د خوشحالۍ خبره ده چې د ګاندهي جي په صلاح او مشوره بنګال ته روان یې. زه په تا ډېر خوشحاله یم که چېرې ته د ګاندهي جي په صلاح سره کار کوې د هغه تا سره ډېره مینه ده ....» (۱۹)

استاد بېنوا لیکلي دي: «عبدالغني خان په ۱۹۴۵ع کال د دوستانو په سپارښتنه د هغه وخت په مرکزي پارلمنټ (برتانوي هندوستان) کښې د انتخابیدو د پاره ودرید، خان یې کاندید کړ (۲۰) د ده په مقابل کښې که څه هم د هغه وخت ډېرې سیاسي ډلې لکه خاکسار، مسلم لیګ او هندو مها سبها

(۱۹) د باچا خان لیکونه ص ۲۰

(۲۰) د پښتانه لیکوال په ۱۰ مخ کښې یې کښلي دي: «کوم وخت چې خان عبدالقیوم خان د کانګرس مستعفي شو نو غني خان د هغه په ځای دوه کاله د مشترکه هندوستان د سنټرل اسمبلۍ ممبر پاتې شو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړے نو، خو غني خان هغوی ته ماتے ورکړه او د هند په مرکزي پارلمنټ کښے وتا کل شو نو دهلي ته ولاړ ، . هند په مرکزي پارلمنټ کښے مناغلي غني دخپل مستعد دماغ په برکت ډیر زر منلے مقام ومونډ او دهغه وخت د هندوستان په دریو بهترینو مقررینو کښے یوم غني خان و، که څه هم دے د پارلمنټ ته تولوغړو کشرو ، خو چه ده به تقریر شروع کړو نو بیا د م به چارچاپیره د پارلمان غړي په منډه منډه د پارلمان سالون ته راتلل .... سره د دے چه عمر یے لږ و ، بیا هم د مرکزي وزیرانو سره دیو لسو سلا کارو کمیټو غړے و یو حُل نیم هسم داره یا بین الملي کنفرانسونو ته لیږلے شوے و. "(۲۱)

هدغه مهال په شمال مغربي صوبه سرحد کښے د مسلم لیگیانو دراني دخدایي خد متګارو په وړاندے زیاتے شوے وے ، نوهاغه وچه عبدالغني خان دخدایي خدمتګارو دمحافظت لپاره د زلمي پښتون ډله جوړه کړه او ډیر وطنپرست پښتانه زلمیان یے پکښے منظم کړل ، دغه تحریک سره له دے چه شپږ میاشتے وچلیده ،خود اتیا زرو په شا وخوا کښے پښتانه زلمیان ورسره وو.

فخرافغان د دغه تحریک په باب کښلي دي: " څه وخت چه زمونږ خلک د میجر خورشید دد ے اراد ے او سیکم نه خبر شول نو هغوي د خدایي خدمتګارو دحفاظت دپاره نوجاعت دغني په مشرئ کښے جوړ کړو، نوم یے زلمي پښتون و او په دے کښے هغه خوانان شریک شول چه د چا عقیده په عدم تشدد باند ے نه وه

---

(۲۱) اوسني لیکوال، مخ ۹۰۲



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې چې هغوی په دې غرض دغه جماعت جوړ کړې و، چې خدايي خدمتګار خوتشد د نه کوي، د دوی عقيده په عدم تشد د ده د دې په خلاف د تشد سازشونه کيږي، نو دوی اعلان وکړ چې دا جماعت هم د خدايي خدمتګار د حفاظت د پاره دی. د دې په مقابل کښې مسلم ليګو د غازي پښتون په نوم يو جماعت جوړ کړو لیکن پښتون قوم زلمي پښتون پسې و، او مسلم ليګ کښې چه کوم خانان د برتانيا نو تالي څټ وو، هغوی په دې نتيجه ورسيدل چې قوم خدايي خدمتګارو سره دی نو که د زلمي پښتون او غازي پښتون جګړه شي نو موږ مسلم ليګو کښې به يو کس هم ژوندي پاتې نه شي.... » (۲۲)

د هندوستان ترويش وروسته د ۱۹۴۸ع کال د جولائي په ځلرمه نيټه د شپې په يوه بجه غني خان د مسلم ليګي حکومت له خوا ګرفتار شو او د هغه شپې په سبا پېښور ته بوتلې شو، اوله مرحوم ماسټر عبدالکريم سره يو ځاې جيل ته وليږل شو. د هرپور او پاکستان د نورو جيلونو په تورو او سپينو پنجرو کښې يې شپږ کاله تېر کړل او په ۱۹۵۴ع کال کښې له بنده آزاد شو.

دا وه د ده سياسي ژوند او په سياسي ميدان کښې د ده د فعاليتونو او مبارزو لنډه قصه. اما تر دې وروسته هم که ظاهراً خان په روان سياست کښې لاس وهم نه لري، مګر بيا هم د محيط او خپلې کورنۍ د سياسي مرکز ميو

---

(۲۲) زما ژوند او جد وجهد ص ۶۹۲ - ۶۹۹



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

له چېو په امان کښې نه شي پاتې کېدې او دغه سياسي جريانات دده په ژوند اغيز کوې او دده ژوند مل وړ سره تيرېږي .

## د ادب ميدان :

ويل شي چه خان عبدالغني خان خپل لومړنی شعر د ١٩٢٩ع کال د جولای په ٢٢ نيټه د عمر په څورلسم کال ويلې دې ، او دغه شعر يو بيت دادی :

د تهمت نه به جهان کښې څوک خلاص نه شي
چه آسمان وي کله کله وي ورځي

عبدالغني خان له همدغه وخته د ادب په ميدان کښې لومړی قدم کېښود ، مګر دغه قدم يې ډير پوخ او محکم کېښود چه ان تردې دمه په لار روان دی ، او ادب يې د زړه همدم ايسي .

خان له ١٩٢٩ – ١٩٠٥ع کال پورې په د شپږ پنځوس کالو کښې خپلې ژبې او خپل فرهنګ ته ډيرخه ورکړي دي . چه دغه ادبي کارنامې به يې نوم تر ډيرو زوند ې وساتي .

## پښتو ادب ته د غني خان بخښنې :

د پښتو ادب په اوسني دور کښې په سلګونو شاعرانو او اديبانو لوا او پښتو ژبې ته په نظم او نثر کښې ډيرڅه بخښلي دي ، چه په دغو واليو کښې د ځينو هغوله مرغلرو سره برابر دي ، او د ځينو لا په کوم څه نه ارزي .

د عبدالغني خان بخښنې په لومړي قطار کښې ځای نيسي ، ده چه څه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې ژبې او ادب ته غځېدلې دي د هغې برخې يې د پښتو شاعرۍ په اوسنۍ دور کښې خپل بل ساری نه لري، او يوازې دے په خپله ژبه کښې د د غسې بکر و او ناوېلو شوو مضامينو مبتکر دے.

زه به د دې ليکنې په دې برخه کښې لومړے هغه څه در وپېژنم چه ده پښتو ادب ته ورکړي دي.

## ۱- د پنجرے چغار:

دا د خان د منظوم کلام اولنۍ شايع شوے مجموعه ده، اوله اختتاميه ليکنې يې ښکاري چه د غه مجموعه خان په جيل کښې تنظيم او بشپړ کړے ده د ده خپله ليکنه په دے خصوص کښې داده: "نن په ۲۲ تاريخ د اکتوبر ۱۹۵۲ع په هري پور جيل کښې دا کتاب ليکل ختم شو." (۲۳)

د غه مجموعه ۲۱۵ مخه په ۱۹۵۶ع کال پېښور کښې د يونيورسټي بک ايجنسی له خوا چاپ شوے ده. د کتاب پېژندګلو د مرحوم ماسټر عبدالکريم په قلم کښل شوے، او به پيل کښې يې د خان ځينے منثورے ليکنے هم چاپ شوے دي.

## ۲- د غنی پلوشے:

دا د عبدالغنی خان د کلام دوهمه مجموعه ده چه په ۱۳۲۹ هـ ش کال په کابل کښې د پښتو ټولنے له خوا ۲۳۶ مخه چاپ شوے ده. د دے مجموعے د پيل په ۱۲۳ مخونو کښې د خان نوے کلام چاپ شوے او وروسته يې د پنجرے چغار

(۲۳) د پنجرے چغار ص ۲۱۵ - خان د دے اثر په بر بل ځای کښې ليکلي دي: "هري پور - ۱۵ اکتوبر ۱۹۵۰ع کښې دا کتاب شروع کوم. غني



A .S.K B

نظمونه اخیستي دي.

دې مجموعې په پیل کښې د مرحوم استاد الفت یو یادښت او په پای کښې یې د غني خان یو یادښت چاپ شوی دی چې د مړه پور په جیل کښې کښل شوی او تاریخ یې د ۱۹۴۹ع کال د جولای د شلمې نېټې دی. د غني په دې یادښت کښې راغلي دي: "کتاب خلاص شو خو شعرونه ډېر پاتې شو، خیر بیا به چېرته څه غم وکړو، ژوند عجیب شی دی. د کتاب کښې اول شعر د اوبو په جهاز کښې په بحر هند کښې ویل شوی او آخري د مړه پور جیل د کوارنټن په یوه چکۍ کښې. په دې منځ کښې چې څه مستي، خوشحالي، غم، ارمان، امید، ویره، خندا او ژړا په ما راغلي دي. نو د کتاب په دې پاڼو کښې موجود دي ولې افسوس دا چې ژبه مې د زړه هومره طاقت نه لري بیان د احساس نه کمزوری دی. خو هر څه چې دي حاضر دي ما د څه پښتو لوګو ښبس نه دې کړې. بلکه د ښکارو کولو خوارۍ مې کړې ده.

دا زما د خان تصویر دی، ډېر نامکمل او مات ګوډ دی ولې دا زه یم په خوشحاله ضمیر ویلی شم چې دې کښې هر څه دي زما دي. دا زما د دې بې ښکاره او بې مطلبه ژوند یوه خواره ډالۍ ده چې ما خپل قام او مسلک له جوړه کړې ده. کاش چې دې کښې د ژبې د ښایست او پوهې د کمال دریابونه ما ډک بهولی وې ولې څه وکړم چې هومره مې وس و. او بند د خپله وسه زیاتي په هیڅ نه دې پېږ. که په دې خیالاتو کښې دومره حسن وي، چې له ما نه پس هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی پاتې شي نو زه به وایم چه واقعي ما د آب حیات چینه وموندله ، او س
د وی ما ژوندی کړی دی ، او بیا به دوی ما ژوندی کوی . « غني » (۲۴)

## ۳- پانوس :

د عبدالغني خان د شایع شوی کلام دریمه مجموعه پانوس نومی
چه په ۱۹۷۸ع کال د قامی مکتبه پیښور له خوا په پنجاب آرټ پریس ۱ هور
کښې ۲۹۲ مخه چاپ شوی ده . په دې مجموعه کښې د خان له نویو نظمونو سره
د پنجرې چغار او پلوشې انتخابات هم لیدل کیږی . د دې مجموعې په پیل کښې
یو یو مخیز یادښت هم چاپ شوی دے .

## ۴- د غني لیکونه :

غني خان د خپل سیاسي او ادبي ژوند په دوران کښې د لرې او بر
پښتونخوا او برصغیر ادیبانو ، شاعرانو او سیاسي خلکو او مشرانو ته په اردو
انګریزئ او پښتو کښې منظوم او منثور لیکونه هم کښلي دی ، چه زه د خان د غني
لیکونه دده یو ځانګړی پیل اثر بولم .

که څه هم دده د پښتو منظومو او منثورو لیکونو څینې برخې د سرحد
په اخبارتو ، رسالو او هم دده په کتابونو کښې شایع شوی دی ، خو د هغو څا مله
تولول او خوندی کول په کار دی ، ځکه د غني لیکونه د خپل ادبي او هنری
لطف سره سره څینې ډیر مهم نکات او تاریخي وقایع هم رانغاړی ، چه غني خان

(۲۴) پلوشې ص ۲۳۶



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملي، سياسي او ادبي ستېرو په څېړنه او هسې، ځکه د مخامخ احوال او وخت د مطالعې په دوران کښې د څېړونکو سره ډېره مرسته کوي. زه په دې خاطر کښې د سجاد له زړه ورسالو څخه د دوو منثور او يو منظوم ليک د نمونې په ډول را اخلم.

دارالامان

۵۹/۱/۲۰

ګرانه مهدي:

ستا دواړه خطونه را رسيدلي دي. معافي غواړم چې اول مې جواب درنکړو. خوزه داوړي نه څه ناجوړ يم او نن سبا خو هسې د خپله خانه او تولې دنيانه مرور شوی يم. تا ته دا هم معلومه ده چې کلونه او شو چې ما څخه خاص شی نه د ليکلې تېر شوی څرم کښې چې زه په هسپتال کښې وم. نو په امام حسين مې مرثيه ليکلې ده. هغه د لېږم. هغه هم زانه ورکه شوې ده. خو کوښښ کوم او را ياد ومه. زه ستا ډېر مشکور يم چې کله نا کله زما شعرونه رهبر کښې چاپ کړې. زه مې ډېر غواړي چې هرڅه هغته دلې څه ناڅه ليکم ولې ډېر پرېشانه او ډېر ستړی يم او هيڅ کار نه مې د پاره نه ګي. (۲۵) غني.

لاندې يو منظوم ليک راوړم چې عبدالغني خان د ۱۹۵۱ع کال د جون په ۲۵ په جيل کښې ماستر عبدالکريم ته ليږلې و:

---

(۲۵) رهبر کاليز نمبر ۱۲ فروري ۱۹۵۹ع الف، خ.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنی ته نه سړے وے نه سړے شوے نه به شے
بے تکه د خبرے بے مطلبه د نشے
بے توله د دماغ دے بے لباسه د بیان
داسړے د دسنل ادے نه سود پیژنی نه زیان
تالو کښے الوته وینے بق بق آسمان ته ګورے
قسمت د ته ناړے وی ته نے ناست او خاندے ګورے

* * *

جوړے کو محاونه د خندا او د ھوا نه
په خاندلے غاوړ کړے دا ښایسته دنیا ورانه
دا ړکه د عیشونو کنبلو جونو او ړنانه
په خاندے مقبره کړه تکه توره ورانه ورانه
داخه غواړے د بل نه خانه څه غواړے د خانه
داخه بلا جوړے د دے ښایسته دنیانه

* * *

نرګس دے د دی ګرلی په باړه کښے د جوا رد رامبیل دے د ګولی په باغچه کښے دانا رو
دنیا کښے تړقی په خوشامندو د دله ده تا نجو په سلام دے او تختونه په منت
دنیا واړه کمزورو ده خواړه د دروغ خواړه چه څه د بل ښاوی د صفه کمینی صفت
بادشاه د دنیا زړې دی او یا زور دے د بل نشته مطلب د ښرونا یا خاندے او یا ګور د بل نشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ته اېنې خانه نه شې ورته نه به شې | کاڼو نو او ګلو نو او خندا نه وشمشې
د خاورو نظر کښې خاخایول نه دي | ته تول پاربنک یار نه چلي تو نه دي
ته تول منصور منصور زره د تو دسره دغ | خاتاله حکمتو د بهاول نه دي
منجه ګلونو ابشار ونو سپرلو یار دے | خو تاله د وړ خناق د اغو شپو نه دي
په دحه چه ګل و دیم ساقي راز دار دے | چه تاله بلخمول او خاخیو نه دي
همېش به د شغل یوا خېزي په صحرا کښې | په ګونا د دغو چه خا باول نه دي
رناکه ډېر او که په د تشه رنا خه | دا ورته خیتې خا په د تشه خندا خه

* * *

ته حسن چه د لوګی هوا محل دے | انصاف انصاف د چه دی هوښیار اکل دے

ایمان ایما دخړوی هوښیار غم کړی دسبا

اتبار د هوښیار تیا د اکو ایمان د عقل غل دے

رښتینې د مرچنې وهي په زولنو کښې

نن بره د چای د موړ او بره روان چل دے

په بېره شرافت د نوم او ښیخي په لیلام

یاره ځې په کرایه ښه سرتوب هم په بدل دے

خفګان کښې دپېریانو لتهو ته ښا پیري | تعلیف که پښمو په دسته خوا د سامري
په غمو کښې لتې د لرو سرو پلو شې | غني ته نه سر و نه ښه شې نه به (۲۶)

(د س ستا و ر غني)

---

(۲۶) رهبر ۲۹ فروري ۱۹۶۱ ع ص ۱۱۴ - ۱۱۵



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

له د آثارو سره یوځای د خان متفرق اشعار او نظمونه، لیکونه او نور منثور لیکنې د پښتو په ډیرو ملي رسالو او اخبارونو کښې شایع شوي دي چه تولول او خوندي کول یې په کار دي، ځکه د ده هر لیکنه او هر نظم د پښتو ادب یوه قیمتي پانګه ده. او بیا چه زمونږ لرنی پختنی قوم او زیږه مین ورونه د غني کارو کړي.

د غني خان د آثارو په لړ کښې ادب پوهانو په انګریزي کښې د "پټهانز" په نوم د ده یوه اثر یادونه هم کړې ده. چه فخر افغان ته اهدا شوې دې والي چه د غه اثر دوه ځله چاپ او شایع شوی دی. یو ځل په بمبئی کښې او بل ځل په ۱۹۵۰ع کال په پېښور کښې. ما خپله د خان د غه کتاب نه دی لیدلی.

## د غني د کلام شکلي خوا:

د خان د کلام کومه مطالعه چه ما غږیب ته میسره شوې ده چه څه کښې زیاتره برخه د اشعرو سکښت لري چه زمونږ لرنی ورونه یې "نظم" بولي او د شعري قالبونو د تخنیکي قاعدې او اصولو ډیر تابع نه دي. له دغو نظمونو سره سره د ده په کلام کښې غزل، رباعي، قطعه او یوه نیمه مثنوي هم لیدلی شي.

د عبدالغني خان په کلام کښې څه د اسې نظمونه هم ځان ښکاره کوي چه مونږ ورته د لته په کابل کښې "آزاد نظم" او یا نوې شعر وایو دغه ډول نظمونه هم خان په خاص ادبي مهارت ویلي دي چه له فکري خوا ورسره سره هنري مزیت هم لري او د پښتو د نوي شعر د مطالعې په دوران کښې په خاص ډول د یادونې وړ دي، دلته زه د ده د دغه ډول نظمونو یوه نمونه وړاندې کوم:



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک د زړه غولولو نښته
خان له زړه غولوم ځپله
خان له ناست یمه خپل غم ته
د خپل غم وایم بدله
چېرته لړے تیر محفل له
د مستۍ او خندا ځمه
چېرته مړه شمع را اخلم
خپل مشال پرے لګومه
دے تورتم غم او افسوس کښے
زه په یاد د مینے پایم
سوی زړه ته قصے ویرے
د ځوانۍ رنګینے وایم (۲۷)

دغان د آزادو نظمونو نمونے په پانوس کښے خوندي د. په مجموعه کښے یو څانیم د علامه اقبال (۱۸۷۳ - ۱۹۳۸ ع) د کلام ترجمے لیدے شي او هم د پښتو د اولسی شعرونو نمونے هم.

## دخان د شاعرۍ مضامین او فکری ارزښتونه:

دخان د کلام له مطالعے هر چا خانله خوند اخیستے دے او لیکوالو او محققینو هر یو د خپل برداشت سره سم څه پرے لیکلی دی. مګر زما په عقیده تر هر چا د مخه او تر هر څه د مخه باید سړے د شاعرۍ په باب د خان خپله رایه پوره شي چه د ده په باب څه نظر لرے. عبدالغني خان استاد بینوا مرحوم ته په یو لیک کښے په دے باب داسے لیکلی: ".... زما خیال دے چه ژوند کښے دیو شاعر مرام او هدف دیو مبلغ او ملا څخه بیخي جلا او بل شان دے او دا ځکه چه انسان په اساسي او بنیادي توګه یو ښکلا ورته

(۲۷) رهبر جون ۱۹۵۹ ع ص ۱۲



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خوراک . څښاک جنسي ارتیاوو او استراحت ته فطرتاً لیوالتیا لري او نور هیڅ ته نه . دا زموږ د شاعرانو وظیفه ده چې د انسان توجه او پاملرنه د هغه د ژوند او هستۍ دې لوړو مرکزونو ته ورګرځوي ، چېرته چې هغه ممکنه ده . د خپل تکامل انعکاس ووینې ، او د خپلې ابدي معشوقې د ښکلا او ښایست دیدن وکړي .

زما خیال دی چې یو شاعر باید د فکر او خیال قول او عمل په ډګر کښې د ښکلا او ښایست عبادت وکړي او انسان دې ته مجبور کاندي چې هغه د خپلو خواهشاتو له ګندګیو څخه خپل مخ د خپل باغ عدن خواته واړوي . دا کار په پند و نصیحت نه شي کیدای . زما هغه خلک بد ایسي چې ما ته نصیحتونه کوي .

که څیرې موږ د ژوند له لوري د ښکلا او ښایست د قدر دانۍ لپاره ځان راپیدا کړای شو ، ترکومه چې په ژوند کښې د عذاب او مصیبت د درد او غم تعلق دی نو زما خیال دی چې موږ ته د ښکلا ښایست د تخلیق د پاره د هغې قیمت اداکول لازم دي . هر یو آرټست دا بوګنوونکی قیمت اداکوي ، او په دې کښې یو څو کسان خوشبخته وي چې د ښکلا ، ښایست او دلربائي یو څاڅکي راپیدا کړي .

د آرټ ، ښکلا او ښایست او دلربائي مخ ته د راوستو د پاره ته باید چې د ژوند ، درد و غم ته مخامخ شې ..

د خان له دې خبرې ګند و نو ښکاري چې د دوی د شاعرۍ مقصدیت هم په لوړو خبرو کښې نغښتی دی . او د دوی کلام کمال اقبال هغه ټکي دي چې خان چیله بیان کړل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغني د کلام زياته برخه فکري محتوى لري چه د ملي او قومي مسايلو له بيان څخه نيولې تر ټيچلو فلسفي مسايلو پورې خبرې او د ټولنې ضروريات په خپل کلام کښې رانغاړي .

دغني اکثر فکري آثار د طنز او مزاح په ډول په داسې طنزي انداز کښې بيان شوي دي چه د ټولنې او معاشرې ډېرو ناوړو خواو په ډېرو خوږو طنزونو او ټوکې ټکو نظمونو کښې بيانوي . او د پښتو په معاصر ادب کښې ډېرلږ شاعران داسې طنزونه لري . يا خو په دغه ډول طنزونه ډېر لږ دي که ډېر نو هغه به هم د غني په اندازه چه غني بيان کړي دي نه وي . په همدې اساس دلته د پښتو خوا ادبي محققين ليکي چه په اوسني دور کښې طنز و مزاح ته په پښتو شاعرۍ کښې ليوني فلسفي عبدالغني خان خاصه خلا ډکه کړه (۲۹)

دغني په شاعرۍ کښې له وطن او قوم سره مينه په داسې انداز کښې بيان شوې چه هيڅ ډول تفنن او تصنع نه پکې ليدل کيږي او د دوه د قوم پرستۍ او وطن پرستۍ د واقعي احساساتو ترجماني کوي . او په ټولنه کښې مسلط اجتماعي او سياسي نظام هم د ده د اورني ژبې او د نقاد قلم له خوکې خلاص نه دی . د ده زيات باسي چه د جامعې فساد ونه په داسې طنزيه او مزاحيه ډولونو کښې انتقاد کوي چه په ظاهر کښې ډېر سطحي او پېش پا افتاده ښکاري . خو که سړی يې مطلب ته ورسي . نو هله په دغه خان په فکور مغز آفرين ووايي .

---

(۲۹) اټک کښې اسپار ص ۱۹۹ . طبع کونسل ادب لاهور .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبدالغني خان او دده کلام د شاعرانو، ادیبانو او محققینو له نظره :

دخان د پیژندګلۍ او دده د آثارو او افکارو په باب چه کوم بحثونه شول دهغو تکمیل لپاره لازمه ایسي چه دهغو ادیبانو او شاعرانو اراوې هم راوړل شي چه دغني او دده د آثارو په باب څه ګڼلوني او نظریات لري :

۱- مرحوم ماسټر عبدالکریم (۱۹۰۸-۱۹۶۱ع) د پنجرے چغار په دیباچه کښے کښلي دي: "... دغني د شاعرۍ درې دورونه دي: اول دور د ملګوانے شاعرۍ دے ... دویم دور دغني شاعرۍ هغه وخت لیدے شي څه وخت چه غني له دیورپ، امریکې طواف په هم زیاته کړے وه ... دے دور کښے دغني په تخیل کښے پراخوالے موندے شي، دلته غني دخیال په نیلي سمندر کښے خورا ګے خپل قابو کښے کړي یو آواز دے چه سوز او ساز لري، یو سرور دے چه دمستۍ سره ګوزار لري د دے دور کښے غني خان که خپل مسلک هم لري، وایي چه غالب او ټیګور په لاره روان وو غني مخے له ورغے دوا ړو یو بل ته وکتل دغه دغني دریم دور شاعري ده او چه دخیام مستۍ له یے دغالب بیباکي او دټیګور رنګیني ورکړه ...." (د پنجرے چغار مقدمه ص د-)

۲- د پښتو ژبے نومیالي لیکوال همیش خلیل لیکلي دي: "د دغه نوم نه ورانده ادبي دنیا کښے غني خان په لیوني فلسفي پیژندلے شو او دخپلو مزاحیه شعرونو له لکه چه اکثر به په اوره ورځني پښتون کښے شایع کیدل. هم ددغه مجلے په ذریعه لیوني فلسفي نه صرف په خپل ماحول کښے بلکه ټولي ادبي مشهور شو...."
(پښتانه لیکوال ص ۱۰)



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- مرحوم استاد گل پاچا الفت ( ۱۳۵۶ هـ. ش مړ ) د غني شاعرۍ داسې ستايي :" د غني خان په اشعارو کښې چې څه شي زما د پېژندنې هغه د فکر او خيال آزادي او د تقليد له تلقينا تو څخه سرکښي ده .

د ده رندانه مقام ته ځوک نشي رسېدلی او هغه څه چه ده يې د خپل سباغلي ليونتوب له برکته ويلي شي د نورو خولې پرې سوځي .

غني د شعر او شاعرۍ په دنيا کښې رښتيا غني دی او ډېر څه يې په ځير رسېدلي دي . د ده په اشعارو کښې عشق او محبت . پښتو او پښتو ولي . رندي او خيامي فلسفه . توکې او مسخرې هر څه شته له کار غانو او مار غانو سره يې هم په شاعرانه ژبه ډېرې د خوند خبرې کړې دي .

د ده په مستانه ليونتوب کښې شاعرانه هوښياري او بيداري پټه ده او په ملنډو کښې يې د مقصد تکي نغښتي دي . ځکه ورته ليونی فلسفي هم وايي " ( پلوشې - الف . ب مخونه )

۴- استاد بينوا ( ۱۳۳۳ هـ. ش مړ ) بيا وايي :" ... ظاهر بين خلکو ورته د ماشوم په نظر و کتل خو د قدرت په نظر کښې هغه د پښتني ادب پر آسمان يو ځليد ونکی ستوری و ، چې له غيبه را ښکاره شو .

هو ! هغه وخت ځوک پو هېدل چه دا ماشوم به يو ورځ د پښتو د ادب غني او مستعد دماغ شي چه د سپېڅلي طبيعت له الهام ، د حقيقي انسانيت له نور ، د سرمست احساس له جامه د رندۍ او شوخۍ له خمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلیونی مینې له سوز و سازه او د ژوند د ژورو فلسفې له تله به پښتني ادب ته داسې نوې خلا، نوې رنګیني، نوې روح او نوې خوند ورکښي چه د پښتو زوړ ادب لږ ورسره اشنا و. " (اوسني لیکوال، ج ۳ ص ۹۶۱)

د- شوروي پوه ګ. ف. ګیرس بیا د غني شاعرۍ له تحلیل څخه داسې خبرې او باسي،

" د ژوندانه د پېښو د ترسیم له پاره غني خپل مخصوص سبک او اسلوب انتخابوي طنز، ټوکې او ټکالې کوي او هغه څه چه د شعر په ذکر کښې د ده مخې ته ورځي دي هغه ته وړاندې نه دي پاتې شوي او ګوزار یې ور باندې کړی دی. حتی انګلیسان ملایان، وطن دوستان، اولسي بې سوادان او عتیقه پرستان د ده د ظرافت لاندې راغلي دي. تېز او مهم موضوعات په دا رنګ تعبیر سره بیانول په طبیعي ډول د اشعارو څپې سموي. بر سېره پر دې د غني خان د آثارو نه معلومېږي چه د اولس په وروسته پاتې کیدلو کښې څپله اولس ملامت دی. " (۲۹)

۶- استاد اجمل خټک د غني په نامه یو یاد کې لري چه یوه برخه یې دلته را اخلو:

د غني په نامه لیکم څو شعرونه — په پېغور کښې یادوم تازه ګلونه
د هغه سره د نګونه د قلم دي — زولړم په خوږ سازه سازه آهونه
د هغه خوله کښې د خوند ډک چغار دی — زما زړه کښې دي د ده ډک داغونه
د هغه خیال، فن او ښکلا سره لوبېږي — زه ګلیا یم لوبوم د اغلي زړونه

(۲۹) د پاڅي اولس ادبیات. مه محقق معتمد شینواري ترجمه.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیلاب نے هغه د نوې دنیا کې دے — بلوم زه د کور د لو مشالونه
د هغه احساس د حسن تازه کال دے — زه جذبات یم په چاپل دی سره اورونه
هغه مینه ده غیرت د ولولے دی — زه وفا یم پښتو یم ننګونه (۲۰)

۷- د پانوس په دیباچه کې ورته کښلے راغلي دي : " غني خان
چه خپله د آرټ دیوسے ماهر سره حیثیت لري د هغه د افکارو سره
پوره پوره انصاف وکړے شي . . . . غني خان د خپلې پاګځې د کالج
خانګې نه پرېکړې . چه د هغه په خیال په پوهنتون باغ کښې د کالج
بوټې خپلې فطري ارتقا ته پرېښودل په کار دي . "

۸- پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ یې بیا
داسې ستاینه کوي :

چه بیدا په هشنغر کښې غني خان شو
بخت بیدار په رښتیا د لوے افغان شو
شاعر نه د فیلسوف د زمانے دے
په خپل شعر کښې د پښتون چه ترجمان شو
د لیونی اشعار چه لولي لیونیان شي
پس له لوسته هر سړے خبر په ځان شي (۲۱)

---

(۲۰) د وخت چیغه ص ۲۴۲ د ۱۳۵۶ هـ ش کال . د کابل چاپ .

(۲۱) منظومه تذکره ص ۲۷ د ۱۹۹۲ ع کال د کوټې چاپ .



A .S.K B

۹ـ صاحبزاده محمد ادریس په خپل یو نظم کښې دغني او مفتون مقایسه داسې کړې ده:

فرق څه دې په غني او په مفتون کښې — که څه وینې لیونتوب او په جنون کښې
سړی دانه که دې یو بل نا قلاړه — اضطراب کوره د دواړو په خون کښې
د احساس درد کمی په شرابونو — بیا وتیږی د شرابو په بیلتون کښې
بیهوشی کښې ارزی خرابه د سر وینه — فرق نه وینم د دواړو په قانون کښې
یو د خیال بل د جذباتو په تال زانګی — ورسره د خیال لیلا د مجنون کښې
سر پرېښوی په اوسنتی په زړه وجابل دی — سبقیان د دواړو د عشق په پوهنتون کښې
دغني د خیال نیلی په آسمان کښې زغلی — ورسره د مفتون آس وی په ګردون کښې
سر ورنه چه د مینې کړي برسیره — مستي داولې د عقل افلاطون کښې (۱)

۱۰ـ زمونږ نومیالی استاد په هاند هښتین دغني د هنر او فن تجزیه داسې کړیده:

"دغني په اشعارو کښې یا په بله ژبه د ده د فکر په پلوشو کښې عشق او مینه او محبت پښتو او پښتونولي رندي او مستي، تنقید او کره کتنه، آزاد خیالي او بې باکي د بې باکي فلسفه او نور هم رنګ لذتونه او خوندونه شته او په دې میدان کښې یعني د خوشحال د لاره پوخ ملګرې د سخې په تکو او ملنګو کښې تر څه هم وړاندې دی." (۲)

---

(۱) د سپیل ستوری ص ۶۱-۶۲ د ۱۹۵۷ ع کال د پښتو ټولنې اداره اشاعت سرحد.

(۲) ویرمه د ۱۳۵۶ هـ ش کال ګڼه ص ۱۳۰

۱۱- ښاغلی صادق الله خان کنډلی وايي: " د غني خان شاعري سيلۍ ده چه نه نيولے شي او نه تړلے پام کوئ چه په خيال تاو کښے د غني خان د اچولو کوشش ونه کړئ په دے چه ستا او زما تا نه خو د هغه وسعت نه اګير کيدے شي او نه د هغه د وزن او چټولو طاقت لرو. " (۱)

۱۲- ښاغلی شاهين چه د غني پلوشو کوم جاج اخيستے دے د هغه خلاصه داده: " د غني د فکر پلوشے د حسن و عشق په دنيا کښے که ده د دنيا د خيال په نوم په ډيرو ناوړو کښے شيندلے دي. د هغه چا فکر ته چپاؤ نه د ننداره د ستورو کوي. " (۲)

۱۳- يو غږ ليونے يو خاليکلے دے: د غني خان شخصيت د تعارف محتاج نه دے خو څه چه د دود كيف او بے خودئ نه پيدا شوے خوند نه ئے واخيستے او د هغه د بے باکۍ اجرت قايله به نه وي د د افکارو رنګين عکاسۍ دا کاش په سينه چپا شوے ليونتوب کښے هو دستور ا پلوشو محبا ايا نه خو ي

هسے خو د دوي په نظر هم دنيا د ليونو د خاچه هم دنيا ليونو خو ښه ويلي دي چه دنيا په ليونو بنے خانه ده او ليونے په دنيا بنے تاسو کوري چه دا زما ليونے فلسفي خو ښه وايي:

زړه غټ به خوا ايمان نه خو څه · خدايه ليونے په خاقه ځکه ليونے

غني خان د شعر فن په ميدان کښے ډير چالاک او ازاد د لاره ښودونکے دے. د هغه د انداز يا بے د دنيا نه له د خو زياته کوي. خو د دې دوه بانګه او مخلص بغوي د خپل چا په چل د کنډ او د پوه او هوا او ليو احساس کوي خو سنجيده لنه وکړي. د هغه احساس مونږ دا بايد چه په کنډ هر ځوک پيريږي. خو غني د خيال وايي حيرانتيا نه دي. دا حقيقت دے چه غني بې تحباري دے. د هغه کلام د ژوند ښکلولو په زوره د ښکلو پيرو ته هم. خو ښکلو خندا او شوا او سان خبر و ته خو ښکا او ښائسته ذکرونه کوي. هغه په زړه ونه د خيال کړو ان کښے د معاشرے په مخامخ هم خلقو اوښکے تو دوي. خو به خوږ او خوږ کښے د ترخو حقيقتونو تحليه هم کوي. " (۳)

(۱) ..... (۲) ..... (۳) .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴- حامد کتباي دي :« شعر غني بازتابي از زندگي محيط و درگيري هاي سياسي زمان اوست وهمين مسايل است که انگيزه هاي بازسازي دنياي نگري اورا مي سازد شعر در دست او خامه يي است که با آن افکار فلسفي . آزاديخواهي وحب وطن را با تمام ابعادش ترسيم ميکند. . . . . . . درشعر او فضاي زيبا وپرشکوهي تبلور يافته است . همين ويژگي شعر اوست که اورا در رديف شاعران ممتاز وبرازنده زبان پښتو قرار ميدهد .» (*)

# غني او اخورکري :

په ادبي څېړنو کښې راغلي دي . چه غني خان اخورګر (مصور) هم دی . د ده ځینې اخورونه په بعضي کتابو کښې شایع شوي هم دي . ویل شي چه ډهګوډ په بين الاقوامي یونیورسټي کښې غني د خپلې استوګنې په زمانه کښې د هلکانو د تهوتو تصویرونه جوړول شروع کړل اما د غه تصویرونو چه د کالج پرنسیپل او ټهګوډ (۱۹۶۱ - ۱۹۴۱ ع) ولیدل نو ډیر زیات خوشحاله او حیران شول .

بناغلي هم بیا کښلي دي : « غني خان د یو ښه شاعر نه علاوه یو بهترین مصور هم دی او د یرځله د تصویرونو نمایشونه شوي دي .» (پښتانه لیکوال ۱۰ مخ .)

---

(*) حقیقت . دمي درد مياشي ، ذو . حامد نيکبه د ۱۳۶۴ کال د اسد ۷ مه ګڼه .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دغني د کلام دغره مجموعه:

کله چه د پښتو ژبې نوميالي شاعر او ليکوال سليمان لايق ماته د غني د کليات د چاپولو سپارښتنه وکړه . نو ما لومړی کار له پانوس څخه پيل کړ . پانوس کټ شو او کاتب ته د ليکلو د پاره وسپارل شو . تر دې وروسته مې د پنجه چغار ته کار لاس ته راوړه نو هغه کوم نظمونه چه په پانوس کښې راغلي وو . هغه تر ليک کړے شول او باقي برخې وليکل شوې او کاتب ته حواله شوې . بيا پلوشې وکتلې . د دې مجموعې هغه نظمونه چه په پانوس او پنجه چغار کښې راغلي وو . هغه تر ليک کړے شول . او پاتې نظمونه يې وليکل شوو .

البته کيدے شي چه هغه نور زيات نظمونه د پلوشې او پانوس له ترجمې نه خود لپاره چه د عبدالغني د کلام د مجموعې خپل هويت هم ساتلی شوے وے د هغوی څخه لپاره جلا جلا سرليکونه ورکړل .

د شعرونو په کليات کښې راغلو د هغو په املا کښې ډير لږ بدلون راغلی دی تر ډيره حده موږ زيار ويستی چه املا د اوسني پښتو ليکلو املا ته نږدې وي . هغه کلمات چه خان په هشتنغري لهجه کښلي و ځينې مو سم کړل او په مروجه املا مو وليکل خو ځينې برخې يې لا د خان د لهجې مطابق پاتې شول . البته دا خبره بايد هېره نشي د پنجه چغار او پلوشې کوم نظمونه چه خان په پانوس کښې راوړي دي . په هغو کښې ئے لاس وهلی دی او ما د متن د ترتيب ... ولې مخ هغه د وروستي شکلونه په کليات کښې اخيستي دي .

☆ له بده مرغه ځينې تکراري نظمونه هم په مجموعه کې راغلي او زه داسې وخت ورته متوجه شوم چې ايستل يې گران وو .



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دې لیکنې په پای کښې د خان عبدالغني خان یوه خوږه غزله تاسې ته وړاندې کوم چې زما له دې بحث سره ډېر نږدې اړه لري، او ددې د ژوند په مطالعه کښې ارزښتمنه ایسي.

## غني غني ته

ما وې غني یاره خه بې اندازه غوندې یې
ادب دې کښې کم زبان دراز غوندې یې
قصه دې کړه وړه نه سم خان شې نه توقي شوې
خوږ ته دې دو پیاز کښې خه دې پیاز غوندې یې
پټي دې وران ویجاړه دي او کښې وږې دې پولې
کړنې پکښې کلونه حسن ساز غوندې یې
لینده دې ماته کړه او شړل ماهول دې غشي
خو غزار دې ښکاري تیر انداز غوندې یې
دولت دې کړ که صحت دې کړ که ناموس دې کړ که شهرت
په وږې خیټه مور او بې نیاز غوندې یې
که ټنګ دې کړ که تراش وي که چاړ بېته که بدله
په خپله لاره روان یې بې استاز غوندې یې
په مینه یې مین او خدا ته پلار او جانان وایې
دا څنګه خوږ یې تو له بې اندازه غوندې یې

---

پښتو مجله ۱۹۸۳ء کال فروري مارچ ۲۹ مخ
[illegible] •
خادم العلماء مرتب و مدون ۰ ۲ ۰ ۰



A .S.K B

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**